د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د علمي چارو معینیت

سلام پوهنتون

د شرعیاتو او قانون پوهنځی

د فقه او قانون د ماستري پروګرام

# د عقود المنافع(ګټو تړون) احکام او اقسام

# د فقه او قانون په رڼا کې

د ماسترۍ رساله

محصل: محمد جاوید(صدیقي)

لارښود استاد: پوهندوی دکتور رفیع الله (عطاء)

کال: ۱۴۰۱ هـ.ل.

د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د علمی چارو معینیت

سلام پوهنتون

د شرعیاتو او قانون پوهنځی

د فقه او قانون د ماسترۍ پروګرام

# د عقود المنافع(ګټو تړون) احکام او اقسام
# د فقه او قانون په رڼا کې

**د ماسترۍ رساله**

**محصل: محمد جاوید(صدیقی)**

**لارښود استاد: پوهندوی دکتور رفیع الله (عطاء)**

**کال: ۱۴۰۱هـ.ل.**

بسم الله الرحمن الرحیم

# سلام پوهنتون

## د شرعیات اوقانون پوهنځی

### د فقه اوقانون دیپارټمنټ

### د ماسترۍ بورډ

## تـــصـديـق نــــامــــه

ښاغلی محمد جاوید د میر سید زوی د ID: SH-MSF-98-512 نمبر لرونکی، د فقه اوقانون د اومي دوری محصل د ماسترۍ مرحلې رساله چې عنوان يې: د عقود المنافع (ګټو تړون) احکام او اقسام د فقه او قانون په رڼا کې د پنجشنبې ورځ په ۱۴۰۱/۱۰/۱هـ ل نېټه يې په بریالیتوب سره دفاع کړه او د حکم پلاوي د ارزونې پر اساس د ۹۲ (نمرو په عدد) دوه نوي (نمرو په حروفو) مستحق وګرځید، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتی بریا غوښتونکي یو.

د حکم پلاوي اعضاء :

| ګڼه | داستاذ نوم | عضويت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکتور مومن حلیمی | دحکم پلاوي عضو | [signature] |
| ۲ | دکتور نجیب الله صالح | د حکم پلاوي عضو | [signature] |
| ۳ | دکتور رفیع الله عطاء | لارښود او دحکم پلاوي مشر | [signature] |

دماسترۍ د بورډ آمر ............

علمی مرستیال ............

**د څېړنې لنډیز**

۱- نوموړې موضوع په عقود المنافع یا دګټو تړون په برخه کې لیکل شوې ده چې دا خبره به پکې واضح شي چې دعقدونو منفعت څه حکم لري.البته په دغه عقدونو کې اجاره، اعاره او وقف ترڅېړنې لاندې نیول شوي دي.

۲- دا چې په ننی زمانه کې ډېرې داسې عقدونه شتون لري چې خلک یې اوس له منفعت څخه ګټه پورته کوي، نو دمنافعو حکم موږ واضحه کړی دی چې په دې اساس کولای شو چې په نویو معاصرو فقهي جزیو هم خبر شو.

۳- په دې څېړنه کې مې داصلي مراجعو څخه استفاده کړې ده، دڅلورو ګنو فقهي مذاهبو په برخه کې هم لومړنیو مصادرو څخه مې استفاده کړې ده، او په هغه معاصرو مسایلو کې چې په پخوانیو فقهي کتابونو کې نه پیدا کیږي دمعاصرو علماؤ له کتابونو مې پکې استفاده کړې ده.

٤- په اسلامي شریعت کې په مشروعو شیانو کې اخیستل او پلورل جائز عمل دی، اسلامي شریعت بیعې ته مسلمانان هڅوي او ورته وایي چې له عبادت وروسته په حلاله روزۍ ګټلو ځان مصروف کړئ، په یو بل ځای کې وایي چې تاسې عقدونه بشپړ کړئ، په هر حال اخیستل او پلورلو کې موخه هم منافع دي چې خلک ترې مستفید شي.

۵- زما دغه څېړنه، په درې فصلونو مشتمله ده چې هر یو فصل یې بیا په مبحثونو او مطلبونو باندې مشتمل دی، په لومړي فصل کې پېژندنه او مشروعیت دڅېړنې لاندې نیول شوي دي او وروپسې په اجاره کې بحث شوی دی، داجارې ارکان، شرایط ، اساسي او بنیادي قواعد، معاصر صورتونه او داسې نور مهم اړخونه یې دڅېړنې لاندې نیول شوي دي، په هم دې ډول له اجارې وروسته بیا اعاره تر څېړنې لاندې نیول شوې ده، چې د اعارې مشروعیت، د اسلامي شریعت او افغانستان مدني قانون له نظره څېړل شوی دی، په همدې ډول بیا د اعارې شرایط او ارکان هم بحث شوي دي، چې له دې علاوه د اعارې اساسي او بنیادي قواعد هم ذکر شوي دي او په دغه برخه کې ټول مهم کارونه چې باید وڅېړل شي، ترسره شوي دي .دبحث په دوام بیا دوقف بحث هم تر څېړنې لاندې نیول شوی دی، چې دوقف مشروعیت، ارکان او بنیادي قواعد یې، او داسې نور اړخونه یې هم روښانه شوي دي، په پای کې دریم فصل دی چې په هغه کې دا ترڅېړنې لاندې نیول شوي دي چې: ایآ منافع مال دی کنه؟په منافعو کې دغلا حکم څه دی؟ او داسې نور ډېر مهم ارزښتناک او مهم مبحثونه پکې تر څېړنې لاندې نیول شوي دي، په پای کې زما ددغه څېړنې پایله او ده چې څه مې لاسته راغلي دي.

**ډالۍ**

خدای بښلي پلار جان ته چې زه یې دغه نیکې لارې ته سوق کړم، خپلې ګرانې مور ته چې زما په تربیه کې یې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې وکړې، او خپلو وروڼو او ټولو هغه ملګروته چې هر وخت یې راسره د دغه بحث په تکمیلولو کې مرسته کړې ده.

**مننليک**

د الله تعالی ډیر شکر گزاریم چې د دې رسالې د لیکلو توفیق یی را په برخه کړ.
د لوړو زده کړو وزارت څخه مننه کوم چې دخصوصي سکتور په چوکاټ کې بې د عالی تحصیلاتواو ماستری پروگرامونو ته زمینه برابره کړېده.

د سلام پوهنتون دعلمي او اداري مسؤلینوڅخه مننه کوم چې د لوړو زده کړولپاره یې د اسلامي اوهېوادنې ارزښتونوپه نظرکې نیولوسره په لوړه کچه علمي پروگرامونه چمتوکړي دي.

دشرعیاتو اوقانون پوهنځي له ټولواستادانو مننه چې په ډیره مینه سره خپلوځوانانوته په ډېرخلوص تدریس کوي، عملي اوتحقیي مننه چې زموږ سره یې دماستری علمي مرحلي په برخه کې نه ستړي کیدونکي هلي قي چاري پرمخ بیایي.

دماستری برنامي له استاذانو اومسؤلینوځانگړې مننه چې موږ یې دماستری علمي مرحلي په برخه کې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړي دي. اوپه پآی کې ځانگړې مننه کوم له خپل محترم لارښود استاذ پوهندوي دوکتور رفیع الله (عطاء) څخه ځانگړې مننه کوم چې د دغه بحث په لیکنه کې بې راسره خپلې نیکي مشورې اوعلمي لارښونې په ورین تندي شریکي کړي دي، په علم ، عمل او دعوتې هڅوکې ورته دلازیات بریالیتوب غوښتونکی یم.

په درنښت

## د موضوعاتو لړلیک

**عناوین**

**مخ**


**سریزه........................................................................................................١**

- دموضوع اهمیت.................................................................................................١

- د څیړنې لاملونه او ضرورت:...................................................................................١

- په دې موضوع کې مخکنۍ لیکنې: ..........................................................................٢

- د څیړنې کړنلاره:..................................................................................................٢

- د څیړنې اهداف:..................................................................................................٢

- د څېړنې ستونزې:................................................................................................٣

- د موضوع د جوړښت پلان: (مختصر) .........................................................................٣

**لومړی فصل پېژندنه او مشروعیت....................................................................٦**

لومړی مبحث: دعقود المنافع(دګټو تړون)مفهوم او پېژندنه: ..........................................٦

لومړی مطلب: د عقد مفهوم او پېژندنه: .....................................................................٦

الف: د عقد لغوي مفهوم:......................................................................................٦

ب: د عقد اصطلاحي تعریف: ..................................................................................٦

دوهم مطلب: د منافعو مفهوم او پېژندنه ....................................................................٦

الف_ د منافع لغوي معني او مفهوم............................................................................٦

ب_ د منافع اصطلاحي معني او مفهوم.........................................................................٧

دریم مطلب: د عقد مشروعیت .................................................................................٧

څلورم مطلب: د عقد انواع او اقسام...........................................................................٨

پنځم مطلب: د عقود المنافع مشروعیت د اسلامي شریعت له نظره.................................١٠

شپږم مطلب: عقود المنافع په قانون کې: ...................................................................١٢

**دوهم فصل: دګټو تړون(عقود المنافع)اقسام..................................................... ١٤**

لومړی مبحث: داجارې عقد ...................................................................................١٤

لومړی مطلب: داجارې عقد مفهوم او پېژندنه...............................................................١٤

الف: داجارې عقد لغوي معنی. .............................................................................١٤

ب: داجارې اصطلاحي معنی. ................................................................................١٤

دویم مطلب: داجارې د عقد مشروعیت.......................................................................١٤

الف: دشريعت له نظره ........................................................................ ١٤
ب: د قانون له نظره:........................................................................ ١٧
دريم مطلب: د اجاري د عقد اركان! ........................................................ ١٨
ځلورم مطلب: د اجارې د عقد انواع ........................................................ ١٩
لومړۍ فرع: اجاره په اشخاصو کې ........................................................ ١٩
١-خاص اجير........................................................................ ٢٢
٢-مشترک اجير ........................................................................ ٢٣
دوهمه فرع: اجاره په اعيانو کې ........................................................ ٢٥
پنځم مطلب: د اجاري د عقد شرائط........................................................ ٢٨
الف- د اجارې دانعقاد شرائط. ........................................................ ٢٨
ب- د موجر او مستاجر پوري اړوند شرايط........................................................ ٢٩
ج- د اجارې دمعقود عليه پوري اړوند شرايط........................................................ ٣٠
د- د اجرت پوري اړونده شرايط........................................................ ٣١
شپږم مطلب: د اجارې اساسي او بنيادي قواعد: ........................................................ ٣٢
لومړۍ قاعده (الاجارة مبنية على المشاحة) ........................................................ ٣٢
دوهمه قاعده: (الاجارة كالبيع)........................................................ ٣٣
دريمه قاعده: (كل ما امكن الانتفاع به مع بقاء عينه صحت اجارته) ........................................................ ٣٦
ځلورمه قاعده: (كل عمل فيه منفعة وكان عمله مباحا فالاجارة جائزة فيه)........................................................ ٣٧
اووم مطلب: د اجارې فسخه: ........................................................ ٣٩
اتم مطلب: د اجاري عقد مقارنه، د فقهې او مدني قانون ترمنځ:........................................................ ٤٢
نهم مطلب: (الاجارة المنتهيه بالتمليک مسلې څېړنه) ........................................................ ٤٤
لسم مطلب: د اجارې معاصر صورتونه........................................................ ٤٨
**دوهم مبحث: د اعارې عقد ........................................................ ٥٤**
لومړى مطلب: د اعارې مفهوم او پيژندنه ........................................................ ٥٤
دويم مطلب: د اعارې مشروعيت........................................................ ٥٤
الف: د شريعت له نظره:........................................................ ٥٤
١- د اعارې مشروعيت په قرآن کريم کې ........................................................ ٥٥
٢- د اعارې مشروعيت په احاديثو کې ........................................................ ٥٥
٣- د اعارې مشروعيت په اجماع کې........................................................ ٥٥

٤- د اعارې مشروعيت په قياس کې ........................................................ ٥٥
ب- اعاره د قانون له نظره ........................................................ ٥٦
دريم مطلب: د اعارې ارکان! ........................................................ ٥٧
د اعارې تکليفي حکم ........................................................ ٥٨
په اعاره کې د ضمان حکم ........................................................ ٥٨
څلورم مطلب: د اعارې شرايط ........................................................ ٦١
الف- د معير او مستعير پورې اړوند شرطونه ........................................................ ٦١
ب- دمستعاره عين پورى اړوند شرطونه ........................................................ ٦١
پنځم مطلب: د اعارې د عقد اساسي او بنيادي قواعد ........................................................ ٦٢
لومړى قاعده: (الاعارة مبنية على المسامحة) ........................................................ ٦٢
د قاعدي معاصرتطبيقات: ........................................................ ٦٣
دوهمه قاعدة: کل ماجازت اجارته جازت اعارته وما لافلا ........................................................ ٦٣
د قاعدي معاصر تطبيقات: ........................................................ ٦٣
دريمه قاعده: (کل ما امکن الانتفاع به مع بقاء عينه جازت اعارته) ........................................................ ٦٤
د قاعدي معاصر تطبيقات: ........................................................ ٦٥
څلورمه قاعده: (اعارة ما لا يمکن الانتفاع به الابالاستهلاک يکون قرضا) ........................................................ ٦٥
د قاعدي معاصرتطبيقات: ........................................................ ٦٦
پنځمه قاعده: کل شرط ينافى عقد الاعارة فهولغو. ........................................................ ٦٦
د قاعدي شرحه: شرط په لغت کې الزام الشىء والتزامه. ........................................................ ٦٦
شپږم مطلب: د اعارې فسخ ........................................................ ٦٧
اووم مطلب: دعقد اعاري مقارنه دفقهي او مدني قانون ترمنځ! ........................................................ ٦٩
**دريم مبحث: د وقف عقد ........................................................ ٧١**
لومړى مطلب: دوقف مفهوم او پيژندنه ........................................................ ٧١
لومړئ فرع: د وقف لغوي معنى ........................................................ ٧١
دوهمه فرع: دوقف اصطلاحي مفهوم: ........................................................ ٧١
دوهم مطلب: دوقف مشروعيت ........................................................ ٧٢
الف: دشريعت له نظره: ........................................................ ٧٢
ب: دقانون له نظره: ........................................................ ٧٤
څلورم مطلب: د وقف ارکان ........................................................ ٧٥

پنځم مطلب: دوقف شرائط: ........................................................................................ ۷۹
الف- د واقف شرایط.......................................................................................... ۸۰
ب- د موقوف شرایط ......................................................................................... ۸۰
شپږم مطلب: دوقف انواع: ..................................................................................... ۸۱
۱- الوقف الأهلي(الذري) ....................................................................................... ۸۱
۲- الوقف الخيري.................................................................................................. ۸۱
۳- الوقف المشترک:.............................................................................................. ۸۲
اووم مطلب: ناظر الوقف!......................................................................................... ۸۲
الف- دناظر الوقف دنده! ........................................................................................ ۸۲
ب- دناظر الوقف شروط:........................................................................................ ۸۲
اتم مطلب: دوقف بنيادي او اساسي قواعد!.................................................................... ۸۳
اوله قاعده: (مبنى الوقف على مراعاة المصلحة)............................................................... ۸۳
دوهمه قاعده: (وقف المعصية لا يصح)......................................................................... ۸٤
د قاعدي معاصر تطبيقات............................................................................................ ۸٥
نهم مطلب: د وقف فسخ............................................................................................... ۸٥
لسم مطلب: د وقف مقارنه دفقهي او مدني قانون ترمنځ..................................................... ۸٦
**دريم فصل: دعقود المنافع اثار! ........................................................................ ۹۱**
لومړی مبحث: د منافعو په عقد باندی مرتب مسايل ........................................................ ۹۱
لومړی مطلب: د منافعو د ماليت مسئله.......................................................................... ۹۱
دوهم مذهب د جمهورو دي: .......................................................................................... ۹۳
د جمهورو علماوو دلايل................................................................................................ ۹۳
دوهم مطلب: په منافعو کې دغلا حکم ........................................................................... ۹٤
د منافعو په غلاکې معاصر تطبيقی مثالونه...................................................................... ۹٦
دريم مطلب: په منافعو کې دقرض حکم............................................................................ ۹۷
څلورم مطلب: په منافعو کې دزکات حکم......................................................................... ۹۹
پنځم مطلب: دعقد اجارې اثار ........................................................................................ ۱۰۲
د اجارې دعقدآثار او پايلې............................................................................................. ۱۰۲
الف _ دموجر حقوق او التزامات..................................................................................... ۱۰۲
ب_ دمستاجر حقوق او التزامات .................................................................................... ۱۰۳

شپږم مطلب: دعقد اعارې اثار ............................................................................ ۱۰۴
الف_دمعير پورې اړونده آثاراو پايلې.......................................................... ۱۰۵
ب _ دمستعير پورې اړونده آثاراو پايلې...................................................... ۱۰۵
پايلې.................................................................................................. ۱۰۷
وړانديزونه!.......................................................................................... ۱۰۹
دآيتونوفهرست .................................................................................... ۱۱۰
داحاديثوفهرست ................................................................................... ۱۱۰
د اعلامو فهرست................................................................................... ۱۱۱
دمصادرو اومراجعو فهرست...................................................................... ۱۱۳

## سریزه

الْحَمْدُ لِلَّهِ الْعَلِيِّ الْقَادِرِ الْقَوِيِّ الْقَاهِرِ الرَّحِيمِ الْغَافِرِ الْكَرِيمِ السَّاتِرِ ذِي السُّلْطَانِ الظَّاهِرِ، وَالْبُرْهَانِ الْبَاهِرِ فَسُبْحَانَهُ مَا أَعْظَمَ شَأْنَهُ، وَالصَّلَاةُ، وَالسَّلَامُ عَلَى الْمَبْعُوثِ بَشِيرًا، وَنَذِيرًا، وَدَاعِيًا إِلَى اللَّهِ بِإِذْنِهِ وَسِرَاجًا مُنِيرًا فَأَوْضَحَ الدَّلَالَةَ، وَأَزَاحَ الْجَهَالَةَ مُحَمَّدٍ سَيِّدِ الْمُرْسَلِينَ، وَإِمَامِ الْمُتَّقِينَ، وَعَلَى آلِهِ الْأَبْرَارِ، وَأَصْحَابِهِ الْمُصْطَفَيْنَ الْأَخْيَارِ.

دنړۍ تیاره ماښامونو، د رڼا پر وجود، خپل تور څادر غوړولی ؤ، انسانیت دخپل زوال په وروستي برج کې دبقاء او شتون کوښښ کاوه په هر حال، داسې حالت ؤ چې علم پکې خپل نور بایللی ؤ او دا ځکه چې داسلام پیغام داسماني اړیکې پایله ده، هغه چې درهبانیونو، له تحریفونو، او قسیسینو له تزویرونو څخه جلا او بیل دی، او تر ننه ددغه پیغام په پچیده ډګرونو کې دامت معماران لګیا دي او دخپلو ولسونو لپاره ترې دعلم دنګې ودانۍ رغوي، موږ هم هڅه کړې ده چې دامت دعلمي معمارانو څو هڅې سره پرتله کړو، او په دې سره دعصر د اوښتون له امله د عقودالمنافع نوې صورتونه او ټوله کې عقود المنافع د څیړنې لاندې ونیسو.

د بیلګې په ډول،که یو څوک د ځمکې له منفعت څخه ګټه پورته کوي،یا په اوس مهال کې دسولر بیټریو له چارج څخه ګټه پورته کوي،چې دغه مهال ټول منفعتونه دي او ددې په اړه به دقیقه او اساسي څیړنه کوو.

هڅه مې وکړه چې دغه درووند بوج چې فقهاؤ یې دتحمیل هڅه کړې ده، موږ یې هم یوه برخه لږ وچیړو، تر څو پرې دخپل علمي یون حلت ثابت کړو، دخپلو درنو استادانو، کورنۍ، او خدای بښلي پلار څخه یوه نړۍ مننه چې زه یې د دین له پیغام سره اشنا کړم، بیا له خپلو هغه فکري ملګرو نړۍ مننه چې زه یې دعلمي یون دوام ته وهڅولم او دغه دی چې نن دعلمي مزل ددغه برخې پای ته رسیږم.

### - دموضوع اهمیت.

دا چې ننۍ زمانه کې ډیر عقدونه دمنافعو اړوند دي، نو په دې اساس زما دا موضوع (عقود المنافع) ډیره اړینه او ضروري ده، اوس پکې معاصر صورتونه هم شته دي چې دغه برخه یې بیا دتحلیل او تحریم، سربیره نور تحقیق هم غواړي، په همدې ډول په اجاره کې هم یو شمیر معاصر صورتونه دڅیړنې لاندې نیول شوي دي چې په پخوا زمانه کې یې شتون نه درلوده، او د افغانستان دمدني قانون نظر هم په دغه برخه کې دیادو موضوعاتو په تړاو راخیستل شوی دی.

او ویلی شو چې دغه موضوع تر ډیره حده مهمه ده، په نویو میتودونو څیړل شوې ده او دبیلا بیلو دیني او فقهي مراجعو او مصادرو څخه پکې استفاده شوې ده چې لوستوال به یې په لوستلو پښیمانه نه شي.

### - د څیړنې لاملونه او ضرورت:

۱- دغه موضوع تر ډیره حده مخکې هر اړخیز نده څیړل شوې، او که څیړل شوې هم ده، نو کفایت نکوي او ستونزه نه حلوي، نو په دې اساس ما اړینه وبلله ترڅو دغه موضوع وڅیړم، د ټولنې ستونزې تر یوحده پورې د شریعت په رڼا کې حل او فصل کړم.

۲- عقود المنافع موضوع زموږ په زمانه کې ډیره واقع کیږي او ډیر خلک ورسره تعامل لري، یو شمیر خلک په دغه برخه کې له ستونزو سره مخ کیږي، ددې لپاره چې خپل علمي تراث انتقال کړم، نورو خلکو ته پرې ګټه ورسوم، نو ځکه مې دغه موضوع انتخاب کړه، ترڅو دغه

برخه چې په پښتو ژبه کې ناخېرلې پاته ده، وڅېړم او خپل لوستونکي له دغه برخې په خپله ژبه خبر کړم.
۳- دا چې په پښتو ژبه یو داسې اثر پرېږدم چې راتلونکي نسلونه ترې استفاده وکړي او ماته الله جل جلاله په دنیا او اخرت ددغه خدمت بدله راکړي.
۴- او دا چې دخپلې ماسترئ دورې پایلیک بشپړ کړم، او له دې لارې په علمي برخه کې دخدمت وړ او جوګه شم.

**- په دې موضوع کې مخکنۍ لیکنې:**

په پخوانیو فقهي کتابونو کې د عقود المنافع په احکامو بحث شوی دی، په دې برخه کې علماوو بېلابېل نظرونه درلودل، خو زه غواړم دا مسئله د پخوانیو او معاصرو، فقهي او حقوقي نظریاتو له مخې وڅېړم، تر څو علمي اثر پرېږدم. نو په دې اړوند ( قسمه حقوق الانتفاع والمنافع والحقوق المعنویه ) دکتور احمد بن عبدالله الشلالي لیکنه کړی ده، همدا رنګه د عقود المنافع بحث په فقهي کتابونو کې په مختلفو بابونو کې شوی دی ولی په مجموعي شکل دعقود المنافع ترعنوان لاندي په پښتو ژبه کې کومه څېړنه نده شوي.

**- د څېړنې پوښتنې**

۱- د څېړنې اصلی پوښتنی

د عقود المنافع(ګټو تړون) احکام د فقه او قانون په رڼا کې څه حیثیت لري.؟

۲- د څېړنې فرعي پوښتنې

۱- دګټو تړون(عقود المنافع)اقسام کوم دي.؟
۲- د عقود المنافع اثار څه دي.؟

**- د څېړنې کړنلاره:**

د رسالې په لیکلو کې ما ځېنې طریقې کارولې چې:
ما په دې څېړنه کې له اصلي مراجعو استف اده کړې ده، په درې فصلونو مې دغه بحث ویشلی دی . دحدیثو په کتابونو کې هم اصلي مراجعو ته ورغلی یم او په فقهي برخه کې مې هم دڅلورو مذاهبو د متاخرینو او متقدمینو ټولو علماؤ له کتابونو استفاده کړې ده، یو شمیر موضوعاتو کې مې دعلماؤ نظریات تحلیل کړي دي، او په یو شمیر مواردو کې مې ددلایلو په اساس ترجیح هم ورکړې ده. هغه مسایل چې معاصر دي او په پخوانیو کتابونو کې نه پیدا کیږي، هغه مې له معاصرو کتابونو راخیستي دي او په دې اړه مې دمعاصرو علماؤ فتواګانې هم راوړي دي.

**- د څېړنې اهداف:**

۱- دا موضوع دمسلمانانو او ټولې انساني نړۍ ترمنځ په روزمره توګه عملي اړخ لري، نو لازمه ده چې پوهه وربانديې حاصله شي، خلک وربانديې پوه شي، نو په دې اساس مې وغوښتل چې د پښتو کتابتون ته یوه اثر څېړنه تقدیم کړم.
۲- دمسلمان په ژوند کې معاملات یو ډېر مهم اړخ دی، که چیرته مسلمان خپل ټول ژوند سم کړي، خو معاملات یې درست نه وي، نو نور ژوند یې هم ورسره اغیزمن کیږي، او دده دنیا او

اخرت ته زيان رسوي، نو په دې اساس چې داوسني مسلمان دمعاملات درست شي، نو هڅه مې وکړه ترڅو دغه موضوع دڅېړنې لاندې ونيسم.

۳- د الله جل جلاله رضاء حاصلول، ترڅو هغه ذات له ما څخه راضي شي.

۴- دماسترئ برخې تيزس بشپړ کړم، او خپل علمي يون لا پسې مخکې بوزم.

۵- په علمي ډګر کې خپل مسوليت اداء کړم.

۶- دعقود المنافع په تړاو لوستونکي او د پښتو ژبې درانه ويونکي پوه او خبر کړم.

**- د څېړنې ستونزې:**

۱- په ډيرى مواردو کې دپخوانيو فقهيانو او معاصرو فقهاؤ ترمنځ په کلياتو کې دنظر او رايې ټکر راته، نو ددوئ ترمنځ هغه لاره چې ددواړو نظريات مناقشه کړي، او په دليل يو نظر ته ترجيح ورکړل شي، د بيلګې په ډول ايا منافع مال دى که نه دى؟ که مال نشي، نو داوسنئ نړئ ډيرى اقتصادي تعاملات به له منځ لاړ شي، ډيرې پيسې به حرامې شي او ډير تجارتونه به په اسلامي هيوادونو کې په ټپه ودريږي.

۲- بله خبره دا وه چې د منافعو په غلا او سرقې باندې چې کوم اثار مرتبيږي، د دې ستونزې د حل لپاره څه کول پکار دي، مثلا يو سړى د يولک ډالرو معادل (Soft Data) سافټ ډيټا فايل غلا کوي، او يا د بطريانو چارج غلا کوي اوس به د ده قطع د لاس راځي او کنه؟ په داسې حال کې چې اصلا په دې خبره کې د فقهيانو اختلاف دى چې منافع مال دى کنه دى؟ نو دلته په دې مسله کې اختلاف او شبه راغله، په داسې حال کې چې حدود په شبه ساقطيږي، نو اوس څه کول پکار دي ځکه چې دلته دخلکو ډير شتمنى په منافعو کې بندى دي؟

۳- د ډيرو معاصرو هغه مسايلو حکم چې دعقود المنافع باب پورې اړه لري،په هغه مسايلو باندې حکم کول هم دستونزمنو چارو څخه ؤ.

**- د موضوع د جوړښت پلان: (مختصر)**

زما دغه څيړنه، په درې فصلونو مشتمله ده چې هر يو فصل يې بيا په مبحثونو او مطلبونو باندې مشتمل دى، په لومړي فصل کې پيژندنه او مشروعيت دڅيړنې لاندې نيول شوي دي او ورپسې په اجاره کې بحث شوى دى، داجارې ارکان، شرايط ، اساسي او بنيادي قواعد، معاصر صورتونه او داسې نور مهم اړخونه يې دڅيړنې لاندې نيول شوي دي، په هم دې ډول له اجارې وروسته بيا اعاره تر څيړنې لاندې نيول شوې ده، چې د اعارې مشروعيت، د اسلامي شريعت او افغانستان مدني قانون له نظره څيړل شوى دى، په همدې ډول بيا د اعارې شرايط او ارکان هم بحث شوي دي، چې له دې علاوه د اعارې اساسي او بنيادي قواعد هم ذکر شوي دي او په دغه برخه کې ټول مهم کارونه چې بايد وڅيړل شي، ترسره شوي او څيړل شوي دي دبحث په دوام بيا دوقف بحث هم تر څيرنې لاندې نيول شوى دى، چې دوقف مشروعيت، ارکان او بنيادي قواعد يې، او داسې نور اړخونه يې هم روښانه شوي دي، په پاى کې دريم فصل راوړل شوى دى چې په هغې کې دا ترڅيرنې لاندې نيول شوي دي چې: ايا منافع مال دى کنه؟په منافعو کې دغلا حکم څه دى؟ او داسې نور ډير مهم ارزښتناک او مهم مبحثونه پکې تر څيرنې لاندې نيول شوي دي، په پاى کې زما ددغه څيرنې پايله او نتيجه ګيري ده چې ددغې موضوع دڅېړنې په نتيجه کې زه کومې موخې او پآيلې ته رسيدلى يم چې هلته په پآيله کې به پرې پوه شئ.

## لومړی فصل پېژندنه او مشروعيت

**لومړی مبحث: دعقود المنافع(دګټو تړون)مفهوم او پېژندنه:**

**لومړی مطلب: د عقد مفهوم او پېژندنه:**

**دوهم مطلب: د منافعو مفهوم**

**دريم مطلب: د عقد مشروعيت**

**څلورم مطلب: د عقد انواع او اقسام**

**پنځم مطلب: د عقود المنافع مشروعيت د اسلامي شريعت له نظره**

**شپږم مطلب: د عقود المنافع مشروعيت دقانون له نظره**

**لومړی فصل پېژندنه او مشروعیت**

په دې فصل کې د عقد تعریف، د منافعو تعریف،او پېژندنه کوو، بیا د د عقد د مشروعیت په هکله هم لنډه خبره کوو. د عقد په انواعو هم بحث کوو، او عقود المنافع په لغوي،شرعي،او قانوني لحاظ واضحه کوو.

**لومړی مبحث: دعقود المنافع(دګټو تړون)مفهوم او پېژندنه:**

**لومړی مطلب: د عقد مفهوم او پېژندنه:**

**الف: د عقد لغوي مفهوم:**

عقد په لغت دربط او تړلو په معنا سره راځي، لکه عربان وايي: عقدطرفي الحبل ونحوه (وصل أحدهما بالآخر بعقدة تمسكهما فأحكم).[1]

ژباره: دېرى دواړه سرونه یې وتړل یعني دواړه سرونه یې پیوسته کړه اومحکم یې وتړل.

**ب: د عقد اصطلاحي تعریف:**

په اصطلاح کې دعقد دوه معناوې دي.چې یوه یې عامه او بله یې خاصه معنا ده او دهره یوه جلا جلا تعریف شوې ده.

**د عقد عامه معنا:** (كل عهد يلتزم به الانسان، سواء اكان له مقابل ام لا، وسواء اكان التزاما دنيويا ام دينيا)[2]و هذا ما فسر به قوله تعالى: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آَمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ)[3]ژباړه: د ایمان خاوندانو عقدونه پوره کړئ.

مطلب: هر هغه عهد دی چې انسان ورته ملتزم دی، برابره خبره ده که مقابل کې یې څه شی وي او کنه، برابره خبره ده که دا دنیوي التزام وي او که دیني همدغه څه دي چې الله جل جلاله ورته په دغه پورته ایت کې اشاره کړې ده.

**د عقد خاصه معنا:** (فهو التزام الناشى عن ارتباط الايجاب باالقبول).[4]

ژباړه: هر هغه التزام چې هغه دایجاب او قبول داړیکې څخه پیدا شوی وي.

دعقد دخاصې او عامې معنا ترمنځ فرق دادی چې عامه معنایې هر هغه عهد دی چې انسان ورته باید ملتزم پاتې شي،او خاصه معنایې داده چې هغه التزام دی چې دایجاب او قبول څخه رامنځ ته کیږي،عقد بلل کیږي.

**دوهم مطلب: د منافعو مفهوم او پېژندنه**

دا چې عقود المنافع کې منافع هم زموږ دځیرنې یوه برخه تشکیلوي،نو په دې اساس دا هم اړینه ده چې دعقد له پیژندنې نه وروسته منافع هم وپیژندل شي،نو په پیل کې دمنافعو لغوي پېژندنه کوو او بیا اصطلاحي.

**الف_ د منافع لغوي معني او مفهوم**

انتفاع او منفعت: (مأخوذان من النفع، وهو عكس الضرر يقال: نفع غيره إذا أفاده)[5]

---

()احمد الزيات ، إبراهيم مصطفى ، حامد عبد القادر ـ محمد النجار، تحقيق: مجمع اللغة العربية المعجم الوسيط، دار النشر : دار الدعوة،عدد الأجزاء: ٢،ج:٢،ص:٦١۴

[2] :الأفريقي المصري، محمد بن مكرم بن منظور، لسان العرب، الناشر : دار الكتب العلمية، لبنان، بيروت، ج:٣، ص:٣٦١.

٣ :سورة المائدة/لومړی ایت.

٤ : مخكنى مرجع.

٥ : ازدي، أبو بكر محمد بن الحسن بن دريد الأزدي، جمهرة اللغة، الناشر: دار العلم للملايين – بيروت، الطبعة: الأولى، ١٩٨٧م، (المتوفى: ٣٢١هـ)المحقق: رمزي منير بعلبكي، عدد الأجزاء: ٣، باب العين والنون.ج: ٣،ص:٦.

ژباره: مطلب انتفاع او منفعت دواړه لغتونه له نفع څخه اخیستل شوي دي، د ضرر ضد دي، یو شمیر خلک وایي: بل ته یې نفع ورسوله مانا فایده او ګټه یې هغه ته ورسوله.
په همدې ډول: انتفاع د افتعال د باب مصدر او دنفع د ریښې څخه دی چې دګټې، اخیستلو، ګټې حاصلولو او ګټه پورته کولو په معنی ګانو سره کارول کیږي، لکه چې عربان وایي (انتفع به) یعنی له هغه څخه یې ګټه پورته کړه.
دانتفاع لغت دمدني حقوقو په برخه کې هم په پراخې پیمانیې سره کارول شوي دي مثلاً دعیني حقوقو اړوند دانتفاع حق په برخه کې دانتفاع لغت کارونه لکه له عاریت څخه انتفاع یا له اجارې او یاهم له وقف څخه انتفاع. همدارنګه په اسلامي شریعت کې هم دمعاملاتو په فقه کې دغه لغت ډیرزیات کارول شوی دی، په فقه کې دغه لغت دحق الانتفاع په نوم دهغه حق لپاره کارول شوی دی چې دهغې په اساس یو څوک کولاي شي دغیر له ملک څخه دیو عقد په اساس ګټه واخلي.

**ب: _ د منافع اصطلاحي معني او مفهوم**

په یو عین کې هغه حق دی چې ملکیت یې دغیر وي، خو منافع ترې بل شخص اخلي، په دې شرط چې ددغه جنس اصل او ذات به محفوظ وي، ددې لپاره چې کله دانتفاع یا منافعو حق پای ته رسیږي چې خپل خاوند ته یې وروسپاري.[٦]
په همدې ډول یو شمیر نور علماء بیا وایي: په اصطلاح کې د منافع حق دهغه حق څخه عبارت دی چې له مخه یې یو شخص کولاي شي له هغه ملک څخه چې رقبه یې دبل کس په لاس کې وي دیو عقد په اساس ګټه پورته کړي.[٧]
د ملکیت څخه دانتفاع حق دافغانستان دمدني قانون ٢٢٩٩ یمه ماده کې مونږ ته داسي راپیژندل شوي دي چې وایي (جایزه ګټه اخیستل د ګټې اخیستونکي دحق څخه دعین داستعمال او پکار اچولو څخه عبارت دي خو په دي شرط چه پخپل حال باقي پاتي وي که څه هم پخپله عین مملوک نه وي) نو په همدي اساس دي چې دانتفاع دحق خاوند له هغه عین څخه چې د رقبې مالک یې بل څوک دي کولاي شي چې ګټه واخلي. باید یادونه وکړم چې دمدني قانون په اساس داعیانو څخه دګټې لاس ته راوړل منقول وي او که عقار جواز لري د مدني قانون ٢٣٠٠ مه ماده پدي هکله داسي وایې چې (داعیانو دګټو کسبول بې دهغې د رقبې څخه جواز لري عام لدي چې دا اعیان عقار وي او که منقول).[٨]
دیادوني وړده چې دانتفاع حق پوري اړوند احکام دافغانستان دمدني قانون د٢٢٩٩ مي مادې څخه بیا تر٢٣١٧ مي مادې پورې درج دي چې پکې دانتفاع حق اړوند ټول موضوعات رانغاړل شوي دي، لدي څخه علاوه دمدني قانون په نورو احکامو کې هم دانتفاع حق پوري دتړلو موضوعاتو متعلق احکام موجود دي.[٩]

**دریم مطلب: د عقد مشروعیت**

د اسلام مبارک دین عقدونه، اخیستل او پلورل مشروع او جایز ګرځولي دي، یو شمیر چې نا جایز دي دهغې لپاره یې بیا کلي قواعد ایښي دي او موږ تاسي ترې منع کوي او راته راښایي

٦) شلالي، د. أحمد بن عبدالله ، قسمة حقوق الانتفاع والمنافع والحقوق المعنوية، الناشر مطبعه العالم، الفضاء، ص١٢١.
٧ مخکینی مرجع.
٨ عبدالله ، نظام الدین، حقوق عیني ،انتشارات سعید،چاپ ششم، سال ١٣٩٥ ، ص ٩٣.
٩ : عبدالله ، نظام الدین، ص ٩٣

چې دا ډول عقدونه نا مشروع او نا جايز دي، دعقدو په مشروعيت باندې تر ټولو ښکاره او واضح دليل له قرانکريم څخه دا ايت دی: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آَمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ إِلَّا مَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ).[10]
ژباره: اې مؤمنانو د عقدونو د بنديزونو پوره مراعات وکړی ستاسی لپاره د څارويو ټول ډولونه حلال وګرځول شول پرته له هغو چې وړاندي به تاسي ته وښودل شي خو د احرام په حالت کې ښکار کول ځان ته مه روا کوی بيشکه الله چې څه غواړي حکم کوي.
په نبوي احاديثو کې هم ډيری حديثونه شته دي چې عقدونه او بيعې يو مشروع او جايز عمل بولي (عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ شِبْلٍ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ: (إِنَّ التُّجَّارَ هُمُ الْفُجَّارَ). فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَمْ يُحِلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ؟ قَالَ: (بَلَى وَلَكِنَّهُمْ يَحْلِفُونَ فَيَأْثَمُونَ)[11]).[12]
ژباړه: يو صحابي وايي، چې ما دپيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې ويل يې: له شک پرته چې دغه تاجران فاجران دي!يو سړي ورته وويل: ای دالله جل جلاله استازيه، ايا الله جل جلاله بيع نه ده حلاله کړې؟هغه ورته وويل: ولې نه، خو دومره ده چې دوی په بيعو کې قسمونه خوري.
له دې ځايه په واضح ډول معلوميږي چې بيع حلاله ده، کوم مشکل په کې نشته، اسلام عقدونه جايز بولي او دې لپاره يې يو چوکاټ برابر کړی دی او کوم چې نامشروع دي په هغې يې هم خپل پيروان خبر کړي دي په دې تړاو نور ډير احاديث هم شتون لري چې موږ دبحث د اوږد والي له امله ترې تيريږو.

**څلورم مطلب: د عقد انواع او اقسام**
دصحيح عقد انواع داحنافو او مالکيانو له نظره دوه دي، نو په دې اساس دغه ډله علماء عقد دوه ډولونو ته تقسيموي: ۱ـ نافذ عقد ۲ـ موقوف عقد
**لومړی فرع- نافذ عقد**
هغه عقد ته وايي چې دهغه چا له لورې صادر شوی وي، چې اهليت او ولايت دعقد ولري، لکه په غالب ډول چې خلک دغه ډول عقدونه ترسره کوي، لکه دوه تجاران چې کله تجارت کوي او ترمنځ يې يو مشروع عقد وشي.
د نافذ عقد حکم: په دې ډول عقد باندې اثار مرتبيږي، هر کله چې صادر شو، بغير د يو کس داجازې دتوقف پورې بياپه همدې ډول نافذ عقد هم دوه ډولو ته ويشل شوی دی، لازم او غير لازم.
**لومړی ډول نافذ لازم عقد:** هغه دی چې عاقدين يې دبل له رضاء پرته نشي فسخه کولای، لکه بيع او اجارةاو اصل په عقودو کې هم لزوم دی ځکه وفاء په عقودوکې شرعا واجب ده، ځکه الله جل جلاله فرمايي: (يا أيها الذين آمنوا أوفوا بالعقود).[13]
ژباړه: مومنانو عقدونه بشپړ کړئ.

---

۱۰ :سورة المايده لومړی ايت.
۱۱ دحديث حکم:الباني رحمه الله په خپل کتاب،صحيح الجامع کې وايي:صحيح.
۱۲ التركماني، علاء الدين علي بن عثمان المارديني الشهير، السنن الكبرى وفي ذيله الجوهر النقي، الناشر : مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة في الهند ببلدة حيدر آباد، مصدر الكتاب : موقع وزارة الأوقاف المصرية وقد أشاروا إلى جمعية المكنز الإسلام الطبعة الأولى ١٣٤٤ هـ ، عدد الأجزاء١٠،ج:٥.ص:٢٦٦.
۱۳ :سورة المائدة:اول ايت.

بیا دغه لزوم داحنافو او مالکیانو له نظره هله رامنځ ته کیږي چې کله دعاقدینو له لوري دعقد صدور وشي، دشوافع او حنابله له انده هله لزوم راځي چې کله عاقدینو ترمنځ تفرق رامنځ ته شي، البته تفرق څخه موخه تفرق بالابدان دی البته بیا په دغه برخه کې تفصیلي بحث شتون لري چې دلته ترې تیریږو.

**دوهم ډول نافذ غیر لازم عقد:** دې عقد ته جایز عقد هم یوشمیر فقهاء ویلی دی، ځکه دعقد هر لوری کولی شي دبل لوري درضاء پرته دغه عقد فسخه کړي، یا یې عقد طبیعت تقاضاء کوي، لکه وکالة، اعارة او داسې نور او یا به یې دعاقد دمصلحت له امله وي، لکه هغه عقد چې په خیار باندې مشتمل وي.[14]

نو عقود په نسبت دلزوم او دفسخ دقابلیت او عدم قابلیت په اعتبار سره په څلور ډوله دي:

**لومړی:** هغه عقود لازمه چې فسخه نه قبلوي: لکه زواج، دا اوس فسخ نه قبلوي، اګر که دعاقدینو اتفاق هم شتون ولري، مطلب دا داقالې په طریقې سره فسخ نه قبلوي.

البته دا ډول عقد په یوه بله بڼه پای ته رسیږي لکه طلاق او خلع یا چې قاضي پکې جلا والی راولي، دعیب، عدم انفاق، دبداخلاقی، بند او اورد نشتون له امله.[15]

هر هغه څه چې فسخه نه قبلوي، نو هغې کې خیار هم نه دی ثابت، ځکه خیار خپل صاحب ته دفسخ حق ورکوي.

**دوهم:** هغه لازم عقود چې فسخه قبلوي، مطلب هغه چې لغوه کیږي د اقالې په طریقې سره دعاقدینو په اتفاق سره، لکه عقدونه چې مالي عوضونه لري، لکه بیع، اجاره، صلح، مزارعت، مساقات او یو شمیر نور داسې عقدونه چې فسخ یې په خیار سره رامنځ ته کیږي.

**دریم:** هغه عقود لازمه چې په یو طرف لازم وي، لکه رهن او کفالة، دا دواړه په نسبت دراهن او کفیل سره لازم دي، خو ددائن او مرتهن په نسبت غیر لازم دي.

**څلورم:** هغه عقود چې په یو طرف باندې هم لازم نه وي، هغه ته وایي چې دواړو عاقدینو ته پکې دفسخ او رجوع حق وي، لکه اعارة، وکالة، شرکت، مضاربة، وصیة، هبة او داسې نور.

**دوهمه فرع- موقوف عقد**

موقوف عقد هغې ته وایي چې د یو داسې کس څخه صادر شوی وي چې دعقد اهلیت ولري، البته ددغه عقد دصادرولو ولایت او واک ونلري، لکه دبیلګې په ډول دفضولي عقد، په همدې ډول عقد دهغه صغیر چې هغه ممیز وي، او دزیان او ګټې ترمنځ متردد وي.

**د موقوف عقد حکم:** په دې ډول باندې آثار نه مرتب کیږي، تر هغې چې هغه کس اجازه وکړي کوم چې ددغه جنس دصادرولو ملکیت ولري، نو که چیرته یې اجازه ونکړه نو دغه مهال دغه عقد باطل دی.[16]

بیا موقوف عقد اوه مهم انواع لري چې عبارت دي له:

(۱): عقد دمکره.

(۲): عقد دممیز.

(۳): عقد دداسې سفیه چې محجور وي.

(۴): عقد دداسې مدیون چې په دین کې مستغرق وي.

(۵): دهغه مریض تبرع چې په مرض موت مبتلا وي.

---

[14] الزُّحَيْلِيّ، وَهْبَة بن مصطفى ، الفقه الإسلاميّ و ادلته، بیروت – لبنان، الناشر: دار الفكر، ج٤، ص: ٣٩٢.

١٥ الفقه الاسلامي وادلته،ج:۴،ص:٣٩٢.

١٦: الفقه الإسلاميّ و ادلته، ج٤، ص: ٣٩٣.

(۶): عقد دفضولي.
(۷): يو داسي كس عقد چي له اسلام څخه مرتد شي.نو دداسي كس عقد هم دامام ابوحنيفه رحمه الله په اند موقوف دی.نو هر كله چي اسلام ته راوگرځيده نو عقد يې نافذ شو.[17]

**پنځم مطلب: د عقود المنافع مشروعيت د اسلامي شريعت له نظره**

په اسلامي شريعت کې په مشروع شيانو کې اخيستل او پلورل جائز عمل دی، اسلامي شريعت بيعې ته مسلمانان هڅوي او ورته وايي چې له عبادت وروسته په حلاله روزۍ گټلو ځان مصروف کړئ، په يو بل ځای کې وايي چې تاسې عقدونه بشپړ کړئ، په هر حال اخيستل او پلورلو کې فلسفه هم منافع دي چې خلک ترې مستفيد شي، نو په يو شمير ځايونو کې پيغمبر صلی الله عليه وسلم خپلو پيروانو ته وايي چې دخير کارونه ترسره کړئ، په همدې ډول په قرانكريم کې هم دعقود المنافع دمشروعيت لپاره يو شمير دلايل شته دي.چې په ضمني ډول ترې دا معلوميږي،البته داسې مشخص نص نشته چې دا باب ترې په ټوله معنا واضح وي.
أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ وَلا تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ وَإِن كُنَّ أُولاتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ}.[18]
ژباړه: ووسوئ دا(ښځې طلاقې کړې شوې) په هغه ځای کې چې په کې اوسيږي تاسې(سم) له طاقت دتاسې (چې توانيږئ) اومه کوئ اراده دضررتاسې ددغو(مطلقاتو) لره چې تنگوئ به (ځايونه اونفقې) پدوې باندې، اوكه چيرته وي دغه (ښځې) خاوندانې دبارگيدې(حاملانې بلاربې) نونفقه کوئ تاسې پردوې باندې ترهغه پورې چې وزوېږوي دوی بار(حمل دگيډو) خپلو(په زيږدلوسره)، نوکه تی ورکاوه دوې (پس له طلاقه) اولاد دتاسولره ، پس ورکړئ تاسې هغوی لره مزدوري دهغوی اومصلحت مشوره کوئ(ای ښځواوميرونوپه حق دمولود خپل) په منځونوخپلوکې به معروف نېکی سره.
په پورتني ايت کې وايي چې هغه ميرمن چې دخپل خاوند له لوري طلاقه کړل شوې وي، نوکولای شي چې دخاوند ماشوم ته داجورې په بدل کې شېدې ورکړي نو نوموړی ايت په دې دلالت کوي چې مور دماشوم په سر له پلار څخه اجاره اخيستلی شي ، نو كله چې دماشوم په سر يې اخيستلی شي نو په نورو بيعو كې خو يې خامخا كولای شي له دې اخوا بيا په يو شمېر نورو سورتونو کې هم داجارې په تړاو وضاحتونه شته دي لکه: {قَالَتْ إِحْدَاهُمَا يَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الأَمِينُ قَالَ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُنكِحَكَ إِحْدَى ابْنَتَيَّ هَاتَيْنِ عَلَى أَن تَأْجُرَنِي ثَمَانِيَ حِجَجٍ فَإِنْ أَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِندِكَ وَمَا أُرِيدُ أَنْ أَشُقَّ عَلَيْكَ سَتَجِدُنِي إِن شَاء اللَّهُ مِنَ الصَّالِحِينَ}.[19]
په نبوی حديث کې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) فرمايي: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ قَالَ: «لَا يَسْتَامُ الرَّجُلُ عَلَى سَوْمِ أَخِيهِ وَلَا يَنْكِحُ عَلَى خِطْبَتِهِ، وَلَا تَنَاجَشُوا، وَلَا تَبِيعُوا بِإِلْقَاءِ الْحَجَرِ، وَمَنْ اسْتَأْجَرَ أَجِيرًا فَلْيُعْلِمْهُ أَجْرَهُ»[20]

---
۱۷ :الفقه الاسلامي وادلته.ج:۴.ص:۵۸۷.
۱۸ :سورة الطلاق.شپږم ايت.
۱۹ :سورة القصص ۲۶او ۲۷ ايتونه.
۲۰ : صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان. المؤلف : محمد بن حبان بن أحمد أبو حاتم التميمي البستي. الناشر : مؤسسة الرسالة – بيروت.ج:۹.ص:۳۵۲.

ژباړه: يوكس دي دبل سړي په بيع مخكيوالي نه كوي اودهغه په خطبه دي نكاح نه كوي اويوكس دي په بيع نه تيزوي اودكانوپه اچولودې بيع نه كوي اوكه يوكس يومزدور ونيسي نودهغه مزدوري دي ورته وسپاري.
له پورته حديث څخه په واضح ډول معلوميږي چې اجاره يو مشروع عمل دی، ترسره كول يې كوم مشكل نلري او داسلامي شريعت له اساساتو سره يې كوم ټكر نشته، بلكې په خپله همدغه اسلامي شريعت خلک د اجارې لوري ته هڅوي ترڅو خپلې مالي چارې سرته ورسوي.
په يو بل نبوي حديث كې راځي: وَرُوِيَ عَنْ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ قَالَ: « أعْطُوا الأَجِيرَ أَجْرَهُ قَبْلَ أَنْ يَجِفَّ عَرَقُهُ وَأَعْلِمْهُ أَجْرَهُ وَهُوَ فِى عَمَلِهِ »[21]
ژباړه: پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايي مزدور ته دهغه دخولې له وچيدلو مخكې اجوره وركړئ، دهغه مزدوري ورته معلومه كړئ په داسې حال كې چې هغه په خپل كار كې بوخت وي. دلته دا خبره په حديث كې كوي چې اجير ته دهغه اجورت او مزدوري ژر وركړئ، نو چې په ژر وركړه يې امر كړی دی نو دا ترې معلوميږي چې اجاره جواز لري او دې امت ته جايز ده.
دابن عمر رضى الله عنهما حديث دی چې فرمايي: (رَوَى ابْنُ عَمَرَ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُمَا قَالَ: أَصَابَ عُمَرُ أَرْضًا بِخَيْبَرَ، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَأْمِرُهُ فِيهَا فَقَالَ: يَا رَسُول اللَّهِ، إِنِّي أَصَبْتُ أَرْضًا بِخَيْبَرَ لَمْ أُصِبْ مَالاً قَطُّ أَنْفَسَ عِنْدِي مِنْهُ، فَمَا تَأْمُرُ بِهِ؟ قَال: إِنْ شِئْتَ حَبَسْتَ أَصْلَهَا وَتَصَدَّقْتَ بِهَا قَال: فَتَصَدَّقَ بِهَا عُمَرُ أَنَّهُ لاَ يُبَاعُ وَلاَ يُوهَبُ وَلاَ يُورَثُ، وَتَصَدَّقَ بَهَا فِي الْفُقَرَاءِ وَفِي الْقُرْبَى وَفِي الرِّقَابِ وَفِي سَبِيل اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيل وَالضَّيفِ، وَلاَ جُنَاحَ عَلَى مَنْ وَلِيَهَا أَنْ يَأْكُل مِنْهَا بِالْمَعْرُوفِ وَيَطْعَمَ غَيْرَ مُتَمَوِّلٍ، وَفِي لَفْظٍ: غَيْرَ مُتَأَثِّلٍ مَالاً).[22]
ژباړه: دعبدالله بن عمررضى الله عنه نه روايت دي داوايې: كله چې عمر رضى الله عنه ته دخيبرځمكه په لاس ورغله نورسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغې چې دخيبردځمكې اړوند ورسره مشوره وكړي، عمرفاروق ررضى الله عنه ورته وويل: اى دالله رسول صلى الله عليه وسلم ما ته دخيبرځمكه په لاس راغلې چې ډيره دلوړقيمت ځمكه ده ماته څه امر كوي؟رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: يوځه له ځان سره وساته اونوره صدقه كړه، عمررضى الله هغه صدقه كړه او په ډاګه يې وويل: چې نوموړې ځمكه به نه پلورل كيږي ، نه به هبه كيږي اونه به په ميراث وړل كيږي، عمرفاروق رضى الله عنه ياده ځمكه مسكينانو، مسافرو، خپلوانو، غلامانو، مجاهدينو او ميلمانو باندې تقسيم كړه.
له دغه حديث څخه په واضح ډول معلوميږي چې د اسلام دوهم خليفه عمر فاروق رضى الله عنه دخپلې هغه ځمكې چې په خيبر كې يې درلوده، دهغې منافع يې فقراء او مسكينانو ته وقف كړي وؤ، هغه يې بهترين مال وه، پيغمبر صلى الله عليه وسلم هم ورته وايي چې اصل دځمكې له ځان سره وساته اومنافع يې صدقه كړه، نو بيا عمر رضى الله عنه همدغسې وكړل او وې ويل: دغه ځمكه به نه خرڅيږي، نه به هبة كيږي، نه به په ميراث وړل كيږي، بلكې هغه به په فقيرانو او مسكينانو باندې صدقه كيږي نو دلته په واضح ډول عمر فاروق رضى الله عنه دخپلې

---

۲۱ : السنن الكبرى. مؤلف : أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي. مؤلف الجوهر النقي: علاء الدين علي بن عثمان المارديني الشهير بابن التركماني، الناشر : مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة في الهند ببلدة حيدر آباد. الطبعة : الطبعة : الأولى ۱۳۴۴ هـ. ج.۶.ص.۱۲۰.
۲۲ بخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله، صحيح البخاري، ناشر: دار طوق النجاة مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم محمد فؤاد عبد البا، قي، الطبعة: الأولى، ۱۴۲۲هـ، عدد الأجزاء: ۹.ج:۳.ص:۱۹۸.

ځمکي منافع صدقه کړل، نو له دغه ځایه معلومیږي چي منافع صدقه کول جایز دي، نو چي صدقه کول یي جایز دي، نو په بیعو کي یي هم درست والی سم دی.

**شپږم مطلب: عقود المنافع په قانون کي:**

دمنافعو(انتفاع)عقد د مدني حقوقو د مهمو او اساسي مباحثو له جملي څخه دی او په دې مهم بحث باندي پو هه حاصلول دهغه دتولو جوانبو او اړخونو ژورې مطالعي ته ضرورت لري نوبناً دانتفاع یامنافعوحق په لغوي او اصطلاحي مفهوم دپوهیدلو وروسته لازمه ده ترڅو دانتفاع حق موقف او موقعیت په مدني حقوقو کي روښانه کړو عیني حقوق دمدني حقوقو یوه مهمه او اساسي برخه ګڼل کیږي چي دافغانستان مدني قانون عیني حقوق داسي پیژندلي دي چي وایي (عیني حقوق دعین په ذات باندي دشخص دمستقیمي سلطي څخه عبارت دي چي دقانون په وسیله ورکول کیږي).[۲۳]

.نو دلته وایي چي دیو عین په ذات باندې دیو شخص مستقیمه سلطه ده چي دهغي له منفعت څخه ګټه پورته کړي،او ددغه عین له ذات څخه منفعت پورته کولو حق داساسي قانون په واسطه ورکول کیږي،مطلب دا واضحه شوه چي دمنافعو حق اساسي قانون کي ثابت دی .

[۲۳] د مدنی افغانستان مدنی قانون، ماده٤٨٥.

دوهم فصل: دګټو تړون(عقود المنافع)اقسام

لومړی مبحث: داجارې عقد

لومړی مطلب: داجارې عقد مفهوم او پېژندنه

دویم مطلب: داجارې د عقد مشروعیت

دریم مطلب: د اجارې د عقد ارکان

څلورم مطلب: د اجارې د عقد انواع

پنځم مطلب: د اجارې د عقد شرائط

شپږم مطلب: د اجارې اساسي او بنیادي قواعد

اووم مطلب: د اجارې فسخه

اتم مطلب: د اجارې عقد مقارنه، د فقهې او مدني قانون ترمنځ

نهم مطلب: (الاجارة المنتهیه بالتملیک مسلې څېړنه)

لسم مطلب: د اجارې معاصر صورتونه

**دوهم فصل: دګټو تړون(عقود المنافع)اقسام**

په دې فصل کې دعقود المنافع له اقسامو څخه بحث کو،چې دلته داجارې عقد درپيژنو،داجارې عقد په مشروعيت باندې بحث کوو،او د اجارې عقد بشپړه څېړنه دلته کو چې په هغې کې داجارې يو شمير معاصر صورتونه هم دڅېړنې لاندې نيول شوي دي.

**لومړی مبحث: داجارې عقد**

**لومړی مطلب: داجارې عقد مفهوم او پيژندنه**

**الف: داجارې عقد لغوي معنی.**

إجارة بكسر الهمزة وضمها وفتحها جزاء العمل، ويقال: (الاجر من الله او تمليك المنافع بعوض، ومنه سمي الثواب أجرا لان الله تعالى يعوض العبد على طاعته ويصبره على مصيبته).[٢٤]ژباړه: اجاره دهمزې په کسرې سره مشهور قول دې، البته په ضمې اوفتحې سره يې لوستل هم جائزدي، اجاره په لغت کې دعمل جزا اوبدلې ته ويل کيږی

په همدې اساس که يوڅوک نيک عمل وکړي نوخلک ورته وايي الله اجراوبدله يې الله متعال سره ده. اجاره دعوض په مقابل کې دمنافعو مالک کيدلوته ويل کيږي. په همدې اساس په ډيرې ځايونوکې دثواب نه په اجرتعبير کيږي، ځکه الله متعال خپل بنده ته دطاعت اويا په مصيبت باندې د صبرکولوپه وخت کې اجراوثواب ورکوي.

**ب: داجارې اصطلاحي معنی.**

او په اصطلاح کې: (تمليك منفعة من عين معلومة مدة معلومة، يتبعه تمليك العين على صفة مخصوصة بعوض معلوم.).[٢٥]

ژباړه: د يو معلوم شي دمنفعت مالک کيدل، د يوې معلومې مودې لپاره ديو معين او ټاکلي شي په ځانګړې طريقې سره دمعلوم عوض په مقابل کې.

**دويم مطلب: داجارې د عقد مشروعيت**

**الف: دشريعت له نظره**

١- قرآن او اجاره

الله جل جلاله په خپل کلام کې دخپل بشريت لپاره مهمې او اړينې لارښونې راليږلي دي او دبنده دستونزو دحل لپاره يې لارې چارې هم په ګوته کړې دي، په انساني اړتياو کې يوه هم اخيستل او پلورل دي، دکايناتو ستر څښتن يو شمير بيعې مشروع او يو شمېر نورې نا مشروع ګرځولي دي په مشروع عقد کې اجاره هم ده او دمشروعيت دليل يې دا ايت دی: قوله تعالی: {أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ وَلا تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ وَإِن كُنَّ أُولاتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ}.[٢٦]

---

٢٤ : قلعجی: معجم لغة الفقهاء، محمد رواس قلعجي - حامد صادق قنيبي،الناشر: دار النفائس للطباعة والنشر والتوزيع،الطبعة: الثانية، ١٤٠٨ هـ - ١٩٨٨ م،ج:١،ص:٣١.

٢٥ :ردالمختار،ج:۶،ص:۴.

٢٦ :سورة الطلاق.شپږم ايت.

ژباړه: ووسوئ دا(ښځي طلاقي کړي شوې) په هغه ځای کې چې په کې اوسیږي تاسي(سم) له طاقت دتاسي (چې توانیږئ) اومه کوئ اراده دضررتاسي ددغو(مطلقاتو) لره چې تنګوئ به (ځایونه اونفقې) پدوي باندي، اوکه چیرته وي دغه (ښځي) خاونداني دبارګیدې(حاملاني بلاربې) نونفقه کوئ تاسي پردوي باندې ترهغه پوري چې وزویږوي دوي بار(حمل دګیډو) خپلو(په زیږدلوسره)، نوکه تې ورکاوه دوې (پس له طلاقه) اولاد دتاسولره ، پس ورکړئ تاسي هغوي لره مزدوري دهغوي اومصلحت مشوره کوئ(ای ښځواومیړونوپه حق دمولود خپل) په منځونوخپلوکې به معروف نېکۍ سره.

په پورتني ایت کې وایي چې هغه میرمن چې دخپل خاوند له لورې طلاقه کړل شوې وي، نوکولای شي چې دخاوند ماشوم ته داجورې په بدل کې شېدې ورکړي نو نوموړی ایت په دې دلالت کوي چې مور دماشوم په سر له پلار څخه اجاره اخیستلی شي ، نو کله چې دماشوم په سر یې اخیستلی شي نو په نورو بیعو کې خو یې خامخا کولای شي له دې اخوا بیا په یو شمېر نورو سورتونو کې هم داجارې په تړاو وضاحتونه شته دي لکه: {قَالَتْ إِحْدَاهُمَا يَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الأَمِينُ قَالَ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُنكِحَكَ إِحْدَى ابْنَتَيَّ هَاتَيْنِ عَلَى أَن تَأْجُرَنِي ثَمَانِيَ حِجَجٍ فَإِنْ أَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِندِكَ وَمَا أُرِيدُ أَنْ أَشُقَّ عَلَيْكَ سَتَجِدُنِي إِن شَاء اللَّهُ مِنَ الصَّالِحِينَ}.[٢٧]

ژباړه: وویل یوې له دغو دواړو: ای پلاره زما! مزدور ونیسه دی (لپاره دمیړو ګډوڅرولو) بیشکه چې غوره دهرهغه چا چې مزودر یې نیسې، هغه څوک دي چې قوت ناک او امانت ګروي وویل: (پلار دجینکوموسی ته) بېشکه زه اراده لرم ددې چې په نکاح درکړم تاته یوه لدغو لونیو خپلوچې دادي پدې چې مزدوري وکړي ماله اته کاله پس که پوره کړه تا لس کاله ، نوهغه به ستاله طرفه (له ماسره احسان) وي اونلرم زه اراده ددې چې مشقت واچوم پرتا (په اشتراط دلسوکلنو) ژر به وومئ ته ما که اراده وفرمایي الله له صالحانو، نیکانو(وفا کونکېوپه وعده).

دلته د دوه انجونو پلار له موسی علیه السلام څخه غوښتنه کوي ترڅو داجارې په سر ورسره پایلې ته ورسیږي چې موسی علیه السلام به ورته مېږې څروي او ځان به هغه ته په اجاره ورکوي او په بدل کې به یې موسی علیه السلام ته یوه لور ورکوي موسی علیه السلام هم ورسره توافق کوي.

په پورته ایتونو کې په صریح ډول معلومیږي چې اجاره جائز او مشروع عمل دی په همدې ډول الله جل جلاله په خپل کلام قرانکریم کې دکهف په سورة کې وایي: {فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَنْ يَنقَضَّ فَأَقَامَهُ قَالَ لَوْ شِئْتَ لاتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا}.[٢٨]

ژباړه: بیا ومونده دوي (دواړو) په هغه کلي کې یودیوال چې اراده یې وه چې ونړیږي (یعني نژدې وو لوېدلوته) پس سم کړ(خضر)هغه دیوال، وویل موسی خضرته که اراده کړې وې تا داخستلوداجر(نوخامخا به دې اخستې وه(په سازولوددې دیوال) مزدوري په دې ایت کې موسی

---

٢٧ :سورة القصص ٢۶او ٢٧ ایتونه.

٢٨ :سورة الکهف٧٧ ایت.

عليه السلام خضر عليه السلام ته وايي: {لَوْ شِئْتَ لاتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا}[۲۹] که چیرته ستا خوښه وه نو ددغه کار په بدل کې به دې مزودري اخېستي وه.[۳۰]
له دغه ځایه هم زموږ دموضوع روښانتیا او جواز معلومیږي..

**۲- نبوي سنت او اجاره:**

په نبوی حدیث کې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايي: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ قَالَ: «لَا يَسْتَامُ الرَّجُلُ عَلَى سَوْمِ أَخِيهِ وَلَا يَنْكِحُ عَلَى خِطْبَتِهِ، وَلَا تَنَاجَشُوا، وَلَا تَبِيعُوا بِإِلْقَاءِ الْحَجَرِ، وَمَنْ اسْتَأْجَرَ أَجِيرًا فَلْيُعْلِمْهُ أَجْرَهُ»[۳۱]

ژباړه: یوکس دي دبل سرې په بیع مخکیوالي نه کوي اودهغه په خطبه دي نکاح نه کوي اویوکس دي په بیع نه تیزوي اودکانوپه اچولودې بیع نه کوي اوکه یوکس یومزدور ونیسي نودهغه مزدوري دي ورته وسپاري.

له پورته حدیث څخه په واضح ډول معلومیږي چې اجاره یو مشروع عمل دی، ترسره کول یې کوم مشکل نلري او داسلامي شریعت له اساساتو سره یې کوم ټکر نشته، بلکې په خپله همدغه اسلامي شریعت خلک د اجارې لورې ته هڅوي ترڅو خپلې مالي چارې سرته ورسوي.

په یو بل نبوي حدیث کې راځي: وَرُوِيَ عَنْ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ قَالَ: « أَعْطُوا الأَجِيرَ أَجْرَهُ قَبْلَ أَنْ يَجِفَّ عَرَقُهُ وَأَعْلِمْهُ أَجْرَهُ وَهُوَ فِى عَمَلِهِ »[۳۲]

ژباړه: پیغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايي مزدور ته دهغه دخولې له وچیدلو مخکې اجوره ورکړئ، دهغه مزدوري ورته معلومه کړئ په داسې حال کې چې هغه په خپل کار کې بوخت وي. دلته دا خبره په حدیث کې کوي چې اجیر ته دهغه اجورت او مزدوري ژر ورکړئ، نو چې په ژر ورکړه بې امر کړی دی نو دا ترې معلومیږي چې اجاره جواز لري او دې امت ته جایز ده.

په یو بل نبوي حدیث شریف کې راځي: وَعَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ قَالَ: «ثَلَاثَةٌ أَنَا خَصْمُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ كُنْت خَصْمَهُ خَصَمْتُهُ رَجُلٌ أَعْطَى بِي ثُمَّ غَدَرَ، وَرَجُلٌ بَاعَ حُرًّا فَأَكَلَ ثَمَنَهُ، وَرَجُلٌ اسْتَأْجَرَ أَجِيرًا فَاسْتَوْفَى مِنْهُ، وَلَمْ يُعْطِهِ أَجْرَهُ».[۳۳]

ژباړه: پیغمبر صلى الله عليه وسلم په یوه حدیث قدسي کې له الله جل جلاله څخه روایت کوي: ددرې کسانو لپاره به زه دقیامت په ورځ جګړه کوم، چې یو پکې هغه اجیر دی چې یو کس ترې پوره کار واخلي خو مزدوري ورته ورنکړي.

دلته په حدیث کې وايي چې یو څوک اجیر ونیسي، مطلب په اجاره څوک ونیسي او بیا یې حق ورنکړي نو دقیامت په ورځ به یې زه په دفاع کې جګړه کوم، له دې ځایه معلومیږي چې اجاره

---

۲۹ :سورة البقرة/ ۱۹۸ ايات .

۳۰ : كاساني، علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي ، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، (المتوفى: ۵۸۷هـ، الناشر: دار الكتب العلمية، الطبعة: الثانية، ۱۴۰۶هـ - ۱۹۸۶م. ۱۹۸۶. ج:۴،ص.۱۷۳ .

۳۱ : صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان. المؤلف : محمد بن حبان بن أحمد أبو حاتم التميمي البستي. الناشر : مؤسسة الرسالة – بيروت.ج:۹.ص:۳۵۲.دحديث حكم:الباني رحمه الله دابن حبان رحمه الله دكتاب په لمنليک کې وايي:حسن.

۳۲ : السنن الكبرى. مؤلف : أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي. مؤلف الجوهر النقي: علاء الدين علي بن عثمان المارديني الشهير بابن التركماني، الناشر : مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة في الهند ببلدة حيدر آباد. الطبعة : الطبعة : الأولى ۱۳۴۴ هـ. ج.۶.ص.۱۲۰.دحديث حكم:الباني رحمه الله په صحيح الجامع کې وايي:صحيح.

۳۳ :ابن ماجه: أبو عبد الله محمد بن يزيد بن **ماجة** القزويني (۲۰۹ - ۲۷۳ هـ) المحقق: شعيب الأرنؤوط ،سنن ابن ماجةناشر ،دارالكتب العلمية،لبنان،بيروت،ج:-:۲،ص:۱۱۸.دحديث حكم:الباني رحمه الله ددې کتاب په تعليق کې وايي:حسن.

جایز ده، ترسره کول يې مشروع عمل دی او بدله نه ورکول يې دالله جل جلاله قهر او غضب سبب ګرځي. په یو بل حدیث شریف کې راځي: وَعَنْ عَائِشَةَ (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا) أَنَّهَا قَالَتْ: «اسْتَأْجَرَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَأَبُو بَكْرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - رَجُلًا مِنْ بَنِي الدِّيلِ هَادِيًا خِرِّيتًا، وَهُوَ عَلَى دِينِ كُفَّارِ قُرَيْشٍ فَدَفَعَا إِلَيْهِ رَاحِلَتَيْهِمَا وَوَاعَدَاهُ غَارَ ثَوْرٍ بَعْدَ ثَلَاثٍ فَأَتَاهُمَا فَارْتَحَلَا، وَانْطَلَقَ مَعَهُمَا عَامِرُ بْنُ فُهَيْرَةَ، وَالدَّلِيلُ الدِّيلِيُّ فَأَخَذَ بِهِمْ طَرِيقَ السَّاحِلِ»[٣٤]
ژباړه: رسول اکرم صلی الله علیه وسلم اوابوبکرصدیق رضی الله عنه دبني دیل دقبیلې یوماهر راه بلد په اجاره ونیولو ترڅو ورته لاره وښایې اودغه راه بلد دقریشو په دین وو، دوي دغه سړی امین وګڼلواوخپلې دوه سورلۍ يې ورته وسپارلې او وعده يې ورسره وکړه چې درې شپې بعد غارثورته داسورلۍ راوله کله چې درې ورځې پوره شوې سورلۍ راوستې اوسفريې پرې شروع کړاوهغه سړي ته يې خپله مزدوري وسپارله.
دلته په حدیث کې په واضح ډول راغلي دي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم او ابوبکر صدیق رضی الله عنه په خپله یو مشرک په اجارې نیولی وه او دا د اجارې په جواز تر ټولو واضح دلیل دی چې دغه ډول بیعه جایز ده، پورته ډیری نصوص په دې دلالت کوي چې اجاره یو مشروع عمل دی، په مشروعیت کې يې کوم سوال نه رامنځ ته کیږي او دغه عمل خپله درسول اکرم صلی الله علیه وسلم او دهغه له صحابه کرام ټولو څخه ثابت دی، په راوروسته زمانو کې هم اجاره دامت ترمنځ معمول بها کار ګرځیدلی دی او مسلمانان اوس او دتاریخ په اوږدو کې دغه کار ترسره کاوه.

**٣ـ د امت اجماع او اجاره**

ټول امت په دې باور دی چې د اجارې عقد دپیغمبر صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو په زمانو کې جایز وه او عمل پرې کیده او نن ورځ پرې زموږ او ستاسې په ټولنه کې هم عمل کیږي او څوک پرې نکیر او مخنیوی هم نه کوي او څوک چې د اجارې مخالفت کوي دهغوی خلاف ته کوم اعتبار نشته.[٣٥]

## ب: د قانون له نظره:

اوس د اجارې عقد دافغانستان دمدني قانون له نظره هم تر څیړنې لاندې نیسو، مخکې مو ولوستل چې په فقهي اړخ کې اجاره یو مشروع او جائز عمل دی، په دې تړاو مو نبوي احادیث او دامت اجماع رانقل کړه چې ټول په دې باور دي چې اجاره جائز ده، دا چې د اجارې په تړاو دافغانستان مدني قانون څه وايي، نو په دغه اړه هم بحث کوو.
له دې بحث وړاندې یوه مهمه خبره داده چې دافغانستان مدني قانون هم په ډیری مواردو کې قضایا داسلامي فقهې په اډانه کې تحلیل کړي دي، البته جزئي توپیرونه لري.
دافغانستان مدني قانون رسمي جریدې په دریم ټوک کې د اجارې په بحث کې راځي: (١٣٢٣ ماده: د اجارې عقد دمنقولو او نامنقولو اعیانو په ګټو او همدار رنګه په جائز کار کې منعقد کیدی شي).[٣٦]
دمدني قانون پاسنۍ ماده په صراحت سره وايي چې د اجارې عقد په منقولو او نامنقولو اعیانو دواړو کې جایز او مشروع عمل دی او ترسره کول يې کومه ستونزه نه لري، دهمدغه مادې په

٣٤: صحیح البخاري ،ج:١.ص:١٠٢٦
٣٥ :کاساني، علاء الدین، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي ، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، (المتوفى: ٥٨٧هـ، الناشر: دار الكتب العلمية، الطبعة: الثانية، ١٤٠٦هـ ـ ١٩٨٦م. څلورم جلد.١٧٤ صفحه.
٣٦: د عدلیی وزارت، رسمی جریده، د افغانستان مدنی قانون، یار خپرندویه ټولنه. دچاپ کال:١٣٩٨. :ج٣.ص:٢٤٢.

پای کې وایي: له اعیانو پرته په هر جائز کار کې هم اجاره منعقده کیدی شي، په دې مانا چې د اجارې په برخه کې له اجارة الاعیان وروسته اجارة الاشخاص هم درسته او سمه ده او کول یې کومه ستونزه نلري.

په همدې ډول په (۱۳۲۴) ماده کې وایي: (د اجارې په عقد کې دعقد دصحت په عمومي شرطونو علاوه دهغه عین ټاکل چې په اجارې ورکول کیږي او دهغې څخه دګټې اخیستلو ذکر په داسې توګه چې منازعې ته ونه رسیږي دګټې اخیستلو دمودې بیان او داجورې اندازه شرط ده، دهغې په غیر د اجارې عقد فاسد ګڼل کیږي).[۳۷]

دغه ماده هم وایي چې اجاره جایز ده او یو مشروع عمل دی خو ترسره کول یې خپل شرایط لري، نو په دې اساس ویلی شو چې دافغانستان مدني قانون د اجارې په مشروعیت کې کوم اشکال نلري البته په دغه برخه کې له فقهي برخې څخه په توپیر سره یو څه ځانګړنې لري چې په هغه برخه به یې بحث دفقهي او مدني مقارني په باب کې بحث وکړو، اوس موږ دلته دقانون له نظره په همدومره بحث اکتفاء کوو.

**دریم مطلب: د اجارې د عقد ارکان!**

د اجارې په ارکانو کې داسلامي فقهاو بیلابیل نظریات شتون لري، چې موږ یې دلته په لنډه توګه راوړو.

د اجارې عقد ارکان عبارت:

جمهور وایي:

(۱)ایجاب. (۲): قبول.

(۳)عاقدان. (۴)معقود علیه.

البته احناف علماء وایي: د اجارې لپاره دوه ارکان دي:

(۱)ایجاب.

(۲)قبول.

دوی وایي، عاقدان او معقود علیه دعقد اطراف دي، البته دا نزاع لفظي ده او د ټولو موخه یوه ده.[۳۸]

ایجاب قول اول ته وآیي برابره خبره ده که دبایع او که دمشتري له لورې وي.

قبول دوهمې خبرې ته وایي که دبایع له لورې وي او که دمشتري.

په همدې ډول اجاره په لاندې الفاظو باندې درستیږي:

(۱): اِلاِسْتِئْجَارِ

(۲): الِاکْتِرَا.

(۳): او الْإِکْرَاءِ الفاظو باندې صحیح کیږي، له دغې درې الفاظو چې هر یو یې ولوستل شو نو د اجارې بیعې رکن ترسره شو.[۳۹]

دا وه د اجارې دارکانو په تړاو لنډه خبره چې په دغه اړه علماء دنظر اختلاف لري خو اختلاف او نزاع لفظي ده او په حقیقي اړخ کې پرې کومه ثمره نه مرتب کیږي.

اوس موږ د اجارې په انواعو باندې بحث کوو او دغه مسله داسلامي فقهاؤ له نظره تحلیلوو.

---

۳۷: عدلیې وزارت، رسمی جریده، د افغانستان مدنی قانون، یار خپرندویه ټولنه. ج:۳.ص:۲۴۴.دچاپ کال:۱۳۹۸.

۳۸ بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع،ج:۴،ص:۱۷۰.

۳۹: مخکینی مرجع، څلورم جلد.۱۷۴ صفحه.

**ځلورم مطلب: د اجارې د عقد انواع**

اجاره په دوه ډوله ده.

(۱): اجاره په اشخاصو کې.

(۲): اجاره په اعیانو کې.

**لومړۍ فرع: اجاره په اشخاصو کې**

په دیني لحاظ اجاره په اشخاصو کې جایز ده او په دې تړاو له قرانکریم، نبوي سنتو او اجماع ټولو دلایل شته دي.

**۱ـ قرآن کریم**

په قرانکریم کې ډیرې داسې ایتونه شتون لري چې داشخاصو د اجارې جواز ترې معلومیږي:

الله جل جلاله په سورة الطلاق کې فرمايي: (فان ارضعن لکم فاتوهن اجورهن)[40]

په دې ایت کې هم په واضح ډول وايي چې که چیرته تاسې ته ستاسې دماشومانو میندې یا نورې مرضعې راغلې نو تاسې کولای شئ چې هغه په اجاره ونیسئ، دا د اجارة الاشخاص په مشروعیت باندې واضح او ښکاره دلیل دی.

بل ځای کې الله جل جلاله فرمايي: (وَإِنْ أَرَدْتُمْ أَنْ تَسْتَرْضِعُوا أَوْلَادَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِذَا سَلَّمْتُمْ مَا آتَيْتُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ)[41]

ژباړه: او که قصد وکړئ تاسې چې شېدې ورکونکې میرمنه ونیسئ، دخپل اولاد لپاره، نو نشته هیڅ ګنا پرتاسې باندې کله چې وسپارئ تاسې هغه شئ، چې قصد د ورکولو کړئ وي، تاسې دوی ته په معروف(سم له دستوره)سره او له الله جل جلاله وویریږئ او پوه شئ چې بیشکه الله جل جلاله په هغه شیانو چې تاسې یې کوئ ښه لیدونکی دی.

دا ایت هم په دې خبره دلالت کوي چې که یوه مور وغواړي چې خپل اولاد له میره څخه په اجاره واخلي نو کولای شي، دا هم د اشخاصو د اجارې په جواز باندې ښکاره او واضح دلیل دی.

یو بل ایت کې الله جل جلاله فرمايي: (أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَةَ رَبِّكَ نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ مَعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا سُخْرِيًّا وَرَحْمَةُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ)[42]

ژباړه: ایا دوی تقسیموي رحمت(نبوت)درب ستا(لکه چې دوی وایي؟)نده داسې بلکې په خپله موږ ویشلی قسمت کړی مو دی، په منځ ددوئ کې معیشت ددوئ په دغه لږ ژوندون کې او پورته کړي مو دي یو شمیر ددوئ له پاسه دیو شمیر نورو په مرتبو کې، ددې لپاره چې ونیسي یو شمیر ددوئ(غنیان)یو شمیر نور(فقیران)تابعان کارکونکي او رحمت درب ستا(جنت)خیر ډیر غوره دی له هغو(مالونو)چې ټولوي یې دوی(په دنیا کې)

په دې ایت کې هم د اجارې اهمیت ته اشاره ده او په همدې ډول دځمکې په ابادۍ باندې هم خبره شوې ده او وايي چې یو شمیر خلک یې دیو شمیر نورو خلکو لپاره په خدمت او عمل مسخر کړي دي، مطلب یو انسان بل انسان ته ځان په اجاره ورکولی شي او دا خبره ددغه ایت څخه معلومیږي.

---

۴۰: سورة الطلاق،شپږم ایت.

۴۱: سورةالبقرة،۲۳۳ ایت.

۴۲: سورة الزخرف،۳۲ ایت

بل ایت کې الله جل جلاله فرمايي: (قَالَتْ إِحْدَاهُمَا يَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ (٢٦) قَالَ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُنْكِحَكَ إِحْدَى ابْنَتَيَّ هَاتَيْنِ عَلَى أَنْ تَأْجُرَنِي ثَمَانِيَ حِجَجٍ فَإِنْ أَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِنْدِكَ وَمَا أُرِيدُ أَنْ أَشُقَّ عَلَيْكَ سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّالِحِينَ (٢٧) قَالَ ذَلِكَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ أَيَّمَا الْأَجَلَيْنِ قَضَيْتُ فَلَا عُدْوَانَ عَلَيَّ وَاللَّهُ عَلَى مَا نَقُولُ وَكِيلٌ)[٤٣]

ژباړه: وويل يوې له دغه دواړو، اي پلاره زما، مزدور ونيسه دی(دميږو لپاره)بيشکه چې غوره دهر هغه چا چې مزدور يې نيسي هغه څوک دی چې قوت ناک او امانتګر وي، وويل پلار دانجونو موسی ته، بيشکه زه اراده لرم، ددې چې په نکاح درکړم، تاته يوه له دغه لونو خپلو، چې دادي په دې چې مزدوري وکړې ته زما لپاره اته کاله، پس که پوره کړه تا لس کاله، نو هغه به ستا له طرفه(له ماسره احسان وي)او نه لرم زه اراده ددې چې مشقت واچوم پر تا(په شرط کولو دلس کلونو)ژر به مې ومومې ته ما که اراده وفرمايي الله له صالحانو نيکانو(وفاء کونکو په وعده)وويل موسی پلار دجينکو ته، چې همدا عهد مقرر شو، په منځ زما او ستا کې چې هر يوه له دې دواړو نيتو چې پوره کړه ما پس نه به وي زيادت پرما او الله پردغه چې وايو يې موږ(زه او ته وکيل)ساتونکی شاهد دی.

دا ايتونه هم داشخاصو د اجارې په جواز باندې ښکاره دليل دی، ځکه موسی عليه السلام دغه ځای کې دبل پيغمبر عليه السلام سره ځان تر يوې معلومې مودې پورې په اجاره ورکړی دی.
په داسې حال کې چې مخکيني شريعتونه زموږ لپاره تر هغې دليل دي چې ترڅو يې په اړه دنسخې نص نه وي راغلی.

حافظ ابن حجر رحمه الله[٤٤] وايي: امام شافعي رحمه الله داشخاصو د اجارې په مشروعيت باندې همدا دليل نيولی دی.[٤٥]

**۲ـ سنت**

ډير احاديث د اجارې باالاشخاص په جواز باندې دلالت کوي، تر دې چې امام بخاري رحمه الله پرې په خپل صحيح کې د اجارې په تړاو مکمل کتاب راوړی دی چې په ۲۲ بابو باندې مشتمل دی تقريبا ديرش مرفوع احاديث، پنځه معلق او نور موصول احاديث يې پکې راوړي دي.
په همدې ډول امام ابو داود[٤٦] رحمه الله د(کتاب الاجارة) په نامه خپل کتاب سنن ابي د اود کې ډيری احاديث راوړي دي، چې پيل يې له باب الطب څخه کړې او په باب کسب الحجام يې درولې ده. موږ داشخاصو د اجارې په تړاو يو شمير احاديث دلته راوړو:

---

٤٣: سورة القصص له شپږ ويشتم ايت څخه تر ۲۸ ايته.

٤٤: اصلی نوم يی شهاب الدين ابوالفضل احمد بن علی بن محمد بن محمد علی الکنانی العسقلانی الشافعی دي، چې کنيه يی ابوالفضل ده، اصلی هيواد يی فلسطين دي او دعسقلان علاقی څخه دي، او په کال۷۷۳هـ.ق. کال کې په قاهره کې زيږيدلی، حافظ عسقلانی مختلفو علوموکې زده کړه کړي، محقق، محدث او اديب شخصيت وو، په اشعارو کې هم مهارت درلوده په مختلفو هيوادو ته د زده کړی لپآره تللی دی، په مختلف علوموکې تآليفات لري يو څو مشهور تآليفات يی په لاندی ډول ده.
۱.فتح الباری شرح صحيح البخاری.
۲.الاصابه فی تميز اسما الصحابه.
۳.تهذيب التهذيب.
٤.تقريب التهذيب فی اسما الرجال الحديث.
٥.لسان الميزان. او نور
او په کال ۸۵۲ هـ.ق. کې د دی فانی دنيا څخه په قاهره کې سترګی پټی کری دي.
منبع (الاعلام للزرکلي،ج:۳،ص:۲۹۳.)

٤٥ : العسقلاني الشافعي، أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل، فتح الباري شرح صحيح البخاري، الناشر: دار المعرفة ـ بيروت، ۱۳۷۹، رقم كتبه وأبوابه وأحاديثه: محمد فؤاد عبد الباقي،قام بإخراجه وصححه وأشرف على طبعه: محب الدين الخطيب،عليه تعليقات العلامة: عبد العزيز بن عبد الله بن باز،څلورم جلد،۴۴۴ صفحه.

حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ عُقَيْلٍ، قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: فَأَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ، أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: «وَاسْتَأْجَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبُو بَكْرٍ رَجُلًا[٤٧] مِنْ بَنِي الدِّيلِ هَادِيًا خِرِّيتًا، وَهُوَ عَلَى دِينِ كُفَّارِ قُرَيْشٍ.[٤٨]

ژباړه: پیغمبر صلی الله علیه علیه وسلم او ابوبکر صدیق رضی الله عنه له بني الدیل قبیلې څخه یو سړی په اجاره نیولی وه، نوموړی ماهر لارښود وه او هغه دقریشو کافرانو په دین باندې وه.

نو له دې حدیث څخه په واضح ډول معلومیږي چې پیغمبر او لومړي خلیفه یو کافر کس ددې لپاره مدینې ته دهجرت پر مهال ونیوه ترڅو هغوی ته لاره وښایي او په بدل کې یې زموږ خوږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغه ته اجوره او مزدوري ورکړه.

له دغه ځایه په روښانه ډول اجاره داشخاصو معلومیږي چې دا کار جایز دی.

په یو بل حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا بَعَثَ اللَّهُ نَبِيًّا إِلَّا رَعَى الغَنَمَ»، فَقَالَ أَصْحَابُهُ: وَأَنْتَ؟ فَقَالَ: «نَعَمْ، كُنْتُ أَرْعَاهَا عَلَى قَرَارِيطَ لِأَهْلِ مَكَّةَ)[٤٩]

ژباړه: له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: الله جل جلاله هیڅ استازی او نبي نه دی رالیږلی مګر هغه میږې څرولي دي.

دپیغمبر صلی الله علیه وسلم صحابه وفرمایل: ای دالله رسوله تا هم څرولي دي؟هغه صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: ماهم دمکې دخلکو میږې په یو قیراط باندې څرولي دي. په دغه حدیث کې په واضح ډول ښکاري چې زموږ او ستاسي ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم خپل ځان دمکې خلکو ته په اجاره ورکړی ؤ او دمکې دخلکو میږې یې د یوه قیراط په بدل کې څرولې، دا ترټولو واضح دلیل دی.

په یوه بل حدیث کې راځي:

(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: ثَلاَثَةٌ أَنَا خَصْمُهُمْ يَوْمَ القِيَامَةِ، رَجُلٌ أَعْطَى بِي ثُمَّ غَدَرَ، وَرَجُلٌ بَاعَ حُرًّا فَأَكَلَ ثَمَنَهُ، وَرَجُلٌ اسْتَأْجَرَ أَجِيرًا فَاسْتَوْفَى مِنْهُ وَلَمْ يُعْطِهِ أَجْرَهُ ")[٥٠]

ژباړه: له ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: هغه وایي چې الله جل جلاله فرمايي: ددرې خلکو لپاره به زه دقیامت په ورځ جګړه کوم، چې یو یې هغه کس دی چې اجیر او مزدور یې ونیوه، مزودرې یې پرې وکړه خو دهغې اجوره یې ورنکړه.

په یو بل حدیث شریف کې راځي:

(عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: «احْتَجَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَعْطَى الحَجَّامَ أَجْرَهُ)[٥١]

---

٤٦ ابوداود سلیمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير الأزدي السجستاني دی نوموړی په کال: ۲۰۲هـ ۸۱۷م د افغانستان سجستان سیمه کې زیږېدلی او په کال: ۲۷۵هـ ۸۸۹ م په بصره کې وفات شوی دی نوموړی د صحاح ستة څخه د سنن أبي داود مصنف دی، په حدیثو کې د خپل وخت امام وو: الأعلام للزركلي (۳/ ۱۲۲)

٤٧ دا عبدالله بن اریقط دی.چې پوره نوم یې: عبد الله بن أرَيْقط الليثي، ثم الديِّلي الكناني،نوموړی ابوبکر صدیق او نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته دهجرت پر مهال لارښونه کوله،هغه مهال چې دوی له مکې یثرب ته تلل،نوموړی دا مهال مسلمان نه ؤ،بلکې دقریشو په دین باندې ؤ(آلأعلام للزركلي،ج:۱،ص:۴۹۳.)

٤٨: صحیح البخاري.. ج:۳،ص،۸۸.

٤٩: صحیح البخاري،دریم جلد.۸۸ صفحه.

٥٠: صحیخ البخاري،دریم جلد ۹۰ صفحه

ژباړه: ابن عباس رضی الله عنه فرمايي: نبي صلی الله عليه وسلم دحجامت لپاره يو کس په اجاره ونيوه او بيا يې دهغه اجوره ورکړه.
په همدې ډول نور ډيری احاديث هم شتون لري چې داجارة الاشخاص باندې دلالت کوي چې نوموړې اجاره جايز ده.

**۳- اجماع**

دصحابه کرامو، تابيعينو، دمعتبرو مذاهبو خاوندانو په اند دغه ډول اجاره ثابته او جايز ده.
کومو خلکو چې خلاف کړی دی، هغه بلا دليله دی او هغې ته اعتبار نشته.

## د اشخاصو د اجارې انواع

اجاره په اشخاصو کې په دوه ډول ده: ۱- خاص اجير ۲- مشترک اجير

**۱-خاص اجير**

هر هغه کس ته وايي چې ديو معين او معلوم کس لپاره په يو معلوم کار کې کار ترسره کوي او عقد يې ديوې معلومې مودې لپاره وي.
په دغه ډول اجاره کې اجير داجورې مستحق هله ګرځي چې خپل نفس موجر ته په ټاکل شوې موده کې وسپاري، البته احناف علماء وآيي: يوه ميرمن دخدمت لپاره اجاره نيول مکروه دي، ځکه ميرمن له خدمت څخه خبريدل ممکن ندي او په ګناه کې دښکلتيا امکان يې شتون لري.
امام احمد بن حنبل ؒوايي: پروا نکوي او جايز ده، البته دومره خبره ده چې هغه ځايونه به يې نه ګوري چې ده ته يې کتل جايز ندي.
البته دا کومه پروا نکوي چې اجير ذمي وي او مستأجر مسلمان وي په دې تړاو ټول فقهاء يوه خوله دي.
البته که اجير مسلمان وي او مستأجر ذمي وي، نو جمهور فقهاء وآيي چې پروا نلري او جايز دی، البته شرط پکې داده چې ديو مشروع کار لپاره به يې په اجوره نيولی وي.لکه خياطي، معماري، او داسې نور....[۵۳]
او هغه کارونه چې اصلا نامشروع وي او دځان لپاره يې هم نه شي ترسره کولی لکه: شراب جوړول، دخنزيرانو څرول او يو شمير نور نامشروع کارونه، ځکه ددې کارونو ترسره کول خو داجير لپاره هم جايز ندي نو، دبل چا لپاره يې ترسره کول خو بيخي نه سميږي.
البته که چيرته يې په نامشروع چارو کې اجاره ترسره کړه، نو دکار له ترسره کولو مخکې به دغه اجاره له منځه ځي.
او که چيرته يې کار ترسره کړ، نو دمزدورۍ مستحق ګرځي او دغه مزدوري به صدقه کوي او دا ورته جايز نده چې په خپلو چارو کې ترې استفاده وکړي او حلاله يې وبولي. البته که دجهل له امله يې حلاله وبلله نو بيا معذور ګڼل کيږي.
البته حنابله وايي: هله جايز ده چې دا به شخصي کار نه وي.او که چيرته دغه اجاره شخصي وي لکه ډوډۍ مخکې کيښودل، دهغه په مخکې دريدل، نو يو شمير حنابله فقهاء وايي چې دغه

---

۵۱: صحيح البخاري،دريم جلد.۹۳ صفحه.
۵۲ ابو عبدالله أحمد محمد بن بن حنبل الشيباني نوموړی په کال: ۱۶۴هـ په مروه کې زيږيدلی او په کال: ۲۴۱هـ کې وفات شوی دی نوموړی له څلورو امامانو څخه يو دی، د مسند احمد کتاب ليکوالی دی چې په (۴۰۰۰۰) احاديثو مشتمل دی: الأعلام للزركلي (۱/ ۲۰۳)
۵۳: بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع،ج:۴،ص:۵۸۳..

کار دیو مسلمان لپاره جایز ندی، ځکه په دې حالت کې یو مسلمان دیو کافر په وړاندې ذلیل کیږي.

البته احناف وايي: دا جایز ده خو له کراهت سره.ځکه دا یو عقد معاوضه دی او ددې مثال دمکروه ببعې په څېر دی.البته ددې کار دکراهت علت دا بولي چې په دې اجاره کې مسلمان ذمي ته ذلیله او ټیټ راځي.[٥٤]

**٢-مشترک اجیر**

هغه چې له یو پورته ډیر کسان یې په اجوره نیسي، هرڅوک ورسره جلا جلا، عقدونه کوي، دا قید ورسره نه وي چې ته به یوازې دیو کس لپاره خدمت او کار کوې او نورو خلکو لپاره به یې نه ترسره کوې، لکه په نني عصر کې چې ډاکټران دي او دهر چا خدمت کوي.

یا لکه انجینران چې دهر چا لپاره دمعماری په برخه کې نقشه اچوي او کار ورته کوي.

نو په لومړي ډول(اجیر خاص)کې اجیر هله داجورې مستحق ګرځي چې موده یې پوره شي.

او په دوهم ډول اجاره کې اجیر هغه مهال اجورة ترلاسه کوي چې یو کار ترسره کړي.[٥٥]

په بدایع الصنایع علامه الکاسانی[٦]فرمایی: (هُوَ الَّذِي يَعْمَل لِلْمُؤَجِّرِ وَلِغَيْرِهِ، كَالْبَنَّاءِ الَّذِي يَبْنِي لِكُل أَحَدٍ)[٥٧]

ژباړه: هغه کس چې دموجر او یا هم بل چا لپاره کوي، لکه یو معمار چې دهر چا لپاره ودانۍ رغوي.هغه کس ته وايي چې دمؤجر او غیر دواړو لپاره کار کوي، دبېلګې په ډول لکه یو ګیلکار چې د ډیرو وګړو لپاره کار کوي.

دا ډول اجاره تر هغه سمه نده چې دعمل او کار نوعه نه وي معلومه شوې، البته دا هم پکې لازم ده چې باید دمودې ذکر هم پکې وشي، دبیلګې په ډول یو سړی شپونکي ته وايي: ته زما مېږې یوه میاشت وڅروه، په داسې حال کې چې دغه سړی دنورو خلکو مېږې هم څروي(او اجیر مشترک وي)او په دغه حالت کې پرې دا شرط کیږدي چې نورو ته به مېږې نه څروې.

**د مشترک اجیر ژمنتیاوې**

په مشترک اجیر ټول هغه څه لازم دي چې عقد یې پرې کړی دی، په همدې ډول هغه ټول کارونه چې ددغه کار پورې اړه لري او په عرف او ټولنه کې ترسره کیږي هغه هم پرې لازم دي ترڅو چې نور شیان یې پرې نه وي شرط کړي.لکه یو څوک له خیاط سره داسې عقد وکړي چې ماته به کالي ګنډې، نو دغه مهال ستنه او تار په خیاط باندې دي او دغسې کار په عرف کې هم مشهور دی.

که یو څوک په اجیر باندې داسې شرط ولګوي: چې دا کار به ته خپله ترسره کوې او بل چاته به یې نه ورکوې نو، په دغه سړي باندې لازم ده چې دغه کار په خپله ترسره کړي، البته که داشرط یې پرې نه وي لګولی نو د اجیر لپاره دا جایز ده چې دغه کار په بل چا هم ترسره کړي، ځکه دده په ذمه باندې دکار سم ترسره کول دي، البته که داسې کار وي چې بل څوک یې

---

١٣٣: هماغه لیکنه،ج:۴،ص:۵۸۵.

٥٥: بدائع الصنآئع في ترتيب الشرائع،ج:۴،ص:۵۹۰.

٥٦ علامه کاسانی چې نوم یی علاوالدین ابوبکر او تخلص یی الکاسانی دی، اصلاٌ علامه کاسانی د ازبکستان د اهل څخه شمیرل کیږی، او د حنفی فقهاوو د مشرانو څخه دي، نوموړی مختلف تآلیفات لری چې مشهوریی:

.1بدایع الصنایع فی ترتیب الشرایع په او جلدو کې.

.2السلطان المبین فی اصول الدین.

نوموړی په سوریه، حلب ښار په ۱۱۹۱م کال کې وفات شوي. منبع: (الاعلام للزرکلي،ج:۳،ص:۹۳.)

٥٧: بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع،للكاساني علاءالدين،۴ ج/ ۱۸۴ صفحه.

نه شي ترسره کولای، نو بیا په ده باندې لازم ده چې دا کار په خپله ترسره کړي. په همدې ډول په اجیر باندې دا هم لازم ده چې کار په درست ډول ادا کړي او بیا یې مالک ته په سم ډول وروسپاري.البته له دې پرته نورې ژمنتیاوې هم شته دی چې موږ په همدې اکتفاء کو.

یوه بله مهمه خبره په مشترک اجیر کې داده که چیرته یې یو څه شی په زوره، او قصدا هلاک کړ نو، دغه مهال د ټولو فقهاو په اند مشترک اجیر ددغه هلاک شوي شي ضامن دی او تاوان به یې ورکوي.او که چیرته یې په قصدي ډول هلاک نه کړ نو بیا په دغه مسله کې تفصیل دی:

صاحبین (امام ابویوسف[58]او امام محمد[59]رحمهم الله) او حنابله وايي: که مشترک اجیر یو شی هلاک کړ نو دا یې ضامن دی، برابره خبره ده که په قصدي ډول یې هلاک کړی وي او که په غیر قصدي، دوی په خپل دریځ کې دعمر او علي رضی الله عنهما متابعت کړی دی، دوی دلیل دادی: دا تاوان ځکه لازم دی چې دخلکو مالونه په دې ډول ښه خوندي شي، که چیرته په ټولو حالتونو کې په اجیر تاوان راشي، نو هغه به دکار په ترسره کولو کې له پوره احتیاط څخه کار واخلي او په دې ډول به دخلکو کارونه په درست ډول ترسره شي او دمالونو حفاظت به یې هم وشي.

که چیرته یو کار داجیر دکړني نه پرته هلاک شي، خو دا امکان وه چې ددې دهلاکیدلو مخه ونیول شي، نو په دغه حالت کې هم پرې تاوان شته دی، دا دمتاخیرینو مالکیانو مذهب دی او یو قول دامام شافعي رحمه الله هم په همدې ډول دی.البته متقدمین مالکیان او امام زفر رحمه الله وايي: په دغه حالت کې پرې تاوان نشته.[60]

البته امام ابو حنیفه رحمه الله وايي: که چیرته بې کار په خپله او یا شاګرد ترسره کړی ؤ، برابره خبره ده که قصد یې په کې وه او کنه!خو تاوان پرې شته، ځکه ددغه کار نسبت همده ته کیږي، په داسې حال کې چې ده ته یوازې دومره اجازه ورکړل شوې وه چې دا کار باید روغ او سالم ترسره کړي، په همدې ډول دشاګرد دکار نسبت هم استاد ته کیږي، البته هله پرې تاوان نشته چې کار او فعل دبل چا وي، البته دلته امام ابو حنیفه رحمه الله قیاس کړی دی.او دعقل او قیاس تقاضاء هم همدغه ده چې دغسې باید وشي.

ابن ابي لیلي رحمه الله[61]وايي: مشترک اجیر په ټولو حالتونو کې مطلقا ضامن دی او دهلاک شوي شي تاوان باید ورکړل شي.

---

٥٨ ابو یوسف یعقوب بن إبراهیم بن حبیب الأنصاري الکوفي البغدادي نوموړی په ١١٣هـ په کوفه کې زیږېدلی او په ١٨٢هـ د هارون الرشید په د خلافت پر مهال بغداد کې وفات شوی دی، نوموړی ستر امام، فقیه، محدّث او د وخت قاضی القضاة وو، د غوره کتابونو لیکوال دی: الأعلام للزرکلي (٨/ ١٩٣)، سیرأعلام النبلاء: ٧/ ٤٦٩).

٥٩ ابو عبدالله محمد بن الحسن بن فرقد، من موالي بني شیبان دی نوموړی په ١٣١هـ په دمشق غوطه کې زیږېدلی او په کال: ١٨٩هـ په رئ کې وفات شوی دی ، ستر امام، محدّث، فقیه او قاضي وو د حنفي مذهب ډېری کتابونه یې لیکلي دي: الأعلام للزرکلي (٦/ ٨٠)

٦٠: البدائع:ج ٤ / ٢١١، ٢١٢ صفحې.

٦١ ابن ابی لیلی اصلی نوم یی محمد بن محمد تخلص چې ابی یعلی ابن الحسین بن محمد، ابوالحسین ابن الفرا، د حنبلی مذهب د کبارو علماوو څخه دی مورخ فقهی شخصیت وو او په بغداد ٤٥١ هـ.ق. کال کې زیږدلی نوموړی د خازم محمد بن محمد مشروورور و.

همدارنګه دی ته ابن الفرا هم ویل کیږی او حنبلی مذهب دی، تآلیفات یی:

.1طبقات الحنابله دوه جلد.

.2المجرد فی مناقب الامام احمد.

.3والمفتاح.

.4المفردات په فقه کې.

.5المفردات په اصول کې او نور.

نوموړی په بغداد کې زیږدلی او په همغه ځاي په ٥٢٦ کال کې و فات شوی. منبع(الاعلام لزرکنی

زموږ په باور دلته دصاحبینو او حنابله قول غوره دی، ځکه چې یو خو دغه قول ته په صحابه کې دوه ستر علمي شخصیتونه عمر او علي رضي الله تعالی عنهما هم قایل دي او بل دا چې دغه قول په احتیاط بناء دی، که چیرته په اجیر باندې تاوان لازم شي نوهغه به دکار په ترسره کولو کې له دقت څخه کار واخلي او په دې ډول به دخلکو مالونه هم خوندي شي او کارونه به هم په ښه ډول ترسره شي.
که داسي ونشي نو، بیا به یو اجیر دیو چامال خرابوي او د خپل ځان لپاره به دلایل لټوي او وایي به چې دا کار له ما څخه په قصدي ډول ندی ترسره شوی.

**دوهمه فرع: اجاره په اعیانو کې**

اوس د اجارې په دوهمه نوعه پیل کوو، موږ په دغه برخه کې اجارة الاعیان تر څیړنې لاندې نیسو، ځکه دا هم د اجارې عقد یوه مهمه برخه ده، نو ځکه یې تر څیړنې لاندې نیسو.
اجارة الاعیان بیا په خپل کور کې په درې ډوله ده:
۱: اجارة العقار، (اجارة الدور، اجارة الاراضي).
۲: اجارة العروض، (اجارة الملابس والاواني)
۳: اجارة الدواب.
البته دغه تقسیم یو شمیر علماؤ کړی دی، خو بدائع الصنایع لیکوال علاء الدین الکاساني په دې باور دی چې اصلا په اعتبار دمعقود علیه سره بیخي اجاره تقسیم نه قبلوي، بلکې دا په حقیقت کې یوه نوعه ده، ځکه اصلا اجاره دمنفعت بیع ده.[٦٢]
بیا په اجارة الاعیان کې بل تقسیم په اعتبار دمنفعت سره دی، په اعتبار دمنفعت سره اجاره په دوه ډوله ده:
(۱): معینه او ټاکلې اجاره.
(۲): هغه اجارة چې په ذمه ثابته وي.
معینة او ټاکلې اجاره دصحت لپاره خپل شروط لري چې عبارت دي له:
(۱): اجاره به په هغه شي کې وي چې پلور او اخیستل یې درست وي، په هغه جنس کې نه صحیح کیږي چې پلورل او خرڅول یې جایز نه وي، لکه دسپي، خنزیر او یو شمیر نورو شیانو پلورل.
(۲): هغه شی چې په اجاره کې پرې عقد کیږي هغه به بائع او مشتري په خپله لیدلی وي او یا به یې صفت ذکر شوی وي.
(۳): اجارة به په داسې جنس کې وي چې مجیر به یې په تسلیمولو قادر وي، مطلب داسې جنس به نه وي چې دده په واک نه وي، همدغه لامل دی چې دغصب شوي شي اجاره درسته نده.
(۴): په کوم شي باندې چې عقد شوی دی دا به دمنفعت او ګټې صلاحیت لري، که داسې نه وي نو اجاره نه سمیږي، ځکه دا شیان خو دګټې په خاطر وي، همدغه لامل دی چې هغه ځمکه خوره ناکه او یا کلکه وي، د کرنې لپاره برابره نه وي او څوک یې په اجاره ورکوي نو ددې اجاره نه درستیږي.
(۵): په کوم شي باندې چې عقد کیږي نو موجر به ددې مالک وي، برابره خبره ده چې دملکیت له اسبابو هر یو سبب شتون ولري خو دا اړینه ده چې مالک به یې وي.[٦٣]

---

[٦٢]: بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع.ج:۴.ص:۱۷۴
[٦٣]: البهوتي ، منصور بن یونس بن إدریس، شرح منتهی الإرادات، (المتوفی : ۱۰۵۱هـ).ج:۲.ص:۳۶۰-۳۶۱.

هغه اجارة چې په ذمة ثابته وي: هر کله چې اجاره دبیعې له ډولونو څخه یو ډول دی، نو دبیعې له انواعو څخه هم یو ډول سلم بیع ده، فقهاء دسلم بیع په داسې ډول تعریفوي: عقد على موصوف فى ذمة مؤجل، بثمن مقبوض بمجلس العقد.[٦٤]
مطلب، هغه عقد دی چې په یوې ذمة باندې ثابت دی، په قرضې ډول، په داسې حال کې چې ثمن يې دعقد په مجلس کې قبض کړې وي.
په هر حال دا خو یو تعریف دی چې فقهاء يې کوي، یو شمیر نور فقهاء يې بیا بل ډول تعریفوي، که موږ د ټولو تعریفونو پسې ولاړ شو، نو موږ به له خپلې موخې او هدف څخه لرې پاتې شو.
نو دغه عقد چې په یو ذمة باندې ثابت دی، خو دغه عین موجل دی، دا عقد سلم سره مشابه دی، نو فقهاؤ دغه ډول اجاره په سلم بیع باندې قیاس کړې ده او جواز يې ورکړی دی، ځکه چې په سلم بیع کې هم یو داسې عقد وي چې په یوه ذمة باندې ثابت وي، خو عین پکې مؤجل وي او په دغه ډول اجارة کې هم عین مؤجل دی، البته د صحت لپاره يې یو شمیر شرائط شتون لري چې هغه پکې اړین دي، هغه شرایط چې زموږ په فقهي مذهب کې فقهاؤ په سلم بیع کې اړین بللي دي، چې هغه، کیل، جنس، موده، نوعه، وصف...............او داسې نور.ټول پکې شرط او اړین دي.

**الف- اجارة العقار**

په دې اړوند موږ مخکې تقسیم کړی ؤ، چې دا په درې ډوله ده، اول ډول پکې اجارة العقار ده: په شرح مجلة الاحکام په(۴۵۲)ماده کې وايي: (المنفعة تكون معلومة ببيان مدة الاجارة فى امثال الدار، والحانوت).[٦٥]
مطلب کله چې په کور، دوکان او یو شمیر نورو عقاري شیانو کې اجارة وي نو هلته اړینه خبره داده چې منفعت او مودة دواړه به يې معلوم وي.ددې مادې په شرحه کې راځي: مطلب دا چې هغه اجارې چې په عقارو، لکه، کورونه او داسې نورو کې راځي، نو منعفت او مودة دواړه به يې معلومه وي، په دې معنا چې دواړو ته به معلومات وي چې دغه عقد به څومره وخت او په کومو شرائطو دوام کوي، نو په دې ډول به دغه اجارة صحیح کیږي، برابره خبره ده، که بیا دغه مودة اوږده هم وي پروا نکوي، تر دې چې دومره معلومات يې هم نه کیږي چې ددغه مودې تر پایه به طرفین ژوندي پاتې شي او کنه.[٦٦]
نو په دې اساس دځمکو اجاره نیول جایز دي، لکه یو کس ځمکه دزراعت او کرنې لپاره نیسي، یاپې په دې خاطر نیسي چې ودانۍ پکې ورغوي، یاپکې ونې کینوي، دا ټول په اجاره نیول او ورکول جایز دي، ځکه دځمکې څخه موخه دمنفعت او ګټې اخیستل دي، په عرف کې هم خلک ځمکې دزراعت او کرنې لپاره په اجاره ورکوي او دا کار دزړه له تله کوي، په داسې حال کې چې دځمکې په اجاره ورکولو سره دعلماؤ اجماع هم عملا شتون لري[٦٧]

---

٦٤: شرح منتهى الإرادات،ج:٢.ص:٢١۴
٦٥: أفندي ، علي حيدر خواجه أمين ، درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، (المتوفى: ١٣٥٣هـ( تعريب: فهمي الحسيني، عربي)الناشر: دار الجيلالطبعة: الأولى، ١٤١١هـ - ١٩٩١م،عدد الأجزاء:٤، ج:٢.ص:٣۶٠-٣۶١.
٦٦: درر الحكام فى شرح مجلة الاحكام،ج:٢،ص:٣۶٢.
٦٧: هماغه ليكنه.ج:٣.ص:٢٢٥

په همدې ډول، کور او دوکان په داسې حال کې په اجاره ورکول چې دا يې ترمنځ نه وي معلومه شوې چې د څه شي لپاره به ترې ګټه اخلي، البته دا استحسانا جايز دی، البته دقياس تقاضاء داده چې دا تر هغې جايز نشي ترڅو چې پوره وضاحت يې نه وي شوی چې په دې کې به کوم کار ترسره کيږي او له کوم ډول منفعت څخه به يې استفاده کيږي، ځکه له کور څخه له اوسيدو پرته نوره استفاده هم کيږي، لکه يو شمير خلک پکې سامان کيږدي، په همدې ډول دوکانونه هم دي، چې مختلفي استفادې ترې کيږي، نو مناسبه خو داوه چې تر څو بشپړ وضاحت نه وي شوی ترهغې بايد دا اجاره جايز نشي لکه ځمکه دزراعت لپاره نيول، او کالي داغوستلو لپاره په اجاره نيول.

البته داستحسان لامل دادی چې دکورونو په تړاو مشهوره خبره داده چې خلک يې داوسيدا لپاره نيسي، ځکه ورته په عربي ژبه کې کور ته (مسکن) هم وايي، نو کوم شی چې په عرف کې ثابت وي دا داسې حکم لري لکه شرط کړل شوی چې وي، نو دا په اختلاف دعامل او دعمل سره نه مختلف کيږي، (مطلب داسې بنيادي او اساسي تغير پکې نه راځي)نودا مطلقا جايز شو، په خلاف دځمکې او دکاليو، ځکه ځمکه په اختلاف دمزروع سره او لباس په اعتبار داغوستونکي سره مختلف کيږي(مطلب دې کې تغير راتلونکی دی).[۶۸]

**ب- اجارة العروض(اجارة الملابس والاواني)**

په شرح مجلة الاحکام، کې په (۵۳۴)ماده کې راځي(يَجُوزُ إجَارَةُ الْأَلْبِسَةِ وَالْأَسْلِحَةِ وَالْخِيَامِ وَأَمْثَالِهَا مِنْ الْمَنْقُولَاتِ إلَى مُدَّةٍ مَعْلُومَةٍ فِي مُقَابِلِ بَدَلٍ مَعْلُومٍ).

مطلب: کالي، اسلحه، خېمې او ددې په څير نور منقولات تر يوې معلومې مودې پورې، دمعلوم بدل په مقابل کې جائز دي.

دبېلګې په ډول: يو سړی له بل کس څخه کالي، يا کټوی او داسې نور شيان په اجاره واخلي، په داسې حال کې چې مودة او منفعت يې معلوم وي، نو ددغه معلومې مودې، اجوره او بدله به ورکوي.

په همدې ډول که يو سړي له بل چا څخه، خيمه، يا وسله واخيسته، خو هغه يې دعادت مطابق استعمال کړه او خيمه يې دعرف مطابق ووهله، نو خيمه دلمر په سبب وسوځيده، يا د واورې او باران له امله خراب شوه، ياپکې سوري وشول، يا وشليدله په داسې حال کې چې قصدا يې نه وه کړې، نو په دغه حالت کې پرې تاوان نشته، په همدې ډول که وسله، په داسې حالت کې خرابه شوه چې دعادت موافق بې کاروله، نو دغه مهال پرې تاوان نشته[۶۹]

**ج: اجارة الدواب**

دا په اجارة الاعيان کې وروستۍ برخه ده، په شرح مجلة الاحکام کې په (۵۳۸)ماده کې راځي: (يَصِحُّ اسْتِكْرَاءُ دَابَّةٍ مُعَيَّنَةٍ كَذَلِكَ يَصِحُّ الِاشْتِرَاطُ عَلَى الْمُكَارِي الْإِيصَالُ إلَى مَحَلٍّ مُعَيَّنٍ).[۷۰]

مطلب: د يو معلوم حيوان په کرا اخيستل درست دي، په همدې ډول چاته چې په کرايه ورکړل شوی دی،په هغې دا شرط هم پکې صحيح دی چې چاته په کرا ورکړل شوې ده چې دا به يو ځانګړي ځای ته رسوي.

ددې مادې په شرحه کې وړاندې راځي: يو معلوم حيوان دسورلۍ، بار وړلو لپاره په کرايه نيول جايز دي، البته دا خبره پکې اړينه ده چې همغه حيوان به مستاجر ته بيرته سپاري او دبل حيوان

۶۸: شرح مجلة الاحکام،ج:۳،ص:۲۲۸
۶۹: مخکينی ليکنه. ج:۳.ص:۳۶۵.
۷۰: مخکينی ليکنه ،ج:۳ص.۲۷۳ .

سپارل ورته جايز ندي، که چيرته يي له اصلي حيوان پرته بل حيوان ورته وسپاره، نو بيا پرې مزدوري نه لازميږي او چا چې په کراء ورکړی دی دهغي دمزدورۍ حق نه کيږي، ځکه خبره يې په يو حيوان کړې وه او ورته سپارلی يې بل حيوان ؤ.[۷۱]

**پنځم مطلب: د اجاري د عقد شرائط**

د اجاري عقد شرائط مختلف ډولونه لري، يو شمير يې دانعقاد شرايط دي، ځني يي د نفاذ شرائط دي، ځني يې دصحت او سموالي شرائط دي، يو شمير يي دلزوم شرائط دي.

**الف- د اجارې دانعقاد شرائط.**

د انعقاد شروط په درې ډوله دي.

اول: هغه چې عاقد ته راجع دي.

دوهم: هغه چې نفس عقد ته راجع دي.

دريم: هغه چې دعقد مکان ته راجع دي.

هر چې عاقد ته راجع دي هغه عقل دی، نو په دې اساس، بايد عاقد عاقل وي، ځکه نو دمجنون، ماشوم او بې عقل اجاره نده درسته، لکه څه ډول يې چې بيع يې نده جايز.

البته بلوغ د اجارې دانعقاد په شرائطو کې نه راځي، په همدې ډول زموږ(احنافو)په نزد دنفاذ په شرائطو کې هم نه راځي، تر دې چې که چيرته ماشوم عاقل خپل ځان يا مال په اجاره ورکړي، په داسې حال کې چې مأذون(داجازې خاوند)وي نو اجاره نافذ ده.

او که چيرته محجور وي، نو اجاره د ولي تر اجازې پورې موقوفه ده البته زموږ په نزد، البته امام شافعي رحمه الله په دغه برخه کې زموږ سره اختلاف لري.

که چيرته يو محجور ماشوم خپل ځان په عمل او اجورة ورکړ، کار يې پای ته ورساوه، نو په دغه حالت کې دا محجور ماشوم داجورې حقدار دی او مزدوري ددغه ماشوم حق دی، ځکه دا نه نافذيدل خو له دې امله وي چې ماشوم په هکله خلک فکر کوي چې کار په درست ډول نشي سرته رسولی، خو کله يي چې په درست ډول سرته ورساوه نو په دغه حالت کې خو اجاره نافذه ده او ماشوم داجورې مستحق دی.

او ددې ماشوم کوښښ هدر ندی، ځکه په دغه حالت کې ماشوم متضرر کيږي.

په همدې ډول حريت(او ازادي)دعاقد دانعقاد په شروط کې نه راځي، په همدې ډول د اجارې د نفاذ په شرايطو کې هم نه رآځي، البته دا زموږ(احنافو)په نزد.

البته داجازه لرونکي غلام عقد نافذيږي، البته دومره خبره ده چې عقد يې دمالک تر اجازې پورې ترلی دی، خو هله چې غلام محجور(له راکړې ورکړې بند کړل شوی)وي.

امام شافعي رحمه الله وايي: دغه اجاره موقوفه نده بلکې باطله ده.

که چيرته له کار څخه فارغ شو، په داسې حال کې چې يا يې ځان په اجاره ورکړی ؤ او يا مال او اجاره يې په سم ډول سرته ورسوله، نو معلومه اندازه اجر لازم ده چې ورکړل شي، هغه ډول چې موږ مخکې دماشوم په تړاو موږ کومه خبره کړې وه، البته دلته دومره خبره ده چې دلته مزدوري دمولی ده، ځکه دغلام مالک بادار دی او مزدوري دغلام د لاس ګټه ده او دغلام ګټل شوې پيسې دمالک وي.

---

۷۱: دررالحکام فی شرح مجلة الاحکام، ج:۳،ص:.۳۷۳ .

که چیرته ماشوم یا غلام دمستاجرپه لاس کې د اجارې په موده کې هلاک شو نو مستاجر ددې هلاکت ضامن دی، ځکه دا مستاجر په دغه حالت کې غاصب شمیرل کیږي، ځکه نوموړي غلام او ماشوم دمولی او بادار له اجازې پرته په کار ګمارلي دي.
البته دومره ده چې یوازې تاوان به ورکوي او مزدوري پرې نه لازمیږي، ځکه مزدوري او تاوان په یوه حالت کې نه جمع کیږي.
که چیرته غلام او ماشوم په خطایي ډول سره ووژل شو، نو دمستاجر په قبیله باندې دیت یا قیمت لازمیږي او مزدوري یې په مستاجر لازمیږي.ځکه دلته اجورت او قیمت دواړه ندي جمع شوي. یوه بله مهمه خبره داده چې دانعقاد په شرایطو کې اسلام شرط ندی، نو اجاره دمسلمان، ذمي، حربي او مستامن ټولو درسته ده، ځکه دا دهغه عقدونو له جملې څخه دي چې عوضا وي، نو ځکه یې مسلمان او کافر ټول مالک کیدلی شي.[٧٢]
البته دومره خبره ده چې که چیرته یو ذمي دیو مسلمان نه په ښار کې کور په اجاره واخلي او ذمي وغواړي چې له دغه کور څخه خپله عبادتګاه جوړه کړي او په دې کې ناقوس هم ووهي، نو دکور خاوند او نورو کلیوالو لپاره دا جایز ده چې دا ذمي منع کړي او له دغه کاره یې راوګرځوي، ځکه چې په دې کې د اهل ذمة تعظیم کیږي، عام مسلمانان پرې سپکیږي.[٧٣]
د اجارې دنفاذ شرط دادی چې یو شمیر انواع یې دا ایجابوي چې عاقد به د ارتداد څخه خالي وي، دا نظر دامام ابو حنیفه رحمه الله دی.
امام ابویوسف او محمد رحمهم الله وایي: دا شرط پکې نشته، نو په دې اساس دمرتد انسان تصرفات او کړنې دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزد موقوفې دې او دصاحبینو په اند نافذې دي. په همدې ډول دمرتدې میرمنې تصرفات هم نافذ دي.البته دا د ټولو په نزد نافذ دي.[٧٤]
اجاره پرته له پورتنیو عمومي شرایطو دمدني قانون د٥٠٢ مادې لمخې یو لړځانګړي نور شرایط هم لري، چې ددغه شرایطو څخه ځینې یې دعقد دلوریو یعني موجر اومستاجر، ځینې یې دعقد دموضوع یعني اجارې اوځینې یې اجوري پورې اړه لري؛[٧٥]چې هر یو یې په جلا جلا ډول په لاندې توګه مطالعه کوو.
**ب- د موجر او مستاجر پورې اړوند شرایط**
د اجارې د عقد د شرایطو څخه یوهم د بیع د عقد په څیر دلوریو خوښه او رضایت دي، الله تعالي پدې هکله فرمایې چې (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا)[٧٦]ژباړه: اي هغه کسانو چې ایمان مو راوړی مه خورئ یو دبل مالونه په ناحقه توګه مګر داچې دغه تجارت دخوښې او رضا له مخې وي.همدارنګه دمجله الاحکام ٤٤٨ مه ماده پدې هکله داسې صراحت لري (د اجارې په صحت کې دلوریو رضایت شرط دي) علاوه پر دې د اجارې په عقد کې داشرط دي چې دعقد لوري دحقوقي اهلیت لرونکي وي کچیرې دحقوقي اهلیت لرونکي نه وي او یا یو دطرفینو څخه حقوقي اهلیت ونلري نو عقد نشي رامنځته کیداي، دمجله الاحکام ٤٤٤ مه ماده (د اجارې عقد کې دعقد دلوریو اهلیت یعني عقل لرل او ممیز والي شرط دي).

٧٢: بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع.ج:۴.ص:۱۷۴.
٧٣: بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع.ج:۴.ص:۱۷۵.
٧٤: بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع،څلورم ج.له ۱۷۴ صفحې څخه تر ۱۷۶ صفحې.
٧٥: عبدالله، نظام الدين،حقوق عيني، ١٣٨٥ هـ ش، ص ١١٢.
٧٦: سورة النساء، ٢٩ آيت

**ج- د اجارې دمعقود علیه پورې اړوند شرایط**

**لومړی شرط**

دمستاجره مال څخه انتفاع (ګټه اخیستنه) پداسي شکل سره ممکنه وي چې دعین دله منځه تللو لامل ونه ګرځي، یعني هغه مال چې په اجاره ورکول کېږي بایداستعمالي نه وي لکه کور، ځمکه یا دوکان، پدې هکله مدني قانون داسې صراحت کوي چې:

۱- دهغه عین اجاره چه ورڅخه ګټه اخیستل بې دعین دمینځه تللو څخه ممکنه نه وي جوازنلري

۲- په کارکولو اجاره هغه وخت جواز لري چې کارروا وي او اجیر دقانون له حیثه دهغې په کولو مکلف نه وي.

۳- دهغې شي اجاره چې ګټه اخیستل ورڅخه په حقیقي یا حکمي توګه ناممکن وي باطله ده).[۷۷]

**دوهم شرط**

د اجارې دمعقود علیه اندازه باید معلومه وي ترڅو په راتلونکې کې دشخړو څخه مخنیوي شوي وي نوکله چې ګټه او منفعت نامعلومه وي اواندازه یې نه وي څرګنده نو پدې صورت کې د اجارې عقد نشي رامنځته کېداي.[۷۸]

**دریم شرط**

مستاجره عین بایدپه حقیقي اوشرعي ډول داستیفاء او کاروني وړ وي یعني دکار وړتیا ولري اودکوم هدف لپاره چې دغه عقد صورت نیسي ددې هدف په لاسته راوړلو کې په کار راشي پرته لدې کچېږي داوړتیا پکې نه وي نو د اجارې دغه عقد باطل دي، مثلاً داچې څوک یو ګنګ سړي دویاندویې لپاره په اجاره ونیسي ؛[۷۹]دمجله الاحکام ٤٥٨ مه ماده پدې هکله داسې صراحت لري چې (شرط دي چې منفعت داستیفاء وړ وي له همدې کبله دتښتیدونکي حیوان اجاره سمه نده). همدارنګه لازمه ده چې دمستاجره عین څخه ګټه اخیستنه په شرعي ډول هم ممکنه او رواوي دمثال په ډول کچېږي څوک یو ساحر(جادوګر) دسحر دزده کړي لپاره په اجاره ونیسي نود اجارې دغه عقد باطل او ناروا دی، مدني قانون کې پدې اړوند داسې صراحت شوی دی (دهغه شي اجاره چه ګټه اخیستل ورڅخه په حقیقي یاحکمي توګه ناممکن وي باطله ده).[۸۰]

**څلورم شرط**

د مستاجره مال څخه ګټه اخستنه باید په شرعي روا او مباح ډول وي لکه دکتاب اجاره دزده کولو او ویلو لپاره یا دکور اجاره دهستوګنې لپاره، هرکله چې دمستاجره مال څخه ګټه اخیستنه ناروا وي او یا داچې مستاجره مال څخه په ناروا کار کې ګټه اخیستل کېږي او موجر پدې خبروي او پدې هکله ورته معلومات وي نو پدې صورت کې دغه ډول د اجارې عقد هم باطل ګڼل کېږي، دمثال په ډول داچې مستاجر یو کس دبل چا دوژلو لپاره په اجاره ونیسي یا څوک خپل کور یو قمار باز ته دقمار بازی لپاره په اجاره ورکړي نو پدې دواړوحالاتو کې ځکه عقد فاسد ګڼل کېږي ځکه چې دغه دواړه عمله ناروا او غیر مشروع دي د مدني قانون ۱۳۳۳ مي

---

۷۷:مدني قانون،دویم کتاب،تاکل شوي عقدونه، ۱۳۳۳مه ماده.

۷۸: وهبة الزهیلي،الفقه الاسلامیه وادلته،کویټه: مکتبه رشیدیه،٥ ج ،ص ۳۸۰۹.

۷۹: عبدالله، نظام الدین،حقوق عیني، ۱۳۸٥ هـ ش، ص ۱۱۷.

۸۰: مدني قانون،دویم کتاب،تاکل شوي عقدونه، ۱۳۳۳ مه ماده، دریمه فقره .

مادې دويمي فقرې پدې موضوع داسې رڼا اچولې ده (په كار اجاره هغه وخت جوازلري چې كارروا وي اواجير دقانون له حيثه دهغې پــــه كـــــولو مكلــف نه وي).

**پنځم شرط**

موجر بايد فعلاً دهغه منفعت خاوند وي كوم چې يې اوس د اجارې دعقد له مخې بل كس ته وركوي، مهمه نده چې موجر دغه منفعت دڅه ډول عقد په اساس لاس ته راوړې يوائې هغه څه چې مهمه ده هغه داده چې دعقد په وخت كې ددې منفعت خاوند موجود وي نه بل شخص.[٨١]

**د- د اجرت پورې اړونده شرايط**

مخكې تر دې چې د اجرت پورې اړونده شرايط مطالعه كړوبايد د دې خبرې يادونه وكړو چې دمجله الاحكام د٤٠٤ مې مادې لمخې اجرت يا (كراء) دګټې دبدل په معنى او ايجار دكراوركولو په معنى سره استعمال شوي دي، همدارنګه كچېرې دعين اجرت دعقد دانعقاد پرمهال وټاكل شي نو هغه ته اجرت المسمي ويل كېږي چې دمجله الاحكام په ٤١٥مه ماده كې ترې داسې يادونه شوې ده (اجرت المسمي هغه اجرت ته ويل كېږي چې دعقد دانعقاد پر مهال ترې يادونه شوي وي) او بالعكس هغه اجرت چې دعقد دانعقاد پر مهال نه وي ټاكل شوی بلكه وروسته دعرف او عاداتو يا داهل خبره نظر ته په كتو سره وټاكل شي نو هغه ته اجرت بالمثل وايې چې دمجله الاحكام په ٤١٤ ماده كې يې ترې داسې يادونه كړې ده (اجرت مثل هغه اجرت ته ويل كېږي چې اهل خبره وو پرته دكوم غرض او غلط هدف څخه هغه ټاكلی وي).

دافغانستان دمدني قانون داحكامو په اساس اجرت د اجارې په عقد كې كېدای شي په معجل ډول او يا هم كېدای شي چې په مؤجل (ځنډني ډول) او دقسطونو په شكل وركړاې شي، دمدني قانون په احكامو كې داسې صراحت راغلی دی چې (داجورې تعجيل اوتاجيل اوپه ټاكلو وختونو كې دننه دقسطونو په صورت دهغې وركول جوازلري).[٨٢]نو په همدې اساس مستاجر بايد هغه دمخكې نه تعين شوو شرايطو مطابق دعقد په مهال او يا وروسته په عاجل ډول وسپاري، پرته لدې ماجور كولای شي چې مستاجره مال تر هغې پورې مستاجر ته ونه سپاري ترڅو چې يې اجوره نه وي وركړې، پدې اړوند مدني قانون داسې وايې چې (كه د اجارې په وركولو كې تعجيل شرط شوی وو نو اجاره اخيستونكې مكلف دي چه هغه دعقد په وخت كې وركړي اواجاره كونكی كولای شي چه داجورې دتسليميدو تروخته پورې دعين دتسليميدو څخه ځان وژغورې).[٨٣]

مګر په هغه شرايطو كې چې اجرت دځيني ټاكلو شرايطو په اساس مؤجل ټاكل شوی وي نو موجر مجبوره دي ترڅو مستاجره مال مستاجر ته وسپارې اونه شي كولاې چې دټاكلې مودې درارسيدو څخه دمخه داجرت غوښتنه وكړي، مدني قانون پدې اړوند داسې وايې چې (كه د اجارې تاجيل شرط شوې وو نوكه عقد داعيانو په ګټو شوې وواجاره وركونكې مكلف دې چې عين اجاره اخيستونكې ته تسليم كړي پدې صورت كې اجوره دمودې تر رسيدو دمخه نه لازميږي).[٨٤]

اوس به راشو خپلې اصلې موضوع ته يعنې داجرت پورې اړونده شرايطو ته چې پدې اړوندوه مهم شرطونه په لاندې ډول شتون لري:

---

٨١: عبدالله، نظام الدين،حقوق عيني، ١٣٨٥ هـ ش، ص ١١٨.
٨٢: مدني قانون،دويم كتاب،ټاكل شوي عقدونه، ١٣٤١مه ماده
٨٣: همغه قانون، ١٣٤٢ مه ماده
٨٤: مدني قانون،دويم كتاب، ټاكل شوي عقدونه، ١٣٤٣مه ماده.

۱_ دمال اجرت باید معلوم او متقوم وي: - پدي هکله دعلماو اتفاق دي چې اجرت باید معلوم وي او درسول الله حدیث هم پدي هکله وجود لري چې رسول الله فرمایلي دي (من استاجر اجیراً فلیعلمه اجره) یعني کله چې څوک اجیر په کار وګماري نو اجره یې باید ورته دمخې څخه وټاکي.

۲_ اجرت باید دمنفعت او ګټې دجنس څخه نه وي لکه دکور اجرت دکور په وړاندي یا دحیوان اجرت دحیوان په وړاندي.[85] ډول اجرت ځکه درست ندی چې په دې ډول کې انتفاع باالمثل نه متحقق کیږي،البته دا دامام ابو حنیفه رحمه الله نظر دی،یو شمیر علماء دې ته جواز ورکوي.[86]

**شپږم مطلب: د اجارې اساسي او بنیادي قواعد:**

پورته د اجارې دعقدشرایط په تفصیلي توګه وڅیړل شوه، اوس راځود اجاري اساسي اوبنیادي قواعدو ته همدارنګه د دي مثالونواود دي معاصرو تطبیقاتوته چې په لاندي کرښوکې ورته اشاره کوو.

**الف- لومړی قاعده (الاجارة مبنية على المشاحة)**[87]

ژباړه: اجاره په منازعې،جدال او جګړې بناء ده.

د دي قاعدي نورمترادف الفاظ هم شته چې په لاندي ډول ورته اشاره کوو:

۱: الاجارة مبنية على المضايقة والمماكسة.

۲: الاجارة مبنية على المماكسة.

۳: الاجارة مبنية على الاستقصاء.

په پورته مادو کې مماکست، مضایقة اواستقصاء ټول د تنازع په معنا سره راځي.

(المشاحة) د مفاعلة په وزن ده، المشاحة د شاح مصدر دي، اصلا دا ثلاثي مضاعف دي دتنازع په معنی راځي لکه عربان وایې: هما يتشاحان على كذا یعني دوي یوبل سره بحث کوي اویوبل ته خپل حق نه پریږدي.

خلاصه خبره دا ده چې د اجاري عقد د عاقدینوترمنځ په تنازع او مشامحت بناء دي ځکه هرعاقدپدي هڅه کې وي چې یو د بل څخه خپل حق ترلاسه کړي او خپل شخصي مصالح او منافع په خپله ګټه راوګرځوي، د مثال په ډول: مؤجرغواړي اوتل پدي هڅه کې وي چې داسي عقد ترسره کړي چې دده په کې ګټه کې وي او په کوم شي کې چې ګټه نه وي اوعیب پکې وي دا رد او واپس کړي، په همدي توګه په طبعي ډول د اجاري عقدد مسامحت اوتساهل څخه لري دي، سره د دي چې الله متعال په هرشي کې خلک تسامح اوتساهل ته هڅولي دي.البته د اجاري عقد اصلا په مکایست بناء دي خوکه یوکس د اجاري په عقدکې دتساهل اوتسامح څخه کار اخلي دا دده په نیکواخلاقو دلالت کوي.

البته پدي یاده قاعده باندي دټولو فقهاوو اتفاق دي اګرکه په خپلو کتابونوکې پدي صراحت ندي کړي.

---

۸۵وهبة الزهيلي،الفقه الاسلاميه وادلته،کویټه: مکتبه رشیدیه،۵ ج ،ص۳۸۲۲-۳۸۲۷.

۸٦ بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع،ج:۵،ص:۹۲۳.

۸۷ الخرشي المالكي ، محمد بن عبد الله أبو عبد الله ، شرح مختصر خليل للخرشي، (المتوفى: ۱۱۰۱هـ، الناشر: دار الفكر للطباعة – بيروت،الطبعة: بدون طبعة وبدون تاريخ، عدد الأجزاء: ۸،ج:۷،ص:۲.

د قاعدي دليل: قاعده داده (المعاوضة على المضايقة)[88] په همدي ډول اجاره هم عقد معاوضة ده، ځکه اجاره د بيعي له اقسامو څخه ده او دا واضحه خبرده چې بيع په جګړي او منازعي بناء ده نواجاره کې هم د عاقدينو ترمنځ منازعه رامنځته کيږي.

**د قاعدي معاصر تطبيقات:**

۱: که يوشخص يوکس په مزدورۍ ونيوه چې ډودۍ ورته راوړي کله چې اجاره ورکونکي ته ظاهره اوښکاره شوه چې هغه ډيره ډوډۍ خوري نواجاره ورکونکی دا عقد فسخه کوي ځکه دا ډيرخوراک په مزدور کې يوعيب دي اودا ښکاره خبرده چې اجاره په منازعي بناء ده.

۲: که يوکس څاروي اويا موټرپه کرايه ونيوه ترټاکلي ځاي پوري په ټاکلوشرايطوکچيري لدي څخه مخالفت وکړولکه ديوکس پرځاي پکي دوه کسان کيناسته اويا ثقيل وزن يې پکې بارکړو، دا ضامن دي اوتاوان پري لازم دي دا ځکه چې د اجاري بناء په منازعي ده.

۳: که يوشخص کوردحيوان په مقابله کې په کرايه ونيوه مثلا: دکورخاوندته يې وويل: زه تاته دکرايه په بدل کې غوا يا پسه درکوم البته حيوان يې ورته معلوم اومشخص نکړودا اجاره فاسده ده، ځکه حيوان په هغه وخت کې دمال صلاحيت لري چې معين اوټاکلي وي دلته معين اوټاکلي ندي نوبيع دمجهول راغله نوموږ وايو چې دااجاره فاسده شوه ځکه اجاره په مقابله دبدل کې وي چې بدل کې مشروع مال لاسته راوړي اودلته مال مجهول دي نوځکه اجاره فاسده شوه.

معاصر تطبيقات: که يوشخص پدي شرط موټرپه کرايه ونيولوچې که يومياشت پدي ښارکې وي نوکراء به ورکړي اوکه لدي ښارپه سفر ووت نوکراء به نه ورکوي، دا اجاره فاسده ده ځکه اجاره په مشامحت اومنازعي بناء ده، پداسي اجاره کې وخت اوموده مجهوله ده نوجګړي ته پکې لاره هواريږي.

**ب- دوهمه قاعده: (الاجارة كالبيع)** [89]

ژباړه: اجاره دبيع پشان ده.

دا قاعده په نورو الفاظو هم راغلي ده چې موږ ورته په لاندي ډول اشاره کوو:

۱: الاجارة مثل البيع[90]

۲: حكم الاجارة كالبيع[91]

۳: الاجارة بيع من البيوع[92]

۴: الاجارات صنف من البيوع[93]

---

۸۸ على حيدر: درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، المؤلف: علي حيدر خواجه أمين أفندي (المتوفى: ١٣٥٣هـ، تعريب: فهمي الحسيني، الناشر: دار الجيلالطبعة: الأولى، ١٤١١هـ - ١٩٩١م، عدد الأجزاء:٤،ج:٣،ص:٣٥٣.

۸۹ : أفندي ، علي حيدر خواجه أمين ، الحكام في شرح مجلة الأحكام، (المتوفى: ١٣٥٣هـ( تعريب: فهمي الحسيني، الناشر: دار الجيل
الطبعة: الأولى، ١٤١١هـ - ١٩٩١م،عدد الأجزاء:٤،ج:٢،ص:٤٩٣.

۹۰ الزيلعي الحنفي ، عثمان بن علي بن محجن البارعي، فخر الدين، تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشِّلْبِيِّ، (المتوفى: ٧٤٣ هـ(الحاشية: شهاب الدين أحمد بن محمد بن أحمد بن يونس بن إسماعيل بن يونس الشِّلْبِيُّ (المتوفى: ١٠٢١ هـ( الناشر: المطبعة الكبرى الأميرية - بولاق، القاهرة،الطبعة: الأولى، ١٣١٣ هـ، ج:١٠،ص:٤٩٣.

۹۱ ابواسحاق، إبراهيم بن محمد بن عبد الله بن محمد ابن مفلح، أبو إسحاق، برهان الدين، المبدع في شرح المقنع، (المتوفى: ٨٨٤هـ( الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان،الطبعة: الأولى، ١٤١٨ هـ - ١٩٩٧ م، عدد الأجزاء:٨،ج:٤،ص:٤٩٢.

۹۲: الموطأ، مالک بن انس ، الموطأ لامام الائمة وعالم المدينة مالك بن أنس رضى الله عنه " ما ظهر على الارض كتاب بعد كتاب الله، أصح من كتاب مالك " "الامام الشافعي" صححه، ورقمه، وخرج أحاديثه، وعلق عليه محمد فؤاد عبد الباقي،دار احياء التراث العربي بيروت – لبنان، ١٤٠٦هـ - ١٩٨٥ م،ج:٥،ص:١٢٥.

۵: الکراء بیع من البیوع [93]

۶: الاجارة بیع[94]

د قاعدي شرحه: دجوازاو حرمت په اعتبارد اجاري عقد دبيع پشان دي هرهغه شي چې دبيع په عقد کې جائزدي د اجاري په عقدکې هم جائزدي، په همدي ډول کوم څيزچې دبيع په عقدکې ناجائزدي هغه د اجاري په عقدکې هم ناجائزدي، دمثال په ډول د جامو، څارويو، کورونواو داسي نوروڅيزونو بيع جائزده په همدي ډول د اجارې بيع هم جائزده.

همدارنګه کوم څيزونوچې بيع حرامه وي ددوي اجاره هم حرامه ده، دمثال په ډول هغه کتابونه چې په هغې کې سحراوجادو زده کيږي د دي خرڅول حرام دي په همدي ډول داسي کتابونه په اجاره اخستل هم حرام دي.

همدارنګه هغه سلاح چې په هغي مؤمن وژل کيږي د دي بيع په شريعت کې حرامه ده، د دي په اجاره اخيستل او ورکول هم حرام دي.

علامه ابن حزم رحمه الله[96] وايي: اجاره بيع نده، ځکه کوم شيان چې حرام دي دهغي اجاره ورکول هم جائزدي لکه دازاد انسان، سپي اوپيشو په کرايه ورکول جايزدي، که اجاره بيع وه نوياد څيزونه بايد په اجاره کې هم ناروا اوحرام وه څنګه چې په بيع کې ناروا اوحرام دي.

دبيع اواجارې ترمنځ ورته والي شتون لري ځکه اجاره دبيع يوه نوعه ده، په اجاره کې منافع داسي حيثيت لري لکه په بيع کې چې مبيع کوم حيثيت لري.په همدي ډول په اجاره کې اجورة داسي حيثيت لري لکه په بيع کې چې ثمن اوپيسي کوم حيثيت لري.

لدي څخه دا په ډاګه شوه کوم شروط چې په اصل کې معتبر وه هغه بايدپه فرعه کې هم معتبرشي لکه طهارت، نفي دجهالت اوقدرت على التسليم اوداسي نور، په همدي ډول علامه کاساني رحمه الله وايي: کوم څيز چې په بيع کې دپيسو صلاحيت لري هغه په اجاره کې داجورې صلاحيت لري، اوهرهغه څيزچې په بيع کې دپيسوصلاحيت نلري هغه په اجاره کې داجورې صلاحيت نشي درلودلي، همدارنګه اجوره بايد مال متقوم وي.

البته پورته تشبيه په ټولو اړخونوکې نشي معتبريدلي ځکه د اجاري عقدځانګړي خصوصيات لري اودبيع عقدځانګړي خصوصيات لري اګرکه په ځينو مواردو کې اتفاق لري.

د اجاري عقد دبيع عقدسره فقهاوو ځني فرقونه ذکرکړي چې په لاندي ډول ورته اشاره کوو:

۱: په اجاره کې دبيع په نسبت پراخوالي زيات دي، ځکه اجاره ځني موانع قبلوي چې بيع يې نه قبلوي.[97]

۲: د احنافوپه نيزپه اجاره کې راتلونکي زماني ته نسبت کول جائزدي مګرپه بيع کې جائزندي.

۳: په اجاره کې منافع يودم لاسته نه راځي بلکه وخت په وخت ترلاسه کيږي.

---

۹۳ شافعي: الأم،المؤلف: الشافعي أبو عبد الله محمد بن إدريس بن العباس بن عثمان بن شافع بن عبد المطلب بن عبد مناف المطلبي القرشي المكي (المتوفى: ٢٠٤هـ(الناشر: دار المعرفة – بيروت،الطبعة: بدون طبعة،سنة النشر: ١٤١٠هـ/١٩٩٠م،ج:۴،ص:۲۶.

٩٤ الشافعي أبو عبد الله محمد بن إدريس بن العباس بن عثمان بن شافع بن عبد المطلب بن عبد مناف المطلبي القرشي المكي، كتاب الأم، (المتوفى: ٢٠٤هـ)الناشر: دار المعرفة – بيروت، الطبعة: بدون طبعة، سنة النشر: ١٤١٠هـ/١٩٩٠م،ج:۴،ص:۲۱.

۹۵ بدائع الصنايع للكاسانى،ج:۵،ص:۲۰۱.

٩٦ نوم يى على بن احمد بن سعيد، کنيه چې الاندلسى الظاهري دى شاعر، کاتب فيلسوف او فقيه دي، د قرطبى په ښار کې د ۳۸۴ کال کې زيږيدلى او د اندلس کبارو علماوو څخه دي.علامه بان حزم په مختلفو علومو کې مهارت درلود.نوموړى: تآليفات لرى چې مشهوريى: الفصل فى الملل و الاهوا و النحل.طوق الحمامه.نقط القروس.الاحكام فى اصول الاحكام.نوموړى په ۴۵۶ کال کې و فات شوى.الاعلام للزركلي،ج:۴،ص:۵۳۹.

۹۷ بدائع الصنائع،ج:۴،ص:۱۸۵.

دبیع اواجارې ترمنځ فرق اوتوپیردا دي چې اجاره دضرورت پربنیاد خلاف القیاس ثابته ده.[98]
بیع بیا داسي نده بلکه عقل اوشرعه دواړه د دي تقاضا کوي چې بیع بایدجائزشي.
دهمدي سبب په اساس علامه ابن حزم رحمه الله اجاره بیع نه ګڼي ځکه بعضي احکاموکې بیع اواجاره توپیرلري، البته جمهور حکم اغلبي ته ګوري نوځکه اجاره دبیع یوقسم ګڼي.
د قاعدي دلایل: د دي قاعدي لپاره ډیر دلایل دي چې یوځودلایلوته په لاندي ډول اشاره کوو:
(۱) په سورت النساء کې الله متعال فرمایي: (إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ)[99]
وجه داستدلال: یومال په بل مال سره بدلولوته تجارت ویل کیږي اجاره هم له همدي قبیلې څخه ده.[100]
(۲): اجاره تملیک دي په همدي اساس په اجاره کې اجاره نیونکې ترټاکلې نیټې پوري دمنفعت مالک کیږي اواجاره ورکونکې دعوض مالک ګرځي چې همدغه ډول معامله بیع بلل کیږي.[101]
(۳): په بیع کې معقودعلیه عین دي اوپه اجاره کې معقودعلیه منفعت دي، عین اصل دي اومنفعت د دي اصل تابع دي نوکوم شي چې دعین بدل جوړیدلي شي هغه دتابع بدل هم جوړیدلي شي.[102]
**د قاعدي معاصر تطبیقات:**
(۱): اجاره کټ مټ دبیع په شان ده، مشافهة، کتابتا، اودګونګې په اشارى سره سرته رسیږي.[103]
(۲): په اجاره کې دمکان اودنیټې معلومول شرط دي لکه څنګه چې په بیع کې علم شرط دي.[104]
(۳): کله چې په اجاره کې شرط فاسد کېښودل شي اجاره فاسدیږي لکه څنګه چې بیع په شرط فاسد سره فاسدیږي.[105]
(۴): کله یوشخص دبل شخص سره بیع کوي نوهیڅ یومسلمان ته جائزنده چې ددوي په بیع کې مداخله وکړي، د اجارې هم همدغه حکم دي ځکه اجاره هم دبیع یوه نوعه ده.[106]
ځني هغه تطبیقات چې دقواعدو بڼه لري:
(۱): ماجازان یکون ثمنافی البیع جاز ان یکون اجرة فی الاجارة.[107]
په بیع کې نقدی، سره زر، سپین زر، مکیلات اوموزونات بایع ته ورکول جائزدي، په همدي ډول دغه څیزونه په اجاره کې اجاره ورکونکې ته هم جائزدي.
(۲): کل من صح شراؤه صح استئجاره.[108]

---

۹۸ بدائع الصنائع،ج:۴،ص:۱۹۴.
۹۹ سورة النساء، ایات:۲۹.
۱۰۰بدائع الصنائع،ج:۴،ص:۱۷۹.
۱۰۱ : الأم، ج:۴،ص:۲۶.
۱۰۲ دررالحکام فی شرح مجلة الاحکام،ج:۳،ص:۷۷.
۱۰۳ دررالحکام فی شرح مجلة الاحکام،ج:۲،ص:۴۹۴.
١٠٤ : أطفيش ، محمد بن يوسف بن عيسى ، شرح النيل وشفاء العليل، إباضية، الناشر : مكتبة الإرشاد،ج:۱۸،ص:۳۶۴.
١٠٥ دررالحکام فی شرح مجلة الاحکام،ج،۳،ص:۶۳.
١٠٦ الإنصاف في معرفة الراجح من الخلاف على مذهب الإمام أحمد بن حنبل علي بن سليمان المرداوي أبو الحسن، سنة الولادة ٨١٧/ سنة الوفاة ٨٨٥
تحقيق محمد حامد الفقي، الناشر دار إحياء التراث العربي، عدد الأجزاء ١٢،ج:۷،ص:۳۲۸.
١٠٧ اليمني الحنفي ، أبو بكر بن علي بن محمد الحدادي العبادي الزَّبِيدِيّ ، الجوهرة النيرة، (المتوفى: ٨٠٠هـ( الناشر: المطبعة الخيرية،الطبعة: الأولى، ١٣٢٢هـ عدد الأجزاء: ٢،ج:١،ص:٢٦٠.

دهر ازاد، عاقل اوبالغ بيع اوشراء جائزده په همدي ډول اجاره ہي هم جائزده.
(۳): كل جهالة تفسدالبيع تفسدالاجارة.[109]
په بيع کې که په ثمن ياپه نېته کې جهالت وي دبيع عقدفاسديږي، په همدي ډول که د اجاري په عقد کې په عين مستاجرة، اجورة، اوياد اجاري په نېټه کې جهالت وي دجاري عقد هم فاسديږي.

**ج- دريمه قاعده: (كل ما امكن الانتفاع به مع بقاء عينه صحت اجارته)**[110]

دکوم ځيزچې انتفاع ممکنه وي سره دبقاء دعين نه دداسي ځيزاجاره صحيح اودرسته ده.
نوموړی قاعده په نوروصيغوسره هم رانقل شوي چې په لاندي ډول ورته اشاره کوو:
(۱): كل عين ظاهرة يمكن الانتفاع بهامع بقاءعينهاجاز اجارتها.[111]
(۲): كل مايعرف بعينه وينتفع به من غير اتلافه يجوز اجارته.[112]
(۳): الاجارة انما تصح فيما يمكن الانتفاع به مع بقاء عينه ونماء اصله.[113]
(۴): انما يرد عقد الاجارة على ماينتفع به مع بقاء عينه.[114]

**د قاعدي شرحه:** کوم ځيز چې په اجاره ورکول کيږي اجاره اخستونکی به دهغي څخه داسي استفاده کوي چې عين ہي هلاک او تلف نشي، البته که اجاره اخستونکی دداسي ځيزونوعقد وکړوچې په استعمال سره لمنځه ځي لکه دخوراک ځيزونه، دڅښاک ځيزونه، شمعه، صابون، لرګي اوداسي نور، دا اجاره فاسده ده بلکه دا قرض اويا بيع ګرځي ځکه دفقهاوو ترمنځ عامه اومشهوره قاعده ده: العبرة للمقاصدوالمعاني لا للالفاظ والمباني، اعتبار مقاصدوته دي نه ظاهري الفاظوته، لکه څنګه چې په پورته عبارت کې ورته اشاره وشوه: كل ماكان على اتلاف العين لاتجوز اجارته، نولنډه اوخلاصه خبره داشوه هرهغه شي چې په استعمال سره لمنځه نځي اجاره صحيح اودرسته ده اوکوم شي چې په استعمال سره لمنځه ځي دهغه شي اجاره صحيح اودرسته نده.
البته ځني فقهاوو داخبره واضحه کړي چې دا شرط په اجارة الاعيان کې دي مثلا: يوشخص يوکور ياجامې په اجاره ونيولي البته پداسي وخت ناڅاپه عين مستاجرة هلاکه شوه د اجاري عقدفسخه شوځکه په کوم شی چې عقد شوي وو هغه فوت اوختم شو.[115]
البته که چيري په داسي ځيز عقدشوي وي چې موصوف فی الذمة وي مثلا: دمدرسي مديردطالبانودترانسپورت لپاره يوشخص سره دګاډوخبره کړي وي که په دغه ګاډو کې کوم يوخرابه شي عقد نه فسخه کيږي ځکه عين معقودعليه اوس هم باقي ده اواجاره ورکونکی به دهغه ګاډي پرځای بل ګاډي راولي.[116]

---

۱۰۸ نووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف ، المجموع شرح المهذب مع تكملة السبكي والمطيعي، (المتوفى: ٦٧٦هـ( الناشر: دار الفكر،ج:۱۵،ص:۵.
۱۰۹ بدائع الصنائع،ج:۱،ص:۱۲۶.
۱۱۰ ابوشجاع: متن أبي شجاع المسمى الغاية والتقريب، المؤلف: أحمد بن الحسين بن أحمد، أبو شجاع، شهاب الدين أبو الطيب الأصفهاني (المتوفى: ٥٩٣هـ (الناشر: عالم الكتب، عدد الأجزاء: ۱،ج:۲،ص:۳۴۸.
۱۱۱ بدائع الصنائع،ج:۲،ص:۱۱۷.
۱۱۲ ابوعبدالله: التاج والإكليل لمختصر خليل، المؤلف: محمد بن يوسف بن أبي القاسم بن يوسف العبدري الغرناطي، أبو عبد الله المواق المالكي (المتوفى: ۸۹۷هـ( الناشر: دار الكتب العلمية، الطبعة: الأولى، ١٤١٦هـ-١٩٩٤م،ج:۴،ص:۴۱۴.
۱۱۳ احمدبن قاسم : التاج المُذْهَب لأحكام المَذْهَب، المؤلف : القاضي أحمد بن قاسم العنسي، الناشر: دارالكتب العلمية، مصدر الكتاب : موقع الإسلام،ج:۳،ص:۶۸.
١١٤ سرخسي: المبسوط، المؤلف: محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي (المتوفى: ٤٨٣هـ (الناشر: دار المعرفة – بيروت، الطبعة: بدون طبعة تاريخ النشر: ١٤١٤هـ-١٩٩٣م،ج:۱۴،ص:۴۹.
١١٥ التاج والاكليل،ج:۴،ص:۴۱۸.
١١٦ بدائع الصنائع،ج:۴،ص:۲۲۳.

**د قاعدي دلايل:**

(۱): کوم شي چې په اجوره ورکول شي دهغې څخه هغه وخت استفاده ممکنه ده چې هغه باقي پاتې وي په همدي اساس کوم شي چې په استعمال سره لمنځه ځي داسې اجاره درسته نده ځکه په کوم شي چې عقد شوي هغه لمنځه تللي دي نوعقدکې فائده پاتې نشوه.[117]

(۲): په کوم شي چې عوض واخستل شي اوهغه عين خپله له منځه لاړشي دا بيع ده اجاره نه شمېرل کيږي ځکه کله چې عين هلاک شي مشتري دهغې مالک ګرځي چې همدا دبيع مقتضی ده اوپه اجاره کې اجاره اخستونکی دعين مالک نه ګرځي.[118]

**د قاعدي معاصر تطبيقات:**

(۱): ترهغه وخته د اجاري عقد صحيح کيږي چې عين مؤجرة په استعمال سره باقي پاتې کيږي اګرکه موده اوږده هم وي، دمثال په ډول: کورد(۳۰) کلونولپاره په اجاره ورکولی شي، دنقل وسايل تر(۱۰)کلونو په اجاره ورکولي شي، جامې ديوکال اويا دوه کلونولپاره په اجاره ورکولي شي اوځمکه د (۱۰۰) کلونولپاره په اجاره ورکولي شي.[119]

(۲): هغه کورچې د مسجد لپاره ترې استفاده وشي دا ډول اجاره هم درسته او صحيح ده ځکه دا هم يومباح او جائز منفعت دي کورپه خپل ځای باقی پاتې کيږي او سالمه استفاده تري هم کيږي.[120]

**د- څلورمه قاعده: (کل عمل فيه منفعة وکان عمله مباحا فالاجارة جائزة فيه)**[121]

ژباړه: هرهغه مباح اوجائزعمل چې په هغې کې منفعت وي دهغې اجاره صحيح اودرسته ده.

**د قاعدي شرحه:**

دمنفعت تعريف: منفعت دضرر ضد دي عربان وايي: نفعه، ينفعه، نفعاومنفعة.[122]

مباح: په لغت کې ماخوذ دي داباحت نه دحلال والي په معنا سره راځي لکه عربان وايي: ابحتک الشي، ای احللته لک.همدارنګه مباح دمحظورضد دي.

البته اصولين د دي لپاره ځانګړي تعريف لري چې په لاندي ډول ورته اشاره کوو:

الاباحة: بانها خطاب الله تعالی المتعلق بافعال المکلفين تخييرا من غيربدل.[123]

ژباړه: دا دالله متعال هغه خطاب دي چې مکلفوبندګانو پوري تعلق لري او له بدل پرته اختياريږي.

دپورته قاعدي څخه لاندي فوائد په لاس راځي:

(۱): د اجاري عقد به دانسان په نفعه راڅرخيږي چې انسان ته يکې هيڅ نوعه ضرر متوجه نه وي.

(۲): دا عمل اوکړنه به مباح اوجائزوي پدي کې به معصيت اوګناه نه وي.

کله چې داجاری عقد په نفعه باندي بناء وي بايد په هغې کې د لاندي شروطو لحاظ وساتل شي:

---

۱۱۷ بدائع الصنائع،ج:۴،ص:۲۲۳.

۱۱۸ ابن حزم : المحلى،، علي بن أحمد بن سعيد بن حزم الظاهري أبو محمد، سنة الولادة : ۳۸۳/ سنة الوفاة ٤٥٦، تحقيق : لجنة إحياء التراث العربي، الناشر : دار الآفاق الجديدة، مكان النشر : بيروت،ج:۷،ص:۴.

۱۱۹ المحلی لابن حزم،ج:۷،ص:۴.

۱۲۰ المحلی،ج:۷،ص:۱۱.

۱۲۱ المحلی لابن حزم،ج:۹،ص:۵۲۵،المبسوط للسرخسی،ج:۱۶،ص:۴۰.

۱۲۲ ابوالفضل، محمد بن مكرم بن على، لسان العرب، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى الإفريقى (المتوفى: ۷۱۱هـ( الناشر: دار صادر – بيروت، الطبعة: الثالثة - ١٤١٤ هـ،ج:۸،ص:۳۵۸.

۱۲۳ : فواتح الرحموت بشرح مسلم الثبوت، المصدر: موقع شبكة مشكاة الإسلامية، http://www.almeshkat.net/،ج:۱،ص:۱۱۲.

(۱): ان تقع الاجارة على المنفعة لا على استهلاک العين[١٢٤]

(۲): ان تكون المنفعة متقومة مقصودة الاستيفاء بالعقد.[١٢٥]

(۳): ان تكون المنفعة مباحة الاستيفاء وليست طاعة مطلوبة ولامعصية ممنوعة.

(۴): القدرة على استيفائها.[١٢٦]

دپورته ضابطې اوقاعدې څخه دامعلومه شوه چې په کوم شي کې انسان ته ضرراو معصیت وي دداسي اجارې عقد درست ندې لکه سندرې ویونکی په اجاره نیول اوپه مړې باندې دژړا لپاره ښځې په اجاره نیول داډول عقدونه حرام اوناجائزدي.

**د قاعدې دلایل:**

دپورته قاعدې لپاره ډیر دلایل موجود دي چې یوڅودلایلوته موږ په لاندې ډول اشاره کوو:

(۱): الله متعال فرمایې: فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ.[١٢٧]

ژباړه: که هغوي ستاسې ماشوم ته تی ورکو ي نوهغوي ته به اجوره ورکوئ.

(۲): په بل ځاي کې الله متعال فرمایې: قَالَتْ إِحْدَاهُمَا يَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ (٢٦) قَالَ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُنْكِحَكَ إِحْدَى ابْنَتَيَّ هَاتَيْنِ عَلَى أَنْ تَأْجُرَنِي ثَمَانِيَ حِجَجٍ فَإِنْ أَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِنْدِكَ.

ژباړه: له هغه دووښځوڅخه یوې خپل پلارته وویل: پلارجانه دغه سړی نوکرونیسه، دې ترټولویوغوره څوک دې چې نوکریې نیسې، ځکه چې قوي اوامانت دار دې.

دهغې پلار(موسى عليه السلام ته) وویل: زه غواړم چې له خپلودغو دوو لوڼو څخه یوه تاته په نکاح درکړم پدې شرط چې ته تر اته کلونوپورې زما سره نوکرې وکړې، اوکه لس کاله پوره کړې نودا ستا خپله خوښه ده.

(۳): په همدې ډول رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَن مَعْمَرٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وَاسْتَأْجَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ رَجُلًا مِنْ بَنِي الدِّيلِ ثُمَّ مِنْ بَنِي عَبْدِ بْنِ عَدِيٍّ هَادِيًا خِرِّيتًا الْخِرِّيتُ الْمَاهِرُ بِالْهِدَايَةِ.[١٢٨]

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم اوابوبكررضى الله عنه دوی ته دلار دښودلولپاره د دیل دقبیلې نه یوسړی په اجوره ونیولوچې هغه پدې برخه کې بشپړمهارت درلود.

(۴): په بل ځای کې دعبدالله ابن عباس رضى الله عنه نه داسي روایت دي: حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا ابْنُ طَاوُسٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ احْتَجَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَعْطَى الْحَجَّامَ أَجْرَهُ.[١٢٩]

ژباړه: عبدالله ابن عباس رضى الله عنه نه روایت دي دا وایې: یوځل رسول الله صلى الله عليه وسلم ښکر ولګولواو ښکرلګونکی ته یې دهغه اجوره او مزدوري ورکړه.

---

١٢٤ ابن رشد، أبو الوليد محمد بن أحمد بن محمد بن أحمد، بداية المجتهد ونهاية المقتصد، (المتوفى: ٥٩٥هـ( الناشر: دار الحديث – القاهرة، الطبعة: بدون طبعة، تاريخ النشر: ١٤٢٥هـ - ٢٠٠٤ م،ج:٢،ص:۴۱۹.

١٢٥ بدائع الصنائع،ج:۴،ص:١٩٥.

١٢٦ بدائع الصنائع،ج:۴،ص:١١٧.

١٢٧ سورة اللصلاق،ايات:۶.

١٢٨ صحيح البخاري،ج:١،ص:١٠٢٥.

١٢٩ صحيح البخارى،ج:١،ص:١٠٣٧.

دپورته ټولوشرعي نصوصو څخه وجه داستدلال داده چې اصل په اجاره نیولوکي جواز دي په یادونصوصوکي د اجاري څخه نه صراحتا اونه اشارتا منعه راغلي نوځکه فقهاو دجواز حکم ورکړي اواجاره پې یوجائزعمل ګڼلی دي.

**د قاعدي معاصر تطبیقات:**

(۱): په تعلیم دقران عظیم الشان باندي اجوره اخستل جائز دي، په همدي ډول دژبي اوادب په تعلیم باندي هم اجوره اخستل جائزدي اوداسي نورعلوم.[۱۳۰]

(۲): دډاکټرلپاره هم دمریض په کتلو سره اجوره اخستل جائزدي، مثلا: یوډاکټرناروغ وکتلواودهغه لپاره یې نسخه ولیکله اویایې یوماشوم سنت کړ دده لپاره اجوره اخستل جائز دي ځکه دایوداسي عمل دي چې ټول خلک ورته محتاج دي نودډاکټر لپاره دنورومباحوکارونوپشان اجوره اخستل جائزدي.[۱۳۱]

(۳): دجامواوګاڼوپه اجاره ورکول دشوافعواوحنابلوپه نیزجائزدي ځکه زینت دمشروعومقاصدو څخه دي.

البته احنافود دي په فساد باندي تصریح کړي اودایې منفعت غیرمقصودي ګڼلي دي، په همدي ډول موالکوګاڼه مکروه ګڼلي ده، دوي وایې غوره داده چې دا اعاره وګڼل شي ځکه عرف کې دا اعاره ګڼل کیږي.[۱۳۲]

(۴): که یوه ښځه دخپل ماشوم لپاره دخاوندپه اجازه یوه مرضعه په اجاره ونیسي دا اجاره جائزده.

(۵): که یوشخص د یوجائزصنعت په تعلیم باندي لکه خیاطي اویارنګریزي اجوره واخلي جائزده لکه څنګه چې دلامبو وهلوپه تعلیم باندي اجوره اخستل جائزده.[۱۳۳]

**اووم مطلب: د اجارې فسخه:**

کله چې ددوه لورو ترمنځ د اجارې عقد وشو او ددغه عقد په جریان کې کوم عذر او مشکل راپیښ شو نو دغه مهال د اجارې فسخ کول جایز دي، البته دا زموږ په مذهب(حنفي)کې مسله دغه ډول ده، په دې هکله زموږ داحنافو مذهب په جواز قایل دی او تشریح یې په دې ډول ده چې کله یو دعاقدینو ته یو عذر پیښ شو، نو دغه مهال د اجارې فسخه کول جایز دي او دغه مهال عقد په دواړو لورو لازم ندی او فسخ صحیح کیږي، ځکه دعذر او مشکل غوښتنه دغه ده چې فسخ دې رامنځ ته شي، ځکه که چیرته عقد کې فسخ جایز نشي نو دعذر خاوند ته ضرر رسیږي او عقد خو خلک دنفع او فایدې لپاره کوي په داسې حال کې چې په عقد کې دعذر خاوند په ځان دا نده لارم کړې چې دا دې له موجب او لامل پرته تاوان وګوري، نو دغه مهال چې فسخ رامنځ ته شوه نو دعقد دوام لازم ندی، نو دغه فسخ په حقیقت کې دعقد دلزوم مخنیوی کوي.

ښه که چیرته دعذر پر مهال موږ فسخ روا نکړو، نو دغه مهال به موږ دشریعت او دعقل مخالفت کړي وي، دبیلګې په ډول: د یو سړي غاښ درد کوي او دغاښونو یو ډاکټر ته یې په اجاره ورکړ، ترڅو دده غاښ وباسي، خو دغاښ له ویستلو مخکې دده دغاښ درد پای ته

---

۱۳۰ بدائع الصنائع،ج:۴،ص:۱۹۱.
۱۳۱ شرح النیل لاطفیش،ج:۱۸،ص:۲۳۷.
۱۳۲ مجلة الاحکام،ج:۳،ص:۵۳۴.
۱۳۳ شرح النیل لاطفیش،ج:۱۸،ص:۲۳۱.

ورسيده، اوس كه ته په عقد عمل كوې چې نه، زه به حتما دغه غاښ وباسم، نو دا دشرعي او عقل مخالف عمل دى، ځكه روغ غاښ بايد ونه ويستل شي.[١٣٤]

مالكيان هم دعذر پرمهال دفسخې په جواز قايل دي، البته دومره توسع پكې نه كوي لكه زموږ په مذهب كې چې ده، دوى وايي: عذر خپل ځانګړى چوكاټ لري مثلا په اجاره كې دغه عذر معتبر دى چې يو څوک راشي او هغه جنس غصب كړي چې اجاره پكې ترسره كيږي، يا ددغه جنس منفعت غصب كړي، يا داسې يو كار وي چې حامله ښځه دحمل پرمهال خپلې شيدې په رضاعت وركوي، نو دغه مهال هم راتلونكي ماشوم ته ضرر وي.[١٣٥]

نو موالک عذر مني خو په محدوده ساحه كې هغه چې موږ يې يادونه وكړه، مطلب دوى دعذر لپاره خپل ځانګړى چوكاټ لري، كه دغه چوكاټ كې برابر راته عذر يې بولي او اجاره فسخه كولاى شي او كه دغه چوكاټ كې نه راته نو دوى بې داسې عذر نه بولي چې هغه دې اجاره فسخه كړي.

جمهور فقهاء وايي: اجاره دعذر له امله نشي فسخ كيدلاى، ځكه اجارې دبيعې له انواعو څخه يوه نوعه ده، نو كله چې اجاره وشوه نو داعقد يو لازمي عقد شو، ځكه دا عقد او تړون ددواړو لورو په خوښه او اتفاق سره ترسره كيږي، نو كله چې فسخ راځي هله راتللى شي چې ددواړو اتفاق موجود وي، يو شمير شوافع په دې اند دي چې د اجارې پر مهال يو لورى هم دعذر عقد نشي فسخه كولاى، برابره خبره ده كه داعقد يې عين كې وي او يا يې په ذمة وي، تر څو چې دا عذر په معقود عليه (هغه څه چې اجاره ي عقد پرې شوى دى)كې نقصان نه راولي.[١٣٦]

مطلب شوافع په دې باور دي چې هله اجاره فسخه كيدلاى شي چې كله داسې يو نقصان او عذر رامنځ ته شي نو معقود عليه ته ضرر وي، او كه معقود عليه ته ضرر نه وه فقط احد العاقدين ته ضرر وه نو بيا ددوى په نظر فسخ جايز نده.

ښا يوه بله مهمه خبره داد ه چې دغه عذر كله مستاجر(هغه چې طلب د اجارې يې كړې وي)ته وي لكه مستاجر مفلس شي او پيسې ورسره ختمې شي نو بازار پريږدي، يا دسفر اراده ولري، يا غواړي چې دكسب له ځاى څخه ځان دزراعت ځاى ته انتقال كړي، يا غواړي چې ځان د زراعت له ځاى څخه د تجارت ځاى ته انتقال كړي، يا غواړي چې له يوه كسب څخه بل كسب ته لاړ شي، نو كه دلته عقد لازم وګرځي نو بيا احد العاقدين ته ضرر دى.

كه يو څوک يو مزدور په اجاره ونيسي او ورته ووايي چې ماته دا كالي ووينځه، يا راته دا رخت پرې كړه، يا راته دا كالي وګنده، يا ورته ووايي چې دا كور راته ونړوه، يا ورته ووايي چې دا ونه راته پرې كړه، يا ورته ووايي چې دا غاښ راته وباسه، خو وروسته ورته دا غوره ښكاره شي چې دا كارونه بايد ترسره نكړي، نو ددغه سړي لپاره دا حق شته چې دا عقد فسخه كړي، ځكه ده دا عقد دنفعې او ګټې لپاره كړى وه، نو اوس يې كه ترسره كوي نو ده ته پكې ضرر پيښيږي، نو ددې په خاطر چې ده ته ضرر ونه رسيږي او د زيان څخه ځان وژغوري، ده ته جايز ده چې دا عقد فسخ كړي.[١٣٧]

---

١٣٤: البدائع :۴ جلد/ ١٩٧صفحه.

١٣٥: الموسوعة الفقهية الكويتية. لومړى جلد.٢٧٢ صفحه.

١٣٦ نووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف ،منهاج الطالبين وعمدة المفتين في الفقه. (المتوفى: ۶٧۶هـ. ناشر: دار الفكر. لطبعة:الأولى،١۴٢۵هـ/٢٠٠۵م. اجلد ١/ ص٨١.

١٣٧: البدائع:ج:۴، ص: ١٩٨.

او کله کله عذر دموجر(هغه کس چې مال په اجاره نیسي)له اړخه وي، مثلا که چیرته دا اجاره وکړي نو دومره به قرضدار شي چې خلاصول به یې دده له وسه پورته خبره وي، نو په دغه حالت کې هم د اجارې فسخه کول جایز دي.

بل صورت: که چیرته یو څوک یو کور په اجاره واخلي او بیا پکې داسې عیب راووځي، چې اوسیدو او سکنی ته پکې زیان وي، نو فسخ جایز ده، ځکه عقد په منافعو باندې شوی دی او په منافعو کې داسې نوی عیب پیدا شوی دی یو لوري ته پکې ضرر دی، په داسې حال کې چې عیب نوی او حادث دی او له قبض څخه وړاندې رامنځ ته شوی دی، نو دغه مهال خیار واجب دی، هغسې چې په بیع کې واجب دی، کله چې مستاجر ترې منفعت پوره واخیست او په عیب باندې راضي شو، نو بیا پرې لازمه ده چې ټول بدل ورکړي، لکه څرنګه چې په بیع کې دی.

که چیرته کور وران شو او یا هغه اوبه چې په ژرنده راځي، نو له ژرندې بندې شوې، نو اجاره فسخ کیږي، ځکه معقود علیه فوت شو، ځکه چې هغه منافع مخصوص له قبض مخکې له منځه تللي دي، نو دا داسې شوه چې مبیعه له قبض مخکې فوت شي.[۱۳۸]

بل صورت: که چیرته احدالمتعاقدین وفات شو او اجاره یې دخپل ځان لپاره کړې وه، نو اجاره فسخ شوه، ځکه که چیرته عقد باقي پاتې شي، نو دغه مهال منفعت او اجورة غیر عاقد ته رسیږي ځکه چې مرګ سره یې دغه دمنافعو حق هم وراث ته انتقالیږي او دا جایز نده.البته که چیرته یې عقد دبل چا لپاره کړی ؤ، نو بیا نه فسخ کیږي، مثلا یو کس وکیل وي، یا وصي وي، یا متولي په وقف کې وي، نو په دغه حالتونو کې نه فسخ کیږي.[۱۳۹]

دفسخ بل لامل: کله چې هغه عین هلاک شي په کوم چې اجارة ترسره کیږي، نو په دغه حالت کې هم اجاره فسخه کیږي، مثلا، یو کس غواړي کمپیوټر په اجاره ورکړي، له مقابل لوري سره بې خبرې هم پایلې ته رسیدلي دي، خو دغه مهال یې کمپیوټر له منځه لاړ، نو دا مهال فسخه جایز ده او فسخه به کیږي.

یوبل لامل یې هم شتون لري: کله چې احد المتعاقدین خیار شرط ولګوي نو دغه مهال چې خیار شرط ولګوي چې دواړو متعاقدینو او یا له دوی پرته بل چاته دفسخې حق موجود وي، نو دفسخې حق چې چاته شته او عقد یې فسخ کړ، نو دا عقد هم فسخه شو او له منځه لاړ.[۱۴۰]

البته دلته فسخې په مجال کې زموږ(احنافو)مذهب قوي او راجح دی او دراجح والي لامل یې دلاندې دلایلو له امله دی:

که موږ په دغه برخه کې په مالکي مذهب پسې لاړ شو نو دفسخې مجال به ډیر راتنګ شي، هغوی دخپل عصر او زماني مطابق د اجارې دعقد دفسخه کولو لپاره لاره پریښې ده، ننی زمانه مخکې تللې ده او اجاره هم نوي انواع او ډولونه لري، که چیرته موږ په دغه برخه کې په مالکي مذهب پسې لاړ شو نو په ډیری معاصرو مسایلو کې به دفسخې حق ونلرو او احد العاقدین ته به ضرر وي.

په دې برخه کې به ډیری کارونه معطل پاتې شي، خلاصه دا چې مالکي مذهب ددننی زماني اجاره په ځان کې نه رانغاړي.

د شوافع مذهب هم یو څه نیمګړتیا لري، هغه داسې ده چې دوی یوازې په معقود علیه باندې خپل ترکیز کړی دی، او دعاقدینو په ضر ر یې خپلې سترګې پټې کړي دي، په داسې حال کې

---

۱۳۸ ابن الهمام، کمال الدین محمد بن عبد الواحد السیواسي المعروف ، (المتوفی : ۸۶۱هـ)جلد:۲۰.صفحه:۲۴۴.

۱۳۹ :فتح القدیر.جلد:۲۰.ص:۲۴۶.

۱٤۰: عقد الاجارة في الفقه والقانون.تالیف:ادارة الفتوی والبحوث السوادني.ج:۱.ص:۲۳.

چې تر ټولو اړینه او مهمه مسله داده چې عاقدین دغه عقد او اجاره دخپلې نفعې لپاره کړې وي، اوس که چیرته دشوافعو مذهب دلته معمول به شي نو اصلا به ددغه بیعې فلسفه او ارزښت لمنځه لاړ شي، نو اړتیا ده چې په دغه برخه کې دوه مهم ارکان(عاقدین)ته پاملرنه وشي او ددوی ګټې او نفعې ته وکتل شي، او ددغه دواړو ګټه او نفع هله تامین کیدلای شي چې کله موږ د اجارې دفسخې په مجال کې داحنافو دمذهب موافق لاړ شو.

**اتم مطلب: د اجارې عقد مقارنه، د فقهي او مدني قانون ترمنځ:**
دا چې دافغانستان مدني قانون په ډیری مواردو کې له حنفي فقهي څخه راخیستل شوی دی، نو په دې اساس په کلیاتو کې ډیر ټکر نه ترسترګو کیږي، البته دغه ټکرونه په یو شمیر جزي برخو کې شتون لري، په همدې اساس موږ غواړو چې دمدني قانون او اسلامي فقهې یو شمیر هغه برخې سره مقارنه کړو چې ترمنځ یې تناقض او ټکر شتون ولري.
**ایا دیو عاقد په مرګ سره اجاره فسخه کیږي؟**
**(د فقه او مدنی قانون ترمنځ مقارنوی بحث او ترجیح)**
موږ د اجارې په فقهي برخه کې ویلي وه چې په موت داحداالعاقدین سره اجاره فسخ کیږي او له منځه ځي، خو دافغانستان مدني قانون په (۱۳۸۷)ماده کې وایي: (اجاره داجاره ورکونکي، یا اجاره اخیستونکي په مړینه پای ته نه رسیږي، سره ددې هم داجاره اخیستونکي وارثان دهغه د مړیني، وروسته کولای شي، ثابته کړي چې دهغوی عائدات دمورث دمړیني له امله د اجارې ددوام تحمل نلري، یا اجاره دهغوی داحتیاج دحدودو څخه بهر شوې ده، نو په دې صورت کې کولای شي، چې د اجارې دعقد دپای ته رسیدو غوښتنه وکړي، خو په دې شرط چې د اجارې اخیستونکي دمړینې دنیټې څخه دشپږو میاشتو په اوږدو کې دفسخ کیدو غوښتنه شوي وي، او همدا رنګه دتخلیه کولو په هکله دخبرتیا دټاکلې مودې مراعت هم شوی وي.)[١٤١]
دلته دافغانستان مدني قانون په صراحت سره دا وایي چې اجاره دیو لوري په مړینې سره پای ته نه رسیږي، البته دوی دومره کوي چې وارثانو ته دا فرصت ورکوي چې دوارث له مړینې نه وروسته دا غوښتنه مطرح کړي چې اجاره باید فسخ شي، ځکه چې ددوی د اجارې ددوام تحمل او وړتیا نلري، نو په دغه اساس کولای شي چې د اجارې دپای ته رسیدو او فسخ کیدو غوښتنه وکړي، البته دفسخ غوښتنه یې هغه مهال منل کیدلای شي چې کله یې د اجارې اخیستونکي له مړینې نه شپږ میاشتې مخکې یې د اجارې دفسخ کولو غوښتنه کړې وي، نو دلته مدني قانون وآیي چې اجاره په موت احداالعاقدین سره پای ته نه رسیږي او له منځّه نه ځي، بلکې پاتې کیږي، دمدني قانون په باور هله له منځه تللای شي چې کله دمړي وارثان مخکې له مخکې مقابل لوري ته داجاره ورکونکي له مړیني نه پس باید شپږ میاشتې وړاندې خبر ورکړی وي، نو بیادغه مهال فسخ کیږي.
البته فقهي بحث بیا وایي چې د احدالمتعاقدین په مرګ سره اجاره له منځه ځي او نور دوام نه کوي، دلته فقهاء عام حکم کوي او په دې باور دي چې هر لوری مړ شي نو فسخه رامنځ ته کیږي البته مدني قانون بیا یوازې د یو لوري په مرګ سره فسخ هله رامنځ ته کوي چې کله وارثانو شپږ میاشتې وړاندې دفسخ غوښتنه کړې وي.
**ترجیح!** په هر حال دلته دمدني قانون دتطبیق پرمهال، وارثان او مقابل لوری له څو ستونزو سره مخ کیږي چې دغه مهال قضیه لا پیچلې کیږي او دحل لپاره یې ډیر وخت ته اړتیا

١٤١ :د افغانستان مدني قانون(cival law)رسمي جریده،ګڼه(۳۵۳).دریم ټوک.ص:۲۵۶.

پيښيږي، په همدې ډول كه يوازې په فقهي اړخ باندې اكتفاء كوو، نو دغه مهال په اجارې برخه كې عامه مصالح زيانمن كيږي، نو په دې اساس، موږ دلته ويلی شو چې دافغانستان مدني قانون په احتياط بناء دی، دخلكو دستونزو او غوښتنو په نظر كې نيولو سره يې پريكړه كړې ده، همدغه لامل دی چې زموږ په نظر، دلته دافغانستان دمدني قانون نظر دڅو لاملونو له امله غوره او راجح دی:

**اول:** كه چيرته په فقهي لارښونه باندې موږ عمل وكړو نو دغه مهال به زموږ دټولنې هغه برخه زيان ويني چا چې خپل منقولي يا غير منقولي اشياء په اجاره وركړي دي، هغه په دې ډول: دبيلګې په ډول احمد محمود ته ځمكه په اجاره وركړې ده، په داسې حال كې چې محمود دغه ځمكه په اجاره ونيوله او د اجارې دوركړې مهال پای ته ورسيده، احمد په خپله كورنی كې داسې څوک نلري چې هغه دې ځمكه وكري او فصل ترې واخلي، نو له مجبوريته يې ځمكه محمود ته په اجاره وركړه، اوس كه دمحمود په مرګ سره اجاره فسخه شي نو دغه فصل به بې سرپرسته شي، دكال په منځ كې به يې بل څوک په اجاره اخلي نه او احمد به خپله دا وړتيا نلري چې خپله دغه ځمكه وپالي، په دغه ډول به داحمد ځمكه د يو فصل لپاره شړه پاتې شي، ځكه چې اجاره اخيستونكی مړ شوی دی او دهغه په مرګ سره اجاره په خپله لمنځه لاړه او په دې سره يو مهم لوري ته ضرر پيښ شو.

**دوهم:** كه چيرته په فقهي حكم باندې عمل وكړو دوهمه ستره ستونزه به دا رامنځ ته شي چې چا چې اجاره نيولې ده نو دهغه له مرګ وروسته به دده وارثان له هغه ګټې محروم شي چې مخكې د اجارې له خوا ورته راتلله، نو په دې اساس بايد دا فسخ نشي، دبيلګې په ډول: احمد له محمود څخه په دې خاطر اجاره نيولې وه چې دخپلې كورنۍ لپاره يوه مړی حلاله ډوډۍ له همدې لارې راپيدا كړي، د ټولنې كورنۍ هيلې هم همدغې اجارې ته دي چې دكال تر پايه به ترې څه لاس ته راځي، خو په يوه مهال كې ورته دوه زيانونه ورسيدل، يو يې له كورنۍ غړی وفات شو او بل يې اجاره هم له لاسه وركړه او په دې ډول په دوی باندې دخير يوه لاره وتړل شوه، نو په دې اساس بايد دا فسخه نشي.

**دريم:** فسخ باندې كومه ارزښتمنه ګټه نه مرتب كيږي، په دې مانا، كه چيرته موږ دلته هغه اجارې عقد چې په ترسره كيدا يې يوه موده تيره شوې ده، له يوې مخې فسخه كړو نو كومه ګټه او فائده به دواړو لورو ته ونه رسيږي، په داسې حال كې چې دغه ډول عقود دنفع او فايدې لپاره وي، او په فسخ كې د يو لوري لپاره هم نفع او فائده نشته، نو چې دتړون په لمنځه تګ كې فائده نشته او په دوام كې يې دواړو لورو ته ګټه ده نو بايد دوام ومومي، نه دا چې فسخ شي.

په هر حال دلته مدني قانون د پورته دلايلو له امله يو څه په احتياط بناء دی، دفقهاؤ نظر هم په خپل ځای مهم دی، هغه ځكه چې كه دغه اجاره فسخه نشي او ورثه ته انتقال شي، نو ډيرې قضايي ستونزې او لانجې به راو زيږي، خو مدني قانون ددغه لانجو دحل لپاره بيا ديو شمير ځانګړو معاصرو محكمو شتون كې ځكه دا حكم كوي ترڅو خلک په دغه برخه كې متضرر نشي.

**ايا اجاره كې يو محدود وخت شرط دی؟**

**( دفقه او مدنی قانون ترمنځ مقارنوی بحث او ترجيح)**

په اجارې بحث كې بله مهمه خبره داده چې فقهاء د اجارې لپاره دڅو محدودو كلونو لپاره اندازه نه ټاكي، البته په تعريف كې يې دومره وايي چې (مودة معلومة)خو له دې څخه موخه دا نده لكه

ځنګه چې مدني قانون وايي چې فقط دري کاله اجاري عقد کيږي او له دې اخوا نه درستيږي، بلکې فقهاء وايي چې لس، شل، ديرش او......کلونه هم جائز دي خو دغه اندازه به ټاکي.
خو برعکس مدني قانون بيا په دې ټينګار کوي چې يوه اجاره بايد ددرې کلونو څخه د ډيرې مودې لپاره نه وي البته له درې کلونو نه ډير وخت اجاره هغه مهال درسته ده چې کله يو بل قانون پرې صراحت کړی وي، په دې اړه دمدني قانون(١٣٢٥)ماده وايي: (که څوک يوازې دمال د اداري واک ولري نو نه شي کولای چې د اجارې موده ددرې کلونو څخه ډيره وټاکي، که د اجارې موده له درې کلونو څخه ډيره ټاکل شوې وه نو درې کلونو ته راکميږي، مګر دا چې قانون بل ډول حکم کړی وي.)[١٤٢]
**ترجيح!** له دې ځای څخه معلوميږي چې دمدني قانون له نظره هغه کسان چې دمال داداري واک په لاس کې ولري، يوازې د درې کلونو لپاره يو چا ته اجاره ورکولی شي، او له درې کلونو پورته وخت لپاره اجاره چاته نشي ورکولای، خو برعکس اسلامي شريعت بيا يوه محدوده موده ورته نده ټاکلې، البته په يوه معلومه موده ټينګار کوي خو په يوه محدوده موده ټينګار نکوي، دا چې ولې علتونه به يې لاندې وڅيرو:
دلته زموږ په باور دمدني قانون نظر دڅو لاملونو له امله غوره او بهتره دی:
**اول**: درې کاله يو مناسب وخت دی، ځکه چې که په دغه موده کې اجاره اخيستونکی شخص اجاره په درست ډول ادا نکړي، مطلوبې نتيجې او موخې ته ونه رسيږي، نو موده لنډه ده او ددرې کالو له تيريدو نه وروسته کولای شو چې بيا ورسره له سره تړون ونکړو او پرځای يې له بل چا سره وکړي، نو همدغه لامل دی چې درې کاله ښه موده.
**دوهم**: په اجاره کې يو شمير داسې شيان دي چې هغه منقولي دي، ژر هلاکيدونکي دي، نو که چيرته ډيره موده اجاره وي نو دغه مهال ممکن ډير داسې شيان له منځه لاړ شي او بيا به دغه مهال دمال خاوند ته زيان وي، په داسې حال کې چې دغه عقدونه د ګټې او فايدې لپاره کيږي، نو ددغه زيان دمخنيوي لپاره هم درې کاله ښه او محدوده موده ده چې په پوره کيدلو سره يې يو لوری هم زيان نه کوي.
**دريم**: کله کله انسان په اجاري عقد کې تير وتلی وي، سهوه شوی وي، اجاره يې په ارزانه ورکړې وي، چې ده ته ډيره ګټه نه کوي، نو که اجاره دلنډ وخت لپاره وي نو دغه زيان بيرته جبيره کولی شي.
**څلورم**: کله هغه انسان چې اجاره يې نيولې ده هغه تيروتلی او سهوه شوی وي، ځکه چې ده اجاره په لوړ قيمت نيولې وي، يا کوم بل داسې عذر وي چې ده ته پکې زيان رسيږي، نو په دغه اساس ددغه ډول زيانونو دمخنيوي لپاره تر ټولو ښه لاره همدغه ده چې د اجارې تړون دڅو محدودو کلونو لپاره وشي او له هغې وروسته که يې ګټه درلودله نو بيا دې تازه کړل شي.
په هر حال دا وه دمدني قانون او اسلامي فقهې د يو شمير موردونو ترمنځ لنډه مقارنه، دا چې تر ډيره بريده د افغانستان مدني قانون له حنفي او اسلامي فقهې څخه اخيستل شوی دی، نو په همدغه لامل دی چې دپام وړ نقيض بحثونه پکې شتون نلري، موږ په همدلته په دغه برخه کې په دې کمزورې هڅه بسنه کوو او له مقارنې وروسته دخپل بحث نورې برخې څيړو.

**نهم مطلب: (الاجارة المنتهيه بالتمليک مسلې څېړنه)**

**الف- الاجارة المنتهيه بالتمليک مسلې پيژندنه**

---

١٤٢: مدني قانون.ص:٢۴۴.ټوک دريم.

دا ډول اجاره په ننۍ زمانه کې رامنځ ته شوه او دپخوانيو فقهاو په وخت کې يې شتون نه درلود، همدغه لامل دی چې په دې اړه په پخوانۍ فقه کې څه شتون نلري، البته معاصرو فقهاو دغه مسله څېړلې ده، دا چې مسله په وروستيو وختونو کې راپيدا شوې ده او پخوانيو فقهاو پرې بحث ندی کړی، نو په دې اساس موږ اړ يو چې دغه مسله دمعاصرو فقهاو له انده وڅېړو، په پيل کې ددې مسلې د لا روښانتيا په پار الاجارة المنتهيه باالتمليک مسلې تعريف کړو. په معاصرو فقهاو کې ډېری فقهاو دغه مسله نده تعريف کړې او داسې ټول منلی تعريف يې ورته ندی کړی، البته لږ شمير فقهاو دغه مسله تعريف کړې ده چې دهغې له جملې څخه په کتاب (الإجارة المنتهية بالتمليك في ضوء الفقه الإسلامي) دا عقد داسې تعريف کړی دی:

(عقد بين طرفين يؤجر فيه أحدهما لآخر سلعة معينة مقابل أجرة معينة يدفعها المستأجر على أقساط خلال مدة محددة، تنتقل بعدها ملكية السلعة للمستأجر عند سداده لآخر قسط بعقد جديد")[١٤٣]

ژباړه: ددوه لورو ترمنځ هغه عقد دی چې يو لوری يکې بل لوري ته يوه معينه سلعه(سودا)ديوې معينې اجورې په مقابل کې ورکوي، په دې ډول چې مستاجر به يې په د يوې محدودې مودې په ترڅ کې دقسطونو(برخو)په ډول اداکوي، او له هغې وروسته به دسلعې ملکيت مستاجر ته انتقاليږي په نوي عقد سره، خو داسې مهال چې دسلعې مالک ته وروستی قسط هم په درست ډول وسپارل شي.

ددې عقد نومونه هم ډير دي، علماء يې په:

البيع الإيجاري.

-الإيجار الساتر للبيع.

-الإيجار الذي ينقلب بيعاً.

الإيجار المقترن بوعد بالبيع او.......... دي او نور نومونو هم نوموي.[١٤٤]

ددې عقد پيدائښت او نشات!

دا عقد او بيع په لومړي ځل په اروپايي هيواد انګلستان کې رامنځ ته شوی دی، هغه مهال(١٨٤٦)ميلادي کال ؤ، په انګليسي کې يې: (Hire-Purchase)باله، له دې وروسته نورې نړۍ ته هم دغه بيعه نقل شوه، تر دې چې له افرادو وروسته لويو لويو شرکتونو دغه ډول اجاره پيل کړه، لويو شرکتونو به بيا خپل توليدات په بازار کې خلکو ته په اجاره ورکول، هغه کسانو چې به دغه توليدات او سامان الات په اجاره ورکړل، په مقابل کې به يې له دغه وګړو څخه په قسطونو قسطونو پيسې اخيستلې او دا قسطونه په حقيقت کې ددغه وسيلې پيسې وي کومه چې شرکت په اجاره ورکړې ده.

له دې وروسته په امريکا متحدة ايالاتو کې د(Leasing)په نامه عقد راووت، دا مهال (١٩٥٣)ميلادي کال وه او دا ددغه عقد لپاره يو نوی ډول ؤ، بيا په فرانسه کې دغه عقد په (١٩٦٢)ميلادي کال کې د(Credit Bail)په نامه پيل شو او دغه يې نوی او وروستی حالت دی د للإجارة المنتهية بالتمليك لپاره، البته دومره تغير يکې راغی چې داصلي عاقدينو سربيره دريم طرف هم په دغه عقد کې داخل شو، مخکې يوازې مؤجر او مستاجر ؤ، خو دا ځل دا دريم طرف يکې شو، دريم طرف دعقد تمويل کاوه، په دې ډول چې معين مالونه يې ددغه عقد لپاره اخيستل، بيا يې دغه اخيستل شوي وسايل يو بل چا ته دېوې متفق عليها مودې لپاره په اجاره

---

١٤٣ : الحافي، خالد، فهدبن علي الحسون، الإجارة المنتهية بالتمليك في الفقه الإسلامي، ج: ١، ٦٠ صفحه.

١٤٤ : د دکتور إبراهيم دسوقي، أبو الليل ، البيوع الائتمانية، ليکنه.٢٦ او ٢٧ صفحه.

ورکول، البته دا ځل موده په نسبي ډول اوږده او طویله وي، دا ددې لپاره چې مالي شرکت په دې وتوانیږي چې هغه پیسې چې په تمویل یې مصرف کړي دي بیرته ترلاسه کړي.
دټاکلې مودې په پای ته رسیدو کې عاقد، مستاجر او موسسې ته یو شمیر خیارات هم شته دی چې عبارت دي له:
اول: هغه سامان چې دموسسې له لورې په اجاره ورکړل شوی دی، هغه بیرته هغه موسسې ته اعاده کیدلای شي کومه چې ددې سامان خاونده ده.
دوهم: اجاره دبلې اوږدې مودې لپاره هم تمدید او ځنډولی شي.
دریم: دثمن په مقابل کې دسلعې مالک کیدلای هم شي.[145]
له دې وروسته دغه عقد اسلامي دولتونو ته هم داسلامي بانکدارۍ په واسطه را انتقال شو، دلومړي ځل لپاره دا ډول عقد دمالیزیا اسلامي بانک له لورې ترسره شو، له دې وروسته په مصر، ایران او کویت کې هم جوړ شو، په کویټ کې دغه برخې لپاره یوه جلا برخه جوړه شوه چې (بیت التمویل الکویتي) یې بولي.تر (۱۴۱۰) هـ ق کال پورې دغه عقد له شلو پورته اسلامي هیوادونو ته ولیږدول شو.[146]

**ب- الاجارة المنتهیه بالتملیک مسلې فقهی بحث**

دغه بحث په دې برخه کې ځکه اړین دی چې دغه عقد ټول په دې ولاړ دی، موږ باید پیل کې دغه برخه روښانه کړو، له دغه برخې له روښانولو وروسته زموږ اړونده موضوع هم روښانه کیږي، تاسې ته به بیا دا هم روښانه شي چې راجح قول کوم یو دی؟درجحان دلایل یې څه دي؟او په یو شمیر نورو ډیرو مسایلو به هم پوه شی، په دغه برخه کې به دعلماؤ نظریات هم په لنډه توګه راوړو. إن شاء الله.
د الاجارة المنتهیة باالتملیک په یو شمیر صورتونو کې په عقد کې بل شرط رامنځ ته کیږي، دا چې د عقد په منځ کې دبل عقد شرط کول څه حکم لري او دغه اجارې ته ضرر رسوي کنه؟نو ځکه اړینه ده چې موږ په دغه برخه کې دعلماؤ نظریات راوړو.
لومړی نظر
په دغه تړاو لومړی نظر دجمهورو علماؤ دی، جمهور علماء په دې باور دي چې په یوه عقد کې بل عقد شرط کول منع او ناروا کار دی، چې همدا داحنافو، مالکیانو، شوافعو او حنابله نظر هم دی. دوی دخپل دې نظر لپاره په لاندې نصوصو استدلال کړی دی:
(حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ حَدَّثَنَا إِسْمَعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ شُعَيْبٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ أَبِيهِ حَتَّى ذَكَرَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَحِلُّ سَلَفٌ[147]وَبَيْعٌ وَلَا شَرْطَانِ فِي بَيْعٍ وَلَا رِبْحُ مَا لَمْ يُضْمَنُ وَلَا بَيْعُ مَا لَيْسَ عِنْدَكَ)[148]
ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: سلم او بیع جایز نده، او نه په یوه بیع کې دوه شرطونه لګول، نه هغه ګټه چې تضمین یې نه وي شوی، او نه دهغه شي پلورل چې ستاسره په ولکه کې نه وي. په یو بل حدیث شریف کې راځي:

۱٤٥: الإجارة المنتهية بالتمليك في الفقه الإسلامي. ليکوال: فهد بن علي الحسون. ج(۱).ص(۱۱).
۱٤٦ : الإجارة المنتهية بالتمليك في الفقه الإسلامي. ليکوال: فهد بن علي الحسون. ج۱،ص:۱۲.
۱٤۷ و هو مثل ان يقول بعتک هذا العبد بالف على ان تقرضني الفا (النهايه)
۱٤۸ :ترمذي ، أبو عيسى ، محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك ، سنن الترمذي، الترمذي، (وفات : ۲۷۹هـ). كتاب البيوع، باب ما جاء في كراهية بيع ما ليس عندك، رقم الحديث (۱۲۳۴). پنځم جلد.۱۱ ص.

(أخبرنا عبد الله بن محمد الأزدي قال: حدثنا إسحاق بن إبراهيم قال: أخبرنا عبدة بن سليمان قال: حدثنا محمد بن عمرو قال: حدثنا أبو سلمة عن أبي هريرة: عن رسول الله صلى الله عليه و سلم أنه نهى عن بيعتين في بيعة)[١٤٩]
ژباړه: له ابو هريرة رضى الله عنه څخه روايت دى هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم روايت دى، چې هغه صلى الله عليه وسلم په يوه بيعه كې له دوه بيعو څخه منع كړې ده.
دوهم قول: د ابن تميه رحمه الله او يو شمير نورو علماؤ دى، دوى وايي: په يوه عقد كې بل عقد شرط كول جايز دي، خو په دې شرط چې په يو اړخ كې عوض وي او په بل اړخ كې تبرع او احسان شتون ولري، لكه يو څوک چې بيع او قرض يوځاى كوي، يا اجاره او قرض يو ځاى كړي. ددوى دليل: اصل په معاملاتو كې شروط، حلال والى او صحت دى.[١٥٠]
موږ چې په دغه اړخ كې څومره پلټنه وكړه او هڅه مو وكړه ترڅو دغه مسله كې موږ يوه جلا او واضحه خبره وكړو، نو موږ له ډيرو هڅو وروسته دغه نتيجې ته ورسيدو.
**ترجيح!** په يوه عقد كې بل عقد شرط كول جايز دي، خو په دې شرط چې په يو اړخ كې عوض وي او په بل اړخ كې تبرع او احسان شتون ولري، لكه يو څوک چې بيع او قرض يوځاى كوي، يا اجاره او قرض يو ځاى كړي او دپيغمبر صلى الله عليه وسلم داقول چې(ولا شرطان في بيع)چې په يوه بيعه كې دوه شرطونه نه سميږي، دا حديث ظاهرا له دغې مسلې لرې دى او ددغه مسلې په تړاو ندى، ځكه په دغه بيع كې يو شرط په دغه بيعه پسې مقترن شوى دى او هغه دادى چې زه دا جنس او سودا په دومره پيسو خرڅوم په دې شرط چې ته دغه جنس په دومره پيسو واخلې. نو په دغه بيع كې دوه شرطونه نشته بلكې يو شرط دى او په حديث كې منع له هغه بيعې ده چې دوه شرطونه پكې دي.
او داحديث چې: (نهي النبي - صلى الله عليه وسلم - عن بيعتين في بيعة)پيغمبر صلى الله عليه وسلم منع كړې ده ددوه بيعو نه په يوه بيع كې.له دې څخه موخه هغه ده كوم تفسير يې چې امام ابن تميه او يو شمير نورو علماؤ رحمهم الله كړى دى، چې له دې نه مراد بيع العينة ده، ځكه چې دا ډول بيع متضمنه ده دنيټه دارې او حاضرې دواړو بيعو لپاره، په همدې ډول ددوه شرطونو لپاره هم متضمنه ده چې هغه شرط دتاجيل او شرط دحلول دى.نو په دې اساس دغه ډول بيع جايز نده.

**ج- الاجارة المنتهيه بالتمليک مسلې دجواز او عدم جواز صورتونه!**

په دغه مسله كې يو شمير صورتونه جايز دي او يو شمير نور صورتونه ناجائز دي، نو په دې اساس موږ له دغه صورتونو څخه يو شمير راوړو.

**جايز صورتونه او شرايط يې!**

**لومړى:** چې دوه جلا عقدونه چې يو له بل څخه مستقل وي، دوخت په اعتبار سره، مطلب وختونه يې هم جلا وي او د اجارې له عقدڅخه وروسته دبيع عقد پوره شوى وي.
دوهم: هغه څه چې په اجاره وركول كيږي(عين مؤجره)، دهغې ضمان او تاوان په مالک باندې وي، نه په مستاجر باندې، نو په دې ډول به مستاجر باندې داسې څه لازم نه وي كله چې له عين موجره څخه څه فوت شي.البته دعين نور ملحقات كه فوت كيږي هغه به په مستاجر باندې وي، خو هغه څه چې له عين څخه فوت كيږي هغه په مستاجر باندې نه وي.

---

١٤٩: ابن حبان ، محمد بن حبان بن أحمد أبو حاتم التميمي البستي.، صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان. ناشر : مؤسسة الرسالة – بيروت. الطبعة الثانية،١٤١٤ – ١٩٩٣. تحقيق : شعيب الأرنؤوط. عدد الأجزاء : ١٨. ص.٣٤٧.ج ١١.
١٥٠ : مجموع الفتاوى شيخ الإسلام ابن تيمية (ج٢٩/ص٦٢.

**دريم:** کله چې موجر او مستاجر داسې عقد وکړي، چې مشتمل وي په تامين دعين مؤجرة باندې، نو دغه مهال به دعين مستاجره او ساتل د اسلامي همدردئ په بنياد وي، نه دتجارت دشرائطو او اصولو په اساس، نو که عين موجرې ته دغه مهال کوم زيان ورسيږي نو دا به مالک پورې اړه لري، او مستاجر به بيا هم پکې ونډه نه لري.
**څلورم:** په الاجارة المنتيهة باالتمليک باندې به هم هغه احکام او شرايط پلي کيږي کوم چې عامه اجاره باندې تطبيقيږي، لکه دمودې ټاکنه او..........
**پينځم:** دعين موجره(کوم شی چې په اجاره ورکړل شوی) دساتنې مصرف به په موجر باندې وي، نه په مستاجر د اجارې تر دوام پورې.[151]

**ناجايز صورت**

په دغه مسله کې ناجايز صورت هم شتون لري، چې په هغې کې وايي: دوه مختلف عقدونه راغلي وي، په يو واحد وخت کې، په يوه واحده زمانه کې، نو دا ډول صورت يې جايز ندی، ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: (حَدَّثَنِي يَحْيَى، عَنْ مَالِكٍ أَنَّهُ بَلَغَهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: نَهَى عَنْ بَيْعَتَيْنِ فِي بَيْعَةٍ.)[152]
ژباړه: پيغمبر صلى الله عليه وسلم په يوه بيعه کې له دوه بيعو څخه کړې ده.
دا وه د الاجارة المنتهية باالتمليک په تړاو فقهي او څيړنيز بحث، موږ همدلته دا برخه پای ته رسو او د اجارې نورې برخې دڅيړنې لاندې نيسو.

**لسم مطلب: د اجارې معاصر صورتونه**

**الف: د موټرو تمځای:**

دموټرپارکنګ کرايه نن سباعام معمول جوړشوی دي، البته دکرايې لپاره دوه طريقې رائجې دي، يوه دا چې دګاډي کرايه به يوځای وصولوي برابرخبرده چې ګاډی هرڅومره وخته پوري ولاړ وي.
دوهمه طريقه داده چې دپارکنګ کرايه دفي ساعت په حساب سره وصولوي، ددواړو صورتونوپه جوازکې شرعاکومه شبه نشته ځکه چې په اول صورت کې اجورت اومنفعت دواړه متعين دي، ايجاب اوقبول دتعاطي په ذريعي سره شوي دي، البته دلته يوسوال راځي دپورته دواړوصورتونو نه په اول صورت کې د اجارې موده مجهوله ده، ځکه چې کله ګاډي په پارکنګ کې ودريږي دپارکنګ ټکټ ورکوي اوکرايه ټوله په يوځای وصولوي البته ددواړوترمنځ دمودې په باره کې کوم وضاحت نه وي شوي نوکله چې اجاره کې موده مجهوله شوه عقدبايد درست اوصحيح نه شي ځکه د اجارې په عقدکې دمودې تعين يوبنيادي شرط دي اودا بنيادي شرط دلته مفقود دي؟
د دي اعتراض حل دا دي چې اول صورت کې موده مجهوله نده بلکه معلومه ده اوهغه دا چې کوم ټکټ په کرايه ورکړل شی هغه صرف ديوې ورځې لپاره وي چې په کومه ورځ بې ټکټ اخستي دي، لکه څنګه چې په اکثره ځايونوکې په ټکټ باندي دهمدې ورځې تاريخ ليکل شوي وي له همدې وجهې نه د اجارې موده زيات نه زيات صرف دهمدي ورځې دختميدوپورې وي، اوس که کوم کس د دې څخه مخکې ګاډي دباندې وباسي د دي ګاډی والا خپله رضامندي ده چې دکاملې مودې څخه فائده نه اوچتوي.

---

۱۵۱: الإجارة المنتهية بالتمليك في الفقه الإسلامي. ليکوال: فهد بن علي الحسون. ج(۱).ص(۳۳).
۱۵۲ : الْمُوَطَّأ (( رواية يَحيى بن يَحيى اللَّيثِيّ الأَنْدَلُسِيِّ ۱۵۲ ـ ۲۴۴ هـ . تأليف : الإمام مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ الأَصْبَحِيِّ.ج:۲.ص:۱۹۲.

اودویم صورت کې: چې د ګاډی کرایه دساعت په حساب سره اخلي پدي صورت کې اشکال دي چې کله ګاډي پارکنګ ته راولي او وي دروي نوګاډي والا ته خپله داپته نه وي زه به دلته ترکومه وخته پوري یم نو د دي وجهې نه هغه ګاډي ودروي لکن هغه د مودي د تعین حتمي خبره نه کوي نودلته هم داجارې موده مجهوله شوه، چې د دي وجهې نه د اجارې عقد جائز ندي په شرعي لحاظ سره د دي مسئلې حل داسي دي چې دکوم وخت نه ګاډي پارکنګ وي نودا دځان سره دافکرکوي چې دابه صرف دیوساعت لپاره ولاړ وي، البته کله چې یوساعت پوره شي نواوس د دویم ساعت لپاره یونوي عقد پیلیږي د دي نه وروسته که د دریم ساعت په پیلیدو دریم عقد پیلیږي ترڅوپوري چې ګاډي د پارکنګ له حدودو نه وي وتلي ترهغې پوري د دي ټولې مودي حساب دفي ساعت په حساب سره اجورت اخستل کیږي.

د دي مثال هغه مسئله ده چې په کوموباندي فقهاوو تصریح کړي ده: کچیري یوکس دیوشخص نه څمکه دیوې میاشتې لپاره په کرایه واخلي اوایجاب اوقبول فقط دهمدې میاشتې لپاره شوي وي نوکه چېري د راروانې میاشتې یوڅه معتدبه وقت تېرشوبیا دکرایه دارمعاهده د دي میاشتې لپاره هم ترسره کیږي، په همدې اساس ددنیا په ټولوممالکوپه هوټلونوکې چې کله کومه کوټه په کرایه اخستل کیږي نودوهوټل دانتظامي له اړخه دا اطلاع ورکول کېږي چې دورځې ددولسوبجونه وروسته به دبلې ورځې کرایه جمع کوي نوکه په هوټل کې مقیم شخص ددولس بجونه مخکې کوټه خالي نه کړه نودهوټل انتظامیه داحق لري چې دراروانې ورځې کرایه هم لده څخه واخلي.

نودپارکنګ مسئله همدې ته ورته ده چې کله یوساعت تېر شي اوددویم ساعت معتدبه وقت هم تېرشي نودګادي کرایه پرې ددوو ساعتونوحسابیږي څنګه چې یادې مسئلې ته صاحب شرح مجله داسی اشاره کړي ده: (ولواستوجرعقارشهریته کذا دراهم من دون بیان عدد الاشهریصح لکن عند ختام شهرالاول لکل من الآجر والمستاجرفسخ الاجاره فی الیوم الاول ولیلته من الشهرثانی الذي یلیه واما بعد مضی الیوم الاول ولیلته فلیس لهما ذالک).[۱۵۳]

ژباړه: که چیري څمکه دڅومیاشتولپاره واخستل شي اودمیاشتوتعداد بیان نکړي نوداعقدصحیح دي البته کله چې اوله میاشت ختمه شي نواجراومستاجرهریوته ددویمې میاشتې په اوله ورځ اواوله شپه کې د اجارې دفسخه کولوحق شته اوکه چېري ددوهمې میاشتې په اوله ورځ اواوله شپه تېره شي نودوي ته اجارې دفسخه کولو حق نشته.

(آجرحانوتاکل شهربکذاصح فی واحد فقط وفسدفی الباقی فی جهالتهاوالاصل انه متی دخل کل فیها لایعرف ممنتهاه تعین ادناه واذا مضی الشهرفلکل فسخها بشرط حضور الاخرلانتهاء العقدالصحیح وفی کل شهرسکن فی اوله هوالليلة الاولی ویومها عرفا وبه ویفتی صح العقدفیه ایضا).[۱۵٤]

ژباړه: کچیري یوکس دوکان په کرایه ورکړواومستاجرته یې وویل: چې دهرې میاشتې معینه اندازه کرایه به ورکوي نوصرف یوه میاشت کې عقدصحیح دي اوپه نورومیاشتوکې دمودې دجهالت پراساس عقد فاسد دي اوپدې اړه عمومي قاعده داده چې هرهغه عقدچې دهغه انتهاء معلومه نه وي نود دي کمه موده دعقدلپاره متعینه کیږي، نوکله چې یومیاشت تېره شي نوهریوته دفسخ حق حاصل دي پدي شرط چې فریقینوکې هریوپدغه وخت کې موجود وي څکه چې

---

۱۵۳ الاتاسی، محمد خالد، القاضی الفقیه الحنفی السوری عثمانی، شرح مجله، متوفی ۱۹۰۸م. ج:۲،ص:۵۸۱.
۱۵٤ شرح مجلة،ج:۶،ص:۱۸۵.

دعقدصحیح انتهاء وشوه اودهرې میاشتې اوله ورځ اواوله شپه کې دعرف په اعتبار اوسیدلوسره عقدپدې میاشت کې صحیح کیږي.
په پورته عباراتوکې معلومه شوه چې دپارکنګ په دویم صورت کې په شرعي لحاظ کوم مشکل نشته بلکه په شرعي لحاظ صحیح اودرست عقد دي.[۱۵۵]

**ب: د طیارې ټکټ:**

د سیټ دنیولونه وروسته د سیټ په پرېښودلواومنسوخ کولوباندي ټکس اخستل.
نن سبازمانه کې تمام هوايي کمپنۍ اوریل ګاډي د سیټ په ختمولوڅه پیسي کټاېې کوي، دمختلفو کمپنو مختلفې طریقې دي په بعضې ځایونوکې داطریقه وي چې دروانیدونه (۲۴) ساعته مخکې دټکټ ختمولویا بدلولوباندي مثلا(۲۵) فیصده کټاېې کوي اوس کچیري د روانیدونه (۶) ساعته مخکې یاد دي نه کم باندي د سیټ دټکټ ختمولوباندي (۵۰) فیصده کټاېې کوي نود دې صورت شرعاڅه حکم لري.
په همدې ډول د داسي کټاېې په مقابل کې پیسې اخستل اوورکول شرعا څه حکم دي؟د دې شرعي حکم له ظاهره داسي معلومیږي چې دا کټاېې شرعا جائزاودرست دي، پدې اساس چې کله یوکس جهازیا ریل ګاډي کې دځان لپاره یوسیټ مخصوص کوي نودغه وخت کې دفریقینوترمنځ زباني یاتحریري توګه باندي دا معلومیږي چې د سیټ په ختمولویابدلولوپه صورت کې دداسي ټکټ نه مثلا(۲۰)فیصده کټاېې به وصولوي بیادغه اندازه دوخت په تیریدوسره، سره زیاتیږي، دمثال په توګه دجهازیا ریل وغیره دروانیدونه (۲۴)ساعته مخکې مثلا(۳۰) فیصده کټاېې به کېږي، دروانیدو نه شپږساعته یا د دې نه کم باندي (۵۰)فیصده به کټاېې کیږي دا هغه معاهده وه چې دفریقینوترمنځ دعقداومعاملې په وخت شوي وه، چونکه د سیټ په بدلولویا ختمولو کې دا داسي نقصان دي چې یوفریق ته بې زیان رسیږي، د دې وجهې نه دتلافي لپاره دفریقینوپه منځ کې چې کومه معاهده شوي ده په هغې باندي دعمل کولولپاره به کټاېې کیږي، دغه کټاېې دنقصان پوره کولولپاره ده د دې وجهې نه په ظاهرکې جائزمعلومیږي خوپه عاموفقهي کتابونوکې داسي صریحي عبارت نه وه چې پدې باندي صراحتا دلالت وکړي، البته په مجمع الفقه الاسلامي جدي والا دداسي مسائلویوقراداد منظورکړي دي چې پدې اړه دټولواسلامي مملکتونودجیدوعلماوو اتفاقي رایه ده چې مذکورزیربحث باندي استدلال کولی شي چې لاندي ذکردي:
الوعدهوالذي یصدرمن الآمراوالمامورعلی وجه الانفرادیکون ملزماللواعد دیانة الا لعذر، وهوملزما قضاء اذا کان معلقا علی سبب ودخل الموعودفی کلفة نتیجة الوعدویتحدداثرالالزام فی هذه الحالة اما بتنفیذالوعدوامابتعویذعن الضررالواقع فعلابسبب عدم الوفاء بالوعدبلاعذر.
ژباړه: وعد: چې یوآمریا مامورله اړخه چې په انفرادي شکل باندي شوي وي نودداسي وعدپوره کولودوعدي کونکي لپاره دیانة ضروري دي پدې شرط چې کوم عذرنه وي اوقضاء هم د دې پوره کول اړین دي چې کله هغه په یوسبب پوري معلقه وي اودکوم کس سره چې وعده شوي ده نودوعده خلافی دوجه په تکلیف اوپریشانۍ کې مبتلاء کیږي نودوعدي دلازمولواثرپدې صورت کې ظاهردي چې یا به وعده پوره کوي یا بغیردعذرنه دوعده خلافی دوجه چې کوم ونقصان راغلی دهغې دتلافی لپاره به د دې عوض ورکوي، همدارنګه دشات مصرات مسئله، دامام ابویوسف رحمه الله په نیز خریداربه میره واپس کوي اودې میږې چې

---

۱۵۵ عثمانی، محمد زبیر، جدیدمعاشی نظام مین اسلامی قانون اجاره،جلد نلری،صفحه:۴۲۰-۴۲۱.

کومې شیدې ده استعمال کړي دي دهغه قیمت به ورکوي چې په حقیقت کې دده حق نه کیږي، همدارنګه نورتمام فقهاء پدې اړه متفق دي چې دبایع یاخرڅونکي نه نقصان اخستل کیږي، البته دنقصان په مقدارکې دفقهاوو راپې مختلفي دي، دامام ابویوسف رحمه الله په نیزدشیدودحقیقي مقدراندازه ولګول شي اودهغې قیمت به ورکوي اومیږه به واپس کوي اوقیمت به بیرته اخلي، احقر داسي نظرلري: چې دمصرات په مسئله کې بایع دهوکه کړي اوخپله میږه یې خرڅه کړي چې پدې اړه فقهاء په رجوع باالنقصان قائل دي (چې کوم نقصان شوي دي دهغې دتلافی لپاره به رجوع کوي)اوپه زیربحث مسئله کي دوهکه نشته لکن داول نه دفریقینوترمنځ معامله شوی ده که چیرې سیټ ختمول غواړي دومره کتابې به وصولوي نوپدې طریقه اول به د دي خبرې لحاظ کووچې دمعاهدي مطابق عمل کولودوجه نه به کتابې کیږي د دي وجهې نه دغه صورت جائزدي اوشرعا پدې کې کوم قباحت نشته، په همدې اساس په شرعي ډول داصورت جائزدي والله اعلم.[۱۵۶]

**ج: د موټراجاره:**

کله چې موټر په کرایه نیول کیږي دهغې کرایه اودمسافر د رسیدو ځای به د موټرخاوند معلوم کړي ترڅو د دواړو ترمنځ کومه خبره مجهوله پاتي نشي، البته که چیرې د موټر ډریور د میټر په حساب سره کرایه اخلی اومسافر داقبول کړی شرعا داعقد جائز دي، البته دلته یوسوال داپیداکیږي چې دلته اجرت کې جهالت دي ځکه اکثره وخت دا یقیني پته نه وي چې موټرڅوکیلومتره سفرکوي؟ د دي جواب دادي چې دغه جهالت مفضی الی المنازعه ندي(دغه جهالت دمنازعې باعث نه ګرځي) نوځکه دغه ډول عقد شرعا جائزدي.

که کوم ګاډی اوموټردټولې ورځې لپاره په کرایه اخستل کیږي پدې وخت کې دډریوراو مسافرترمنځ اجرت اووخت متعین کول ضروري دي، دموټرمالک اجرت اووخت متعین کول اومعلومول په ډیروطریقوسره کولي شي ځکه د اجرت اووخت دمتعین کولولپاره نن سبا څوطریقي رائجي دي:

(۱): چې کله ګاډي په کرایه اخلي د دي لپاره پنځه(۵)یاشپږ(۶) ساعته وخت مقررشوي وي، یادموټرخاوند ورته وایې چې دسهار(۸) بجونه دماښامن تر(۸)بجوپوري ګاډي ستاپه تصرف کې شودپیټرولویا ډیزولو سره سره کرایه زر(۱۰۰۰) روپۍ ده، داصورت شرعا جائزدي هیڅ اشکال پکې نشته ځکه دلته کرایه اووخت دواړه معلوم دي.

(۲): په بعضي وختونوکې عقدپداسي توګه وشي چې پیټرول اویا ډیزل به مسافراچوي اودګاډي دورځې مثلا: پنځه سوه روپۍ دي یعني موده په پورته ډول متعینه شي دا ډول عقدپ شرعي لحاظ جائزدي ځکه موده اوکرایه دواړه معلوم اومتعین دي، اوداواضحه خبره ده په کوم عقد کې چې موده اوکرایه معلوم وي داعقدپه شرعي لحاظ جائزدي.

(۳): په بعضي ځایونوکې ګاډي اوموټردساعت په اعتبارسره په کرایه ورکول کیږي چې مسافرسره څوساعته ګاډی ووپه همغه اندازه به کرایه ورکوي، البته دلته داشبه پیداکیږي چې کله ګاډی دساعت په اعتبارپه کرایه ورکړل شي پدې کې موده متعینه نه وي اود اجارې په منفعت کې داجورت دتعین سره سره موده تعینول اومعلومول هم ضروري دي؟

[۱۵۶] : عثماني، محمد زبیر، جدیدمعاشي نظام میں اسلام قانون اجاره،مؤلف:مولانا محمدزبیراشرف عثمانی(پی ایچ ډی،مطبعه: ادارة المعارف کراچی.

د دي شبهي ځواب دادي داجهالت يسيره دي اوپه اجاره کې هغه جهالت مفسددعقد دي چې هغه دنزاع سبب ګرځي دلته اګرچې دمودي تعين ندي شوي ليکن داسي جهالت خپلوکې دمنازعې سبب نه ګرځی نوځکه داسی عقدشرعاجائزدي، لکه څنګه چې علامه شامي رحمه الله ليکلي دي: (الجهالة ليست بمانعة لذاتهابل لكونها مفضية الى النزاع)[157]

ژباړه: جهالت په ذاتي ډول مانع ندي بلکه هغه جهالت مانع دي چې جګړي اومنازعې ته مفضي کيږي.

(۴): بعضي وختونوکي دګاډي مالک صرف دومره وايي: ديوې ورځي لپاره داموټر په کرايه ورکوم،دلته ديوې ورځي نه څومره وخت مراد دي، داچې د دي ورځي ابتداء اوانتهاء معلومه شي د دي لپاره دهغي ښارعرف ته به کتلي شي چې دورځی ابتداء کله کيږي اوانتهاء بې ترڅه وخته ده دهغي ښار عرف ته به وکتل موده به معلومه اوتعين شي.[158]

**د: دپارک اوڅوېږ اجاره:**

نن سبا په اکثره ځايونوکي دپارک څارونکو د داخليدولپاره ټکټ مقرر کړي وي، مقصدېې دا وي چې کوم خلک دغه تفريحي ځايونوته داخليږي هغه به دټکټ قيمت پري کوي، اوداځکه اخلي چې ددغه تريحي ځايونوپه جوړولواوساتني باندي چې کوم مصارف کيږي هغه مصارف پري پوره کړي په همدي خاطردپارک څارونکي دداخليدو په وخت کي دخلکوڅخه يوه اندازه پيسي اخلي ترڅوپري دپارک مصارف پوره کړي، په اسلامي شريعت کې دغه ډول ټکټ جائز اوصحيح دي کوم شرعي قباحت نلري، ځکه دغه کرايه دتفريحي منفعت په بدل کي اخستل کيږي.

دمنفعت اودکرايي علم دواړوفريقينوته وي اوموده هم متعينه اومعلومه وي ځکه اکثره تفريحي ځايونوکي ټکټ صرف ديوي ورځي لپاره کارکوي چې دکومي ورځي لپاره بې اخستي وي په همدي اساس د دي اکثره موده متعينه وي، ايجاب او قبول زباني اودتعاطي په طريقي سره وي، مصدداچې دلته کرايه، موده، منفعت، ايجاب اوقبول ټول واضح دي دعاقدينوترمنځ منازعه اوجګړه نه رامنځته کيږي نوځکه دغه عقدجائزاودرست عقد دي.

په الدرالمختارکي ابن عابدين شامي رحمه الله دا مسئله په لاندي الفاظوډيره ښه واضحه کړي ده(ان ركنهاالايجاب والقبول وشرطهاكون الاجروالمنفعةمعلومتين لان جهالتها تفضى الى المنازعة ويعلم النفع ببيان المدة).

ژباړه: بيشکه د اجارې رکن ايجاب اوقبول دي اود دي لپاره شرط داجرت اومنفعت معلوموالي دي ځکه چې د دي جهالت مفضی الی المنازعه ګرځي (خپلوکې دنزاع باعث ګرځی)دمنفعت علم دمودې دبيانولوڅخه معلوميږي.[159]

---

١٥٧ ابن عابدين: حاشية رد المختار على الدر المختار شرح تنوير الأبصار فقه أبو حنيفة، ابن عابدين. ناشر: دار الفكر للطباعة والنشر. سنة النشر ١٤٢١هـ - ٢٠٠٠م مكان النشر بيروت. ج.۴، مخ٤٥١.

١٥٨ جديدمعاشي نظام ميى اسلام قانون اجاره،مؤلف:مولانا محمدزبيراشرف عثمانى(پى ايچ ډى،مطبعه: ادارة المعارف كراچى.ص٤١٠.

١٥٩ جديدمعاشي نظام ميى اسلام قانون اجاره،مؤلف:مولانا محمدزبيراشرف عثمانى(پى ايچ ډى،مطبعه: ادارة المعارف كراچى، ص٤١٢.

## دوهم مبحث: د اعارې عقد

لومړی مطلب: د اعارې مفهوم او پيژندنه
دويم مطلب: د اعارې مشروعيت
دريم مطلب: د اعارې ارکان!
څلورم مطلب: د اعارې شرايط
پنځم مطلب: د اعارې د عقد اساسي او بنيادي قواعد
شپږم مطلب: د اعارې فسخ
اووم مطلب: دعقد اعاري مقارنه دفقهي او مدني قانون ترمنځ!

## دوهم مبحث: د اعارې عقد

**لومړی مطلب: د اعارې مفهوم او پېژندنه**

دلته زموږ موخه له اعارې څخه همغه فقهي اعاره ده کومه چې فقهاؤ څیړلې ده، برابره خبره ده که یو څوک دیو شي منافع مفت یو چاته سپاري، یا ورته ټول شی ورکوي، خو په هر حال تر ډیره بریده فقهاء په دې باور دي چې اعاره تر ډیره دیو شي منافع چاته له عوض پرته د یو موقت وخت لپاره ورکول دي.

البته د دې په اصطلاحي تعریف کې دفقهاو ترمنځ اختلاف شته، څوک وايي اعاره فقط په منافعو کې ده او څوک وايي چې عین کې هم راتللی شي، په هر حال دا به په خپل ځای کې وڅیړو، خو تر ټولو اړینه خبره دلته داده چې موږ په پیل کې د اعارې لغوي او اصطلاحي مفهوم وپیژنو ترڅو زموږ راتلونکی بحث له دغه ځایه اسانه شي.

**لومړی فرع: د اعارې لغوي معنی**

اعارة په لغت کې د (التعاور) څخه ده چې تداول او تعاور دواړه یو شی دی، مطلب یو شی له چا څخه په موقت ډول راخیستل، خو بیرته واپس کول پکې اړین دي، په همدې ډول اعارة د (أَعَارَ) مصدر دی، اسم تر ې (العارية) راځي، په همدې ډول اطلاق یې په فعل هم کیږي او په سوالي شي باندې یې هم اطلاق کیدلای شي، استعارة طلب د اعارې ته وايي.[١٦٠]

**دوهمه فرع: د اعارې اصطلاحي معنی.**

په اصطلاح کې: په دې اړه داهل السنت والجماعت دفقهي مسلکونو ترمنځ دنظر توپیر شتون لري، نو په دې اساس حنفي فقهاء وايي: (تَمْلِيكُ الْمَنَافِعِ مَجَّانًا)[١٦١]

د یو شي دمنافعو(ګټې)مفت بل څوک مالک کولو ته اعاره وايي.

مالکیان وايي: (تَمْلِيكُ مَنْفَعَةٍ مُؤَقَّتَةٍ بِلاَ عِوَضٍ)[١٦٢]

یو څوک دیو شي دمنفعت بلا عوضه مالک کول خوپه موقت ډول، عبارت دي له اعارې څخه.

شوافع وايي: اعارة عبارت ده له: (إِبَاحَةُ الِانْتِفَاعِ بِالشَّيْءِ مَعَ بَقَاءِ عَيْنِهِ)[١٦٣]

د یو شي له نفع څخه استفاده کول په داسې حال کې چې عین یې باقي پاتې شي.

البته حنابله وايي: (إِبَاحَةُ الِانْتِفَاعِ بِعَيْنٍ مِنْ أَعْيَانِ الْمَال)[١٦٤]

مطلب، دعین مال دنفع څخه استفاده کول.

**دویم مطلب: د اعارې مشروعیت**

**الف: د شریعت له نظره:**

د اعارې په مشروعیت کې اصل، قرانکریم، نبوي سنت، دامت اجماع او قیاس دی.

---

١٦٠ : مرتضى: تاج العروس من جواهر القاموس، مؤلف : محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق الحسيني، أبو الفيض، الملقّب بمرتضى، الزَّبيدي، ج.١.ص. ٣٢٥٣.

١٦١:ابن عابدين: حاشية رد المحتار على الدر المختار شرح تنوير الأبصار فقه أبو حنيفة، ناشر: دار الفكر للطباعة والنشر. سنة النشر ١٤٢١هـ - ٢٠٠٠م مكان النشر بيروت. ج.٤.ص.٥٠٢.

١٦٢ : صاوي: بلغة السالك لأقرب المسالك المعروف بحاشية الصاوي على الشرح الصغير، مؤلف: أبو العباس أحمد بن محمد الخلوتي، الشهير بالصاوي المالكي (المتوفى: ١٢٤١هـ( الناشر: دار المعارف. ج.٣.ص.٥٧٠.

١٦٣ : هيتمي، أحمد بن محمد بن علي بن حجر الهيتمي، تحفة المحتاج في شرح المنهاج، المؤلف: الناشر: المكتبة التجارية الكبرى بمصر لصاحبها مصطفى محمد، الطبعة: بدون طبعة، عام النشر: ١٣٥٧ هـ - ١٩٨٣ م، ج.٥.ص.١١٥.

١٦٤ : المغني تأليف الشيخ الامام العلامة والحبر المدقق الفهامة شيخ، الاسلام موفق الدين * (أبي محمد عبد الله بن احمد بن محمد بن قدامة)

ج.٥.ص.٢٢٠.

**۱- د اعارې مشروعيت په قرآن کريم کې**

له قرانکريم څخه د اعارې دمشروعيت دليل دسورة الماعون دا ايت دی. {وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ}[۱٦٥]ژباړه: منعه کوي دوي مال دزکات يا اسباب دمعاونت امداد ديوله بل سره.

له ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دی چې له دې څخه موخه يو چاته په اعاره څه ورکول دي، په همدې ډول د ابن مسعود رضی الله عنه څخه روايت دی چې له دې څخه موخه تله، بوکه او کټوه په سوال او اعارې سره ورکول دي.

**۲- د اعارې مشروعيت په احاديثو کې**

له پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه په دې اړه حديث شتون لري چې يو يې موږ دلته راوړو:

حدثنا علي بن حجر و هناد قالا حدثنا إسمعيل بن عياش حدثنا شرحبيل بن مسلم الخولاني عن أبي أمامة الباهلي قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه و سلم في خطبته عام حجة الوداع إن الله قد أعطى لكل ذي حق حقه فلا وصية لوراث الولد للفراش وللعاهر الحجر وحسابهم على الله ومن ادعى إلى غير أبيه أو انتمى إلى غير مواليه فعليه لعنة الله التابعة إلى يوم القيامة لا تنفق امرأة من بيت زوجها إلا بإذن زوجها قيل يا رسول الله ولا الطعام ؟ قال ذلك أفضل أموالنا ثم قال العارية مؤداة والمنحة مردودة والدين مقضي والزعيم غارم.[۱٦٦]

ژباړه: ابو امامه الباهلي رضی الله عنه فرمايي، ما له پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه په حجة الوداع کې اوريدلي دي، هغه ويل؛الله جل جلاله هر حقدار ته خپل حق ورکړی دی، نو وصيت وارث لپاره نشته، ماشوم دهغه چا دی چې په بستره يې زيږيدلی وي(نسب يې ترې ثابت وي او نسب يې پلار پسې ځي او نسبت يې پلار ته کيږي)او دزناکار لپاره بنديز د ی او نور حساب يې په الله جل جلاله باندې دی، څوک چې د يو چا نسبت، بل چا ته وکړي، يا څوک له خپل بادار پرته بل چاته ځان منسوب کړي، نو په هغه دې دالله جل جلاله لعنت وي، داسې لعنت چې هميشنی وي او دقيامت تر ورځې پورې دوام وکړي، ميرمن به مصرف دخاوند له کور څخه نه کوي، مګر دهغه په اجازت، چا وويل: د الله رسوله، خوراکي توکي هم نشي ورکولای؟هغه وويل: همدا زموږ بهترين مال دی، بيا يې وويل: عاريت بيرته ادا کيدونکی دی، ډالۍ واپس کيدونکې ده، قرض غوښتونکی دی او مشر مسول دی.

**۳- د اعارې مشروعيت په اجماع کې**

د اعارې په اړاو په اسلامي علماو کې له چا څخه اختلاف ندی راغلی چې څوک يې په عدم جواز باندې قايل وي.

نو په دې اساس د امت اجماع ده چې اعاره جايز ده.

**٤- د اعارې مشروعيت په قياس کې**

هر کله چې داعيانو هبة کول جايز دي، نو دمنافعو هبة کول خو په طريقه اولی جايز دي او مشکل پکې نشته، نو له همدې امله ډير شمير علماء په دې اند دي چې وصيت په اعيانو او منافعو ټولو کې جايز دی.[۱٦٧]

نو په دې اساس چې مسلمانان بايد ټولنيز او اجتماعي وي، په ورځنيو چارو کې يې يو بل ته اړتيا پيښيږي نو اړينه ده چې دغه ډول عقد(اعارة)جايز شي، ځکه که جايز نشي، نو دمسلمانانو

---

۱٦٥ :سورة الماعون.۷ ايت.

۱٦٦: سنن الترمذي، ج.۴.ص.۴۳۳.دحديث حکم:امام ترمذي رحمه الله ددې حديث لاندې ليکي:هذا حديث حسن صحيح.

۱٦۷ :شرح الصغير.دريم جلد. ۵۷۰ صفحه.

ترمنځ به ډیر کارونه معطل پاتې شي، په دې ډول به دمسلمانانو ټولنیزتوب او خواخوږی ته زیان ورسي، هغه ترحم او عاطفه چې ډیری نصوص پرې ټینګار کوي، هغه به یوازې د دین په کتابونو کې پاتې شي او په عملي اړخ کې به زموږ ټولنه یوه داسې ټولنه شي چې هیڅ خیر به یې بل مسلمان ته ورنشي، همدغه ده چې دمرستې او تعاون دنورو ډیرو بابونو په شمول د اعارې باب هم پرانیستل شوی دی، ځکه چې ډیر مسلمانان دا وړتیا نلري چې دخپل ژوند په ټولو چارو کې دې خودکفاء شي، نو الله جل جلاله هم ددغه عقد په عدم مشروعیت باندې څه ندي ویلي، په همدې ډول زموږ ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم هم په دغه برخه کې ډیری لارښونې کړي دي او دامت لویان هم دخیر او نفع په دغه مسله کې سره یوه خوله دي او په دې اړه ترې کوم اختلاف شتون نلري.

**ب- اعاره د قانون له نظره**

اوس اعاره د افغانستان دمدني قانون له نظره څیړو: موږ مخکې وویل چې دحنفي فقهاو له نظره که چیرته اعاره من غیر تعدی هلاکه شوه نو ضمان او تاوان په مستعیر باندې نشته، بیا مو ویلي وه چې زموږ دفقهاؤ له نظره هغه حکم چې دعاریت په عقد باندې مرتب کېږي هغه دادي چې مستعیر دمستعارې او هر هغه څه چې دعرف لمخې ورسره یو ځای ګڼل کېږي دګټې مالک دي اوکولای شي ترې نفع پورته کړي.

د دې څخه هدف دادي چې مستعیر کولای شي مستعاره بل کس ته هم په عاریت ورکړي، خو په هغه صورت کې چې معیر لدې کارڅخه نه وي منع کړي، خو کچېري معیر بل کس ته دورکړې څخه منع کړي و ي نو بیا مستعیر نشي کولای دغه شي بل کس ته په عاریت ورکړي.[١٦٨]

دافغانستان مدني قانون هم پدېهکله همدا نظر تایید کړی دی لکه چې د مدني قانون ١٤٦٦ مه ماده پدې هکله داسې صراحت لري (که عاریت ورکونکې دعاریت ورکړشوې شي دورکولو څخه عاریت اخیستونکې بل چاته منع کړي وي او عاریت اخیستونکې هغه بل چاته په عاریت ورکړي دهغه دلمنځه تللو ضامن ګڼل کېږي) همدارنګه کچېري مستعیر مستعاره پرته دمعیر داجازې څخه بل کس ته ورکړي او دبل کس سره دغه شي هلاک شي او له منځه ولاړشي نو پدې صورت کې معیر کولای شي دمستعیر څخه دتاوان غوښتنه وکړي، مدني قانون پدې اړوند داسې وایي(که عاریت اخیستونکې دعاریت عین بې دعاریت ورکونکې داجازې څخه په اجارې ورکې او ذکرشوي عین د اجارې اخیستونکې سره هلاک شي نو دعاریت ورکونکې کولای شي چې دهغې ضمان دعاریت اخیستونکې یا اجاره اخیستونکې څخه وغواړي، که چېرې یې دعاریت اخیستونکې څخه ضمان وغوښتلونونه شي کولای چې بل چاته رجوع وکړي اوکه یې د اجارې اخیستونکې څخه دضمان غوښتنه وکړه اجاره اخیستونکې کولای شي عاریت اخیستونکې ته رجوع وکړي، خو پدې شرط چې دعقدپر وخت کې خبر نه وي چې عین دهغه سره عاریت دي).[١٦٩]

همدارنګه کچېري معیر دمستعارې د اجارې یا ګروي اجازه ورکړې وي نو مستعیر کولای شي هغه په اجاره یا ګروي ورکړي، (عاریت اخیستونکې نشي کولای چې دعاریت عین په اجاره

---

١٦٨: عبدالله، نظام الدین،حقوق عیني، ١٣٨٥ هـ ش، ص ١٠٠
١٦٩: مدني قانون،دویم کتاب،ټاکل شوي عقدونه،١٤٧٠ یمه ماده

ياګروي ورکړي مګر په هغه صورت کې چې هغه يې دعاريت ورکونکې په اجازي دګروي لپاره په عاريت اخيستي وي).[١٧٠]
نو دا چې د افغانستان مدني قانون هم په ډېر مواردو کې له حنفي فقهې څخه اخيستل شوی دی نو د اعارې په برخه کې هم له حنفي فقهې سره تطابق لري نو ځکه په دغه برخه کې موږ له ته اړتيا نشته چې اوږده څيړنه او پرتله وکړو.

**دريم مطلب: د اعارې ارکان!**

اوس د اعارې ارکان دبحث لاندې نيسو.په همدې ډول علماء د اعارې په ارکانو کې هم سره مختلف نظرونه لري چې اوس يې موږ د ټولو نظريات دلته درته څرګندوو مالکيان، شوافع او حنابله وايي د اعارې ارکان څلور دي.
(١)معير.
(٢)مستعير.
(٣)معار.
(۴): اوصيغة.[١٧١]
احناف وايي:
د اعارې لپاره يو رکن دی چې هغه عبارت دی له صيغې څخه او له دې پرته هغه نور چې جمهورو علماؤ کوم ذکر کړل، هغه د عقد اطراف دي.[١٧٢]
**١ـ معير:** هغه شخص چې يو شی بل ته په اعاره ورکړي دې ته معير وايي، په دې کې شرط دادی چې په دغه شي کې به دتصرف ملکيت لري، کوم چې دی په اعاره ورکوي، البته دا ملکيت به يې داسې وي چې تبرع کولای يې هم شي، نو په دې اساس دمکره(هغه کس چې په جبر او زور سره)اعاره نه صحيح کيږي، په همدې ډول دمحجور اجاره هم نه سميږي، همداسې دهغه چا اعاره هم نه سميږي چې دنفعې مالک يې وي خو دعين مالک نه وي، لکه ديوې وقفي مدرسې اوسيدونکي، اصلا دوی ته دغه څه په وقف کې ورکړل شوي دي دوی يې له منفعت څخه استفاده کوي، خو نور دوی ته دا اجازه نشته چې دوی يې دعين مالکان شي.
يوه بله مهمه خبره داده چې معير هرکله وغواړي کولای شي چې په عارية کې بيرته رجوع وکړي او هرکله يې چې خوښه شي، ځکه پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: ډالی په بدل کې به تحفه ورکول کيږي او عاريه بيرته اداکيدونکې ده.
البته حنفي علماؤ په دې تصريح کړې ده چې کله هغه ماشوم چې هغه ته دمال دمصرفولو صلاحيت ورکړل شوی وي، خپل مال په اعاره ورکړي نو اعاره يې درسته ده.[١٧٣]
**٢: مستعير:** هغه کس چې هغه د اعارې غوښتونکی وي، په دې کې شرط دادی چې ديو شي په تبرع(مفت ورکول دثواب په نيت)کولو صلاحيت ولري، هغه شی چې دا يې په اعاره ورکوي.
**٣ـ: معار:** هغه څه چې معير يې ورکوي، مطلب کوم جنس يا شی چې په اعاره ورکول کيږي هغه شي ته وايي.[١٧٤]

---

١٧٠: هماغه قانون، ١٤٦٩ مه ماده
١٧١ : شرح الصغير ج:٣.ص:٥٧٠
١٧٢ : : فتح القدير،ج.٧.ص،۴٧۴.
١٧٣ : الفتاوى الهندية في مذهب الإمام الأعظم أبي حنيفة النعمان، الشيخ نظام وجماعة من علماء الهند\ العالمكيرية، ناشر: دار الفكردخپريدا کال ١۴١١هـ ـ ١٩٩١م. ج. ۴ /ص ٣٧٢.

٤- **صيغة:** هر هغه څه ته وايي چې په اعاره باندې دلالت کوي، برابره خبره ده که هغه لفظ وي، اشاره وي او يا فعل وي، البته دا نظر دمالکيانو او حنابله دی.
شوافع وايي: په مطلق فعل چې اعاره پرې ترسره کيږي هغه صيغه ده.
احناف وايي: هر هغه لفظ چې په اعاره دلالت کوي اگر که مجازا هم وي صيغه بلل کيږي.[١٧٥]

**د اعارې تکليفي حکم**

مور پاس د اعارې په تړاو دعلماء اجماع راوړه چې دا يو مشروع او جايز عمل دی، اوس د اعارې په تکليفي حکم باندې بحث کوو او په دې اړه دعلماو نظريات راوړو چې دوی په څه اند دي.

جمهور علماء، احناف، موالک، شوافع او حنابله وايي: د اعارې اصلي حکم مندوب عمل دی، ددوی دليل په دې اړه دادی چې الله جل جلاله په خپل کلام کې فرمايي: {وَافْعَلُوا الْخَيْرَ}[١٧٦]
ژباړه: تاسې دخير کارونه ترسره کړئ.
په همدې ډول دپيغمبر صلی الله عليه وسلم هغه معروف حديث چې وايي: (کل معروف صدقة)
هر نيک کار صدقه ده، نو په دې اساس اعارة مندوبه ده او واجب نده، ځکه دا داحسان له انواعو څخه يو نوعه ده.

چا ويلي دي چې اعارة: واجب ده. ددوی دوجوب دليل دادی{فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّينَ الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ الَّذِينَ هُمْ يُرَاءُونَ وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ}[١٧٧]
ژباړه: پس هلاک افسوس کنده ددوزخ يا خرابه ده دپاره دلمونځ کونکی هغه کسان چې دوي دلمانځه خپله غافله بې خبره وي (په خپلو اوقاتو او ادابوسره نه اداء کوي)، خوهغه کسان چې دوي ريا کاري کوي (په عمل خپل کې ښونه کوي خلکوته)، اومنعه کوي دوي مال دزکات يااسباب دمعاونت امداد له يوبله.

هغوی وايي: دلته دهغوی لپاره هلاکت راغلی دی چې د اعارې څخه ځان باسي، نو چې کله يې په اړه دومره سخت وعيد راغلی دی حتما دا وجوبي حکم دی.
خو البته په دې اړه له ډيرو صحابه کرامو نقل دي چې له دغه ايت څخه موخه، دبوکې، او کټوی په عاريه ورکول دي.[١٧٨]

**په اعاره کې د ضمان حکم**

که چيرته يو شی چا په اعاره راخيستی وه او په غير عمدي توگه ترې هلاک شو، نو تاوان پرې نشته، البته امام شافعي رحمه الله وايي: تاوان پرې شته، ځکه دغه شخص دبل چا مال قبض کړی ؤ دخپل ځان لپاره، داسې خو نه وه چې دا مال دده خپل دی، نو له دې امله به پرې تاوان لازميږي، دغه شخص ورته دومره اجازه ورکړې وه چې ددغه شي له منافعو استفاده کوه، ددې اجازه خو يې نه وه ورکړې چې هلاک يې کړه، نو دانتفاع نه بغير چې ده پکې بل تصرف کړی دی نو له دې امله په ده باندې تاوان شته دی.[١٧٩]

---

١٧٤ : الشرح الصغير ٣ / ٥٧٠.په همدې ډول: حاشية ابن عابدين٢ / ٢٦٩.
١٧٥ : حاشية ابن عابدين٤ / ٥٠٢په همدې ډول: البدائع٨ / ٣٨٩٧.په همدې ډول: شرح الصغير ٣ / ٥٧١.
١٧٦ : سورة الحج / ٧٧
١٧٧ : سورة الماعون / ٤-٧
١٧٨ : شرح الصغير.دريم جلد٥٧١ صفحه.
١٧٩ :ابن الهمام: فتح القدير، المؤلف : كمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي المعروف بابن الهمام (المتوفى : ٨٦١هـ،١٩جلد.٤٢٨ صفحه.

زموږ دلیل دادی: دا لفظ د اعارې په دې دلالت نه کوي چې تاوان دې په دغه شخص لازم شي، ځکه اعاره همدې ته وایي چې دیوشي له منافعو مفت استفاده کول او قبض سره تعدي او -تجاوز ندی راغلی، ځکه دغه کس ته معیر اجازه ورکړې ده چې استفاده ترې کوه، نو داستفادې په حالت کې چې هلاک شو نو دغه حالت کې باید ضمان او تاوان نه وي، ځکه دا خو عمدا هلاکت ندی بلکې غیر عمدي دی.[۱۸۰]

یوه بله مهمه خبره داده چې که یو څوک، پیسې، مکیلي شیان، موزوني شیان، عد دي شیان، په اعاره ورکړي، دا اعاره نه درستیږي بلکې دا قرض بلل کیږي اعاره نه شمیرل کیږي، ځکه چې ددې شیانو نه انتفاع ممکن نده مګر هله چې ترڅو ددغه شیانو عین نه وي استهلاک شوی، نو همدغه لامل دی چې انتفاع دمنافعو نه راځي بلکې انتفاع دعین راځي، ځکه نو په دې کې اعاره نه درستیږي، بلکې دغه شیان چې څوک چاته ورکوي یا به قرض او یا به هبة ګرځي، ځکه په اعاره کې به له منافعو استفاده کوې او عین به بیرته واپس کوې، بل دا چې که چیرته دراهم، دینار، مکیلات، موزونات او معدودات په عاریه ورکړل شي، هلته د اعارې حقیقت منتفي کیږي، ځکه په اعاره او عاریت کې شرط دادی چې مستعار(هغه توکی چې په اعاره ورکړل شوی دی)به دانتفاع قابل وي په داسې حال کې چې عین به یې سالم او باقي پاتې کیږي، او دغه مذکور شیان داسې دي چې له عین پرته ترې انتفاع نشي اخیستلای، نو دغه وخت کې د اعارې حقیقت متعذر شو، نو ځکه دا وخت قرض وشمیرل شو.

یوه بله مهمه مسله: که یو چا ځمکه له بل چا په دې خاطر په اعاره واخیسته چې ودانۍ پکې جوړه کړي، یا یې ترې ځمکه ونیوله په دې خاطر چې نیالګي پکې کینوي، نو دا اعاره درسته اوجایز ده.خو معیر ته اجازه شته چې بیرته رجوع پکې وکړي او هغه کس ته چې دا ځمکه یې ورته په اعاره ورکړې ده، دا پرې لازمولی شي چې ودانۍ ړنګه کړي او ونې وباسي، رجوع خو جایز ده ځکه چې په دې اړه مخکې خبره شوې وه او د اعارې جواز هم ځکه شتون لري چې ځکه دا یو معلوم منفعت دی چې یو انسان یې د اجارې په واسطه مالک کیدلای شي.

البته دومره ده چې معیر به ددې تاوان ورکوي ځکه چې په دغه حالت کې یې مقابل لوري ته تاوان رسولی دی، ځکه هغه په ودانۍ رغولو او ونو په کینولو باندې مصرف کړی دي، نو په دې خاطر په معیر بانددې لازم ده چې هغه ضرر چې ورته سولی دی هغه باید جبیر ه کړي.[۱۸۱]

بله اړینه خبره داده چې که چیرته یو څوک هغه جنس چې په اعاره یې اخیستی دی بیرته معیر ته واپس کوي، نو ددې واپس کولو اجوره په مستعیر ده، ځکه په مستعیر باندې دا واجب ده چې دغه عین چې ده په اعاره راخیستی دی، بیرته واپس کړي، ځکه ده ته خو یې دمنفعت داستفادې اجازه ورکړل شوې وه، نو بیرته معیر ته سپارل یې هم په ده دي، ځکه دا خو ده دخپلې استفادې لپاره وړې وه دمعیر داستفادې لپاره خو نه وه، نو په دې اساس چې په واپسۍ څومره مصرف راځي، هغه په مستعیر دی.

البته دعین مستاجره په واپسۍ چې کومه اجوره راځي، هغه په موجر باندې ده، ځکه په مستاجر باندې تمکین او تخلیه واجب ده، نه رد او واپس کول، ځکه دلته خو موجر ته منفعت سالم ورګرځي، نو په دې اساس په مستاجر باندې د واپس (رد) کولو اجوره او مؤنت نشته..

۱۸۰:فتح القدیر،ج۱۹،ص:۱۲۸ .

۱۸۱ :فتح القدیر. ۱۹ج.۴۴۵ ص.

په همدې ډول دغصب شوي جنس د واپس کولو اجوره او مصارف په غاصب باندې دي، ځکه په غاصب باندې واجب ده چې عین جنس واپس کړي او دغه عین جنس دمالک لاس ته ورسوي، ترڅو دمالک نه ضرر دفع شي، نو په دې اساس باید غاصب دا جنس ورته ورواپس کړي.[۱۸۲]

یوه مهمه خبرده داده که چیرته یو څوک له چا څخه یو حیوان او څاروی په استعاره واخلي او دغه څاروی بیرته غوجل ته واپس کړي او دغه څاروی هلته هلاک شو، نو داستحسان پر بنیاد پرې تاوان نشته خو دقیاس غوښتنه داده چې باید دغه سړی تاوان پرې کړي، ځکه دغه سړي خو بیرته خپل مالک ته سپارلی ندی، بلکې ضایع کړی یې دی.

داستحسان وجه داده چې دغه سړي دعرف مطابق دغه حیوان تسلیم کړی دی، ځکه په عرف کې عام خلک څاروي غوجل ته بیایي لکه دکور نور سامانونه چې خلک یې فقط کور ته سپاري او عین مالک ته یې په لاس نه ورکوي.نو اوس که چیرته یې دغه حیوان خپله مالک ته سپارلی و، نو خپله مالک هم غوجلې ته بیولو.نو څه پروا کوي چې مستعیر غوجلې ته بوت.

که ځمکه په اعاره ورکوې او لیکلو ته اړتیا وي نو لیکل باید څه ډول وشي؟

نو په دې اړوند فتح القدیر دا مسله داسې څیړلې ده:

(که یو چا شړه ځمکه د زراعت لپاره په اعاره واخیسته نو دلیکلو پر مهال به د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد داسې لیکي: (اطعمتني)مطلب دا ډول الفاظ به لیکي، صاحبین وایي: داسې به لیکي(اعرتني)ددوی دلیل دادی: ځکه د اعارې لفظ یوازې همدې ته وضعه شوی دی، نو دغه لفظ چې ورته وضعه شوی دی په همدې اولاء ده چې ولیکل شي.

د امام صیب دلیل دادی: لفظ داطعام په مراد ډیر دلالت کونکی دی، ځکه د اطعام لفظ یوازې په زراعت پورې خاص شوی دی او د اعارې لفظ عام او پراخه مفهوم لري ځکه دغه لفظ دځمکې تنظیمولو، ابادی کولو او یو شمیر نورو شیانو ته شاملیږي، دلیکلو پرمهال دغه څه غوره دي.[۱۸۳]

او د اعارې په تړاو دلته وروستۍ مهمه خبره داده چې اعاره څلور صورتونه لري:

**اول:** چې اعاره په وخت او انتفاع دواړو کې مطلقه وي، په دې مانا چې کومه ځانګړې موده یې ورته نه وي ټاکلې او مستعیر ته یې دا واک ورکړی وي چې په هر ډول او هر وخت کې یې خوښه وي ګټه ترې اخیستلای شي.

**دوهم:** چې وخت او انتفاع کې مقیده وي، مطلب دانتفاع حقوق یې ورته ټاکلي وي او وخت یې هم ورته ټاکلی وي چې په دغه معلومه موده کې به ترې ګټه اخلي او له دې نه علاوه به ترې ګټه نه اخلي او له دې معلومې اندازې نه به تجاوز نکوي، ځکه دغه بڼه یې مقیده ده.

ددې حکم دادی چې مستعیر چې ترې په هر وخت او هره نوعه استفاده کولای شي.

**دریم:** دا چې دوخت په اړه مقیده وي او دانتفاع په برخه کې مطلقه وي.

په دې مانا: چې یو سړی چاته یو جنس ورکړي چې له دې څخه یوه میاشت استفاده کوه، خو په هر ډول ګټه چې ترې اخلې تاته جایز ده، نو مطلب یې دغه ډول دی.

**څلورم:** چې دپاس صورت برعکس وي، مطلب: چې په انتفاع اخیستلو کې مقید وي، خو په وخت کې مطلق وي، مثلا که چیرته یو څوک له چا څخه یو حیوان په اعاره واخلي خو دا ورته

---

۱۸۲: فتح القدیر.ج۱۹.ص:۴۵۱.

۱۸۳: فتح القدیر.جلد:۱۹.ص:۴۵۵

ونه وايي چې په دغه برخه کې ترې استفاده کوه، نو دا کس کولی شي چې دبل سړي له یې په دبارلپاره په اعاره ورکړي، ځکه دبارونو ترمنځ ډیر تفاوت نه وي).[184]

**څلورم مطلب: د اعارې شرایط**

د عاریت عقد هم د نورو عقدونو په څیر یو لړ شرطونه لري چې د دغو شرطونو څخه یې ځیني د معیر او مستعیر او ځیني یې د مستعاري (هغه عین چې په عاریت ورکول کیږي) پوري مربوط دي چې هر یو به یې جلا جلا مطالعه کړو:

**الف- د معیر او مستعیر پوري اړوند شرطونه**

دعاریت دعقد دصحت لپاره لازمه ده چې دغه لاندي شرطونه په پام کې ونیول شي:

**۱-عقل:** پدي معني هغه څوک چې عین په عاریت ورکوي (معیر) باید عاقل وي، ځکه چې دلیوني او ماشوم عقد دعاریت په هکله صحیح نه ګڼل کیږي. حنفي فقهاء بلوغ دعاریت دعقد لپاره شرط نه ګڼي دمجله الاحکام ۸۰۹ مه ماده پدي هکله داسي وایې چې (شرط دي چې معیر او مستعیر دواړه عاقل او ممیز وي اما بالغ والي شرط ندي، دلیوني، ماشوم او غیر ممیز عقدونه دعاریت په برخه کې جایز ندي اما داجازه ورکړاي شوي (ماذون صبي) دعاریت عقد رواده.

همدارنګه غیر احناف علماء هم په همدې نظردي چې معیربایدد اعارې داهلیت خاوندوي، ځکه عاریت دګټې رواکول او مباح ګرځول دي بل شخص ته، له همدي امله دلیوني او ماشوم تبرع سمه نه ګڼل کیږي.

**۲- دمستعاري قبض:** همدارنګه شرط دي چې مستعاره باید د مستعیر لخوا قبض شوي وي او برحال ورسره په ولکه کې وي او په اختیار کې یې ورکړاي شوي وي، له دې پرته یعني کچیري عین دمستعیر په اختیار کې نه وي نو د تبرع لپاره حکم نه شي ثابتیدلاي.[185] پدي هکله د دمجله الاحکام ۸۱۰ مه ماده داسي شرحه ورکوي (قبض په عاریت کې شرط دي او مخکې له قبض څخه هیڅ ډول حکم نه شي مرتب کېدلاي.

**ب- دمستعاره عین پوری اړوند شرطونه**

**عین باید استعمالي وي:**

(أن يكون المستعار مما يكن الانتفاع به بدون استهلاكه، وإلا لم تصح إعارته«[186]

مطلب: (هغه څه چې په استعاره ورکول کیږي، له هغې څخه به ګټه په داسې حال کې اخیستل ممکن وي چې هغه به هلاکیږي نه، که داسي نه وه، نو بیا یې اعاره درسته نده).

یعني هغه عین چې په عاریت ورکول کیږي باید استعمالي وي ځکه په عاریت کې داشرط دي چې د عین څخه استفاده باید پداسي شکل سره ممکنه وي چې د عین په استعمال سره عین استهلا ک نشي، یعني د هغو اعیانو دعاریت عقد صحیح ګڼل کیږي چې له هغو څخه انتفاع دهغو داصل په باقي پاتي کېدو سره امکان ولري لکه کور، کالي، ځمکه او داسي نور...، مګر دخوراک یا څښاک دشیانو د عاریت عقد لدي امله چې له هغو څخه په انتفاع سره د هغو اصل له منځه ځي صحیح نه ګڼل کیږي، پدي هکله مدني قانون داسي شرحه ورکړي ده چې وایي

---

۱۸٤: فتح القدير.ج:۱۹.ص:۴۳۳

۱۸٥ :وهبة الزهيلي،الفقه الاسلاميه وادلته،کويته: مکتبه رشيديه،٥ ج ،ص ٤٠٣٧

۱۸٦: الفقه الاسلامي وادلته،ج:۵.ص:۶۷۴

(دعاريت دصحت شرايط دادي چې په عاريت ورکړشواي شي د ګټې اخيستلو قابليت د هغې د عين دبقاء سره ولري).[187]

**پنځم مطلب: د اعارې د عقد اساسي او بنيادي قواعد**

**لومړی قاعده: (الاعارة مبنية على المسامحة)**[188]

ژباړه: داعاري عقد په تساهل او اسانتيا بناء دي.

د قاعدي شرحه: ټولومسلمانانود اعاري په جواز او استحباب اتفاق کړي دي.

اعاره دنوروتبرعي عقدونوپشان يوعقد دي چې په تساهل، تجاوز او اسانتيا بناء دي، ځکه دا يوه نوعه احسان اونيکي ده په همدي اساس پدي کې دنورو عقدونوپه نسبت تساهل اواسانتيا زياته ده، همدا وجه ده چې په دي کې د شرطونو تاثير نه ليدل کيږي، لکه څنګه چې په نورو عوضي عقدونوکې ليدل کيږي.

داچې د اعاري اونوروعقدونو ترمنځ توپير په ډاګه اوښکاره دي دښه وضاحت لپاره لاندي مثال ته اشاره کوو:

حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ وَإِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْحَكَمِ عَنْ نَافِعٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَسْبِ الْفَحْلِ.[189]

په پورته حديث کې دنرحيوان په نطفه پيسي اخستل ممنوع اوحرام ګڼل شوي دي، که يوشخص بل چاته په بيع اواجاره نرحيوان ورکړي چې دهغه له نطفي څخه استفاده وکړي دا حرام اوناجائزعمل دي چې په حديث ترې په کلکه منع راغلي ده، ځکه دا غيرمتقوم اوپه تسليميدوېې قادر ندي، البته که همدا نرحيوان په اعاره ورکړي ټول اهل علم پدي متفق دي چې دا جائزعمل دي اوپه شرعي لحاظ پدي کې هيڅ مشکل نشته.[190]

**د نوموړی قاعدي دلايل:**

(۱): اعارة په تسامح اواسانتيا بناء ده ځکه پدي کې معنی د شفقت، مرستي او احسان پرته ده، اوداواضحه خبره ده چې اسلامي شريعت محسن داعمالوپه ترسره کولو کې ازاد پريښي، که نيک اعمال بې تسره کړه الله متعال به اجر اوثواب ورکړي اوکه ترسره يې نه کړه کومه ګناه پري نشته، الله متعال فرمايي: مَا عَلَى الْمُحْسِنِينَ مِنْ سَبِيلٍ.[191]

ژباړه: نشته په محسنينوکومه لاره.

ژباړه: که يوشخص نفلي اوزياتي اعمال ترسره نه کړه ګناه پري نشته.

(۲): اعارة عقد عوضي ندي بلکه محض تبرع اواحسان دي اودا واضحه خبر ده چې په تبرعاتوکې مسامحت اوتساهل وي.۱۹۲

(۳): په اعارة کې تسامح اواسانتيا ده ځکه دا يوداسي عقد دي په منافعوکې ترسره شوي اوکوم عقدچې په منافعوکې ترسره شي پدي کې تسامح اواسانتيا زياته وي دهغه عقد نه چې هغه په اعيانوکې ترسره شي.[193]

---

۱۸۷: مدني قانون،دويم کتاب،ټاکل شوي عقدونه،۱٤٥۷ مه ماده

۱۸۸ درر الحكام فى شرح مجلة الاحكام لعلى حيدر،ج:۲،ص:۱٤۲.

۱۸۹: صحيح البخاري،ج:٥،ص:۲۷٥.

۱۹۰ كتاب: فتح الباري شرح صحيح البخاري، المؤلف: أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي، الناشر: دار المعرفة - بيروت، ۱۳۷۹، رقم كتبه وأبوابه وأحاديثه: محمد فؤاد عبد الباقي،قام بإخراجه وصححه وأشرف على طبعه: محب الدين الخطيب،عليه تعليقات العلامة: عبد العزيز بن عبد الله بن باز،ج:۷،ص:۱۲٦.

۱۹۱ سورت توبه،۹۱ ايات.

۱۹۲ درر الحكام فى شرح مجلة الاحكام لعلى حيدر،ج:۲،ص:۲۳۳.

**د قاعدي معاصرتطبيقات:**

(۱): اعارة دمشاع درسته اوصحيح ده برابره خبرده که تقسیم قبلوي اوکه تقسیم نه قبلوي، که دا خپل شریک ته ورکوي اوکه اجنبي ته لکه څنګه چې اعارة دوه اشخاصوته هم درسته ده، په همدي ډول که له دغه ځیزځخه نیمایی استفاده کوي اویاددري برخوپه اندازه تري استفاده کوي.[۱۹٤]

(۲): کله چې دمعیرخوښه شي دعاریت نه رجوع کولي شي، که دعاریت موده باقي پاتي وي اوکه نه وي ځکه دامحض شفقت اواحسان دي پدي کې الزام نشته.[۱۹٥]

(۳): که مستعیردغه شي بل چاته ورکړو اوداځیزدمستودع په لاس کې بغیردتجاوزاوکوتاهی نه هلاک شوپه ده باندي تاوان نشته.[۱۹٦]

(۴): هغه څاروي دقربانی لپاره نذرانه شوي وي په اجاره ورکول یې جائزندي ځکه دا بیع دمنافعوده، البته په اعارة ورکول یې جائزدي ځکه اعاره احسان اوښیګنه ده.[۱۹۷]

**دوهمه قاعدة: کل ماجازت اجارته جازت اعارته وما لافلا**

ژباړه: دهرهغه شي چې اجارة جائزوي اعارة یې هم جائزده، اودکوم شي چې اجارة جائزنه وي اعارة یې هم جائزنده.[۱۹۸]

د قاعدي شرحه: دهرهغه شي چې اجارة یې دعوض په مقابل کې جائزده دهمدغه شي اعاره بغیردعوض څخه اجارة جائز ده، مثلا: دکورونواوسکنی اجارة جائزده ځکه دا مباح اوګټورشیان دي نو ددغه شیانواعارة هم جائزده.

په همدي ډول دکوموحراموشیانوچې اجارة جائزنده لکه شراب اونورنشیې توکي دداسي شیانواعارة هم حرامه اوناروا ده، په همدي نظرټول فقهاء یوه خوله دي.[۱۹۹]

**د نوموړی قاعدي دلایل:**

اعارة د اجاري پشان ده، ځکه دواړوکې دمنافعولاسته راوړل مقصود دي، البته ددواړوترمنځ فرق دادي چې په اجاره کې دعوض په مقابل کې دمنافعولاسته راوړل دي اوپه اعارة کې بغیر د عوض نه د منافعو لاسته راوړل دي.[۲۰۰]

**د قاعدي معاصر تطبیقات:**

(۱): دګټورو کتابونولکه دحدیثو، فقه اودجائزوشعرونو اعارة جائزده ځکه چې اجارة یې جائزده، اودا واضحه خبره ده دکوم شي چې اجارة جائز وي دهغي اعاره هم جائزوي.

---

۱۹۳ ابویحي: أسنى المطالب في شرح روض الطالب، المؤلف: زكريا بن محمد بن زكريا الأنصاري، زين الدين أبو يحيى السنيكي (المتوفى: ۹۲٦هـ( عدد الأجزاء: ٤، الناشر: دار الكتاب الإسلامي، الطبعة: بدون طبعة وبدون تاريخ،ج:۲،ص:۲٤۸.

۱۹٤ بدائع الصنائع للكاساني،ج:٦،ص:۲۱٥.

۱۹٥ دررالحکام فی شرح مجلة الاحکام،ج:۲،ص:۳٤۰.

۱۹٦ دررالحکام فی شرح مجلة الاحکام العدلیة لعلی حیدر،ج:۲،ص:۳۷۲.

۱۹۷ نووي: المجموع شرح المهذب ((مع تكملة السبكي والمطيعي( المؤلف: أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (المتوفى: ٦۷٦هـ( الناشر: دار الفكر،طبعة كاملة معها تكملة السبكي والمطيعي،ج:۸،ص:۳۲۷.

۱۹۸ هیتمي: تحفة المحتاج في شرح المنهاج، المؤلف: أحمد بن محمد بن علي بن حجر الهيتمي،الناشر: المكتبة التجارية الكبرى بمصر لصاحبها مصطفى محمد،الطبعة: بدون طبعة،عام النشر: ۱۳٥۷ هـ - ۱۹۸۳ م،ج:۲،ص:۱۲۳.

۱۹۹ المحلی لابن حزم،ج:۷،ص:۷۹٦.

۲۰۰ حموي، أحمد بن محمد مكي، أبو العباس، شهاب الدين الحسيني الحموي الحنفي ، غمز عيون البصائر في شرح الأشباه والنظائر، (المتوفى: ۱۰۹۸هـ( الناشر: دار الكتب العلمية،الطبعة: الأولى، ۱٤۰٥هـ - ۱۹۸٥م، عدد الأجزاء:٤،ج:٥،ص:۳۳۰.

(۲): ځمکه دزراعت، دونوکېنولو، اودابادۍ لپاره په اعارة ورکول جائزدي ځکه اجارة يې جائزده، اودا خبره پورته ذکرشوه دکوم شي چې اجارة جائزوي دهغې اعارة هم جائزوي.
(۳): ديوي معلومې مودي لپاره دښکارجال په اجارة ورکول جائزدي په همدي ډول د دي اعارة هم جائزده.
(۴): دسپی، پيشواوپړانګ د ښکار لپاره په اعارة ورکول جائزدي ځکه د دغه څيزونو په اجارة ورکول جائز دي.

**ج- دريمه قاعده: (كل ما امكن الانتفاع به مع بقاء عينه جازت اعارته)**[۲۰۱]

ژباړه: هر هغه شي چې د هغې په استعمال سره د هغې اصليت لمنځه نه ځي د داسي شي اعارة جائز ده.

**د قاعدي شرحه:** مخکي د اخبره واضحه شوه چې هرهغه شي په اعارة ورکول جائز دي چې د عاريت قابليت ولري او کوم شي چې په اسلامي شريعت کې حرام وي لکه خنزير، د فساد مالی، وريښم اوسره زر دنارينه لپاره دا ټول څيزونه په اعاره ورکول حرام اوناجائزدي، اودکوم شي چې په اسلامي شريعت کې منافع جائزوي اوپه استعمال سره نه ختميږي لکه: څاروي دسپرلی لپاره، جامي داغوستلولپاره، تبردلرګودماتولولپاره، ديګ د خوراکي توکو د پخولو لپاره، او ستنه د جامو د ګنډلو لپاره دا ټول څيزونه په اعاره ورکول جائز دي، البته که هغه څيزونه اوشيان چې هغه په استعمال سره لمنځه ځي او د ګټي په اخستلو سره خپل اصليت له لاسه ورکوي لکه مکيلات، موزونات او يا نقدي پيسي دا په حقيقت کې قرض دي اعاره نده ځکه دلته د اعاري حقيقت لمنځه تللی نو دا نوعه اعاره جائزنده.

له پورته عبارت څخه داپه ډاګه شوه چې اعاره په دوه ډوله ده:
(۱) حقيقي اعاره
(۲)مجازي اعاره

**حقيقي اعاره:** هغه اعاري ته وايې چې ديوشي نه نفعه اوګټه پورته شي اواصليت يې په خپل ځای پاتي شي لکه: جامي، کور، څاروي اوموټر دداسي ټولوشيانواعاره جائزده اوپدغه نوعه اعاره کې دټولوفقهاو اتفاق دي.

**مجازي اعاره:** هغه اعاري ته وايې چې ديوشي نه نفعه اوګټه پورته شي اوخپل اصليت يي په خپل ځای پاتي نشي اوعين يي هلاک اولمنځه لاړشي داسي نوعه اعاره صوري اعاره بلل کيږي اوحقيقتاقرض بلل کيږي.

البته که ددغه څيزونوڅخه پداسي ډول استفاده وشي چې عين يي په خپل ځاي پاتي شي مثلا پيسي د دي لپاره ورکړي چې دوکان پري متزين اوښايسته کړي دا اعاره بلل کيږي.

**د نوموړی قاعدي دلايل:**

عَنْ أُمَيَّةَ بْنِ صَفْوَانَ بْنِ أُمَيَّةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- اسْتَعَارَ مِنْهُ أَدْرَاعًا يَوْمَ حُنَيْنٍ فَقَالَ أَغَصْبٌ يَا مُحَمَّدُ فَقَالَ « لاَ بَلْ عَارِيَةٌ مَضْمُونَةٌ ».[۲۰۲]

---

۲۰۱ تقي الدين: ابو بكر بن محمد بن عبد المؤمن بن حريز بن معلى الحسيني الحصني، كفاية الأخيار في حل غاية الإختصار، (المتوفى: ۸۲۹هـ(المحقق: علي عبد الحميد بلطجي ومحمد وهبي سليمان،الناشر: دار الخير – دمشق،الطبعة: الأولى، ۱۹۹٤، عدد الأجزاء:۱،ص:۲۹۱.

۲۰۲ الازدی، السجستانی، سليمان بن اشعث بن اسحاق، سنن ابوداود،ج:۳،ص:۳۲۱.وسنن الكبرى للنسائی،ج:۳،ص:۳۲۵.

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم دحنين په ورځ ديو يهودي نه زعرې په اعاره واخستي هغه ورته وويل: اي محمد دا دي به غصب واخستي؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: نه بلکې دا عاريت اومضمون دي.

دلته اعارة په نص سره ثابته شوه نوپه همدي نور ډيري شيان ورقياس کوو، چې په استعمال سره يي خپل اصليت لمنځه لاړنشي، البته کوم شيان چې په استعمال سره لمنځه ځي لکه د خوراک او څښاک شيان دا ډول اعاره درسته او صحيح نده.

(۲): حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدِّمَشْقِيَّانِ قَالاَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ شُعَيْبٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِى سَعِيدٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « الْعَارِيَةُ مُؤَدَّاةٌ وَالْمِنْحَةُ مَرْدُودَةٌ ».[۲۰۳]

دپورته حديث نه دا معلومه شوه چې دعين شي واپس کول لازمي اوضروري دي، نوکوم شيان چې په استعمال سره لمنځه نځي اوعين يې باقي پاتي کيږي دداسي څيزونه اعاره جائزاو صحيح ده اوهرهغه شيان چې په استعمال سره خپل حيثيت له لاسه ورکوي داسي اعاره جائز اودرسته نده.

**د قاعدي معاصر تطبيقات:**

(۱): د ښځوګانه داوسيدولپاره کورونه ورکول، دلوستلولپاره کتابونه ورکول، داغوستلولپاره جامي ورکول، دسپريدو لپاره سپرلۍ ورکول، دلرګودماتولولپاره تبر ورکول، داوبودپورته کولولپاره بوکه ورکول اوداسي نور، داټول څيزونه په اعاره ورکول جائز اوصحيح دي ځکه داټول څيزونه په استعمال سره لمنځه نځي نوځکه يې اعاره صحيح اودرسته ده.

(۲): د زراعت لپاره ځمکه، د کينا ستلو لپاره فرش په اعاره ورکول جائزدي ځکه داشيان په استعمال سره لمنځه نځي اوعين يي باقي پاتي کيږي نواعاره يې درسته اوصحيح ده.

(۳): د بليدو لپاره شمعه، دخوراک څيزونه، اودجامودمنځلولپاره صابون په اعاره ورکول جائزاودرست ندي ځکه دغه شيان په استعمال سره لمنځه ځي نوځکه يې اعاره درسته اوصحيح نده.

**څلورمه قاعده: (اعارة ما لا يمكن الانتفاع به الابالاستهلاک يكون قرضا)**[۲۰٤]

ژباړه: هغه اعاره چې په استعمال سره لمنځه ځي داقرض بلل کيږي.

**د قاعدي شرحه:** ټول فقهاء پدي متفق دي چې عاريت تمليک دمنفعت دي بغير دعوض نه، اوعاريت ته عاريت ځکه وايې چې دادعوض نه خالي وي، په همدي اساس هرهغه شي چې په استعمال سره لمنځه نځي اعاره بلل کيږي، د اعارې دشروطوڅخه يوشرط دادي چې مستعارشي به صالح دانتفاع وي اوعين به يې باقي پاتي وي، البته که په استعمال سره لمنځه ځي دا اعاره درسته اوصحيح نده.[۲۰۵]

عاريت يوتبرعي اوديوشخص سره دښيګڼي په پارعقدکول دي ترڅودهغه ضرورت رفع شي، البته اسلامي شريعت د دي لپاره يوخاص چوکاټ ايښي دي هغه داچې معار به په استعمال سره

---

۲۰۳ قزويني، ابن ماجة أبو عبد الله محمد بن يزيد، وماجة اسم أبيه يزيد، سنن ابن ماجه، (المتوفى: ۲۷۳هـ) تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي، الناشر: دار إحياء الكتب العربية - فيصل عيسى البابي الحلبي، ج:۳،ص:۳۵۵.

۲۰٤ سرخسي ، شمس الدين أبو بكر محمد بن أبي سهل، المبسوط للسرخسي، الناشر: دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع، بيروت، لبنان،ج:۱۴،ص:۳۴.بدائع الصنائع للكاساني،ج:۶،ص:۲۱۵،ج،۷،ص:۲۱۸.

۲۰۵ درر الحكام شرح مجلة الاحكام،ج:۲،ص:۳۴۳-۳۴۴.

باقي پاتي کيږي لکه کورونه، ځمکې، ښاروي، ګاڼې، اوجامې اوداسې نورداټول ښيزونه په اعاره ورکول جائزدي ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم زغري په اعاره اخستي وي.
البته کوم شي چې په استعمال سره لمنځه ځي اوعين يې هلاکيږي د دي حکم د اعارې څخه قرض ته منتقل کيږي اودقرض احکام پرې جاري کيږي، ځکه دفقهې عامه قاعده ده چې(العبرة فى العقود للمعاني دون الالفاظ).[206]
داچې اعارة په دغه صورت په قرض بدليږي سبب اوعلت يې دادي چې اعاره کې اجازه دمنافعو وي اودلته معارپه استعمال سره هلاکيږي اولمنځه ځي اواستهلاک خوموقوف دي په ملک پوري اوملک تقاضا دتمليک کوي اوتمليک لکه څنګه چې په هبې سره راځي په همدې ډول په قرض سره هم راځي اودا يو واضح حقيقت دي چې قرض کې انسان ته ضررکم رسيږي ځکه قرض بيرته مثل واپس کيږي نوځکه موږ وايوچې کوم شی په استعمال سره هلاکيږي هغه اعاره په قرض بدليږي.

**د نوموړې قاعدې دلايل:**

(۱): مخکې په شروطوکې داخبره تيره شوه مستعارشي به قابل دانتفاع وي اوعين به يې باقي پاتي کيږي اوکه لمنځه لاړ نو عين يې هلاک شوه نوحقيقي اعاره پکې متعذره شوه نوداسې اعاره چې عين پکې هلاک شي داسې اعاره قرض ګرځي.[207]
(۲): عاريت يوعقد دي اودادفقهې يوه عامه قاعده ده چې، والعبرة فى العقود للمعاني لا للالفاظ[208]نوکوم شي چې په استعمال سره هلاکيږي دداسې ښيزونواعاره په قرض بدليږي.

**د قاعدې معاصرتطبيقات:**

(۱): که يوشخص بل شخص ته يوڅه لرګې اويا يومقدارشيدې په اعاره ورکړي دا حقيقي اعاره نده بلکه داسې داعاره قرض بلل کيږي، اوپه مستقرض باندې دا لازم دي چې دقرض بدل اوتاوان ورکړي.[209]
(۲): کچيرې يوکس بل ته ووېل: دغه قاب دحلوی ما ته په اعاره درکړوهغه بل شخص ورڅخه واخست اوپه قصدي ډول يې هلاک کړودا به د دې تاوان ورکوي ځکه دا قرض ګرځيدلي، البته که دابې دصدقې په ډول ورکړي ووبيا په نوموړی شخص تاوان نشته.

**پنځمه قاعده: کل شرط ينافى عقد الاعارة فهولغو.**[210]

ژباړه: هرهغه عقدچې د اعارې دعقدسره منافي وي هغه شرط لغوه دي.

**د قاعدې شرحه: شرط په لغت کې الزام الشیء والتزامه.**[211]

موخه: په کوم شي چې عاقدان موافق شي همدغه شرط بلل کيږي.
کوم شرط چې دعاريت داحکاموسره منافي وي اودعاريت دعقددمقتضاء سره برابرنه وي داشرط صحيح اودرست ندي.

---

۲۰٦ تبيين الحقائق،ج:۵،ص:۱۰۲.
۲۰۷ فتح القديرلابن همام،ج:۹،ص:۱۴.
۲۰۸ غمزعيون البصائرللحموي،ج:۲،ص:۲۶۸.
۲۰۹ دررالحکام شرح مجلة الاحکام،ج:۲،ص:۳۴۳.
۲۱۰ مجلة الاحکام،ماده:۱۲۹۷.
۲۱۱ ابن قدامه، أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي، الشهير بابن قدامة المقدسي، المغني لابن قدامة، (المتوفى: ٦٢٠هـ(الناشر: مكتبة القاهرة،الطبعة: بدون طبعة،عدد الأجزاء: ١٠، تاريخ النشر: ١٣٨٨هـ - ١٩٦٨م،ج:۵،ص:۲۲۲.

البته که عاريت کې شرط کينښودل شودا عقدپه پوره ډول باطل ندي، که ديوبل جائزعقدامکان يي ووهمغه عقدته ورګرځو ځکه دعاقل تصرف دامکان ترحده معتبردي اودفقهي عامه قاعده ده(لايلزم من بطلان الوصف بطلان الاصل).[٢١٢]

البته که دعاريت په عقدکې داسي شرط کينودل شوچي عين به بيرته معيرته نه واپس کوي دا عاريت هبة ګرځي، په همدي ډول که دعاريت په عقدکې عوض شرط شودا عاريت اجارة ګرځي، که داسي شرط پکې کېښودل شوکه عين په قصدي ډول هلاک شي ضمان اوتاوان به پکې نه وي دا عاريت په قرض بدليږي اوکه معيرداسي شرط کينودچي معارځيزبه نه استعمالوي دا وديعت بلل کيږي.

**د قاعدي دلايل:**

(١): کوم شروط چي دمقتضاء دعقدسره منافى وي دا عقد باطلوي.

(٢): کوم شي چي دعقد دمقتضى سره مخالف وي دا باطل دي.

(٣): کوم شرط چي دعقد دمقتضى سره منافى نه وي دداسي شرط اتباع واجب ده.

د قاعدي معاصرتطبيقات:

(١): که مستعيرداسي يوشرط کيښودکه معار په قصدي ډول هلاک کړي معيرته به تاوان نه ورکوي دا شرط لغوه دي، اوکه داسي شرط کيښودل شوکه دمستعيرلاس کې په غيرقصدي ډول مال تلف او هلاک شوي دا به ضامن وي دا شرط هم لغوه دي.[٢١٣]

(٢): که معير يوشى مستعيرته په اعاره ورکړواوداسي شرط يې پري کېښود چي د دي دمنافعوځخه به استفاده نه کوي داشرط لغوه دي، مثلا سلاح يې په اعاره ورکړه شرط يې پري داکېښود چي جنګ به پري نه کوي.[٢١٤]

(٣): که په اعاره کې يې شرط کېښود داشرط لغوه دي ځکه دعاريت په عقدکې عوض نه وي البته که عوض يې پکې شرط کړو دا اجاره ګرځي.[٢١٥]

(۴): که چيري دمستعارتېکس په مستعير شرط شي دا شرط لغوه دي ځکه دمستعارتېکس په معيردي.[٢١٦]

**شپږم مطلب: د اعارې فسخ**

اعاره په يو شمير کارونو پاى ته رسيږي، کله چي په يوه اعاره کې دغه لاندې شيان موجود شول نو هغه پاى ته رسيږي:

(١): (انْتِهَاءُ الْمُدَّةِ فِي الإْ عَارَةِ الْمُؤَقَّتَةِ)[٢١٧]

مطلب کله چي په يوه موقته اعاره کې موده پوره شي، په دې مانا چي يو کس دبيلګې په ډول يو موټر چا ته ورکړى وي چي دا ستا لپاره ددوه مياشتو په اعاره شو، هغه کس چي دا موټر ورته ددوه مياشتو لپاره په اعاره ورکړل شوى ؤ، نو اوس دوه ميآشتې پوره شوې اوس نو خپله دغه اعاره پاى ته ورسيده.

٢١٢ ابن نجيم، جلال الدين عبد الله، عقد الجواهر الثمينة في مذهب عالم المدينة، تحقيق: محمد بن الاجفان وعبد الحفيظ منصور، نشر دارالغرب الإسلامي بيروت، ط -١، ت ١٩٩٥،،ج:٢،ص:١٥٨.

٢١٣ دررالحكام فى شرح مجلة الاحكام لعلى حيدر،ج:٢،ص:٣۴٨.

٢١٤ شرح النيل لاطفيش،ج:٣٠،ص:١٠.

٢١٥ دررالحكام فى شرح مجلة الاحكام لعلى حيدر،ج:٢،ص:٣۴٣.

٢١٦ مخکينى مرجع،ج:٢،ص:٣۴٣.

٢١٧: ابن عابدين۴ / ٥٠٦، والشرح الكبير ج:٣،ص:۴٣٣ صفحه.

(۲): (رُجُوعُ الْمُعِيرِ)[۲۱۸]
مطلب که چیرته هغه څوک چې یو جنس یې چاته په اعاره ورکړی دی، خو په داسې حالت کې بیرته له خپل نیت څخه وګرځي چې شرعا ورته درجوع حق شتون ولري، نو په دغه مهال کې دغه اعاره پای ته رسیږي.
(۳): (جُنُونُ أَحَدِ الْمُتَعَاقِدَيْنِ)[۲۱۹]
مطلب کله چې یو ددوه کسانو چې ترمنځ یې اعاره شتون لري، لیونی شي نو دغه مهال اعاره فسخ کیږي، مثلا احمد محمود ته خپل کور په اعاره ورکړی وه چې دغه مهال یو کس ددې څخه لیونی شو، نو په دې وخت کې به هم دا اعاره فسخ کیږي.
(۴): (الْحَجْرُ عَلَيْهِ لِسَفَهٍ أَوْ فَلَسٍ)[۲۲۰].
کله چې هغه کس چې اعاره ورته ورکړل شوې ده، بې عقل وي، او یا مفلس شي نو دغه مهال به هم اعاره فسخ کیږي.
د بیلګې په ډول: علي محمود ته خپل بایسکل په اعاره ورکړ، نو محمود کمعقل وه او یا کمعقل نه وه خو مفلس شو، نو دغه معیر ته جایز ده چې اعاره فسخ کړي، ځکه که اعاره فسخ نکړي امکان شته چې دغه ورکړل شوی جنس دافلاس او یا هم سفاهت له امله لمنځه لاړ شي.
(۵): (مَوْتُ أَحَدِ الْمُتَعَاقِدَيْنِ)
مطلب چې ددوه کسانو ترمنځ د اعارې عقد ترسره شوی دی او په دې کې یو کس مړ شو، نو دغه مهال اعاره فسخ کیږي، ځکه احد المتعاقدین شتون نلري، نو ځکه باید دغه عقد فسخ شي.
(۶) (هَلاَكُ الْعَيْنِ الْمُعَارَةِ[۲۲۱]).
مطلب کله چې هغه شی چې په اعاره کې ورکړل شوی دی هلاک شي، نو دغه مهال به اعاره فسخ کیږي.
(۷) (اسْتِحْقَاقُهَا لِلْغَيْرِ) [۲۲۲]
مطلب چې هغه څه چې په اعاره ورکړل شوی دی هغې کې دبل چا حق هم وي او هغه سړی یې د حق په ډول سره یوسي، نو دغه حالت کې به هم اعاره فسخ کیږي او پای ته به رسیږي.[۲۲۳]
(۸): رد العارية: إذا رد المستعير العين المستعارة على المعير، انتهت الإعارة، سواء قبل انتهاء مدة الإعارة أم قبلها.[۲۲٤]
مطلب، کله چې اعاره اخیستونکی، هغه عین چې په اعاره یې اخیستی دی په خپله خوښه اعاره ورکونکي ته واپس کړي، نو اعاره پای ته ورسیده، برابره خبره ده که له مودې مخکې یې ورته ور واپس کړی وي او که وروسته.

---
۲۱۸:مخکینی مرجع۴ / ۵۰۶
۲۱۹: مخکینی مرجع۴ / ۵۰۶
۲۲۰: مخکینی مرجع.۴ / ۵۰۶
۲۲۱ :ابن عابدین۴ / ۵۰۶.
۲۲۲ :الشرح الکبیر۳ / ۴۳۳ صفحه.
۲۲۳ :ابن عابدین ۴ / ۵۰۶، والشرح الکبیر ۳ / ۴۳۳ صفحه.
۲۲٤ :فقه الاسلامي وادلته،للزحیلي،ج:۵.ص:۶۸۸.

**اووم مطلب: دعقد اعاري مقارنه دفقهي او مدني قانون ترمنځ!**

د اعارې په اړه اسلامي شريعت هم وايي چې داسې څه کې به وي چې قابل دانتفاع وي او اهليت يې بايد ولري، په همدې ډول مدني قانون هم وايي: (۱۴۵۶ماده: عاريت عبارت دی دعاريت ورکونکي دګټو له تسليمولو دتعهد څخه عاريت اخيستونکي ته، له عوض پرته ديوې ټاکلي مودې، يا ديوه ټاکلي غرض لپاره، په دې شرط چې استعمالولو وروسته، به يې بيرته ورکوي)[۲۲۵]

په همدې ډول فقهاؤ هم ويلي و چې دمنافعو ورکړه ده دموقت وخت لپاره او اساسي خبره پکې داده چې له عوض پرته او مفت دي، نو په دغه برخه کې مدني قانون او اسلامي شريعت سره ورته والی لري.

په همدې ډول مدني قانون په يو بل ځای کې وايي: (۱۴۵۷ماده: دعاريت دصحت شرط دادی چې په عاريت ورکړل شوی شی دګټې اخيستلو قابليت، دهغې دعين دبقاء سره ولري)[۲۲٦]

په همدې ډول موږ دفقهاؤ په نظرياتو کې ويلي وه، چې اعاره په هغه شيآنو کې ترسره کيږي چې هغه ددې قابليت ولري چې په اعاره کې ورکړل شي، مطلب مال متقوم به وي او مشروع شی به وي، په همدې ډول دا خبره مو هم کړې وه، چې په عاريت کې داخبره شرط ده چې هغه عين چې په اعاره ورکړل شوی دی دهغې عين بايد باقي پاتې شي او بيرته واپس ورکړل شي او داخبره دلته په مدني قانون کې هم واضح شوې ده، نوپه دغه برخه کې هم مطابقت سره لري، البته دتوافق نکتې يې ډيرې دي، نو په دې اساس موږ د اعارې په فقهي او قانوني اړخ کې کوم ټکر ونه ليده او دافغانستان مدني قانون په کامله مانا دلته دفقهي اړخ موافق تللی دی، نو په دې اساس دلته ددواړو ترمنځ تصادم او توپيرونه شتون نلري. والله اعلم.

---

۲۲۵ :مدني قانون،رسمي جريده،دريم ټوک.۲۶۹ صفحه.

۲۲٦ :مخکينی مرجع.

## دریم مبحث: د وقف عقد

لومړی مطلب: دوقف مفهوم او پېژندنه

دویم مطلب: دوقف مشروعیت

څلورم مطلب: د وقف ارکان

پنځم مطلب: دوقف شرائط:

شپږم مطلب: دوقف بنیادي او اساسي قواعد!

اووم مطلب: د وقف فسخ

اتم مطلب: د وقف مقارنه دفقهي او مدني قانون ترمنځ

### دریم مبحث: د وقف عقد

اوس دعقود المنافع یا دګټو دتړون په بحث کې دریم مهم جز وقف څېړو، دغه برخه هم اسلامي فقهاؤ په پراخه توګه څیړلې ده او په دیني لحاظ یکې له هماغه پیله عملي نمونې زموږ لپاره په خیرالقرون کې شتون لري او جواز یې دلمر څخه هم روښانه مسله ده، ددې لپاره چې په دغه اړوند مسله ښه پوه شو، نو په پیل کې وقف تعریفوو.

### لومړی مطلب: دوقف مفهوم او پېژندنه

#### لومړی فرع: د وقف لغوي معنی

وقف په لغت کې په ډیرو معناګانو سره راځي، لکه په قرات کې دکلیمې په قطع کولو معنا ورکوي، چې یو کلام له بل کلام څخه جلا کړي، البته فقهاء وایي: حبس العین علی ملک الواقف او علی ملک الله تعالی.[٢٢٧]

مطلب، یو جنس د واقف او یا دالله جل جلاله په ملکیت کې ور داخلول، د وقف په معنا سره راځي. په همدې ډول فتح القدیر کې راځي: (الْوَقْفُ لُغَةً هُوَ الْحَبْسُ تَقُولُ وَقَفْت الدَّابَّةَ وَأَوْقَفْتهَا).[٢٢٨]

وقف: په لغت کې حبس العین ته وایي، لکه یو څوک چې وایي، ما خپل حیوان دبل چا په ملکیت کې داخل کړ.

#### دوهمه فرع: دوقف اصطلاحي مفهوم:

په شرع کې: امام ابوحنیفه رحمه الله وایي: (حَبْسُ الْعَيْنِ عَلَى مِلْكِ الْوَاقِفِ وَالتَّصَدُّقُ بِالْمَنْفَعَةِ بِمَنْزِلَةِ الْعَارِيَّةِ).[٢٢٩]

ژباړه: مطلب یو عین دواقف(وقف کونکي)په ملک پسې بندول، خو دومره خبره ده چې ددغه عین منفعت به صدقه وي او دغه منفعت به دعاریت په منزلت باندې وي.

دصاحیبینو په نظر دوقف تعریف داسې دی:(حَبْسُ الْعَيْنِ عَلَى حُكْمِ مِلْكِ اللَّهِ تَعَالَى وَصَرْفُ مَنْفَعَتِهَا عَلَى مَنْ أَحَبَّ).[٢٣٠]

د یو عین بندول، دالله جل جلاله درضاء لپاره او دهغې منفعت هغه چاته ورګرځول چې واقف یې غواړي. دمالکیانو په نظر دوقف تعریف داسې دی: (إِعْطَاءُ مَنْفَعَةِ شَيْءٍ مُدَّةَ وَجُودِهِ لَازِمًا بَقَاؤُهُ فِي مِلْكِ مُعْطِيهِ وَلَوْ تَقْدِيرًا).[٢٣١]یو شي منفعت ورکول د یوې مودې لپاره، خو لازما، په داسې حال کې د ورکونکي په ملکیت کې دغه شی باقي پاتې شي، اګر که تقدیرا هم وي.

---

٢٢٧ :ابوحبیب: القاموس الفقهي لغة واصطلاحا، مؤلف: الدکتور سعدي أبو حبیب، ناشر: دار الفکر. دمشق - سوریة الطبعة: الثانیة ١٤٠٨ هـ = ١٩٨٨ م.ج:١.ص:٣٨٦.

٢٢٨ :ابن الهمام: فتح القدیر، مؤلف: کمال الدین محمد بن عبد الواحد السیواسي المعروف بابن الهمام (المتوفی: ٨٦١هـ( الناشر: دار الفکر عدد الأجزاء:١٠.ج:٦.ص:٢٠٣.

٢٢٩ :کتاب: فتح القدیر.ج:٦.ص:.٢٠٣

٢٣٠ :الدر المختار وحاشیة ابن عابدین علیه ٣ / ٣٥٧.

٢٣١ : علیش، محمد، سید خلیل. منح الجلیل شرح علی مختصر ، الناشر دار الفکر، سنة النشر ١٤٠٩هـ - ١٩٨٨م. مکان النشر بیروت،
عدد الأجزاء ٩.ج: ٤ / ٣٤.

په همدې ډول شوافع هم دوقف بيلابيل تعريفونه کوي، چې موږ يې دلته يو مهم تعريف ذکر کوو: (حَبْسُ مَالٍ يُمْكِنُ الانْتِفَاعُ بِهِ مَعَ بَقَاءِ عَيْنِهِ بِقَطْعِ التَّصَرُّفِ فِي رَقَبَتِهِ عَلَى مَصْرِفٍ مُبَاحٍ مَوْجُودٍ)[٢٣٢]

يو داسې مال بندول چې انتفاع ترې ممکن وي، سره ددې چې عين يې باقي وي، البته تصرف په اصل شي کې د وقف کونکي ختميږي او بيا پکې تصرف نشي کولای، خو وقف يې هم په مباح او مشروع ځای کې ترسره کړی وي.

په اسلامي فقهاؤ کې حنابله هم دوقف تعريف داسې کوي:

(حْبِيسُ مَالِكٍ مُطْلَقِ التَّصَرُّفِ مَالَهُ الْمُنْتَفَعَ بِهِ مَعَ بَقَاءِ عَيْنِهِ بِقَطْعِ تَصَرُّفِهِ وَغَيْرِهِ فِي رَقَبَتِهِ يُصْرَفُ رِيعُهُ إِلَى جِهَةِ بِرٍّ تَقَرُّبًا إِلَى اللَّهِ تَعَالَى).[٢٣٣]

مطلب: دمالک بنديدل دي دهر ډول تصرف نه، په هغه مال کې چې هغه منتفع به دی، په داسې حال کې چې عين يې باقي وي، خو تصرف پکې دده او دبل کس په وقف شوي مال کې نه وي، په دې شرط چې دغه وقف په داسې ځای کې مصرفيږي چې هغه دنيکۍ ځای وي، په دې خاطر چې دالله جل جلاله رضاء حاصله کړي.

البته دوقف راجح تعريف يې دادی چې:

حبس العين عن تمليكها لأحد من العباد والتصدق بالمنفعة على مصرف مباح . والعين إما أن تكون داراً أو بستاناً أو نقداً[٢٣٤]

يو عين دبل بنده دتمليک څخه بندول،او دهغې منفعت صدقه کول،په يو مباح ځای کې،دا عين به يا کور وي،يا به باغ وي،او يا هم نغدې پيسې.

**دوهم مطلب: دوقف مشروعيت**

**الف: دشريعت له نظره:**

جمهور فقهاء وايي چې وقف يو مشروع عمل دی او کله چې دی وقف ترسره کړ نو بيا لازم دی، خو دثواب په لحاظ مندوب دی، دا ځکه چې دابن عمر رضی الله عنهما حديث دی چې فرمايي: رَوَى ابْنُ عَمَرَ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُمَا قَالَ: (أَصَابَ عُمَرُ أَرْضًا بِخَيْبَرَ، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَأْمِرُهُ فِيهَا فَقَالَ: يَا رَسُول اللَّهِ، إِنِّي أَصَبْتُ أَرْضًا بِخَيْبَرَ لَمْ أُصِبْ مَالاً قَطُّ أَنْفَسَ عِنْدِي مِنْهُ، فَمَا تَأْمُرُ بِهِ؟ قَال: إِنْ شِئْتَ حَبَسْتَ أَصْلَهَا وَتَصَدَّقْتَ بِهَا. قَال: فَتَصَدَّقَ بِهَا عُمَرُ أَنَّهُ لاَ يُبَاعُ وَلاَ يُوهَبُ وَلاَ يُورَثُ، وَتَصَدَّقَ بَهَا فِي الْفُقَرَاءِ وَفِي الْقُرْبَى وَفِي الرِّقَابِ وَفِي سَبِيل اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيل وَالضَّيفِ، وَلاَ جُنَاحَ عَلَى مَنْ وَلِيَهَا أَنْ يَأْكُل مِنْهَا بِالْمَعْرُوفِ وَيَطْعَمَ غَيْرَ مُتَمَوِّلٍ، وَفِي لَفْظٍ: غَيْرَ مُتَأَثِّلٍ مَالاً)[٢٣٥]

ژباړه: دعبدالله بن عمررضی الله عنه نه روايت دي داواېي: کله چې عمر رضی الله عنه ته دخيبرځمکه په لاس ورغله نورسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغي چې دخيبردځمکي اړوند ورسره مشوره وکړي، عمرفاروق ررضی الله عنه ورته وويل: ای دالله رسول صلی الله عليه

٢٣٢ : الشربيني، محمد الخطيب ، مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج، الناشر دار الفكر، مكان النشر بيروت، عدد الأجزاء ٤. ج:٢. /ص: ٣٧٦.

٢٣٣: شرح منتهى الإرادات المسمى دقائق أولي النهى لشرح المنتهى.ليكوال: منصور بن يونس بن إدريس البهوتي. ناشر :عالم الكتب. سنة النشر ١٩٩٦، مكان النشر بيروت. عدد الأجزاء ٣.ج:٢.ص:٤٨٩.

٢٣٤ منح الجليل شرح على مختصر،ج:٤،ص:٣٥.

٢٣٥ :بخاري: الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه،مؤلف: محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، محقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، ناشر: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤاد عبد الباقي، الطبعة: الأولى، ١٤٢٢هـ، عدد الأجزاء: ٩ج:٣.ص:١٩٨.

وسلم ما ته دخیبرځمکه په لاس راغلي چې ډېره دلوړقیمت ځمکه ده ماته څه امر کوي؟رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: یوڅه له ځان سره وساته اونوره صدقه کړه، عمررضی الله هغه صدقه کړه او په ډاګه بې وویل: چې نوموړی ځمکه به نه پلورل کیږي، نه به هبه کیږي اونه به په میراث وړل کیږي، عمرفاروق رضی الله عنه یاده ځمکه په مسکینانو، مسافرو، خپلوانو، غلامانو، مجاهدینو اومیلمانو باندې تقسیم کړه.

له دغه حدیث څخه په واضح ډول معلومیږي چې داسلام دوهم خلیفه عمر فاروق رضی الله عنه خپله هغه ځمکه چې په خیبر کې یې درلوده فقراء او مسکینانو ته وقف کړې وه، هغه بې بهترین مال وه، پیغمبر صلی الله علیه وسلم هم ورته وایي چې اصل دځمکې له ځان سره وساته اومنافع یې صدقه کړه، نو بیا عمر رضی الله عنه همدغسې وکړل او وې ویل: دغه ځمکه به نه خرڅیږي، نه به هبة کیږي، نه به په میراث وړل کیږي، بلکې هغه به په فقیرانو او مسکینانو باندې صدقه کیږي.

نو دلته په واضح ډول عمر فاروق رضی الله عنه خپله ځمکه وقف کړې ده.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثَةٍ إِلَّا مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ)[٢٣٦]

ژباړه: له ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: کله چې یو انسان مړ شي، له ده څخه یې ټول اعمال قطع کیږي، البته درې شیانو ثواب او بدله لاهم ورسیږي، یو جاري صدقه، بل داسې علم چې خلکو ته یې ږې ښونه کړي وي او دریم نیک او صالح اولاد.

ډیری علماء ددغه حدیث په تشریح کې وایي چې له جاري صدقې څخه موخه وقف دی، دوقف په مشروعیت باندې نور دلایل هم په نبوي سنتو کې شته خو موږ یې دبحث د اوږدوالي له امله په همدې اکتفاء کو. د وقف په مشروعیت باندې له صحابه کرامو څخه هم اجماع ثابته ده او چا یکې مخالفت ندی کړی.[٢٣٧]ابن عابدین الشامي[٢٣٨]په خپل کتاب(الدر المختار وحاشیة ابن عابدین)کې، له اسعاف څخه روایت کوي، چې زموږ دحنفي علماؤ په نزد وقف جایز دی، البته دومره خبره ده چې امام ابو حنیفه رحمه الله به څخه روایت شوی دی چې وقف جایز ندی، نو یو شمیر خلکو ددې قول په ظاهر پسې اقتداء کړې ده او ویلي یې دي چې دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزد وقف جایز ندی، خو صحیح خبره داده چې د امام صیب په نزد وقف جایز دی په همدې ډول دهغه دملګرو او ټولو حنفي علماؤ په نزد وقف جایز دی، البته اختلاف یې په لزوم او عدم لزوم کې دی، نو دامام صیب رحمه الله په نزد جایز دی، خو په داسې بڼه چې اصلا د اعارې په

---

٢٣٦ :مسلم : صحيح مسلم، المؤلف: مسلم بن الحجاج أبو الحسين القشيري النيسابوري، الناشر : دار إحياء التراث العربي – بيروت.ج:٥.ص:٧٥.
تحقيق : محمد فؤاد عبد الباقي.

٢٣٧ :ابن قدامه : المغني في فقه الإمام أحمد بن حنبل الشيباني، المؤلف : عبد الله بن أحمد بن قدامة المقدسي أبو محمد، الناشر : دار الفكر - بيروت
الطبعة الأولى، ١٤٠٥، عدد الأجزاء : ١٠.ج:٥.ص:٥٥٩.

٢٣٨ محمد بن عمر بن عبدالعزیز کنیه یی عابدین، مسلک د شام مشهور فقیه دی تولد یی په شام دمشق کې شوی مشهور تآلیفات یی دا دی:
1. ردالمختار علی الدر المختار- خمس مجلات.
2. رفع الانظار عما اورده الحلبی علی الدرر المختار.
3. العقود الدریه فی تنقیح الفتاوی الحامدیه.
نوموړی په ١٢٥٢ کال کې و فات شوی.

بنه دی، خو بیا یې منفعت دوقف اړخ ته ورګرځي، سره ددې چې عین به یې د واقف په ملک کې باقي وي، خو که چیرته یې دڅوند په دوران کې ترې رجوع وکړ، نو دا رجوع جایز ده خو له کراهت سره او دغه وقف شوی شی، له ده څخه په میراث وړل کیږي.[239]

**د وقف تکلیفي حکم**

اصل په وقف کې دادی چې دثواب په برخه کې وقف مندوب الیها دی، خو البته کله کله په یو شمیر حالاتو کې وقف فرض او واجب ګرځي، هغه وخت چې په ځان یې نظر کړي، لکه یو سړی ووایي: که چیرته زما ځوی راغی، نو په ما لازم ده چې دغه کور وقف کړم په لارویانو باندې، نو دغه مهال وقف فرض ګرځي.[240]

یو مهال وقف مباح هم ګرځي، هغه وخت چې کله دواقف نیت دثواب نه وي، نو همدغه لامل دی چې له ذمي څخه صحیح کیږي، خو ثواب ورته نشته، البته که چیرته مسلمان دغه ډول کار وکړ، نو بیا دمسلمان لپاره ثواب شته دی.[241]

کله داسې مهال راځي چې هلته وقف حرام ګرځي، لکه یو مسلمان چې دیو معصیت لپاره وقف وکړي، لکه دیهودانو دعبادتګاه لپاره ځمکه وقف کړي او یا ددې په څیر نور هم مثله کارونه وکړي، نو دغه مهال دغه وقف حرام دی.[242]

نو په غوڅه توګه ویلای شو چې دمسلمانو فقهاو له نظره وقف یو مشروع عمل دی، دوقف په مشروعیت باندې فقهاء متفق دي، ډیری نبوي حدیثونه هم شتون لري چې ددغه کار په جواز باندې قایل دي.

**ب: دقانون له نظره:**

د افغانستان په مدني قانون کې هم دوقف په تړاو تفصیلي بحث شتون لري چې دغه برخه یې په واضح او مکمل ډول څیړلې ده، ددغه قانون په (۳۵۵)ماده کې دوقف دمشروعیت په تړاو راځي: (د خیر په امورو او چارو کې وقف هغه مهال جواز لري چې داسلام سپیڅلي دین او ملي منافعو له نظره دخیر کارو ګڼل شي[243]

دلته دافغانستان مدني قانون ۳۵۵ ماده د وقف په جواز باندې په صراحت سره حکم کوي چې دا یو مشروع عمل دی چې په ټولو هغه کارونو کې وقف کول جایز دي چې په دیني او ملي برخو کې یې خلکو ته خیر او ګټه ورسیږي، نو په دغه اساس وقف دمدني قانون له نظره هم یو مشروع او جایز عمل دی او ترسره کول یې کوم مشکل نلري.

په همدې ډول دافغانستان مدني قانون په (۳۵۲)ماده کې یو بل وضاحت هم ورکوي چې وایي: (۳۵۲ماده که دوقف سند په داسې تصرف چې قانونا منع یا باطل وي، مشتمل وي، یآ وقف کوونکی قانوني اهلیت ونلري، داسنادو دثبت اداره به په داسې مواردو کې دهغې ثبت کولو ته اقدام نه کوي).[244]

ددغه مادې څخه هم دا معلومیږي چې وقف په مشروع او جائز ځایونو کې درست دی او که چیرته داسې ځایونه وي چې قانونا منع وي، هلته بیا دوقف کول درست او جایز ندي.

---

۲۳۹ :الدر المختار وحاشیة ابن عابدین ۳ / ۳۵۸
۲۴۰ :حاشیة ابن عابدین۳ / ۳۵۸،۳۵۹ .
۲۴۱ :ابن عابدین ۳ / ۳۵۸،۳۵۹.
۲۴۲ :مخکینی مرجع.
۲۴۳ :مدني قانون،ج:۱.ص:۱۱۴.
۲۴۴ :مدني قانون،ص:۱۱۳.ج:۱.

نو په دې اساس ویلای شو چې وقف مشروع او جایز عمل دی چې شریعت او مدني قانون دواړه یې په جواز قایل دي او وقف یو مشروع او جایز عمل بولي.
همدلته دوقف دمشروعیت بحث پای ته رسوو، چې موږ دشریعت اوقانون له نظره وڅیړله، اوس دوقف په تړاو په نور بحثونو تم کیږو.

**څلورم مطلب: د وقف ارکان**

مالکیان، شوافع، حنابله او جمهور فقهاء وایي: د وقف ارکان څلور دي:

(١): (الصِّیغَةُ).

(٢): (الْوَاقِفُ).

(٣): (مَوْقُوفُ عَلَیْهِ).

(۴): (مَوْقُوفُ).[٢٤٥]

احناف وایي: دوقف رکن یو دی چې عبارت دی له(صیغې)څخه.[٢٤٦]

بشپړ تفصیل یې په لاندې ډول دی:

**اول رکن: صیغه ده،** فقهاء په دې یوه خوله دي چې وقف له ایجاب پرته نه منعقد کیږي د وقف په برخه کې دایجاب صیغه داده چې داسې الفاظ باید وي چې دواقف په اراده باندې دلالت کوي، یا داسې څه وي چې ددې قایم مقام وي، لکه مفهمه اشاره، یا لیکنه او یا هم فعل دغه لفظ بیا صریح او کنایي دواړو ته تقسیمیږي، نو بیا په دغه برخه کې فقها مختلف دي چې کوم صریح الفاظ معتبر دي او کوم کنایي الفاظ معتبر دي.کوم الفاظ صریح دي او کوم کنایي مالکیان، شوافع، او حنابله وایي: د (وَقَفْتُ) لفظ دوقف له صریحو الفاظو څخه شمیرل کیږي، البته له دوی سره په دغه برخه کې زموږ له مذهب څخه امام ابو یوسف رحمه الله هم ملګری دی په همدې ډول(حَبَسْتُ) دحنابله په نزد صریح دی، په همدې ډول دمالکیانو په اړه هم دا مشهوره ده چې دوی هم همدغه لفظ صریح بولي په همدې ډول دایمه ثلاثه دټولو په باور د (سَبَلْتُ)لفظ هم په دغه برخه کې صریح دی.[٢٤٧]

نو که دغه درې الفاظ چیرته واقف استعمال کړل او نور څه یې ورسره اضافه نکړل، نو دا ټول وقف بلل کیږي، ځکه عرف کې خلک دغه الفاظ دوقف لپاره استعمالوي.[٢٤٨]

په همدې ډول په کنایي الفاظو کې د جمهورو علماؤ په نزد: لفظ د (تَصَدَّقْتُ)(حَرَّمْتُ وَأَبَّدْتُ) دا ټول په وقف کې کنایي الفاظ بلل کیږي.[٢٤٩]

هغه الفاظ چې په وقف دلالت کوي داحنافوله انده:

**د وقف الفاظ د احنافو له نظره**

د احنافو له نظره دوقف یو شمیر خاص الفاظ دي چې په وقف باندې دلالت کوي، تقریبا چې دغه الفاظ(٢۶) ته رسیږي، موږ یې دلته په هغه بڼه راوړو په کومه بڼه چې بحرالرائق راوړي دي:
(د وقف ارکان یو شمیر خاص الفاظ دي دي چې هغه تقریبا شپږ ویشتو ته رسیږي:

---

٢٤٥ :حاشیة الدسوقي على الشرح الکبیر.۴ / ٧٩.

٢٤٦ :الدر المختار وحاشیة ابن عابدین علیه ج:٣.ص:٣۵٩.

٢٤٧: شرح منتهى الإرادات ج:٢.ص:۴٩٠.

٢٤٨ :مخکینی مرجع.

٢٤٩ :صاوی: بلغة السالك لأقرب المسالك المعروف بحاشیة الصاوي على الشرح الصغیر (الشرح الصغیر هو شرح الشیخ الدردیر لکتابه المسمى أقرب المسالك لِمَذْهَبِ الْإِمَامِ مَالِكٍ. المؤلف: أبو العباس أحمد بن محمد الخلوتي، الشهیر بالصاوي المالکي (المتوفى: ١٢۴١هـ، الناشر: دار المعارف.ج:٢.ص:٢٩٩.

(۱): ارضي هذه صدقة موقوفة مؤبدة على المساكين.مطلب زما دا ځمکه چې ده دا دې دتل لپاره مسکینانو لپاره صدقه وي، نو دا لفظ اتفاقا په وقف باندې دلالت کوي او دوقف له ارکانو څخه شمیرل کیږي.

(۲): صدقة موقوفة.مطلب وقفي صدقه، نو دهلال؛[۲۵۰]امام ابو یوسف[۲۵۱]او یو شمیر نورو علماؤ په اند دا وقف درست دی او وقف شمیرل کیږي، ځکه دلته یې دصدقې لفظ ذکر کړی دی، دمصرف ځای یې هم معلوم شو، البته کله یې چې دا قول ورسره ووایه، (موقوفة)نو په دې سره ترې دنذر احتمال منتفي شو.

(۳): (حَبْسُ صَدَقَةٍ)صدقه بندول.

(۴): (صَدَقَةٌ مُحَرَّمَةٌ) مطلب: دا هم ددوهم ډول لفظ په څیر دی.

(۵): (مَوْقُوفَةٌ فَقَطْ) مطلب چې یوازې ووایي موقوفة نو دا لفظ یوازې دامام ابویوسف رحمه الله په نزد صحیح کیږي، ځکه یوازې په دې لفظ سره په فقیرانو پسې وقف ګرځي، نو کله چې بې دمصرف ځای خاص شو(یانې فقراء پسې خاص شو)نو په دغه حالت کې موبد والی لازم شو، ځکه جهت دفقراؤ پسې موبد شو، نو دهغوی نه پرته بل چاته بیا نه شي ورکول کیدلای، صدر الشهید او دبلخ مشایخ دامام ابویوسف رحمه الله په قول فتوی ورکوي او موږ هم دنوموړي په قول فتوه ورکو، ځکه عرف په همدې باندې بناء دی.

نو امام ابو یوسف رحمه الله وایي ځکه صحیح کیږي چې لکه عرف کې مطلق دوقف خبره راشي نو هلته ترې فقیران موخه وي، نو ځکه درست دی، خو هلال رحمه الله وایي: یوازې په دې لفظ سره نه صحیح کیږي، ځکه چې دلته لفظ دوقف ددې احتمال لري چې ممکن کیدای شي، غنیانو ته وقف وي او یا هم امکان لري چې فقیرانو ته وقف وي.خو کله چې مسله دعرف راځي، نو دغه مهال بیا خپله تخصیص یوازې په فقراء پسې راځي، ځکه چې په عرف کې چې کله د وقف خبره وشي، نو موخه ترې یوازې فقیران وي نو په دې اساس دهلال رحمه الله قول باطل شو او فتوی دامام ابویوسف رحمه الله په قول شوه.

(۶): (مَوْقُوفَةٌ على الْفُقَرَاءِ) په دې الفاظو سره وقف صحیح کیږي، ځکه دلته هغه احتمال زایل شو چې دغه الفاظ په وقف کې غنیانو ته هم شاملیږي، دا ځکه چې دلته په فقراو تنصیص او صراحت وشو، نو دهلال رحمه الله په نزد هم په دې الفاظو سره وقف درست شو، ځکه چې هغه احتمال له منځه ولاړ.

(۷): (مَحْبُوسَةٌ) دی.

(۸): (حَبْسٌ) په دې دواړو الفاظو سره باطل دی، ولو که عرف هم پرې بناء وي.

(۹): (هِيَ لِلسَّبِيلِ) که چیرته یې په دې سره موخه دا وه چې دفقیرانو لپاره وقف موبد وکړي، نو بیا خو مشکل نشته او دده دا موخه ښکاره هم وه، خو که چیرته یې موخه ښکاره نه وه نو دده څخه به په دې اړه پوښتنه وکړی شي، که چیرته یې وویل چې زما موخه ترې وقف دی نو بیا به وقف شمیرل کیږي، ځکه دوقف دلفظ احتمال پکې شته، خو که چیرته یې وویل چې زما موخه ترې صدقه ده، نو بیا به نذر شمیرل کیږي، نو هغه به بیا صدقه کوي او یا به دهغې قیمت

---

۲۵۰ هلال: دده بشپړنوم: هلال بن يحيى بن مسلم البصري دي،نوموړی داحنافوله سترو فقهاوو څخه دي،یاد فقیه داوچت علم او قیاس ته دزیات میلان په اساس په الرآی مشهور وو،نوموړی فقیه ډیر آثارلري چې دهغې له جملې څخه الشروط اواحکام الوقف څخه عبارت دي.الاعلام للزرکلي،ج:۸،ص:۹۲.

۲۵۱ : ابو یوسف يعقوب بن إبراهيم بن حبيب الأنصاري الكوفي البغدادي نوموړی په ۱۱۳هـ په کوفه کې زیږېدلی او په ۱۸۲هـ د هارون الرشید په د خلافت پر مهال بغداد کې وفات شوی دی، نوموړی ستر امام، فقیه، محدّث او د وخت قاضی القضاة وو، د غوره کتابونو لیکوال دی: الأعلام للزركلي (۸/ ۱۹۳)، سیرأعلام النبلاء: ۷/ ۴۶۹.

او ثمن صدقه کوي، خو که دهیڅ شي نیت یې نه وه، نو بیا میراث ګرځي، همداسې یې په نوازل کې ذکر کړې ده.
(١٠): (جَعَلْتهَا لِلْفُقَرَاءِ)که چیرته دا الفاظ په عرف کې دوقف لپاره معروف ؤ، نو عمل به پرې کیږي، خو که داسې نه ؤ، نو پوښتنه به ترې کیږي، که چیرته موخه یې ترې وقف ؤ، نو بیا خو مسله حل ده، خو که چیرته یې موخه ترې صدقه وه نو بیا نذر شمیرل کیږي، خو دا هغه مهال چې کله یې نیت نه وي، ځکه د(جَعَلْتهَا لِلْفُقَرَاءِ)ادنی مرتبه نذر دی، نو ځکه دنیت دنه شتون پرمهال نذر شمیرل کیږي.
(١١): (مُحَرَّمَةٌ).
(١٢): (وَقْفٌ) نو دا لفظ دوقف لپاره درست او صحیح دی، ځکه داهل الحجاز په نزد مشهور دی.
(١٣): (حَبْسٌ مَوْقُوفَةٌ)دا هم دموقوفة لفظ په څیر حکم لري.
(١٤): (جَعَلْتُ نُزُلَ كَرْمِي وَقْفًا)په دې سره هم وقف صحیح کیږي.
(١٥): (جَعَلْتُ غَلَّتَهُ وَقْفًا)په دې سره هم وقف صحیح کیږي.
(١٦): (مَوْقُوفَةٌ لِلَّهِ)دا دصدقې په منزلت دی.البته دا قول په فتح القدير کې دی.خو په بزازیه کې راغلي چې دا وقف صحیح کیږي.
(١٧): (صَدَقَةٌ فَقَطْ)نو دا صدقه شمیرل کیږي، خو که چیرته یې صدقه نکړ او مړ شو، نو دا میراث بلل کیږي، دغه ډول په خصاف کې راغلي دي.
(١٨): (هذه مَوْقُوفَةٌ على وَجْهِ الْخَيْرِ أو على وجة الْبِرِّ)نو دا هم یوازې په فقراو باندې وقف شو.
(١٩): (صَدَقَةٌ مَوْقُوفَةٌ في الْحَجِّ عَنِّي وَالْعُمْرَةُ عَنِّي)نو دلته هم وقف درستیږي، خو که چیرته یې عني لفظ ورسره ونه وایه، نو بیا وقف نه صحیح کیږي.
(٢٠): (صَدَقَةٌ لَا تُبَاعُ) دغه مهال به دا نذر شمیرل کیږي وقف ندی، خو که چیرته داسې ورسره اضافه کړي(وَلَا تُوهَبُ وَلَا تُورَثُ)نو بیا دغه مهال وقف ګرځي په مسکینانو باندې.
(٢١): (اشْتَرُوا من غَلَّةِ دَارِي هذه كُلَّ شَهْرٍ بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ خُبْزًا وَفَرِّقُوهُ على الْمَسَاكِينِ)نو دا کور دلته وقف ګرځي.
(٢٢): (هذه بَعْدَ وَفَاتِي صَدَقَةٌ)نو دغه مهال به دا جنس بعینه صدقه کیږي، یا به پلورل کیږي او ثمن به یې صدقه کیږي.
(٢٣): (أَوْصَى أَنْ يُوقَفَ ثُلُثُ مَالِهِ)نو دغه مهال دامام ابویوسف رحمه الله په اند وقف درست دی او فقراؤ ته ورکول کیږي، خو طرفینو په اند جایز ندی.
(٢٤): (هذا الدُّكَّانُ موقوفة (موقوف) بَعْدَ مَوْتِي)خو په داسې حال کې چې دا خبره مطلقا وکړي، خو تعین ونکړي، نو دا مهال وقف نه درستیږي.
(٢٥): (دَارِي هذه مُسَبَّلَةٌ إلَى الْمَسْجِدِ بَعْدَ مَوْتِي)که چیرته ثلث مال نه زیات نه وه نو وقف پکې درست دی او که چیرته دثلث مال نه زیات وه نو بیا نه صحیح کیږي.
(٢٦): (جَعَلْتُ حُجْرَتِي لِدُهْنِ سِرَاجِ الْمَسْجِدِ)خو په دغه الفاظو یې زیادت ونکړ، نو دغه مهال حجره دمسجد لپاره وقف شمیرل کیږي).[٢٥٢]

---

٢٥٢ابن نجیم :البحر الرائق شرح كنز الدقائق، زين الدين ابن نجيم الحنفي، سنة الولادة ٩٢٦هـ/ سنة الوفاة ٩٧٠هـ، الناشر دار المعرفة، مكان النشر بيروت.ج:٥.ص:٢٠٥/٢٠٦.

**دوهم رکن واقف** د واقف په اړه هم يو شمير خاص شرائط شتون لري چې هغه بايد پکې شتون ولري:
اول: واقف به دتبرع اهل وي، ځکه وقف دتبرعاتو له جملې شميرل کيږي، نو له دې امله پکې دا شرط اړين دی[253]
بيا د تبرع اهليت فقهاء په لاندې ډول تفسيروي:
۱-واقف به مکلف وي، مطلب چې هغه به عاقل او بالغ وي، نو همدغه لامل دی چې له ماشوم او ليوني څخه وقف نه درستيږي، ځکه وقف دهغه تصرفاتو له جملې څخه دی چې ملکيت له عوض پرته زايلوي، نو همدغه لامل دی چې ماشوم او ليونی ددغه ډول تصرفاتو مالک کيدلا ی نشي.[254]
۲– واقف به ازاد انسان وي، نو وقف له غلام څخه نه صحيح کيږي، ځکه وقف دملکيت ازاله ده او غلام دملکيت اهل ندی.[255]
۳– داختيار او واک خاوند به وي، نو په دې اساس دمکره(هغه کس چې د زور، يا فشار په واسطه مطلوب کارته اړويستل شوی وي) انسان وقف درست ندی.[256]
٤– واقف به داسې کس نه وي چې دافلاس او يا هم کمعقلی له امله محجور(منع) کړی شوی وي، ځکه وقف د تبرعاتو له جملې څخه دی او محجور انسان دتبرع اهل ندی او دغه مسله دټولو په اتفاق همدغسې ده.[257]
**دريم رکن موقوف عليه:** دا يو داسې جهت دی چې موقوف ته هم ګټه رسوي، برابره خبره ده که دا معين جهت وي او که غير معين جهت وي، لکه فقراء او مسکينان.په دې اړخ کې هم لاندې مهم شرائط شتون لري:
**لومړی شرط:** موقوف عليه به داسې ځای وي، چې نيکي او ثواب به پکې شتون ولري.نو په دې اساس دا اړينه ده چې موقوف عليه به د نيکۍ او قربت مکان وي، برابره خبره ده که موقوف عليه مسلمان وي او که ذمي، ځکه ذمي هم دثواب ځای کيدلای شي، همدغه لامل دی چې په هغه باندې صدقه کول جائز دي.[258] په همدې ډول يو روايت داسې هم شتون لري چې صفية بنت حيی، ام المومنين دخپل يهودي ورور لپاره وقف کړی.[259]
البته له مالکيانو او شوافعو څخه يو اصح روايت داسی دی چې، دا پکې شرط نده چې موقوف عليه دې دقربت جهت وي، ددوئ دليل: ځکه وقف په خپل ذات کې قربت او ثواب دی، نو همدغه لامل دی چې ددوئ په اند په اغنياؤ هم وقف هم جائز دی، البته موږ (احناف)بيا په دغه باور نه يو، ځکه زموږ په اند په اغنياؤ وقف جائز ندی، ځکه زموږ په اند دلته ثواب نه حاصليږي، په همدې ډول يو شمير حنابله هم په دغه باور دي چې وقف په اغنياؤ جائز ندی، البته له شوافعو هم يو بل راويت شته دی چې هغه داصح په مقابل کې دی، چې هغوی هم په

---

۲۵۳ : البدائع ۶ / ۲۱۹، وحاشية ابن عابدين ۳ / ۳۵۹.
۲٥٤ :البدائع ج:۶.ص:۲۱۹
۲٥٥ :مخکينی مرجع.
۲٥٦ :الشرح الکبير مع حاشية الدسوقي ج:۴.ص:۷۷.
۲٥۷ :حاشية ابن عابدين۳/ ۳۵۹.
۲٥۸ :الدر المختار وحاشية ابن عابدين ج:۳.ص:۳۶۰.
۲٥۹ :المغني ج:۵.ص:۶۴۴.

اغنیاؤ دوقف په مشروعیت قایل ندي، ځکه دوی وایي چې په دې کې شرط داده چې په دې کې به ثواب متحقق کیږي[٢٦٠]

**دوهم شرط:** موقوف علیه به داسې څه وي چې ملکیت پې صحیح کیږي، مطلب دا چې دتملیک اهل به وي، حقیقتا، لکه فقراء او داسې نور، یا به حکما د تملیک اهل وي لکه مسجد، د جهاد اله او داسې نور.....[٢٦١]

البته له دې پرته نور ډیر شرائط هم شتون لري، چې یو شمیر فقهاء یې اړین بولي، خو موږ دبحث داوږدیدو له امله ترې تیریږو.

**څلورم رکن الْمَوْقُوفُ**

موقوف یعنی هغه څه چې وقف یې جائز دی او هغه څه چې وقف یې نا جائز دی!

په دې اړه فقهاؤ کوم معلوم تعریف ندی کړی، چې کوم څه وقف کول جائز دي او کوم څه وقف کول ناجائز دي، البته زموږ په حنفي مسلک په دې اړه چې کوم څه راغلي دي هغه په دې ډول دي: (بِأَنَّهُ الْمَال الْمُتَقَوَّمُ بِشَرْطِ أَنْ يَكُونَ عَقَارًا أَوْ مَنْقُولاً، فِيهِ تَعَامُلٌ، أَوْ هُوَ مَا لاَ يُنْقَل وَلاَ يُحَوَّل كَالْعَقَارِ وَنَحْوِهِ، فَلاَ يَجُوزُ وَقْفُ).[٢٦٢]

هغه مال متقوم، په دې شرط چې هغه به عقار، منقول، هغه چې تعامل پکې وي، هغه څه چې غیر منقول وي او وړل کیږي نه، لکه ځمکه او داسې نور، نو وقف جائز ندی.

د مالکیانو له انده: هغه څه چې ته یې دذات او یا هم منفعت مالک کیدلای شي.[٢٦٣]

شوافع وایي: هغه عین چې معین وي، نقلول به قبلوي، په داسې حال کې چې فائده ترې اخیستل کیږي او عین یې هم باقي پاتې وي، یا داسې منفعت چې اجورة یې اخیستلی شي.[٢٦٤]

حنابله وایي: هغه عین دی چې پلورل یې صحیح کیږي، خلک ترې عرف کې نفع اخیستلای شي، په داسې حال کې چې عین بې باقي پاتې کیږي.[٢٦٥]

البته هغه اصل چې ټول فقهاء پکې مشترک دي، هغه دادی چې دا به داسې عین وي چې سړی یې مالک کیدلای شي، انتفاع به ترې په داسې حال کې اخیستل کیدای شي چې چې عین به یې په خپل حالت باقي پاتې کیږي.

همدلته موږ هم دغه بحث پای ته رسو، ځکه که نور په دغه برخه کې تم کیږو، خبره راځخه اوږدیږي.

**پنځم مطلب: دوقف شرائط:**

دوقف په شرائطو کې یو شمیر یې داسې دي چې واقف(هغه چې مال وقف کوي)ته راجع دي، یوشمیر نور یې بیا داسې دي چې نفس وقف ته راجع دي او نور یې بیا موقوف ته راجع دي.

هغه شرائط چې واقف ته راجع دي هغه یې بیا خپل انواع لري، چې دهغې له جملې یې:

---

٢٦٠ : ابن عابدين، رد المحتار على الدر المختار، دار الفكر بيروت، الطبعة: الثانية، - ١٤١٢ ه - ١٩٩٢ م ، حاشية ابن عابدين ج:۴.ص:٧٧ ومغني المحتاج ج:٢ص:٣٨١.

٢٦١ :مغني المحتاج ج:٢ص:٣٧٩.

٢٦٢ :حاشية ابن عابدين ٣ / ٣٥٩ والبدائع۶/ ٢٢٠

٢٦٣ : صاوي، أبو العباس أحمد بن محمد الخلوتي، الشهير بالصاوي المالكي، بلغة السالك لأقرب المسالك المعروف بحاشية الصاوي على الشرح الصغير (الشرح الصغير هو شرح الشيخ الدردير لكتابه المسمى أقرب المسالك لِمَذْهَبِ الْإِمَامِ مَالِكٍ. (المتوفى: ١٢۴١هـ، الناشر: دار المعارف. ج:٢.ص:٢٩٨.

٢٦٤ :مغني المحتاج ج:٢.ص:٣٧٧.

٢٦٥ :شرح منتهى الإرادات ج:٢.ص:۴٩١.

**الف- د واقف شرایط**

(۱): عقل دی.

(۲): بلوغ هم دوقف له مهمو شرائطو شمیرل کیږي، نو په دې اساس وقف له ماشوم او لیوني څخه درست نه دی، ځکه وقف دهغه تصرفاتو له جملې څخه دی چې ظاهرا دانسان په ضرر تامیږي، ځکه د وقف په حالت کې یو انسان له عوض پرته په خپل جنس باندې ملکیت له لاسه ورکوي او ماشوم او لیونی خو دضرري تصرفاتو اهل ندي، نو همدغه لامل دی چې له دغه دواړو څخه هبة، صدقه، اعتاق او یو شمیر نور هم مثل شیان له دوی څخه نه صحیح کیږي.[۲٦٦]

(۳): حریت او ازادي دا هم دوقف له شرائطو شمیرل کیږي، غلام دوقف مالک کیدلي نشي ځکه دا په وقف کې ازاله دملکیت ده اوغلام دملکیت اهل ندی، په هرحال که غلام ماذون اویا محجور وي په دواړوحالتونوکي دوقف اهل ندي ځکه دا دتجارت له برخې څخه ندي اونه د ضروراتوله تجارت څخه دي، نوځکه ماذون غلام هې هم نشي مالک کیدلی لکه څه ډول چې دصدقي، هبې اواعتاق مالک کیدلي نشي.

(۴): داموقوف شی به دواقف له لاسه وځي اوپه روغ ډول به هې موقوف ته تسلیموي البته دانظر دطرفینودی اوامام ابویوسف رحمه الله په باور دا شرط ندی.

دطرفینودلیل دغه دی چې دوقف مفهوم دادی چې واقف مال دخپل ملکیت څخه وباسي دصدقي په طریقه نوپه دې اساس له تسلیم پرته نه صحیح کیږي.

**په و قف کې د عین تسلیمولو کیفیت**

دطرفینو په اند تسلیمول دادي چې واقف دغه جنس حاضر کړي او موقوف ته يې په ښه شکل وسپاري، البته په مسجد کې دوقف دتسلیمولو مفهوم دادی چې په هغې کې جماعت، اذان او اقامت دده په اذن او اجازه ترسره شي.[۲٦۷]

**ب- د موقوف شرایط**

**لومړی** وقف به په غیر منقول(نه انتقالیدونکو) شیانو کې وي، دبیلګې په ډول لکه ځمکه او داسې نور، نو په دې اساس دمنقول(هغه شی چې لیږدول کیږي)شي وقف درست ندی، ځکه موږ مخکې ذکر کړل چې په وقف کې تابید او دوام اړین دی او دغه خبره دوقف دجواز په شرائطو کې ده، نو په دې اساس دغه شرط په منقولي توکو کې نه متحقق کیږي، ځکه منقولي توکي ژر هلاکیدونکي دي، نو په دې اساس هې وقف جائز ندی، البته دومره خبره ده که چیرته داسې شیان چې دځمکې تابع وي، لکه غوایان، غلامان، نو بیا يې وقف جایز دی چې په همدې باندې امام ابویوسف رحمه الله هم تصریح کړې ده.

نو د دغه منقولي شیانو وقف کولو جواز تبعا ورکړل شوی دی، نو دا په دې دلیل نشي کیدای چې دا دې باالذات وقف شي، لکه داوبو نوبت، یا ویاله او یا هم لاره پلورل، دا جلا پلورل جایز ندي، بلکي تبعا يې دځمکې سره پلورل جائز دي، البته دومره خبره ده که چیرته، یو ځای کې عرف دا وه چې څوک منقولي شیان وقف کوي، مثلا، یوه کتوه څوک داوبو دګرمولو لپاره وقف کوي، په همدې ډول کالي، یا هم دمړي وړلو کټ او داسې نور شیان بیا پروا نکوي او وقف کولای يې شي.

---

۲٦٦ :بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع.ج:۶.ص:۲۱۹.

۲٦۷ :بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع.ج:۶.ص:۲۲۰/۲۱۹.

که چیرته یې ولاړې ونې وقف کړې، نو قیاس خو دا وایي چې ددې وقف کول جایز نشي، ځکه دا وقف دمنقولي شیانو دی، خو البته استحسان وایي چې ددې وقف کول جائز شي، ځکه خلک په دغه برخه کې تعامل لري، بل (وما رَآهُ الْمُسْلِمُونَ حَسَنًا فَهُوَ عِنْدَ اللَّهِ حَسَنٌ)کوم څه چې مسلمان ښه وبولي هغه دالله جل جلاله په نزد هم ښه وي.

یوه بله خبره: د وسلې او اس وقف کول دالله جل جلاله په لاره کې جائز ندي، د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد، ځکه دا منقولي شیان دي او په دې باندې عادت او عرف هم ندی جاري، البته دصاحبینو په نظر ددې شیانو وقف کول جائز دي، او په دې تړاو ددوی دلیل هغه دی چې وایي خالد رضی الله عنه دالله جل جلاله په لاره کې اسونه بند کړي ؤ، خو په دې اړه ددوی دا دلیل نه سمیږي، ځکه چې دلته وقف نشته دی، بلکې ممکن دا اسونه یې دجهاد لپاره بند کړي وي.نه دتجارت لپاره.

په همدې ډول دکتابونو وقف کول هم دامام صیب ابو حنیفه رحمه الله په اصولو کې جائز ندي، البته دصاحیبینو په هکله علماء مختلف دي، نو دنصر بن یحیی نه روایت دی چې هغوی په دې باور دي دا جائز دي.[۲٦۸]

(۲): بل شرط دادی چې موقوف شی باید مقسوم ( تقسیم کړی شوی)وي مشاع(ګډ) او خور ور به نه وي، البته امام ابویوسف رحمه الله وایي داپکې شرط ندی، دده په نزد مقسوم هم وقف کولای شي او مشاع هم، امام محمد وایي چې په وقف کې تسلیمول د جواز له شرائطو شمیرل کیږي، نو ځکه امام محمد رحمه الله وایي مشاع(ګډ)جنس قبض کول او تسلیمول بدون له خلل څخه ممکن ندي، نو فلهذا وقف کول یې جائز ندي.

البته امام ابویوسف رحمه الله وایي چې تسلیم اصلا شرط ندی، نو خلل هم په دې کې مانع نشي ګرځیدلای.په همدې ډول عمر رضی الله عنه، په خیبر کې مشاع جنس وقف کړی ؤ، پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وویل چې اصل یې له ځان سره وساته، هغه هم همداسې وکړل، نو له دې معلومیږي چې شیوع جنس وقف کول، درست او صحیح دي.[۲٦۹]

دلته زموږ دا بحث پای ته رسیږي چې موږ پکې دوقف دجواز مهم او اړین شرائط ذکر کړل، که څوک غواړي په دې اړه تفصیلي څه ووینې، نو بیا دې بدائع الصنائع، فتاوی الهندیه، فتح القدیر او یو شمیر نورو تفصیلي کتابونو ته مراجعه وکړي، ترڅو یې په دغه برخه کې تنده خړوب شي.

**شپږم دوقف انواع:**

وقف درې انواع لري،چې هر یو یې موږ دلته بیل،بیل په لنډ ډول دڅیړنې لاندې نیسو:

**۱- الوقف الأهلي(الذري)** اهلي یاذر وقف دې ته وایي چې په دې کې منفعت ټاکل شویو افرادو،یا دهغې خپلوانو ته وي،برابره خبره ده که دایې خپل اولادونه وي او یا یې نیږدې خپلوان وي،لکه زامن،لمسي،کړوسي،او نور خپلوان،البته که چیرته نورو فقیرانو ته یې هم دغه منفعت خاص کړ،نو دا هم په وقف الذري او اهلي کې شامل دی.

**۲- وقف الخیري** یا عام وقف،(عام په دې مانا چې زموږ په ټولنه کې عام دی،خلک ترډیره دغه ډول وقف کوي)په دې وقف کې دواقف موخه او مقصد دا و ي چې واقف دیو شي منفعت دنیکۍ په جهتونو کې مصرف کړي،داسې جهتونه چې هغه انقطاع نه قبلوي او دوامداره وي،برابره

---

[۲٦۸] :بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع.ج:٦.ص:۲۲۰.

[۲٦۹] :بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع،ج:٦،ص:۲۲۰

خبره ده که چیرته ددې منفعت تخصیص دفقیرانو او مسکینانو لپاره شوی وي او یا په نورو عامه دخیر کارونو کې شوی وي،لکه مدارس،مساجد،روغتونونه او نور.
نو خلاصه خبره داده چې دا یو خاص وقف دی چې په دې کې منفعت دیو خاص جهت لپاره ځانګړی شوی وي،برابره خبره ده چې دا دنیکی جهت چې دهغې لپاره وقف شوی دی هغه یو وي او یا هم ډیر،خو چې په دې کې انفاق په دې خاطر شوی وي چې دالله جل جلاله رضاء پرې حاصله شي،نو دا ډول وقف بیا خیري وقف بلل کیږي.
دا وقف په دې ډول کیږي چې واقف عین ځان سره وساتي او دهغې منفعت صدقه کړي.
**۳- الوقف المشترک:** دا هغه وقف دی چې دخیري او اهلي ترمنځ مشترک وي،یا په دې ډول وي چې پیل کې اهلي وقف وي،بیا پای کې خیري وقف شي،لکه پیل کې اهلي په دې ډول وي چې اولادونه یې ترې استفاده کوي،خو ترڅه وخت وروسته ترې نور هغوی استفاده نه کوي نو عام شي،او نور عمومي خلک ترې استفاده وکړي.
خو په ټوله کې دومره ویلای شو چې وقف دشرعي وضعې په اعتبار ټول په ټوله،خیري دی،خو په دې خاطر دا تقسیم قبلوي چې په متصدقینو باندې توسع راشي،هغوی ته دا فرصت برابر شي چې له منفعتو ګټه پورته کړي.[۲۷۰]

## اووم مطلب: ناظر الوقف!

ناظر الوقف یآ قیم الوقف،هغه چاته وایي چې هغه ته دوقف چارې سپارل کیږي،یا دوقف دعین او دهغې دمنفعت دساتنې دنده ورترغاړې کیږي،په همدې ډول د واقف شرایط هم نافذوي،نو په خلاصه ډول ویلای شو چې ناظر الوقف هغه چاته وایي چې دواقف(هغه څوک چې وقف کوي)په ژوند کې ده ته دوقف ټولې چارې وکالة سپارل شوي وي،په ساده اصطلاح که ووایو نوموړی دواقف وکیل ده چې دهغه په نیابت دهغه دشرایطو مطابق په وقف کې تصرفات کوي.
د ناظر الوقف ګومارلو دنده دقاضي ده،خو دا قاضي به یې دواقف په خوښه ګوماري.

### الف- دناظر الوقف دنده!

له دې څخه موخه داده چې ناظر الوقف کومې کړنې ترسره کړي،کوم مسولیتونه لري؟او ټول هغه څه چې دوقف دمحافظت لپاره یې ترسره کوي،یو شمیر علماء بیا وایي چې دناظر الوقف وظیفه داده چې:دوقف ساتنه وکړي،هغه ودان کړي،دهغې کرل،دهغې نه په دفاع کې لانجه او مخاصمة کول،او دهغې منفعت حاصلول دا ټول دناظر الوقف په دندو کې راځي.[۲۷۱]

### ب- دناظر الوقف شروط:

دناظر الوقف دصحت لپاره فقهاؤ یو شمیر شرائط ذکر کړي دي:
الف:اسلام:یو شمیر فقهاء د اسلام په شرط کې اختلاف لري،یو شمیر وایي چې دناظر الوقف دصحت لپاره دا اساسي شرط دی،مالکیان،شافعیان،او حنبلیان وایي چې دناظر الوقف لپاره اسلام شرط دی،خو البته احنافو دا شرط نه دی لګولی.[۲۷۲]
با:عقل.
ج:بلوغ.
د:عدالت.

---

۲۷۰ فتح القدیر،لکمال ابن همام،ج،۵،ص:۴۲۲.
۲۷۱ بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع،ج:۳،ص:۶۲۸.
۲۷۲ مغني المحتاج ،ج:۳،ص:۴۸۳.

و:كفاية.له دې څخه موخه داده چې داشخص دومره قوت ولري چې ددې ساتنه وکړي او په دې باندې دقدرت تصرف لري.[۲۷۳]

**اتم مطلب: دوقف بنيادي او اساسي قواعد!**

داچې هرشي خپل اصول اوقواعدلري په همدې ډول وقف هم ځني قواعدلري چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو:

**اوله قاعده: (مبنى الوقف على مراعاة المصلحة)[۲۷٤]**

ژباړه: وقف پدې بناء دې چې دمصلحت لحاظ پکې وساتل شي.

**د قاعدې شرحه:**

په وقف کې دمصالحو لحاظ ساتل ضروري دي ځکه دغه مصالح د اسلامي شريعت عامو مصالحو کې داخل او شامل دي او اسلامي شريعت دنيا ته د همدغه مصالحو د تحقق لپاره راستول شوي دي چې د انسان دين او دنيا دواړه جوړکړي، اوفقهاء داسلام پيغام پدې قاعده کې رانغاړي (جلب المصالح للناس ودرء المفاسد عنهم) اسلامي شريعت دنيا ته په همدې خاطر راوستول شوي چې دبندګانودمصالحو تحقق وکړي اودبندګانولپاره يوسالم چوکاټ کيږدي. وقف دتبرعي عقدنوڅخه دي ترڅود دې پواسطه اجتماعي تکافل ثابت اومتحقق شي اواسلامي اقتصاد پري.

ټول فقهاء پدې متفق دي چې دوقف په عقدکې مصلحت شرط اوضروردي البته دمصلحت په مجال کې اختلاف دي چې پدې کې علماوو درې وجوهات ذکرکړي دي:

(۱): په وقف کې مصلحت، د واقف دشروطو او عباراتو څخه پورته مرتبه لري، البته که چيرته د واقف دشرط، او دمصلحت ترمنځ ټکر راشي، نو مصلحت غوره دی او مصلحت ته به ترجيح ورکول کيږي.

(۲): مصلحت هله معتبر دی، ترڅو چې د واقف له شرط سره متعارض نه وي واقع شوی، که چيرته د واقف له شرط سره په ټکر کې واقع شوی وي، نو دغه مهال دواقف شرط معتبر دی، ځکه شرط دشارع دنص په څير حيثيت لري.

(۳): په وقف کې مصلحت د واقف په شرط باندې مقدم دی، خو په دې شرط چې دتغير مؤدي به نه وي، داسې چې وقف تغير کړي او يا دوقف عين تبديل کړي، که چيرته داسې څه ته مؤدي کيده، نو دغه مهال مصلحت لغوه دی.

دا وروستی نظر، يو شمير نورو علماؤ هم تايد کړی دی، لکه يو شمير وايي: د وقف عين تغيرول، جايز ندي، البته امام السبکي وايي: د وقف تغير په درې شروطو سره جايز دی:

اول: مسماه به يې نه تغيروي.

دوهم: مصلحت به دده په ګټه راڅرخي.

دريم: اوعين به يې نه زايله کيږي، که چيرته عين له يو ځای څخه بل ځای ته انتقالوي، نو دغه نقلول به ورته ضرر نه رسوي.[۲۷٥]

---

۲۷۳ فتح القدير،ج:۴،ص:۶۲۷.

۲۷٤ قرافي، بو العباس شهاب الدين أحمد بن إدريس بن عبد الرحمن المالكي الشهير ، الذخيرة، (المتوفى: ٦٨٤هـ( المحقق: جزء ١، ٨، ١٣: محمد حجي، جزء ٢، ٦: سعيد أعراب، جزء ٣ - ٥، ٧، ٩ - ١٢: محمد بو خبزة، الناشر: دار الغرب الإسلامي- بيروت، الطبعة: الأولى، ١٩٩٤ م،ج:۶،ص:۳۳۰.

۲۷٥ قليوبى، أحمد سلامة القليوبي وأحمد البرلسي عميرة، حاشيتا قليوبي وعميرة، الناشر: دار الفكر – بيروت،عدد الأجزاء: ٤،الطبعة: بدون طبعة، ١٤١٥هـ-١٩٩٥م،ج:۳،ص:۱۰۹.

د پورتنیو نظریاتو خلاصه داده، چې په وقف کې به مصلحت د واقف له شرط سره متفق وي، خو دوقف صورت به تغیر نه کوي، او یا به مصحلت د واقف له شرط سره، مخالف وي، څوک چې دا شرط بولي چې صورت او شرط یې باید موافق وي، نو دوی هر هغه مصلحت چې ددې سره په تعارض کې وي، نو بیا ندی معتبر.

**د نوموړې قاعدی دلایل:**

یو شمیر دعمر فاروق رضی الله عنه په فعل باندې دلیل نیسي چې هغه دکوفې پخوانی مسجد په نوي مسجد بدل کړ، او لومړی مسجد یې د تمارینو لپاره بازار وګرځاوه، نو عمر رضی الله عنه چې کوم څه کړي دي دا په دې دلیل دی چې وقف کې به مصلحت مراعت کیږي، که چیرته پکې مصلحت مراعات نشي، نو دلته یې باید مسجد په خپل حالت پریښی وي.
دوهم دلیل: یو شمیر نور په دې دلیل نیسي، چې هر قاصر تصرف چې له مصحلت څخه اخیستل شی وي، نو هغه مشروع او جایز ندی، خو که چیرته واقع هم شي، باطل دی.نو له دې امله په وقف کې مصلحت په نظر کې نیول اړین دي.[۲۷۶]

**دوهمه قاعده: (وقف المعصية لا يصح)**[۲۷۷]

ژباړه: دمعصیت اود ګناه دځیز وقف درست اوصحیح ندي.
موخه: په معصیت او ګناه کار کې وقف کول نه سمیږي، د همدې قاعدې همثله او یو ډول نورې هم شته چې په لاندې ډول دي: (الوقف علي معصية باطل)[۲۷۸]
په معصیت او ګناه باندې وقف کول باطل دي.
په همدې ډول (الوقف على جهة المعصية باطل)[۲۷۹]
وقف دمعصیت او ګناه په اړخ کې هم باطل دی.
**د قاعدې شرحه:** اصل په وقف کې دادي چې دابه صدقه جاریه وي، د دې په ذریعه به مؤمن خپل خالق ته ځان نژدې کوي اوخپل مال به داحسان اونیکیوپه ځایونوکې مصرفوي، چې لاندې شرطونه پکې ضروردي:
(۱): عین وقف به دصدقه جارېې صلاحیت اواستعداد لري ترڅونجس اوشرعي حرام نه وي.
(۲): جهت اوطرف به دوقف دقبلیدوصلاحیت لري ترڅودشرعي مقصدسره په ټکرکې نه وي.
که پورته دوه شرطونه متحقق اوعملي نه شي پداسي وقف کې به دمصلحت څخه مفسده زیاته وي.

---

۲۷۶ معلمة الزايد للقواعد الفقهية والاصولية،مجمع الفقه الاسلامي الدولي،الطبعة،۲۰۱۳،ج:۲۲،ص:۴۱۲.
۲۷۷ شرح مختصر الخليل للخرشي،ج:۷،ص:۸۱.
۲۷۸ قليوبى، أحمد سلامة القليوبي وأحمد البرلسي عميرة، حاشيتا قليوبي وعميرة، الناشر: دار الفكر – بيروت،عدد الأجزاء: ٤،الطبعة: بدون طبعة، ١٤١٥هـ-١٩٩٥م ،ج:۳،ص:۱۰۱.
۲۷۹مخکینی مرجع.ج:۳،ص:۱۰۱.

**د قاعدی دلایل:**

(۱): په قران عظیم الشان کې الله متعال فرمايې: (إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ)[۲۸۰]

ژباړه: الله متعال په امراواحسان باندي امرکوي اوخپلوانوته په مال باندي، اومنع کوي خلک دفحشاء، منکرکاراوفاحش کارنه نصیحت کوی تاسوته د دي لپاره چې تاسو پند واخلئ.

دپورته ايات دعموم نه داپه ډاګه او واضحه شوه، هغه وقف حرام دي چې په هغې کې ګناه اومعصيت وي ځکه الله متعال دفحشاه اومنکرکار دکولوڅخه منعه کړي ده.

(۲): وقف په اسلامي شریعت کې دتقرب اوددوام لپاره مشروع شوي دي اودامعلومه خبره ده چې قربت اومعصيت په خپل منځ کې سره ضد دي، نودګناه وقف حرام اوناجائز دي.

**د قاعدي معاصر تطبيقات**

د قمار، لهوو لعب، تصويرونو، يا هغه دکانونو وقف کول چې دشرابو لپاره وقف شوي وي، ددې وقف کول جايز ندي، په همدې ډول دهغه حيواناتو او موټرو وقف کول هم جايز ندي چې، شراب، خنزير او يو شمير نور پرې وړل کيږي، ځکه وقف په جهت دمعصيت کې باطل دی.

په همدې ډول وقف په حربي باندې هم باطل دی، ځکه دحربي لپاره وقف کول دهغه سره په جګړه کې مرسته کول دي، په همدې ډول وقف دمرتد لپاره هم همدغه حکم لري، ځکه په دې کې معصيت دی، او وقف دمعصيت په جهت کې باطل دی.

په همدې ډول هغه مسجد چې وداني يې په قبر باندې رغيږي، نو دغه ډول مسجد وقف کول، صحيح ندي: عن ابن عباس قال: «لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم زائرات القبور، والمتخذين عليها المساجد والسرج«

ژباړه: ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دی چې هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي، چې رسول اکرم صلى الله عليه وسلم لعنت کړی دی په هغوی چې دقبرونو زيارتونه کوي، يا په هغې باندې ودانی رغوي، او يا پرې ډيوې بلوي)ئۆ[۲۸۱]په دې اساس په قبر باندې ودانۍ جوړول معصيت دی او وقف دمعصيت په جهت کې باطل دی.[۲۸۲]

**نهم مطلب: د وقف فسخ**

اوس هغه لاملونو باندې بحث کوو چې له امله يې وقف باطل او فسخ کيږي، په دې اړه خو يوه کلي او عمومي خبره داده چې د وقف شرائط ټول بايد شتون ولري، که شتون يې نه درلوده، نو بيا هم دوقف دفسخ کيدو امکان موجوديږي، نو په دې اساس دوقف شرئط اړين او ضروري دي او په نشتون کې يې وقف باطليږي، البته يو شمير نور شرائط هم اړين دي چې بايد په نظر کې ونيول شي، که هغه هم متحقق نشي، نو وقف باطليږي، په دې تړاو دکتور وهبة الزحيلي په خپل کتاب(الفقه الاسلامي وادلته)کې بحث کړی دی، چې موږ هم همغه دلته رانقلو:

**لومړی:** که چيرته يو مانع پيښ شي، دبيلګې په ډول: چې واقف مړ شي، يا واقف مفلس شي، يا داسې مرض باندې مبتلا شي چې په همدغه مرض کې مړ شي او بيا ترې ونه رغيږي، په داسې حال کې چې وقف ترې نه وي قبض شوی، نو دغه مهال وقف باطل شو، نو دغه حالت

---

۲۸۰ سورت النحل،ايات:۹۰.

۲۸۱ رواه الترمذي،ج:۲،ص:۱۳۶.دحديث حکم:نوموړي حديث ته امام ترمذي رحمه الله حسن ويلي دي.

۲۸۲ شرح مختصرالخليل،للخرشي،ج:۷،ص:۸۲.

کې به یې دمرگ په مهال رجوع وارث ته، دافلاس په حالت کې، دائن ته کیږي، که هغوی اجازه ورکړه، نو نافذیږي به، خو که اجازه یې ورنکړه نو باطل شمیرل کیږي.

**دوهم:** وقف په معصیت کې وشي، مثلا یو څوک د نامسلمانو وګړو لپاره دعبادتخانې لپاره ځای وقف کړي، یا دحرامې جګړې لپاره وسله اخیستل وقف کړي، یا دشرابو جوړولو لپاره دموادو اخیستلو لپاره وقف وکړي، چې مثلا شراب چې له کومې غلې دانې څخه جوړیږي، نو دهغې وقف کول.

**دریم:** د یو حربي کافر لپاره وقف کول، دا هم دوقف دباطلونکو شیانو له جملې څخه شمیرل کیږي، البته دذمي لپاره وقف درستیږي، دا نو بیا اتفاقي خبره ده.

**څلورم:** د ځان لپاره یو شی وقف کول، البته که بل شریک هم ورسره وي، په داسې حال کې چې هغه بل شریک ددغه مال وارث نه وي، نو په دغه حال کې هم وقف باطل دی.

دبیلګې په ډول: یو څوک ووایي چې دا معلوم جنس مې دځان او فلانې ملګري لپاره وقف کړی دی، نو په دغه حالت کې دځان او ملګري دواړو لپاره یې وقف باطل دی.

**پنځم:** یو څوک وقف وکړي په دې شرط چې له دغه شي څخه به استفاده د واقف په خوښه کیږي، نو دغه مهال هم وقف باطل دی، ځکه په دې کې تحجیر او منع کولو احتمال راځي.

**شپږم:** عدم تخلیه: مطلب کې چیرته یو چا یو جنس وقف کړی ؤ، خو هغه یې نه تسلیموه، نو دغه مهال وقف باطل دی، ځکه دغه جنس لا دخلکو داستعمال وړ ندی ګرځیدلی، نو عدم تخلیه دیو وقف دباطلیدو سبب کیدلای شي.

**اووم:** چې یو کافر مسجد، مدرسة او یو شمیر نور داسې شیان وقف کړي چې هغه دتقرب سبب کیږي، نو دا هم باطل دی، البته دا زموږ داحنافو نظر دی، خو په راجح نظر دا مکروه تنزیهي ده.البته دنرانو لپاره نه دانجونو لپاره، ځکه داسې بیا دجاهلیت له عمل سره مشابهت راځي، ځکه هغوی انجونې دپلار له میراث څخه منع کولې، نو که چیرته وقف یې وکړ نو نافذ دی او فسخ ندی، البته دا په اصح قول سره، په همدې ډول اتفاقا مکروه ده که یو څوک یو شمیر اولادونو ته ټول مال هبة کوي، یا ټول نه وي نیمایي او لږ وي، په همدې ډول دا هم مکروه ده چې ټول مال اولادونو ته ورکړې او ورته ووایي چې تاسې یې خپلو منځونو کې علی السویه او برابر تقسیم کړئ(په اناثو او ذکورو دواړو)ځکه چې دلته بیا هغه سهمونه چې دمیراث له مخې په اسلامي شریعیت کې ټاکل شوي دي هغه نه تطبیقیږي، خو که چیرته یې په داسې ډول تقسیم کړ چې هر چاته خپله برخه دمیراث مطابق ورکړل شي، بیا نو پروا نلري، البته دا خبره هم دټولو په اند درسته ده چې وقف کول په لونو باندې صحیح کیږي، البته په ځامنو نه.[۲۸۳]

په همدې سره موږ دغه برخه بشپړو، ځکه چې د وقف دفسخ یا باطلیدلو لپاره همدومره وضاحت اړین دی او کفایت کوي چې په کومو مواردو کې له منځه ځي.

**لسم مطلب: د وقف مقارنه دفقهي او مدني قانون ترمنځ**

وقف په اسلامي شریعت کې یومشروع عمل دي، ډیرې نبوي حدیثونه هم شتون لري چې وقف جایز اومشروع عمل دي، دصحابوو کراموڅخه پرې اجماع ثابته ده اوفقهاء هم دوقف په جواز قایل دي.په همدې ډول د افغانستان په مدني قانون کې هم دوقف په تړاو تفصیلي بحث شتون لري چې دغه برخه یې په واضح او مکمل ډول څیړلې ده، ددغه قانون په (۳۵۵)ماده کې دوقف

۲۸۳ :زحيلي: الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ الشَّامل للأدلّة الشَّرعيَّة والآراء المذهبيَّة وأهمّ النَّظريَّات الفقهيَّة وتحقيق الأحاديث النَّبويَّة وتخريجها، المؤلف : أ.د. وَهْبَة الزُّحَيْلِيّ أستاذ ورئيس قسم الفقه الإسلاميّ وأصوله، بجامعة دمشق - كلّيَّة الشَّريعة الناشر : دار الفكر - سوريَّة – دمشق. عدد الأجزاء : ١٠.ج:١٠.ص:٣٤٩.

دمشروعیت په تړاو راځي: (د خیر په امورو او چارو کې وقف هغه مهال جواز لري چې داسلام سپیڅلي دین او ملي منافعو له نظره دخیر کارو ګڼل شي).[۲۸٤]
موږ په پورته کرښو کې دوقف په تړاو د اسلامي فقهې او د افغانستان دمدني قانون دواړو جلاجلا نظریات ولوستل، دواړه په دې باور دي چې دا یو مشروع عمل دی چې ترسره کول یې جایز دي، خو البته په دواړو اړخونو کې یو شمیر توپیرونه شتون لري چې دهمدغه توپیرونو په اساس موږ ددواړو نظریاتو په برخه کې پرتله کوو، موږ دوقف په اړه په فقهې برخه کې ویلي ؤ: کله چې وقف تام او تصرف پکې وشي، نو واقف درجوع حق نلري.
دمدني قانون په(۳۴۷) ماده کې راځي چې دوقف څخه رجوع جایزده البته اسلامي فقه واېې کله چې وقف تام اوتصرف پکې وشو واقف درجوع حق نلري.
دلته موږ په ښکاره ډول دمدني قانون او اسلامي فقهې ترمنځ مخالفت ګورو، نو په دې اساس موږ بیا هم دلته یوه لنډه خبره کوو او بیا یې په غوره او ناغوره باندې بحث کو: اصلا که چیرته موږ دلته له وقف څخه یو کس ته دبیرته ګرځیدلو حق ورکړو نو دغه مهال به د وقف ټوله فلسفه لمنځه لاړه شي او وقف به کومه مانا ونلري، هر څوک به بیا وقف کوي او کله یې چې زړه تنګیده او مال ته یې اړتیا پیښیدله نو بیرته به له وقف څخه ګرځي، نو په دغه اساس دلته داسلامي فقهاؤ نظر په دغه برخه کې غوره او بهتره دی او دغه غوره والی یې دڅو دلایلو له امله دی:
**اول:** که چیرته رجوع حق ورکړو، نو په دې ډول به دوقف فلسفه بیخي لمنځه لاړه شي، بیا به ټولنه کې هرڅوک داړتیا پرمهال بیرته په وقف کې رجوع کوي او خپل مال به ترسره کوي، په دې ډول ډیر عام مصلحتونه او دخیر کارونه له خنډ او ځنډ سره مخ شي.
**دوهم:** ممکن دوقف پرمهال هغه کسان چې دغه مال ورته وقف شوی دی هغه په دې مال مصرف وکړي، چې دهغې له امله قیمت پیدا کړي، نو واقف په دغه حالت کې بیا ګټه کوي او دده مقابل خلک له تاوان سره مخ کیږي.
**دریم:** موږ چې ترکومه بریده په اسلامي تاریخ کې نظر واچاوه نو داسې پیښه مو په لومړنیو غوره پیړیو کې ترسترګو نه شوه چې له وقف څخه دې چا رجوع کړې وي.
په همدې ډول اسلامي فقهاء وایي: وقف به په غیر منقول (نه انتقالیدونکو) شیانو کې وي، دبیلګې په ډول لکه ځمکه او داسې نور، نو په دې اساس دمنقول (هغه شی چې لیږدول کیږي) شي وقف درست ندی، ځکه موږ مخکې ذکر کړل چې په وقف کې تابید او دوام اړین دی او دغه خبره دوقف دجواز په شرائطو کې ده، نو په دې اساس دغه شرط په منقولي توکو کې نه متحقق کیږي، ځکه منقولي توکي ژر هلاکیدونکي دي، نو په دې اساس بې وقف جائز ندی.
البته په دغه برخه کې بیا مدني قانون په ۳۵۶ ماده کې داسې وایي: (د منقولو او نامنقولو مالونو وقف جواز لري).[۲۸۵]
یانې دلته مدني قانون په دغه برخه کې په دې باور دی چې مطلقا هر ډول مال چې هغه متقوم وي، دهغې وقف کول جائز دي، برابره خبره ده که منقولي وي او که غیر منقولي، نو د ټولو وقف کول جائز دي.

---

۲۸٤ :مدني قانون،ج:۱.ص:۱۱۴.
۲۸۵ :کتاب:مدني قانون(رسمي جریده- ګنه:۳۵۳).ج:۱.ص:۷۷.یار خپرندویه ټولنه.دچاپ کال:۱۳۹۸.

مخکې له دې چې موږ دلته پرتله وکړو، دلته یوه لنډه مقدمه ستاسې مخې ته راوړو: زموږ او ستاسې په ننۍ نړۍ کې ډیر شمیر داسې مسایل دي چې هغه تر ډیره بریده په لیږدیدونکو شیانو کې راځي، خو دخیر ډیره استفاده ترې ترلاسه کیږي، دبیلګې په ډول: زموږ په ټولنه کې یوه عامه خبره داده چې دلته خلک د یو شمیر دیني مرکزونو، لکه مدارسو، جوماتونو او یو شمیر نورو لپاره موټر، او نور نقلیه وسائل وقف کوي، هغه منقول شیان اوس مهال دغیر منقول اشیاؤ څخه تر ډیره بریده ډیره ګټه لري، که دغه برخه کې اوس داسې فتوه ورکړل شي چې یوازې دغیر منقول اشیاو وقف کول جائز دي نو، دلته به اړ او محتاج ځایونه له ډیرو ستونزو سره مخ شي، ډیر تبرعات او وقفونه به معطل شي او دخیر دکارونو ډیری دروازې به وتړل شي، نو په دې اساس موږ وایو چې دمنقول او غیر منقول ټول مال وقف کول جائز دي او په دغه برخه کې دمدني قانون حکم او نظر پراخه او ددننۍ نړۍ دواقعیتونو سره په تطابق کې دی، دغه غوره والی د څو دلایلو له امله:

**اول:** که موږ چیرته دغیر منقول اشیاو وقف ناجائز کړو نو دلته به دخیر ډیرې دروازې تړلې وي، لکه موږ او تاسې په اوسنۍ زمانه کې ګورو چې زموږ په شاوخوا کې ډیری خلک یو موټر، یا لاس ګاډی، یا د بل شي منافع د دیني مراکزو، یا هم غریبانانو او فقیرانو لپاره وقف کوي، په داسې حال کې چې دا ټول منقول اشیاء دي، اوس که موږ چیرته په دغه برخه کې په فقهي برخه کې عمل وکړو نو دخیر ډیرې دروازې به بندې شي.

**دوهم:** د وقف اصلي موخه نورو خلکو ته خیر رسول دي، برابره خبره ده که دغه خیر اوږد مهاله او یا هم لنډ مهاله وي، نو کله دغه خیر داسې وي چې دیو انسان لپاره په منقولي اشیاو کې وي او کله په غیر منقولي شیانو کې، نو که موږ اوس مهال داسې کار وکړو، نو په دغه برخه کې به هغه برخه محرومه پاتې شي چې هغه دغه ډول شیانو ته اجتیاج لري.

**دریم:** که موږ چیرته یوازې په منقولي اشیاو کې وقف را منحصر کړو نو بیا به موږ دوقف دائره ډیره راتنګه کړي وي، دبیلګې په ډول: زموږ ټولنه بیلابیل ډولونه لري، یو شمیر خلک یوازې په خپل واک او ملکیت کې منقولي شیان لري، یو شمیر نور بیا په خپل ملکیت کې یوازې غیر منقولي شیان لري او دریمه ډله یې داسې ده چې هم منقولي شیان په خپل ملکیت کې لري او هم غیر منقولي.په همدې ډول محتاجانو او دثواب په ځایونو کې که موږ وګورو یو شمیر یې بیا منقولي شیانو ته اړتیا لري چې هغه ورته وقف شي، یو شمیر نور یې بیا غیر منقولي شیانو ته چې هغه ورته وقف شي، د بیلګې په ډول موږ یو شمیر موټرې ګورو چې دهغه پیسې دمدرسې یا مسجد لپاره وقف شوي او ورته راځي، نو همدغه لامل دی که موږ یوازې په دغه برخه کې داسې فتوه ورکړو چې یوازې په غیر منقولي شیانو کې وقف جائز شي نو دغه مهال به دوقف ستره دایره راتنګه شي او حاجتونه به ډیر شي.

دوهمه خبره: موږ په اسلامي فقه کې دوقف په بحث کې ویلي ؤ:

(یو څوک وقف وکړي په دې شرط چې له دغه شي څخه به استفاده د واقف په خوښه کیږي، نو دغه مهال هم وقف باطل دی، ځکه په دې کې تحجیر او منع کولو احتمال راځي).

نو له پورته عبارت څخه داسې معلومیږي چې په وقف کې شرط ایښودل وقف باطلوي، ځکه چې داسلامي فقهي په باور دشرط دا ینبودلو په وخت کې دوقف نه تحجیر او منع راځي.

البته په دې تړاو دافغانستان مدني قانون په (۳۷۳)ماده کې وايي(که وقف کونکی داسې شرط کيږدي چې دوقف دښيګڼو يا دحق لرونکو دښيګڼو سره مخالف وي، نو دغه مهال وقف درست مګر شرط داعتبار وړ ندی).[۲۸٦]
دلته که موږ وګورو نو دافغانستان مدني قانون په دغه برخه کې له اسلامي فقهې سره تفاوت او تغاير لري، هغه داسې چې مدني قانون دشرط دکيښودلو پرمهال وايي: نور وقف درست دی خو يوازې شرط يې باطل دی، البته اسلامي فقه بيا وايي: نه ټول وقف دغه مها ل باطل دی، دلته دافغانستان مدني قانون بيا هم عامو مصالحو ته ګوري او په اوسنيو شرائطو کې دنوي عصر دغوښتنو سره سم يې په دغه برخه کې فيصله کړې ده، ځکه که چيرته داسې فيصله وشي چې ټول وقف باطل شي نو زيان بيا هم ټولنې ته اوړي، نو په دغه اساس مدني قانون وايي چې دټولنې دزيان دمخنيوي په خاطر يوازې دغه شرط باطل دی او نور وقف درست دی، نو په دې اساس دلته دافغانستان مدني قانون په دغه برخه کې وقف درست بولي او شرط باطل، نو دمدني قانون نظر او رايه د څو دلايلو له امله غوره ده:
**د ترجيح اول دليل:** دلته که موږ ديو شرط له امله د وقف ټوله پروسه باطله کړو، نو ټولنه به سخت زيان ووينې، خو که چيرته يې شرط باطل وګرځو نو ټولنه به يو څه مستفيده شي او زيان به ورته ونه رسيږي.
**د ترجيح دوهم دليل:** په اسلامي فقهاؤ کې امام ابويوسف رحمه الله وايي: (إِذَا شَرَطَ فِي الْوَقْفِ الْخِيَارَ لِنَفْسِهِ مُدَّةً مَعْلُومَةً جَازَ الْوَقْفُ وَالشَّرْطُ)[۲۸۷]
مطلب: دامام ابويوسف رحمه الله په باور په وقف کې خيار شرط جائز دی او کله چې يې خيار شرط کيښوده نو دده په اند وقف او شرط دواړه درست دي.
په همدې ډول دامام ابو يوسف رحمه الله نه يو بل روايت دی چې هغه وايي چې وقف درست دی او شرط باطل دی، دهغې دليل دادی: ځکه دا وقف داعتاق په څير دی، مطلب دوقف قياس يې په اعتاق باندې کړی دی، ځکه چې په هغې کې ازاله دملکيت ده په دې ډول چې دغه ملکيت بيا بل مالک ته نه ورځي، که يو کس يو غلام ازاد کړ او ځان لپاره يې خيار شرط وټاکه، نوموړی غلام ازاد شو او شرط يې باطل شو.دغه قول دخالد السمتي هم دی.[۲۸۸]
نو لکه څنګه چې په اعتاق کې شرط باطليږي او اعتاق درستيږي، نو دغه ډول مسله په وقف کې هم ده چې بايد وقف درست شي او شرط باطل شي.
نو که هر څنګه وي دغه حالت کې يو ډول شرط رامنځ ته شو، نو دشرط درامنځ ته کيدا پرمهال دده په نزد دلته دواړه اړخونه درست شول، نو په نورو شرطونو کې موږ حداقل دومره کوو چې شرط يې باطلوو او وقف يې درستو.
موږ همدلته دوقف او مدني قانون ترمنځ مقارنه پای ته رسوو، موږ يې دلته يوازې هغه بنيادي توپيرونه موږ ياد کړل، البته په جزي برخه کې نور توپيرونه هم شتون لري چې موږ يې دبحث داوږديدو له ډار په همدې اکتفاء کوو.

---

۲۸٦ :مدني قانون.ج:۱.ص:۸۰
۲۸۷ :رد المحتار ج:۳.ص:۳۶۰
۲۸۸ : الموسوعة الفقهية الكويتية.ج:۴۴،ص:۱۲۱.

## دريم فصل: دعقود المنافع اثار!

### لومړی مبحث: د منافعو په عقد باندی مرتب مسایل

لومړی مطلب: د منافعو د مالیت مسئله

دویم مطلب: په منافعو کې دقرض حکم

دریم مطلب: په منافعو کې دزکات حکم

څلورم مطلب: دعقد اجارې اثار.

پینځم مطلب: دعقد اعارې اثار.

**دريم فصل: دعقود المنافع اثار!**

په دې فصل کې دعقودالمنافع په پايلو او اثارو باندې بحث کوو،په دې معنا چې دا خبره واضح کوو چې په په منافعو باندې کوم مسائل او اثار مرتب کيږي؟دا هم څيړو چې منافع مال دی او که ندی،له دې بحث وروسته بيا دا خبره واضح کوو چې په منافعو کې دقرض حکم څه دی،په دې به هم راسره پوه شئ چې په منافعو کې زکاة شته او کنه،او نور ډير څه به انشاء الله په دې فصل کې واضح کړو او دڅېړنې په نتيجه کې به لوستونکي په دغه پورته مسائلو باندې پوه شي.

مخکی له دی څخه چې د عقود المنافع آثارو ته لاړشو او مرتبه مسايل يې بحث کړو اړينه ده چې د منافعو ماليت او عدم ماليت اختلافی موضوع وڅيړو او دا واضحه کړو چې د منافع ماليت په هکله د ايمه مجتهدينو رأی څه ده. ځکه ډير مسايل همدی باندی مرتب کيږی.

**لومړی مبحث: د منافعو په عقد باندی مرتب مسايل**

**لومړی مطلب: د منافعو د ماليت مسئله**

په دې اړه اسلامي فقهاء دنظر اختلاف لري او په عمده ډول دوه نظرونه پکې شتون لري:

**لومړی مذهب د احنافو دي**: دا په خپل ذات کې متقوم مالونه ندي، ځکه صفت دماليت نه ثابتيږي مگر په تمول سره او دتمول موخه هم ساتل او جمع کول دي.او غير محرز شی خو متقوم مال ندی، نو په دې اساس منافع نه جمع کيږي او نه ساتل کيږي، نو چې داسې نه شوه

صفت دمال تري لاړ نو په همدې اساس دغه ډله علماء وايي چې منافع مال ندی، دانظر زموږ دحنفي فقهاؤ دی.[۲۸۹]

**د احنافو دلائل**

**اول دليل:** دا منافع معدوم دي، او موږ سره يو اصل او قاعده شته دی چې، صفت دماليت يو شي ته نه ثابتيږي مگر په تمول سره، دتمول موخه او مطلب دادی چې دغه شی به ساتل کيږي، ذخيره کيږي، دحاجت دوخت پورې او منافع خو دغه ډول ندي ځکه هغه نه ساتل کيږي اونه ذخيره کيږي، نو په دې اساس موږ ورته مال نشو ويلای.

**دوهم دليل:** دا متقوم ندی او دمال په خصوصيتونو کې تقوم شرط دی، په دې دليل چې په هلاکيدلو سره تاوان نشته، همدغه لامل دی چې سرخسي رحمه الله[۲۹۰] وايي: منافع مال متقوم ندی، نو ددې په تلف کيدلو سره ضمان او تاوان نشته لکه خمر او مرداره، بله مهمه خبره لادا چې صفت دماليت چې ته يو شي ته ثابتوې هغه په تمول سره ثابتيږي، په همدې ډول چې دذخيره کيدو وړ وي دحاجت تر وقت پورې او منافع ددوه وقتونو لپاره باقي نه پاتې کيږي نو په دې اساس ورته مال نشو ويلی.[۲۹۱]

ابن عابدين رحمه الله وايي: حاصل دخبرې دادی چې مال عام دی دتقوم څخه، ځکه مال هغه وي چې ذخيره کولو صلاحيت ولري اگر که غير مباح وي، لکه شراب او داسې نور.

او متقوم هغه ته وايي چې دذخيره کولو صلاحيت ولري او مباح هم وي.

نو په دې اساس شراب مال دی خو متقوم ندی.[۲۹۲]

په همدې ډول احناف فقهاء په دې باور هم دي چې عدم تقوم دملکيت سره منافي او تضاد ندی، نو په دې اساس مسلمان ته په غير متقوم مال باندې ملکيت ثابتيږي، لکه يو څوک انگور دشرابو لپاره وزبيبنې، يا د هغه سره شراب او خنزير شتون ولري او مسلمان وفات شي، په داسې حال کې چې دغه کس مړ شي او له ده څخه مسلمان ورثه پاتې شي، نو دغه مسلمان ورثه دا دواړه په ميراث وړلی شي، ځکه چې ملکيت په مال ثابتيږي، خو په غير متقوم مال کې ماليت هم ثابتيدلای شي، البته دومره ده چې کله مال متقوم نه وي نو دمسلمان عقد پرې نه صحيح کيږي.

کله کله حنفي فقهاء دمحرز لپاره هم دمال متقوم اصطلاح کاروي همدغه لامل دی چې حنفي فقهاء هغه مباح مال چې محرز شوی نه وي دهغې لپاره هم دغير متقوم اصطلاح کاروي، لکه:

---

۲۸۹ :سرخسي ، شمس الدين أبو بكر محمد بن أبي سهل، المبسوط للسرخسي، الناشر: دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع، بيروت، لبنان، ج:۱۱.ص:۸

۲۹۰ اصلی نوم يی محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسيی د اصول فقهی د حنفی فقهی برجسته عالم تير شوی خصوصا په علم اصول فقه کې خاص مهارت در لود او په سرخسی مشهور وو، سرخس (ترکمنستان) د خراسان پخوانی يو ښاروو.
د شمس الايمه الحلوانی څخه يی د اصول فقه زده کړه کری، عالم او ناصح شخصيت وو. او حکامو ته نصيحت کولو. او په همدی وجه خافان نومی حاکم په بند محکوم کر.
مشهور تآليفات يی
المبسوط فی الفقه.
شرح سير الکبير دوه جلده.
شرح مختصر الطحاويه.
شرح جامع الصغير.
شرح جامع الکبير. او په ٤٩٠ ه کال کې وفات شوی.

۲۹۱ :السرخسي، المبسوط، مرجع سابق، ج ۱۱.ص:۷۹.

۲۹۲: ابن عابدين، رد المحتار على الدر المختار، دار الفكر بيروت، الطبعة: الثانية، ـ ۱۴۱۲ ه ـ ۱۹۹۲ م، ج۴، ص ۵۰۱

په بحر کې ماهیان یا کبان، وحشي حیوانات، په ځنګلونو کې ونې، په هواء کې مارغان نو دا ټول چې کله محرز شي او په ملکیت کې داخل شي نو بیا مال متقوم ګرځي.[۲۹۳]
**دوهم مذهب د جمهورو دي:** منافع مال متقوم دی، دنورو مالونو په څیر دي او ضمان او تاون هم پکې شتون لري، دا قول دجمهورو فقهاء دی، چې مالکیان، شافعیان او حنابله ټول په دغه برخه کې سره موافق دي او ګډ دریځ لري.[۲۹٤]

**د جمهورو علماوو دلایل**

**لومړی دلیل:** دوی منافع په اعیانو قیاسوي، او وایي چې دواړه مالونه دي، ضمان هم پکې واجب دی، لکه څنګه چې په غصب او اتلاف کې شتون لري.نو ابن رشد وایي چې کله داسې ده چې په دواړو کې ضمان شتون لري، نو دقیاس تقاضاء داده چې دواړه باید یو حکم واخلي او منافع هم دمال یوه برخه شي.[۲۹۵]

**دوهم دلیل:** منفعت په نکاح کې هم درستیږي، نو په دې اساس دا ددې خبرې دلیل دی چې مال دی، ځکه چې دمهر په شروطو کې یو شرط دادی چې هغه به مال وي، په همدې ډول دموسی علیه السلام دمیرمنې مهر هم منفعت ؤ، چې هغه اجاره وه، په دغه تړاو امام قرطبي رحمه الله وایي: نکاح په اجارې سره درسته ده او دغه ډول حکم اسلامي شریعت کړی دی چې دایت له ظاهر څخه معلومیږي[۲۹٦]

په همدې ډول دا هم ثابته ده چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم یو سړي ته دقرانکریم په تعلیم باندې یوه ښځه په نکاح کړې وه او ورته ویلي یې ؤ: (زوجتکها بما معك من القران)[۲۹۷]
دا مې تاته دقرانکریم په بدل کې په نکاح کړه.

دحدیثو علماء په خپلو شرحو کې وایي: دلته پیغمبر صلی الله علیه وسلم، ددغه سړي په غاړه باندې مهر قرض ونه ګرځوه، بلکې دغه سړي ته یې دقرانکریم دتعلیم په بدل کې دغه ښځه په نکاح کړه.او دغه قرانکریم چې منفعت دی هغه یې ورته مهر وګرځوه، نو دغه تعلیم دقران منفعت دی، نو کله چې مهر کې ورکول کیږي له دغه ځایه معلومه شوه چې مال دی.ځکه په مهر کې دا شرط ده چې هغه باید مال وي.[۲۹۸]

**دریم دلیل:** منافع مال دي، ځکه ددې ذخیره کول او ساتل ددې داصل په ساتلو سره ممکن دي او دغه څه په عین مال کې مقصود دی، ځکه هغه شیانو ته مال نه ویل کیږي چې منافع ونلري، نو همدغه لامل دی، د منافعو پلورل داصل نه پرته جائز ندي، په همدې ډول هغه عین لپاره هم قیمت نشته چې کله دغه عین له منفعت څخه خالي وي.[۲۹۹]

---

۲۹۳: السرخسي، المبسوط، مرجع سابق، ج:۱۱، ص ۷.

۲۹٤: ابن نجیم، جلال الدین عبد الله، عقد الجواهر الثمینة في مذهب عالم المدینة، تحقیق: محمد بن الاجفان وعبد الحفیظ منصور، نشر دار
الغرب الإسلامي بیروت، ط ـ۱، ت ۱۹۹۵، ج۲ ، ص ۷۴۴ .

۲۹۵: بن شاس، عقد الجواهر الثمینة في مذهب عالم المدینة المؤلف: أبو محمد جلال الدین عبد الله بن نجم بن شاس بن نزار الجذامي السعدي المالکي ج:۲، ص ۷۴۴ .

۲۹٦: القرطبي، أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بکر، الجامع لأحکام القرآن، تحقیق : أحمد البردوني وإب ا رهیم أطفیش، دار الکتب المصریة القاهرة، ـ۱۳۸۴ ه ـ ۱۹۶۴ م، ج ۱۳، ص ۲.

۲۹۷: البخاري، محمد بن اسماعیل، صحیح البخاري، کتاب النکاح، باب عرض الم أ رة نفسها علی الرجل الصالح، تحقیق: أبو تمیم یاسر بن إب ا رهیم، مکتبة، الرشد السعودیة، الریاض، ج ـ۷، ص ۲.

۲۹۸: للمزید حول الموضوع ینظر: بحث اختلاف الفقهاء في مالیة المنافع، د / رجب ابو ملیح.

۲۹۹: زغیبة، عز الدین زغیبة، ومقاصد الشریعة الخاصة بالتصرفات المالیة، م رکز جمعیة الماجد للثقافة والت ا رث، ط۱، ت۲۰۰۱، ص ۴۰ – ۴۱)

**څلورم دلیل:** داعیانودمنافعوختمېدل داسي دي لکه دعین ختمېدل، ځکه دمنافعوپه ختمېدلوسره دعین حیثیت نه پاتي کېږي، په همدې ډول کله چې دیوشي مقصودي منفعت له منځه لاړ داسي ګرځي ګویا کې ټول مقصود بې چې لمنځه ختم شي، ځکه اعیان چې مقصودي ګرځي دمنفعت پراساس مقصودي ګرځي کله چې دیوشي مقصودي منفعت له منځه لاړشي لکه ټول عین چې له منځه لاړ شي.[٣٠٠] پۀ همدې ډول علماء واېي: په اعیانوکې مقصود منافع دي، بغیردمنافعونه دعین قیمت نه پاتي کېږي.[٣٠١]

ابن قدامه رحمه الله[٣٠٢]وآيي: معقود علیه منافع دي او دا داکثرو اهل علمو نظر دی، چې له دې ډخه مالک، ابوحنیفه رحمهم الله او ډیر شافعي علماؤ دی.

یو شمیر نور وایي، معقود علیه عین دی، ځکه چې هغه موجود دی او دعقد اضافت هم دې ته شوی دی، لکه چې وایي: اجرتک داري.په هر حال موږ همدلته دجمهورو علماؤ په دلائلو باندې اکتفاء کو، البته نور دلایل هم لري خو دا یې هغه بارز اوښکاره دلائل دي، چې منافع مال دی.

**دوهم مطلب: په منافعو کې دغلا حکم**

په پیل کې دسرقې تعریف کوو:سرقه په لغت کې: (سرق الشيء یسرقه سرقا وسرِقا، واسترقه)[٣٠٣]

عرب سارق یا غل هغه چا ته وایي چې یو مصون ځای ته راشي، هغه پردی مال واخلي چې دده حق نه وي او په پټه توګه یې واخلي.[٣٠٤]

په اصطلاح کې: احناف علماء وایي: چې یو مکلف انسان دلسو دراهمو په اندازه ساتل شوی او محروز مال محروز ځای څخه پټ کړي، دې ته سرقه وایي.[٣٠٥] پۀ همدې ډول دسرقې په ارکانو هم غږیږو:

**دسرقې ارکان درې دي:**

**اول:** فعل السرقه، له دې څخه داده چې دغه کار یې په پټه توګه کړی وي[٣٠٦]

**دوهم رکن:** المسروق هغه مال چې پټ کړل شوی دی او شروط یې هم پوره شوي وي.[٣٠٧]

**دریم رکن:** سارق دی هغه کس ته وایي چې غلا کوي او په هغې کې دغلا شروط پوره شوي وي، په دې کې هم څو خبرې اړینې دي، اول دا به مکلف و ي، مطلب عاقل او بالغ به وي، ځکه لیونی او ماشوم خو مکلف نه وي.دسارق او مسروق منه ترمنځ به دخپلوۍ اړیکې نه وي،

---

٣٠٠: ابن نجیم، عقد الجواهر،ج ٢، ص ٧٥٦.

٣٠١: الزرقا، مصطفى أحمد الزرقا، المدخل الفقهي العام، دار الفكر دمشق، ـ ١٩٦٨، ج ٣، ص٢٠٥.

٣٠٢ اصلی نوم یې موفق الدین أبو محمد عبد الله بن أحمد بن قدامة بن مقدام، العدوي، القرشي، المقدسي، الجَمَّاعیلي، ثم الدمشقي، الصالحي د حنبلی مذهب د شیوخو له جملی څخه وو نوموړی په ٥٤١ هجري قمري کال د شعبان په میاشت کې د فلسطین د نابلس ښار په جماعیل کې زیږیدلی دی په ١١٤٧ میلادي کال کې دوهمه صلیبي جګړه د فرانسې د پاچا لوئیس او د جرمني د پاچا دریم کونراډ په مشرۍ تر سره شوه او اته کاله وروسته صلیبیانو د فلسطین خاوره ونیوله، نو احمد بن قدامہ هجرت وکړ. له خپلې کورنۍ سره دمشق ته لاړ او عبدالله په دمشق کې د علم په لټه کې شو، چې مهمه تآلیفات یې عبارت ده له، عمدة الفقه، المقنع، الكافي في فقه الإمام أحمد بن حنبل، المغني وهو أكبر كتبه ومن كتب الإسلام المعدودة، الاستبصار في الأنساب، الاعتقاد، ذم التأويل، ذم الوسواس او په کال٦٢٠ ه.ق. په دمشق ښارکې د اختر په ورز په حق ورسید. منبع( الاعلام للزرکلي،ج:۴،ص:۳۸۲).

٣٠٣: ابن منظور، جمال الدين محمد بن ملهم، ( د . ت)، لسان العرب، بيروت: دار صادر، ١٠ / ١٥.

٣٠٤: لسان العرب،ج:١٠.ص:١٥.

٣٠٥: الحنفي، زين الدين ابن نجيم، ) د. ت(، البحر الرائق شرح كتر الرقائق، باكستان، ايج – إيم – سعيد كمبنى،٥ /٥٠.

٣٠٦:بدائع الصنائع للكاساني، ٧/ ٦.

٣٠٧: البحر الرائق شرح كتر الرقائق، باكستان، ايج – إيم – سعيد كمبنى،٥ /٥٠.

سارق به داظطرار شرایط نه لري[۳۰۸]او داسې نورې ډیرې خبرې هم پکې اړینې دي خو موږ ترې دلته تیریږو ځکه زموږ بحث اوږدیږي.
په اسلامي شریعت کې دمنافعو دغلا حکم دعادي غلا په څیرنه دی، بلکې توپیر یې ترمنځ شتون لري، په سرقه صغری کې خبره داسې وي چې یو کس مال یا منفعت اخلي په پټه توګه، خو دمجني علیه علم او رضاء پکې نه وي، خو په سرقه کبری کې دیو کس مال یا منفعت سرقه کیږي په علم دمجنی علیه کې بغیر دهغه له رضاء څخه البته علی سبیل المغالبة.
نو کله چې په سرقه صغری یا په سرقه کبری کې شروط دسرقې متحقق شول نو دلته بیا هغه متفق علیه حد تطبیقیږي کوم چې دامت ترمنځ پرې اجماع ده[۳۰۹]
ددغه وضاحت په سورة المائده کې راغلی دی چې وایي: (وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ)[۳۱۰]
ژباړه: نارینه غل او ښځینه غلې څخه لاسونه پرې کړئ، دا بدله ده دهغه څه چې دوی ترسره کړي دي، عبرتناکه سزا ده دالله جل جلاله له لورې او الله جل جلاله پیاوړی او حکیم ذات دی.
نو دلته په دغه ایت کې په واضح ډول سره وایي چې لاس به ترې پرې کیږي، دلته له نص څخه معلومیږي چې که چیرته نارینه یا ښځینه غلا وکړه په سرقه یې صغری کې په داسې حال کې چې دسرقې او غلا شرائط پکې پوره وه نو لاس به ترې پرې کیږي او دغه مهال به حد وي، که چیرته شروط پکې پوره نه وه نو دغه مهال تعزیر دی، نو که چیرته شرائط پوره نه وه نو دغه مهال تعزیر دی او حد به په داسې وخت کې نه ترسره کیږي.[۳۱۱]
دمسلې دښه وضاحت لپاره یو مثال راوړو:
که چیرته یو سړي دبل کس موټر غلا کړ، په داسې حال کې چې دموټر خاوند دغه موټر په ګراج کې درولی ؤ، غل هم دا موټر دیو شمیر منافعو لپاره پټ کړی ؤ، نو اوس په دغه وخت کې دې غل مال محرز پټ کړی دی چې دا په سرقه کې یو اساسي شرط دی، په داسې حال کې چې په پټه توګه یې دغه موټر اخیستی دی، دغه غل بالغ، عاقل هم دی، په دغه موټر کې دموټر له خاوند سره شریک هم ندی، په همدې ډول دغلا شوي موټر دخاوند پلار هم ندی، نو په دغه حالت کې په دسرقې صغری شروط په دغه سرقه کې متحقق شول او په دغه سړي باندې ځانګړی حد تطبیقیږي.[۳۱۲]
اسلامي شریعت په سرقه صغری او کبری دواړو کې یو شمیر جزا ګانې مقررې کړي دي چې هغه عبارت دي له:
الف: حد.
ب: تعزیر.
یا په بل اعتبار ویلی شو:
۱: دسرقه کبری حد. ۲: دسرقه صغری حد.

۳۰۸: مخکینی مرجع،۵ /۵۰.
۳۰۹: سرقة المنفعة.لیکوال:زید محمد الکبری،بحث لدرجة الماجستیر فی العدالة الجنائة،باب،عقوبة سرقة المنفعة في الفقه الاسلامیة.ص:۱۰۳.ج:۱.
۳۱۰: سورة المائدة.۳۸ ایت.
۳۱۱: زیدمحمدالکبری: سرقة المنفعة.لیکوال: زید محمد الکبری، بحث لدرجة الماجستیر فی العدالة الجنائة، باب، عقوبة سرقة المنفعة في الفقه الاسلامیة.ص:۱۰۳.ج:۱.
۳۱۲: مخکینی مرجع.ج:۱.ص:۱۰۴.

سرقه کبری هغې ته وايي چې په هغې کې قطاع الطريق مال واخلي على سبيل المغالبة نو دغې ډول ته سرقه کبری وايي.
په هر حال دلته دمنافعو دسرقې او دمال دسرقې ترمنځ فرق شتون لري، قرانکريم دمنافعو سرقې ته اشاره کړې ده او وايي: (إِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ السَّمْعَ فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ مُّبِينٌ)[٣١٣]
ژباړه: هغوی چې په غلا غوږ نيسي، په هغې پسې موږ ښکاره ستوری ليږو.
دلته سمع دمنافعو له جملې څخه ده او ايت دغه نوعې دغلا ته اشاره کوي او وآيي چې دغه کار جرم دی او ترسره کونکی يې دسزا وړ دی، دغه ټکي ته هم قرانکريم اشاره کوي او وايي: (فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ مُّبِينٌ)
دلته يو سوال شتون لري او هغه دادی چې ايا دمنافعو په سرقه کې هم دغلا حد شتون لري او که نه؟ ددی سوال جواب لپاره لاندی څلور معاصر تطبيقی مثالونه راولو تر څو چې د حد او تعزير موارد په کې واضح شي.

**د منافعو په غلاکې معاصر تطبيقی مثالونه**

د دې مسئلې د ښه روښانتيا لپاره د موضوع په اړوند يو څو معاصر مثالونه رواړو او حکم وربانـدی لګوو چې کوم ځاي کې په غلو باندی حد تطبيقيږی او کوم ځاي کې تعزير تطبيقيږی:
**لومړی مثال:** که چيرته يو سړی ورځپاڼه پلوري، داسې ورځپاڼه چې قيمت يې دغلا نصاب ته رسيدلی وي، چې د دينار ربع يا هم لس درهمه وي، نو دغه وخت يو سړی ورشي، ورځپاڼه ولولي، هغه څه چې په ورځپاڼه کې دي، هغه ياد کړي، بيا له دغه ځايه لاړ شي، په داسې حال کې چې پلورنکی په دې نه پوهيږي چې دغه سړي دورځپاڼې موضوعات په يادو زده کړل، بيا وروسته بل سړی راشي، هغه سره کامره شتون لري، ددغه ورځپاڼې عکس واخلي، خو پلورنکی لا هم پوه نشي چې نوموړي دده له ورځپاڼې څخه عکس وويست، هغه هم له پلورنځي ووځ٣ي او لاړ شي، بيا دغه مهال يو بل کس هم راشي، هغه وګوري چې ورځپاڼه پلورنکی په نورو چارو بوخت دی، نو هغه له دغه فرصت څخه استفاده وکړي او ورځپاڼه له ځان سره يوسي، نو دلته اول او دوهم سړي، دمنافعو غلا وکړله، خو مال (ورځپاڼه) يې غلا نکړ، البته دريم سړي عين ياني ورځپاڼه غلا کړه، نو دغه مهال به دعين غلا کونکي ته دحد سزا ورکول کيږي او نور دوه کسان چې منافع يې غلا کړي دي هغوی ته به تعزير ورکول کيږي، ځکه چې دلته غلا دمنافعو او مال دواړو شوې ده او دبايع لپاره داسې څه پاتې نشول چې وه يې پلوري.
**دوهم مثال:** په همدې ډول يو کس دبل چا له کمپيوټر څخه له اجازې پرته معلومات کاپي کوي، نو دغه مهال ده مال يا عين غلا نکړ، بلکې منافع يې غلا کړ، تر هغې چې معلومات په کمپيوټر کې شتون ولري، نو تر دې پورې به دغلا حد په دغه غل باندې نه تطبيقيږي بلکې ده ته به تعزيري حد ورکول کيږي، البته که چيرته يې د ټول کمپيوټر سيستم غلا کړ، هغه چې معلومات پکې وي، نو دغه مهال به پرې دسرقې حد تطبيقيږي، ځکه چې غل داخل مال پټ کړی دی، ځکه دکمپيوټر دستګا يې پټه کړې ده په کومه چې ده ته دحدسزا ورکول کيږي، ځکه دکمپيوټر دستګاه مال دی، منافع ندي.
**دريم مثال** يو سړي، دخپل مبايل لپاره دکريدت کارت واخيست په سل درهمو، نو دغه مهال غل کريډيت کارت پټ کړ، نو ايا دغه مهال به دسرقې حد نافذيږي؟

---

٣١٣: سورة الحجر ١٨ ايت.

نو مونږ وایو چې هو! دغلا حد به تطبیقیږي، ځکه چې سارق مال پټ کړی دی، چې هغه کریدت کارت دی، خو کچیرته، یو سړي کریدت کارت واخیست، لا یې خپل ټیفلون ته ترې پیسې نه وې پورته کړې چې دغه مهال دکریدیت کارت شمیره ترې بل سړي خپل ځانته غلا کړه او هغه یې بیا استعمال کړه، نو دغه مهال حد نه لازمیږي، بلکې تعزیر دی، ځکه دلته غل مال ندی غلا کړی، بلکې فقط شمیرې یې پټې کړې دي او له هغې یې استفاده کړې ده، نو دلته یې دمنافعو غلا کړي ده او عین کریدیت کارت خو له خپل خاوند سره شتون لري، خو دومره ده چې دغه مهال دغه کریدیت کار بې ګټې شو وروسته له دې چې غل ترې غلا وکړه او دهغې منفعت یې غلا کړ، نو دلته دا کریدیت کارت داسې شو لکه تلف شوی مال، نو دغه مهال غل دحد پر ځای دتعزیر وړ دی.

**څلورم مثال** یو سړي لمریزه برېښنا سیستم (سولر ښیښه) واخیسته(بطري، مولد، ښیښه، کنټرولر)د دې لپاره چې لمریزه برېښنا ترې تولید کړي او دغه شیان یې په خپل کور کې ځای په ځای کړل، نو دغه مهال ترې غل، لمریزه ښیښه او یا بیټر پټه کړه، نو په غل باندې به حد تطبیقیږي، ځکه دلته غل مال پټ کړی دی، خو که چیرته یې له بیټري څخه په پټه توګه چارج او کرنټ پټ کړ، نو دغه مهال به تعزیر ورکول کیږي، نه دسرقې حد، ځکه چې دلته یې منافع غلا کړي دي، بلکې مال یې نه دی غلا کړی.)

**اخیری فیصله:** زمونږ نظر دا دی چې منافع مال محروز ندی، داسې مال هم ندی چې جمع شي، دمال شروط پکې نه دي متحقق شوي، نو په دې اساس حکم یې هم دمال یا جنس له غلا سره توپیر لري.

نو دلته دکتور یوسف صالح محمود[٣١٤] په دې باور دی چې په منافعو کې دسرقې حد نشته بلکې تعزیر دی.[٣١٥]

**دریم مطلب: په منافعو کې دقرض حکم**

اوس مونږ په دغه برخه کې په منافعو کې دقرض په هکله څیړنه کوو او غواړو چې په منافعو کې دقرض مسله روښانه کړو.

په دغه مسله کې هم زمونږ فقهاء دنظر تفاوت لري او په دغه برخه کې په یوه خوله ندي، غواړو په دې برخه کې دعلماؤ نظریات راوړو:

**لومړی قول:** دمنافعو قرض جائز ندی، دا دشوافعو او حنابله مذهب دی، البته داحنافو څخه پکې صریح قول نشته.[٣١٦]

**دوهم قول:** په منافعو کې قرض جائز دی، دا مذهب دمالکیانو دی، یو قول دامام شافعي رحمه الله هم دی.[٣١٧]

دجواز روایت دیو شمیر حنفي علماؤ څخه شتون لري چې، دوی وایي چې دا جائز دی، احناف دا منافع قیاس کړی دی په عاریت باندې ځکه چې په عاریت کې ملکیت دمنافعو دی او قرض هم تملیک دی چې بیرته به واپس کیږي نو له دې جملې څخه قرض شوې منافع هم دي، دغه قول شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله هم غوره کړی دی.

---

٣١٤: اصلی نوم یی دکتور یوسف صالح محمود دی، د إدارة التدقيق الشرعيو بنك دبي الإسلامي د مدیریت په برخه دنده ترسره کوی. او په اسلامی اقتصاد کې دکتورا کړي.

٣١٥: محمود، د. یوسف صالح ، حقیقت المنافع، إدارة التدقيق الشرعيو بنك دبي الإسلامي.

٣١٦: مغنى المحتاج.ج:٢.ص:١٦٢.وحاشية ابن قاسم:ج:٥.ص:٣٨.

٣١٧: حاشية الدسوقي:ج:٣.ص:٤٣٥

**د لومړني قول (د مانعينو) دلائل:**

**اول دليل:** قرض کې دا شرط ده چې عدد او اندازه يې بايد معلومه وي، چې ترڅو بيرته مالک ته يې واپس کول درست شي او امکان ولري، او منافعوپه قرض کې اندازه کول ناممکنه ده، نو دغه برخه کې برابر والی نه رامنځ ته کيږي، نو چې برابر والی رامنځ ته نشو نو تفاضل او زياتوالی رامنځ ته کيږي او دغه تفاضل او زياتوالی جائز ندی او دسود احتمال پکې رامنځ ته کيږي، په همدې اساس سلم هم پکې جائز ندی، ځکه چې دا په يو معين چوکاټ کې نه داخليږي.[318]

**د اول دليل ځواب**

۱: د دغه منفعت قيمت کول ممکن دي، نو په دې اساس موږ کولی شو چې دټول منفعت جمعي قيمت وپيژنو، نو دقيمت په پيژندلو سره جهالت ختم شو، نو دلته دا خبره چې اندازه يې ممکنه نده يو څه کمزورې ده.

۲: دقرض باب او مسايل په نرمۍ او تيريدني باندې ولاړ دي، نو که لږ زياتوالی چې شرط شوی نه وي پروا نه کوي او دغه لږ اندازه تفاضل او زيادت مؤثر ندی، نو دا خبره چې تفاضل پکې سود ګرځي، هم يو ډول کمزوری دليل دی.

**دوهم دليل:** که يو څوک بل څوک په خپل کور کې و اوسوي، نو داد دهغه قبيلې دقرض څخه دی چې په هغې باندې ګټه لاس ته راځي، نو دا ښکاره او جوته خبره ده چې دغه قرض ورکول حرام دي.

مطلب داقرض دکل قرض جر منفعة فهوربا په چوکاټ کې راځي.[319]

**د دوهم دليل ځواب**

۱: دا د منافعو قرض يوه داسې برخه ده چې په دې کې تسامح شتون لري، داسې تسامح چې په نورو معمالاتو کې نه موندل کيږي، نو دکل قرض جرا نفعه قاعده کې نه راځي.

۲: يو شمير فقهاؤ ويلي دي چې دا اجاره او عارية ده، نو په دې کې اشکال نشته.

۳: کله چې منفعت ددواړو طرفونو څخه وي او يو جانب ته هم ضرر نه وي، نو دا خو جائز دی، نو په دې باندې دمنع او عدم جواز کوم دليل نشته.

**دريم دليل:** دمنافعو قرض جائز ندی، ځکه چې دا زموږ په ټولنه کې عام عرف او عادت ندی.[320]

**د دريم دليل ځواب**

۱: کوم شی چې په عرف کې عادت نه وي دا خو دا مانا نلري چې دا دې حرام وي، داسې ډير ديني شيان زموږ او ستاسې په عرف کې شتون نلري خو جايز دي.

۲: اصل په معاملاتو کې اباحت دی، نو موږ هم د عصر دغوښتني په اساس دمنافعو قرض ته جواز ورکوو.

په دې سره دلومړی ډلې چې هغوی په منافعو کې دقرض په جواز قايل ندي بحث پای ته رسيږي، اوس راځو ددوهمې ډلې دلائلو ته.

**د دوهم قول(د مجيزينو) دلائل:**

---

۳۱۸: روضة الطالبين.ج:۴.ص:۳۳.

۳۱۹: الاختيارات.ج:۱.ص:۱۳۱.

۳۲۰: بهوتي، منصور بن يونس بن صلاح الدين ابن حسن بن إدريس البهوتى الحنبلى، كشاف القناع عن متن الإقناع، المؤلف: (المتوفى: ۱۰۵۱هـ)الناشر: دار الكتب العلمية، عدد الأجزاء: ٦، ج:۳.ص:۳۱۴.

**اول دلیل:** منافعو قرض په عاریت باندې قیاسوو، خو دعوض په شرط سره او دا مخالفین هم جائز بولي، حنابله په یوه مشهور قول سره او نور علماء یې هم جائز بولي.[۳۲۱]

**دوهم دلیل:** قرض دثواب او اسانتیا عقد دی، په دې کې تسامح او تیریدنه ده هغه چې په نورو عوضي عقودو کې نشته.

نو په همدې اساس یې دربا او سود له قاعدې څخه هم مستثناء کړی دی او په دې کې جانبینو ته مصلحت هم دی چې یو اړخ ته هم ضرر نه رسیږي.[۳۲۲]

همدغه خبره ابن تیمیه رحمه الله[۳۲۳] تاید کړې ده، نوموړي دا وضاحت کړی دی چې قرض دتبرعاتو له جنس څخه دی، لکه عاریت او دغه څه ته رسول الله صلی الله علیه وسلم هم اشاره کړې ده او فرمایلي یې دي، (او منیحة ذهب او منیحة ورق)[۳۲٤]

ژباړه: یا ډالی او بدله دسرو زرو او یا ډالی او بدله دسپینو زرو.

له دې ځای څخه معلومیږي چې سره او سپین زر اګر که فرق لري خو په قرض کې تسامح دی او دومره توپیر یې پروا نکوي.

**دریم دلیل:** اصل په معاملاتو کې اباحت دی، نو چې په عوضي عقودو کې اصل اباحت دی، نو په تبرعي معاملاتو کې خو په طریقه اولا سره اباحت دی.

**څلورم مطلب: په منافعو کې دزکات حکم**

موږ په دغه برخه کې غواړو چې په دې هکله څیړنه وکړو چې په منافعو کې زکات شتون لري او کنه !

زکات داسلام په ارکانو کې دریم رکن دی چې اسلام پرې ولاړ دی، داسې چې داسلام اقتصادي برخه رغوي او داسلامي ټولنې دملا تیر جوړوي، په دې اړه په قرانکریم او نبوي نصوصو کې ډیری نصوص شتون لري، الله جل جلاله په قرانکریم کې فرمایي: (خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً)[۳۲۵]

په همدې ډول په نبوي احادیثو کې هم ډیری حدیث په دغه برخه کې شته دی، دصحیح البخاري یو حدیث دی(حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا زَكَرِيَّاءُ بْنُ إِسْحَاقَ عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ صَيْفِيٍّ عَنْ أَبِي مَعْبَدٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ حِينَ بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ إِنَّكَ سَتَأْتِي قَوْمًا أَهْلَ كِتَابٍ فَإِذَا جِئْتَهُمْ فَادْعُهُمْ إِلَى أَنْ يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ

---

۳۲۱: مطالب اولی النهی.ج:۳. ص:۲۴۰.

۳۲۲: الفتاوی الکبری.ج:۶.ص:۱۷.

۳۲۳ اصلی نوم یی تقی الدین احمد بن عبدالحلیم بن تیمیه دی او ابوالعباس یی کنیه ده او په شیخ الاسلام ابن تیمیه مشهوردی او په ٦٦١ ه. کال کې د حران(جنوب ترکیه) ښآرکې زیږیدلی دی ابن تیمیه په یوه سیاسی او علمی کورنی کی زیږیدلی چې پلاریی شهاب الدین عبدالحلیم د حران مشهورو علماوو له جملو څخه وو نوموری د ۳۰۰ نه زیاد تصنیفات لړی چې مهم کتاب یی الجواب الصحیح لمن بدل دین المسیح په ۷ جلده کې او منهاج السنه په نه جلده کې لیکلی دی
الاستقامه
اقتضا صراط المستقیم لمخالفت اصحاب الجحیم
بیان تلبیس الجهمیه
الصفدیه
النبوات
او په کال ۷۲۸ ه. ۱۳۲۸م. په دمشق زندان کې ورسته له مریضی څخه و فات شو.

۳۲٤: سنن الترمذي.ج:۴.ص:۳۴۰.کتاب البر والصلة.

۳۲۵: سورة التوبة.۱۰۳.

عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللَّهِ حِجَابٌ)[٣٢٦]

ژباړه: له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی، دی وايي: کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم معاذ رضي الله عنه یمن ته لیږه.نو هغه ته یې وویل: تاته به دیمن اهل کتاب راشي، کله چې هغوی درته راغلل، نو ته یې لومړی توحید ته او رسالت ته راوبوله، که چیرته هغوی ستا داخبره ومنله، بیا ورته دا خبره وکړه: چې په تاسي باندې الله جل جلاله په یوه شپه او ورځ کې پینځه لمونځونه فرض کړي دي، که ستا دا خبره یې ومنله نو بیا ورته ووایه: الله جل جلاله په تاسي باندې زکات فرض کړی دی چې ستاسي له بډایه خلکو به اخیستل کیږي او ستاسي بیوزلانو ته ورکول کیږي، که چیرته ستا داخبره یې ومنله نو ته دهغوی له قیمتي مالونواخیستلو څخه ډډه وکړه، دمظلوم له خیراوو څخه ځان وساته، ځکه دمظلوم دخیراوو او دالله جل جلاله ترمنځ پرده نه وي.

نو دلته په پورته حدیث کې له له صدقاتو څه مراد زکات دی، ځکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم یې ترې په اخیستلو امر کړی دی.

په هر حال دا خو دمال په تړاو عمومي خبره وه چې زکات پکې لازم دی، دا چې اوس په منافعو کې زکات شتون لري اوکنه ؟

په دې تړاو محمد بن احمد السرخسي الحنفي په خپل کتاب مبسوط کې وايي: (په منافعو کې زکات نشته)[٣٢٧]

منافع من وجه مال دی، خو البته دومره خبره ده چې په دې کې زکات واجب ندی.

په همدې ډول یو شمیر شوافع علماء هم په دې باور دي، چې په دې کې زکات نشته، خطیب شیربیني وايي: په حقیقیت کې منافع اموال ندي نو زکات پکې نشته.[٣٢٨]

په همدې ډول په مغني المحتاج کې راځي: (المنافع مال من وجه، لکنه لیس بمحل لوجوب الزکاة فیه)؛[٣٢٩]نو په دې اساس زموږ په عصر کې هم یو شمیر منافع شتون لري چې دزکات په تړاو یې اړین حکم پکار دی، زموږ په زمانه کې ډیری مسایل دي چې منافع لري، دبیلگې په ډول، هغه چارج چې په بیټریانو کې ذخیره کیږي، دکمپیوټر یو شمیر سیستمونه او داسي نور ډیر شیان چې منافع دي او لوی لوی تجارتونه پرې روان دي، په داسي حال کې چې موږ په دې باور یو چې منافع مال ندی، نو ایا په دغه شیانو کې زکاة واجب دی او کنه؟

نو موږ وایو چې منافع مال ندی، نو په دې اساس زکات هم پکې ندی واجب، (په دې تړاو مخکې هم دپخوانیو علماو نظر راوړل شو)ددې خبرې دوضاحت لپاره یو مثال راوړو: یو سړی سل اوښان لري، له دې ټولو نه شیدې ترلاسه کوي، په همدې ډول دشیدو دپروسیس یوه فابریکه یې هم جوړه کړې ده، یو دوکان هم لري چې په هغې کې شیدې پلوري، نو اوس سوال دادی چې ایا زکات په دې کې واجب دی؟ایا په هغه شیدو کې زکات شته چې په غولانځه کې دي، کله چې داوښانو خاوند وغواړي چې په غولانځه کې شیدې وپلوري؟

---

٣٢٦: صحیح البخاري،ج:٣.ص:٥٥٧.

٣٢٧: المبسوط للسرخسي (هو محمد بن أحمد بن أبي سهل السرخسي الحنفي، توفي – رحمه الله – سنة ٤٨٣هـ)، دار المعرفة، بیروت، لبنان، عدد المجلدات ٣١، ج٢، ص١٩٦.

٣٢٨: مغني المحتاج لشمس الدین محمد بن الخطیب الشربیني الشافعي القاهري (شرح المنهاج للنووي)، دار المعرفة، بیروت، لبنان، الطبعة الأولى ١٤١٨هـ، ١٩٩٧م، ج ٢، ص:٦.

٣٢٩: مغني المحتاج،ج:٢،ص:٦.

نو موږ وایو: زکات په هغه مالونو کې دی چې هغه دپلور لپاره وړاندې شوي دي، ځکه دا دپلور سودا ده، کله چې دزکات ټولونکی راغی، نو هغه له پلورونکي هغه زکات اخلي چې په دغه مالونو کې واجب شوی دی، مطلب اصلا په اوښانو کې زکات زکات اخیستونکي دکال په پای کې اخیستی دی او اوس چې کومې شیدې دا کوي، نو ددې زکات ورکړل شوی دی، کومې شیدې چې په دوکان کې دي، هغه شیدې چې په غولانځه کې دي، په هغې کې زکات ندی واجب، ولو که داوښانو خاوند دهغې دپلورلو اراده کړې وه.
نو په شیدو کې ځکه زکات نشته چې هغه منافع دي، بلکې زکات ددې په اصل جنس او عین کې دی چې هغه اوښان دي، نو په دې اساس به زکات په اوښانو کې ورکول کیږي، د اوښانو په شیدو کې به نه ورکول کیږي.
موږ چې پاس کوم مثال ذکر کړ، داپه معاصرومثالونوکي هم موندل کیږي:
**د منافعو په زکات کې معاصر تطبیقي مثالونه**
**لومړی مثال د بطریانو چارج:** دا په هغه بطریانو هم تطبیقیږي چې په هغې کې چارج او کرنټ ذخیره وي، چارج او کرنټ هم دمنافعو له برخې څخه شمیرل کیږي، کله چې دیو سړي بطرۍ وي او له چارج څخه ډکې وي، هغه یې پلورل غواړي، نو دلته زکات په دغه بطریانو کې دی، کوم چې عین او جنس دی، په دې شرط چې نصاب ته رسیدلې وي، خو که چیرته سړی بطریانې نه پلوري، مطلب جنس نه پلوري، خو هغه چارج چې په بطریانو کې ذخیره دی، هغه تر کورونو رسوي او په بدل کې یې له خلکو نغدې پیسې اخلي، نو که چیرته دمنافعو پیسې نصاب ته رسیدلې په دې کې زکات شتون لري، نو په دې اساس په بطریانو کې چې کوم چارج دی، په دې کې اصلا زکات نشته بلکې زکات په کې هله راځي کله چې دا چارج وپلورل شي، له هغې څخه پیسې لاسته راشي، او دغه پیسې نصاب ته ورسیږي، دغه مهال پکې زکات شته دی، خپله په چارج کې نشته ځکه دا خو داسې دی لکه په غولانځه کې شیدې.
**دوهم مثال سافټویرونه:** که چیرته دیو سړي، سره داسې سافټویرونه وي چې په سیډي کیسټ کې وې، چې په هغې کې دکمپیوټر سل برنامې وي، هغه یې دپلورلو نیت ولري، نو په دې کې زکات شتون لري، کله چې نصاب ته ورسیږي، کال پرې تیر شي، نو دلته ځکه زکات شته چې، دا مال دی، داسافټویر په سیډي او کیسټ کې شتون لري، نو دا منافع چې پیسې یې ترلاسه شي زکات پکې شته، خو کله چې نصاب ته ورسیږي.
نو په خلاصه ډول ویلی شو، مخکې هم خبره تیره شوه چې منافع مال ندی، بلکې له مال څخه اعم دی، ځکه دا داموالو څخه حاصلیږي، دانسان محصول دی، نو هغه انسان چې منافع وړاندې کوي، هغه بنفسه مال ندی، نو منافع په مالونو کې شته، لکه په حیوان باندې سپرلي کول مال ندی، بلکې منافع دي، بلکې مال خپله حیوان دی او سپرلي منفعت دی، نو دلته په حیوان باندې سپرلي کول منافع دي او حیوان خپله مال دی، نو دلته دوه مالونه نه موجودیږي، بلکې یو مال دی، نو په دې اساس زکات په مالونو کې واجب دی، نه په منافعو کې، لکه څنګه چې دمنافعو دسرقې حکم ؤ، هلته دمنافعو دسرقې حکم دمالونو دغلا څخه مختلف ؤ، نو په اول حالت کې چې کله منافع غلا شي، تعزیر دی او په دوهم حالت کې چې کله عین مال غلا شي، هلته حد دسرقې دی.
داسې په زکات کې هم ده چې په لومړي حالت کې چې کله منافع وي دې کې زکات نشته، بلکې زکات هله دی چې عین جنس کله پلوري، په دغه ډول نظر د دوبۍ داسلامي بانک مشر دکتور یوسف صالح محمود هم لري او هغه په دغه برخه کې فتوی ورکړې ده چې په دغه ډول منافعو

کې زکات نشته، نوموړي دخپل قول داستدلال لپاره دحنفي فقهاؤ او شافعي عالم خطيب شيربيني دليل هم راوړی دی چې وايي چې په منافعو کې زکات نشته، نوموړي په دغه برخه کې بيا ډېر معاصر تفريعات هم کړي دي چې دلا ډيرو معلوماتو لپاره يې لاندې لينک ته مراجعه وکړئ.[330]

نو کله چې پورته يادونه وشوه چې دمال دغلا او دمنافعو دغلا ترمنځ توپير شته او دواړه جلا جلا حکم لري، موږ مخکې يادونه وکړه، چې په منافعو غلا کې حد نشته بلکې تعزير دی، حد هله دی چې خپله مال پټ کړل شي، په همدې ډول زکات کې هم خبره همدغه ډول ده، زکات په عين جنس کې دی، په منافعو کې يې نشته، البته که چيرته يې منافع وپلورل، له هغې څخه پيسې لاسته راغلې او هغه نصاب ته رسيدلې وي، بيا په هغه پيسو کې زکات شته دی، په دې تړاو مخکې هم دشافعي او حنفي علماؤ نظريات ذکر کړل.

**پنځم مطلب: دعقد اجارې اثار**

د اجارې دعقدآثار او پايلې

هرکله چې د اجارې عقد په سمه توګه صورت ونيسي نوپدي وخت کې يو لړ حقوق او التزامات رامنځته کوي چې ددغه حقوقو او التزاماتو څخه ځيني يې دموجر او ځيني يې دمستاجر پوري اړه لري چې هر يو يې په جلا جلا توګه څيړو

**الف _ دموجر حقوق او التزامات**

**لومړی:** د مدني قانون د۱۳۴۷ مې مادې لمخې موجر مکلف دي ترڅو دعقد دانعقاد څخه وروسته ماجور مستاجر ته وسپاري ځکه د اجارې دعقد لمخې دماجور ګټه نورنو په مستاجر پوري اړه نه لري.

**دوهم:** موجر مکلف دي ترڅو داسي مال مستاجر ته وسپاري چې دانتفاع وړتيا ولري، يادهغې څخه انتفاع اخيستل دنقص سره يوځاي نه وي پرته له هغې مستاجر کولاي شي چې عقد فسخ کړي اويا په اجرت کې دعين دنقص په اندازي سره کموالي راولي، مدني قانون پدي هکله صراحت کوي چې:

(۱- که هغه عين چې په اجاره ورکول کيږي په داسي حالت کې تسليم کړي شي چې د اجارې دعقد له نظره دګټې اخيستلو قابليت ونلري اويا دهغې څخه ګټه اخيستل دلوي نقصان سره يوځاي وي نو اجاره اخيستونکې کولاي شي چې دعقد دفسخه کېدو ياپه ګټې اخيستلو کښې دنقص په اندازي داجوري دکموالي غوښتنه وکړي.

۲- اجاره اخيستونکې په دواړو پورتنيو حالونوکې کولي شي چې داقتضاء سره سم دتعويض غوښتنه وکړي).[331]

**دريم:** دمستاجره عين ماليه او محصول دموجر په غاړه دي خو دګټې پوري دمربوطو ټکسونو اداکول لکه برق يا داوبو ټکس دمستاجر په غاړه دي، مدني قانون پدي اړوند داسي حکم کړي دي (هغه عين چې په اجاره ورکول کيږي دهغې دمحصول او ماليې تکليفونه د اجارې ورکـــونکې په غـــاړه دي اوبه او بريښنا اونور هغه څه چه دشخص داستعمال پوري مربوط وي د اجارې اخيستونکې په غاړه دي، مګر داچې دهغې په خلاف موافقه شوي وي).[332]

---

۳۳۰: د. يوسف صالح محمود، إدارة التدقيق الشرعي.

۳۳۱ :مدني قانون،دويم کتاب،ټاکل شوي عقدونه، ۱۳۴۸مه ماده

۳۳۲ :همغه قانون، ۱۳۵۳ مه ماده

**څلورم:** اجاره ورکونکې نشي کولاي ترهغه پوري چې يې مال دبل کس په اجاره کې دي دهغه دګټې څخه استفاده وکړي او يا يې په ګټه تيري وکړي اويا په داسي ډول تغير په عين کې رامنځته کړي چې په ګټه کې تغير راولي يا دګټي دلاسته راوړلو لپاره مانع وګرځي، پدي اړوند مدني قانون داسي څرګندونه کړي ده (اجاره ورکونکې نشي کولاي چې د اجارې په مودي کښي د اجارې اخيستونکې دهغې شي څخه په ګټه اخيستلو تعرض وکړي چې په اجارې ورکول شوي دي او يا په هغې کښي داسي تغير راوړي چې دعين څخه دګټي اخيستلو داخلال باعث شي چه اجاره دهغې په اساس عقد شوي ده)[۳۳۳]همدارنګه کچېري يو دريمګړي کس دمال په هکله دعوي وکړي نو اجاره ورکونکې پدي مکلف دي ترڅو ددعوي دفع وکړي مدني قانون داسي حکم کوي چې (اجاره ورکونکې نه يواځې دهغې اعمالو ضامن ګڼل کېږي چه دهغه له خوا يا دهغه دمربوطينو له خوا کېږي بلکه دهر هغه تعرض څخه چه دقانوني سببونو په اساس بل اجاره اخيستونکې يا بل کوم شخص چه په اجاره شوي عين باندي ئې دهغه څخه حق کسب کړي هم ضامن ګڼل کېږي).[۳۳٤]پدې اساس دمستاجره عين په هکله ديو دريمګړي کس ددعوي په صورت کې اجاره ورکونکې مکلف ګڼل کېږي ترڅو دهغه ددعوي په وړاندي دفاع وکړي نه اجاره اخيستونکې، او که چېري ددريمګړي کس دعوي دمستاجره عين په هکله ددې لامل وګرځي چې مستاجر ونشي کولاي چې له عين څخه ګټه پورته کړي يعني دعوي دانتفاع لپاره مانع وګرځي نو پدي صورت کې مستاجر کولاي شي چې د اجارې دعقد فسخه وغواړي.

**پنځم:** کچېري اجاره اخيستونکې د اجارې په عين کې داسي ونې يا زينتي شيان کښينوي چې هغه دمستاجره عين په قيمت کې زياتوالي راولي نو اجاره ورکونکې بايد د اجارې په پاي کې دهغې قيمت مستاجر ته ورکړي، ولې کچېري اجاره ورکونکې ددې کار په وړاندي اعتراض کړي وي او يا اصلاً پدي هکله خبر شوي نه وي او رضايې هم نه وي او بيا مستاجر دغه کار وکړي نو اجاره ورکونکې دهغو دقيمت په ورکولو مکلف ندي او حتي کچېري لدي کبله عين ته ضرر رسيدل وي نو مستاجر دهغې په تاوان ورکولو مکلف ګڼل کېږي.[۳۳٥]

**ب_ دمستاجر حقوق او التزامات**

**لومړی:** مستاجرمکلف دي ترڅو د اجارې دعقد په پاي کې مستاجره عين بيرته مستاجر ته وسپاري، مدني قـانون پدي هکـــله داسي وايې چې:

(۱- اجاره اخيستونکې مکلف دي ترڅو اجاره شوي عين بيرته په هغه توګه ورکړي چې تسليم شوي وو، هغه تلفيدل يانقصان چې اجاره اخيستونکې په هغې کې دخيل نه وي ددې حکم څخه مستثني دي.

۲- که داجاره شوي عين تسليميدل بي دهغې دصفتونو دشرحي څخه صورت موندلي وي نوداسي فرض کېږي چې ذکر شوي عين دښه صفتونو په حالت کې تسليم شوي دي مګرداچې دهغې په خلاف دليل موجود شي)[۳۳٦]له همدي کبله کچېري مستاجر دعقد دپاي ته رسيدو دمودي څخه وروسته مستاجره عين پرته له کومه لامله دځان سره وساتي اوله امله يې موجر ته زيان ورسي نو مستاجر ددې زيان ضامن ګڼل کېږي او کچېري دغه ساتنه دکوم لامل او عذر له کبله وي نو پدي صورت کې دپخواني اجوري په څير دهمدومره مودي اجرت بيا پري

---

۳۳۳ :همغه قانون،۱۳۵٦ مه ماده

۳۳٤: همغه قانون،۱۳۵۷ مه ماده.

۳۳٥:عبدالله، نظام الدين،حقوق عيني، :۱۳۸٥ هـ ش، ص: ۱۲۷ .

۳۳٦: مدني قانون،دويم کتاب،تاکل شوي عقدونه، ۱۳۷٦مه ماده .

لازميږي، مدني قانون ددې موضوع په اړوند داسې څرګندوني کړي دي (اجاره اخيستونکې مکلف دي چې د اجارې دمودې په پاې کې داجاره شوي شي عين بيرته ورکې، که هغه ذکر شوي عين بې موجبه په خپل تصرف کې وساتي دهغې اندازې دتعويض په ورکولو چې په هغې کې دذکر شوي عين د اجارې قيمت مراعات شي اودتاوان دجبيري په ورکولو اجاره ورکونکې ته ملزميږي، که داساتنه داضطرار په اساس يادداسې سبب په اساس وي چه اجاره اخيستونکې په هغه کې مداخله ونلري نودمثلي اجرت په ورکولو اجاره ورکونکې ته مکلف دي).[٣٣٧]

**دوهم:** اجاره يو بدلي عقد دي او مستاجر مکلف دي ترڅو دمنفعت دلاسته راوړلو په مقابل کې موجر ته ټاکل شوي اجوره په ټاکل شوي موده کې ورکړي، خو که چېري داجرت دورکړې لپاره موده نه وي ټاکل شوي نو مستاجر مکلف دي ترڅو دعرف او عاداتو مطابق اجرت ورکړي پرته لدې چې کــوم بل ډول موافقه شوي وي پدې هکله مدني قانون داسې وايي:

(١- اجاره اخيستونکې مکلف دي ټاکلې اجوره په هغې موده کې چه پرې موافقه شوي اداکړي، که ترمخه موافقه نه وي شوي نوداداکولو دمودې دپاره دځاې عرف اعتبار لري.

٢- داجورې ورکول د اجارې اخيستونکې په استوګنځي کې صورت مومي مګر داچې عرف يادداړو خواوو موافقه بل رنګه حکم وکړي).[٣٣٨]

**دريم:** د مدني قانون د١٣٧١ مې مادې مطابق چې وايي (اجاره شوي عين داجاره اخيستونکې سره امانت ګڼل کيږي دهغې په پاملرنه مکلف دي او دهغې تلفيدو اونقصان څخه چه دعادي استعمال څخه نه وي پيداشوي مسئول دي) له همدې کبله مستاجر مکلف دي ترڅو دمستاجره عين ساتنه په صحيح ډول وکړي او ښه پام پرې ونيسي، ځکه مستاجره عين دهغه سره امانت دي، اما کچېري هغه په غير عادي ډول استعال کړي اوياورسره بې باکې وکړي اوله امله يې دغه مال له منځه ولاړ شي نو مسئول يې ګڼل کيږي، خو کچېري ددغه مال په له منځه تللو کې ددې کس ګناه نه وي اونه يې هم بې باکې ورسره کړي وي بلکه دکومې بلې ناڅاپي پيښې يا غير مترقبه حوادثو له کبله دغه عين هلاک شي نو پدې صورت کې مستاجر مسئول ګڼل کيږي، مدني قانون پدې اړوند داسې حکم کړي (اجاره اخيستونکې داجاره شوي شي دعين څخه په داسې توګه ګټه اخيستي شي چه پرې موافقه شوي وي که ترمخه موافقه نه وي شوي نو جاري عرف اعتبار لري).[٣٣٩]

**څلورم:** همدارنګه د مدني قانون د١٣٦٨ مه مادې لمخې په مستاجره عين باندې دبرق، ګاز يا داوبو رسولو دوسايلو لګول يا دتيلفون، راديو او تلويزيون دوسايلو لګول پداسې شکل سره چې مستاجره عين ته زيان ونه رسوي جوازلري اوروادي، نو مستاجرکولاې شي په خلاص مټ سره دغه وسايل دخپل استفادې لپاره په عين باندې ولګوي.

## شپږم مطلب: دعقد اجارې اثار

هرکله چې دعاريت عقد په صحيح ډول منعقدشي نودهغه لپاره يولړځانګړي آثاراونتايج رامنځته کيږي چې ددغه آثارو او نتايجو څخه ځيني يې دمعير او ځيني يې دمستعير پوري تړاولري چې هر يو يې په لاندې ډول مطالعه کوو:

---

٣٣٧: مدني قانون،دويم کتاب،ټاکل شوي عقدونه،١٣٧٥مه ماده .
٣٣٨: همغه قانون، ١٣٧٣ مه ماده.
٣٣٩: همغه قانون، ١٣٦٦ مه ماده

**الف_دمعير پوري اړونده آثاراو پايلي**
د مدني قانون په اساس عاريت ورکونکي بايد دلاندي حقوقو او التزامونو لرونکي وي:
**لومړی:** عاريت ورکونکي پدي مکلف دي چې دعقد دانعقاد څخه وروسته دعقد موضوع عاريت اخيستونکي ته دانتفاع لپاره وسپاري د مدني قانون پدي هکله داسي صراحت کوي (عاريت ورکونکي مکلف دي چې په عاريت ورکړ شوي عين په همغه دعقد دوخت په حالت کي عاريت اخيستونکي ته تسليم او هغه دعاريت دمودي په اوږدو کې دعاريت اخيستونکي په اختيارکي پريږدي).[340]
**دوهم:** کچېري په عاريت اخيستونکي دمستعاري دساتني اوحفاظت پخاطر په مستعاري باندي خرچه او مصرف وکړي نوعاريت ورکونکي مکلف دي چې دغه مصرف ورکړي، د مدني قانون ۲۳۰۸ مه ماده پدي هکله صراحت لري.
(۱-کوم مصرفونه چه دهغه عين دپالني او ساتني دپاره چې ورڅخه ګټه اخيستل کېږي لازم وي، دنفعي اخيستونکي په غاړه دي).
**دريم:** عاريت يوبي عوضه اوبي بدله عقددې له همدي کبله په عاريت ورکونکي نشي کولاي ددې عقد په بدل کي دمستعير څخه داجوري غوښتنه وکړي، بلکه په عاريت اخيستونکي به بي عوضه ددې ګټي خاوند ګرځي، دمجله الاحکام ۸۱۲ مه ماده پدي هکله داسي صراحت لري چې (په عاريت اخيستونکي پرته له بدله دعاريت دګټي خاوند ګرځي له همدي کبله په عاريت ورکونکي حق نلري چي دمستعير څخه دعاريت دعين داستعمال له وجهي داجري غوښتنه وکړي)
**ب _ دمستعير پوري اړونده آثاراو پايلي**
دمدني قانون لمخي مستعير دلاندي حقوقو او التزامونو لرونکي دي:
**لومړی:** په عاريت اخيستونکي مکلف دي چې په عاريت اخيستل شوي شي لکه دخپل اصلي مال په څير وساتي، دمدني قانون۱٤٦۲مه ماده پدي هکله داسي صراحت کوي (عاريت اخيستونکي مکلف دي چې په عاريت ورکړشوي شي په ساتنه او صيانت کې داسي توجه وکې لکه چه خپل مال ته يې کوي). همدارنګه د مدني قانون ۲۳۱۱ مه ماده (ګټه اخيستونکي مکلف دي چې دهغه عين په ساتنه کښي توجه وکړي چې ورڅخه ګټه اخلي).
**دوهم:** په عاريت اخيستونکي مکلف دي چې له عين څخه پداسي ډول ګټه واخلي په څه ډول چې معير ورته اجازه کړي وي يعني کچېري معير ورته وخت يا ځاي معين کړي وي نو بايد هغه مراعات کړي اونشي کولاي چې دهغې خلاف عمل وکړي، د مدني قانون په موادو کې پدي هکله داسي صراحت شوي
(۱- که دګټي اخيستلو عقد مطلق وي اومقيد نه وي نو ګټه اخيستونکي مکلف دي چې دکوم شي څخه ګټه اخلي هغه په عادي توګه استعمال کړي. ۲- که عقد په کوم قيدمقيد وو نو ګټه اخيستونکي به دمالک د تقيېد سره سم يا دهغې په مثل يا دهغې څخه په کمه اندازه ګټه اخلي، خو داحق نلري چې دهغې څخه تيري وکړي).[341]
**دريم:** کچېري دعين څخه ګټه اخيستنه نورو مصارفو ته ضرورت ولري يانور وسايل ورته ضرور وي نوګټه اخيستونکي يامستعير بايد هغه اداء کړي ځکه څنګه چې ګټه اخلي هغه ډول

---
۳٤۰ :همغه قانون، ۱٤٥۹ مه ماده
۳٤۱ :مدني قانون،دريم کتاب،عيني حقوق . ۲۳۰٦مه ماده

باید مصرف ته هم ملا وتړي[342] د مدني قانون ۲۳۰۸ مه مادې لمړي فقره پدي هکله داسي حکم کوي (۱- کوم مصرفونه چې دهغه عین دپالني او ساتني دپاره چې ورڅخه ګټه اخیستل کېږي لازم وي، دنفعي اخیستونکې په غاړه دي ۲-کوم تکلیفونه چې غیر عادي وي او هغه لوي اصلاحات چه دګټي اخیستونکي دقصور څخه نه وي پیداشوي دمالک په ذمي دي اوګټه اخیستونکي دهغې ګټي په ورکولو چې ددې مصرف څخه حاصل شوي مکلف دي که ذکرشوي مصرفونه ګټي اخیستونکي کړي وي، نوکولاي شي چې دګټي اخیستلو دمودي په آخر کښي دمالک څخه دهغې غوښتنه وکړي).

باید یادونه وکړم کچېري دمستعاري عین حیوان وي نو دهغه دخوراک او څښاک مصرف او نفقه په عاریت اخیستونکې باندي ده اوباید هغه ورکړي دمجلةالاحکام ۸۱۵ مه ماده داسي وایې چې (دمستعاري دنفقي مصرف په مستعیر دي لدي کبله کچېري په عاریت اخیستونکي حیوان پرته له خوراک او څښاک څخه پریږدي اوحیوان له منځه ولاړشي نوپه عاریت اخیستونکې ضمان لازمیږي).

**څلورم:** دعاریت دعقد دله منځه تللو یاانحلال وروسته عاریت اخیستونکې مکلف دي ترڅو دېخواني عقد موضوع بیرته عاریت ورکونکي ته وسپاري.

د مدني قانون ۱٤۷٤ مه ماده (مالي تکلیفونه، دعادي ساتني مصرفونه اودعـــاریت دعین، بیرته ورکول دعاریت اخیستونکې په غاړه دي).

همدارنګه دمجله الاحکام ۸۲۵ مه ماده پدي هکله داسي صراحت کوي (هرکله چې په عاریت ورکونکې مستعاره وغواړي نو په عاریت اخیستونکې لپاره لازمه ده ترڅو مستعاره وروسپاري په هغه صورت کې چې مستعیر پرته له کومه عذره ځنډ وکړي اوله امله یې مستعاره له منځه ولاړه شي یایې په قیمت کې کموالي رامنځته شي نو ضمان پري لازمیږي)، همدارنګه دمجله الاحکام د۸۲۸ او ۸۳۰ مادو په اساس مستعیر باید پخپله یا د خپل یو امین په لاس مستعاره عاریت ورکونکي ته وروليږي اودهغې دلیږد خرچه هم ورکړي.[343]

**پنځم:** په هغه صورت کې چې مال دمستعیر دګناه یا قصد دوجهي له منځه ولاړ شي نو دهغې تاوان پري لازمیږي، د مدني قانون احکاموکې ددې موضوع په اړونداسي حکم راغلي دي (که دعاریت عین دعادي استعمال په نتیجه کې یا دعرف سره سم داسي عیب جن شي چه دهغې دقیمت دښکته کېدو موجب شي، عاریت اخیستونکې ددې قیمت دکموالي ضامن نه دي او که یې په غیر عادي توګه استعمال کړي ضامن ګڼل کېږي).[344] علاوه لدي څخه د مدني قانون ۱٤۷۱ مي مادې هم پدي هکله همداسي حکم کړي دي.

۳٤۲ :عبدالله، نظام الدین،حقوق عیني، ۱۳۸۵ هـ ش، ص ۱۰٤

۳٤۳ :عبدالله، نظام الدین،حقوق عیني، ۱۳۸۵ هـ ش، ص ۱۰۵

۳٤٤ مدني قانون،دویم کتاب،تاکل شوي عقدونه، ۱٤۷۲ یمه ماده

# پایلي

۱: زه ددې څېړنې په پای کې دې ته ورسیدم چې هغه عقدونه چې تر منافعو پورې تړلي دي هغه زموږ دژوند ډېره مهمه برخه جوړوي، منافع په ننی نړی کې داقتصاد یوه لویه برخه جوړوي په دېني اړخ کې اړینه خبره ده ترڅو علماء دغه برخه وسپړي، ځکه چې اړتیا ورته په ننی نړی کې زیاته لیدل کیږي.
۲ په منافعو کې قرض هم جایز دی او بلا اخره منافع مال هم دی، ځکه که مال نشي ددننی نړی ډیر عقدونه به له منځه لاړ شي، په داسې حال کې چې نن، سبا ورته ټولنه اړتیا لري.
۳ بله مهمه خبره داده چې په منافعو کې دغلا او سرقې حکم څه دی؟اصلا پخواني یو شمیر علماء په دې نظر دي چې منافع مال ندی، نو چې کله مال نشي نو په غلا کې یې حد هم نه راځي، البته یو شمیر نور ورته مال وایي، اوس خبره داده چې په ننی نړی کې خو ډیری عقدونه دي چې په منافعو ولاړ دي، که چیرته د منافعو په غلا باندې حد رانشي، نو ټول خلک به دمنافعو غلا کوي او په دې سره به دخلکو تجارتونه له منځه لاړ شي، که چیرته پرې حد راشي، هغه بیا قانوني چوکاټ او قالب کې نه برابریږي، دبیلګې په ډول یو سړی ورځپاڼه پلوري، بل کس راغی ورځپاڼه یې ټوله ولوستله او په خپل ذهن کې یې یاده کړه، بل کس راغی هغه له دغه ورځپاڼې څخه په کامره عکس وویسته او همداسې لاړه، دریم کس راغی ټوله ورځ پاڼه یې غلا کړه، اوس په لومړنیو دوه صورتونو کې دمنافعو غلا رامنځ ته شوه او په وروستي صورت کې دعین غلا رامنځ ته شوه، دعین په غلا کې خو خبره واضح ده چې که نصاب ته رسیده حد پکې شته، د منافعو په صورت کې څه حکم دی؟
نو دلته معاصر علماء فتوه ورکوي چې د منافعو په غلا کې حد نشته، ځکه چې دا هغه اصولي قالب ته نه برابریږي، خو دا چې دخلکو د تجارتونو دزیانمن کیدلو مخه ونیول شي، نو په دې اساس به ورته حاکم او قاضي تعزیري جزا ورکوي، نو ویلای شو چې دمنافعو په غلا کې حد نشته بلکې تعزیر پکې شتون لري، دا ځکه چې دمال معروف تعریف په منافعو باندې نه صادقیږي.
۴: د منافعو عقدونه جایز عقدونه دي، البته په هغه مواردو کې چې اصلي عقد جایز وي، په دې معنا، دهغه شیانو په منفعت کې عقد کول جایز دي چې خپله دعین منفعت پلور جایز وي، مطلب که چیرته یو عقد اصلا جایز وي، منفعت یې هم جایز دی او که چیرته یو عقد اصلا ناجایز وه، نو د منفعت عقد یې هم نا جایز دی، خلاصه خبره دا چې عقود المنافع یا دګټو تړونونه په ټوله کې یو داسې عمل دی چې اسلامي شریعت ورته جواز ورکوي.
۵: د وقف په بحث کې مهمه خبره داده چې وقف دثواب له حیثیته مندوب او مستحب دی، خو البته کله کله په یو شمیر حالاتو کې وقف فرض او واجب ګرځي، دا هغه مهال چې په ځان یې نذر کړی وي، لکه یو سړی ووایي چې که چیرته زما ځوی راغی نو په ما لازم ده چې دغه کور وقف کړم، نو که چیرته یې ځوی راغی نو دغه مهال په دغه سړي باندې وقف فرض او لازم دی.
۶: په یو شمیر حالاتو کې وقف حرامیږي هم، لکه یو مسلمان انسان خپله ځمکه دکلیساء، یا بل نا جایز او نا مشروع شي لپاره وقف کړي، دغه مهال دا وقف حرام دی او نه به ترسره کیږي.
۷: د اعارې په برخه کې اړینه او مهمه خبره داده چې اعاره به په داسې څه کې وي چې انتفاع(ګټې)قابل وي، او اهلیت د انتفاع هم ولري، اساسي خبره پکې بله داده چې دا انتفاع به

دموقت وخت لپاره وي، او عوض به پکي نه وي، ځکه که چيرته عوض پکي راغی هغه بيا اعاره نده بلکي بيع ده.
۸: دا جارې په برخه کې اوس مهال پارک او ژوبڼ په اجاره ورکول کيږي دا هم درست او جايز عمل دی، خو په دې شرط چې موده يې ټاکلې او معلومه وي، ايجاب او قبول به يې هم شوی وي، دا ځکه چې تر څو منازعې ته مفضي نشي، کله چې په کې دا پورته شروط پيدا شول نو بيا يې اجاره باندې ورکول جايز او مشروع عمل دی.
۹: په اجاره کې موټر په اجاره ورکول هم جايز او مشروع عمل دی، خو دلته يوه مهمه پوښتنه رامنځ ته کيږي چې دلته اجرت کې جهالت موجود دی، ځکه چې اکثره وخت دا يقيني نه وي چې موټر څو کيلو ميټره سفر کوي؟نو ددې ځواب واضح دی چې دا جهالت منازعې ته نه مفضي کيږي، نو په دې اساس په دې عقد کې هم مشکل نشته او جايز دی.

**وړاندیزونه!**

۱: نور څیرونکي باید قلمونه راواخلي او ددغه موضوع نور اړخونه هم روښانه کړي ترڅو زموږ راتلونکي نسلونه ترې ګټه واخلي.

۲: نظام باید څیړونکو ته زمینه برابره کړي چې په دغه ډول موضوعاتو ریسرچ او څیړنه وکړي ترڅو زموږ خلک دمعاصرو مسایلو ځوابونه ومومي.

۳: یوه انلاین دارالافتاء باید ایجاد شي ترڅو په مجازي نړۍ کې هم خلک له خپل دین څخه خبر شي، تر څو وکولای شو چې له دغه لارې داسلام مبارک دین خپور کړي.

۴: دمعاصرو فقهي جزیاتو لپاره باید دهیواد په کچه یو ستر څیړنیز مرکز پرانیستل شي، هلته باید دهیواد په کچه ستر ستر علماء شتون ولري، ترڅو نوې فقهي جزیې د اسلامي شریعت په رڼا کې حل او فصل کړي او ټولنه پرې اګاه کړي.

۵: په ټوله کې د هیواد هغه پوهنتونه چې هلته په شرعي برخه کې دماسترۍ برنامه شتون لري، دوی باید یوه واحده طرحه ترتیب کړي، او دهغې له مخې معاصر فقهي جزیات څیړونکو ته دڅیړنې لپاره وړاندې کړي، په دې توګه به موږ د هیواد په داخل کې داسې کدرونه ولرو چې دعصر ستونزې له دیني ادرسونو ځواب کړي، ددوی څیړنې دې بیا عربي، او انګلیسي ته وژباړل شي ترڅو په شته برخه کې ترې خلک استفاده وکړي.

# دآیتونوفهرست

| صفحه | سورت | آیتونه | ګڼه |
| --- | --- | --- | --- |
| 13<br>19 | سورت الطلاق | أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ وَلا تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ وَإِن كُنَّ أُولاتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ. | ۱. |
| 40<br>48 | سورت النساء | إِلّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ. | ۲. |
| 20 | سورت الكهف | فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَنْ يَنقَضَّ فَأَقَامَهُ قَالَ لَوْ شِئْتَ لاتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا. | ۳. |
| ۱٤<br>۲۰<br>۲٦<br>٥۳ | سورت القصص | قَالَتْ إِحْدَاهُمَا يَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الأَمِينُ. قَالَ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُنكِحَكَ إِحْدَى ابْنَتَيَّ هَاتَيْنِ عَلَى أَن تَأْجُرَنِي ثَمَانِيَ حِجَجٍ فَإِنْ أَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِندِكَ وَمَا أُرِيدُ أَنْ أَشُقَّ عَلَيْكَ سَتَجِدُنِي إِن شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّالِحِينَ. | ٤. |
| ۱۶ | سورت البقرة | لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلا مِنْ **رَبِّكُمْ**. | ٥. |
| ۸۸ | سورت التوبة | مَا عَلَى الْمُحْسِنِينَ مِنْ سَبِيلٍ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ | ٦. |
| ۸<br>۱۰<br>٤۰ | سورت المائده | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ إِلَّا مَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ | ۷. |
| ٤۰ | سورت النساء | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلاَّ أَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ. | ۸. |

# داحاديثوفهرست

| صفحه | **حديث** | ګڼه |
| --- | --- | --- |
| ۱٤<br>۲۱ | « أَعْطُوا الأَجِيرَ أَجْرَهُ قَبْلَ أَنْ يَجِفَّ عَرَقُهُ وَأَعْلِمْهُ أَجْرَهُ وَهُوَ فِي عَمَلِهِ... | ۱. |
| ۹۱ | « الْعَارِيَةُ مُؤَدَّاةٌ وَالْمِنْحَةُ مَرْدُودَةٌ... | ۲. |
| ۱۰ | « إِنَّ التُّجَّارَ هُمُ الْفُجَّارَ فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَمْ يُحِلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ.... | ۳. |
| ۲۲<br>۲۹ | «ثَلَاثَةٌ أَنَا خَصْمُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ كُنْت خَصْمَهُ خَصَمْتُهُ رَجُلٌ أَعْطَى بِي ثُمَّ غَدَرَ... | ٤. |
| ۱٤<br>۲۱ | «لَا يَسْتَامُ الرَّجُلُ عَلَى سَوْمِ أَخِيهِ... | ٥. |
| ۱۰ | «لَا يُغَرَّمُ صَاحِبُ سَرِقَةٍ إِذَا أُقِيمَ عَلَيْهِ الْحَدُّ. | ٦. |
| ۲۸ | «مَا بَعَثَ اللَّهُ نَبِيًّا إِلَّا رَعَى الغَنَمَ»، فَقَالَ أَصْحَابُهُ: وَأَنْتَ؟ | ۷. |
| ۱۰۲ | إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثَةٍ... | ۸. |
| ۲۸ | استأجر النبي - صلى الله عليه وسلم - وأبو بكر رجلاً من بني الديل هادياً خريتاً... | ۹. |
| ۱٥<br>۱۰۱ | أَصَابَ عُمَرُ أَرْضًا بِخَيْبَرَ، فَأَتَى النَّبِيَّ ? صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَأْمِرُهُ فِيهَا.... | ۱۰. |

| | | |
|---|---|---|
| ١١. | أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- اسْتَعَارَ مِنْهُ أَدْرَاعًا يَوْمَ حُنَيْنٍ فَقَالَ أَغَصْبٌ يَا مُحَمَّدُ فَقَالَ « لاَ بَلْ عَارِيَةٌ مَضْمُونَةٌ... | ٩١ |
| ١٢. | ثلاثة أنا خصمهم يوم القيامة رجل أعطى بي ثم غدر، ورجل باع حراً فأكل ثمنه، ورجل استأجر أجيراً فاستوفى منه ولم يعطه أجره... | ١٣ |
| ١٣. | ثَلَاثَةٌ أَنَا خَصْمُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، رَجُلٌ أَعْطَى بِي ثُمَّ غَدَرَ... | ٥٩ |
| ١٤. | رَوَى ابْنُ عَمَرَ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُمَا قَالَ: أَصَابَ عُمَرُ أَرْضًا بِخَيْبَرَ، فَأَتَى النَّبِيَّ ؟ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَأْمِرُهُ فِيهَا... | ١٣ |
| ١٥. | قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ حِينَ بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ إِنَّكَ سَتَأْتِي قَوْمًا أَهْلَ كِتَابٍ فَإِذَا جِئْتَهُمْ.... | ١٣٥ |
| ١٦. | لَا يَحِلُّ سَلَفٌ وَبَيْعٌ وَلَا شَرْطَانِ فِي بَيْعٍ وَلَا رِبْحُ مَا لَمْ يُضْمَنُ وَلَا بَيْعُ مَا لَيْسَ عِنْدَكَ... | ٦٥ |
| ١٧. | نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَسْبِ الْفَحْلِ.... | ٨٧ |
| ١٨. | نهى عن بيعتين في بيعة... | ٦٥<br>٦٦ |


## د اعلامو فهرست


| شمېره | اسماء الاعلام | صفحه |
|---|---|---|
| ١ | تقى الدين احمد بن عبدالحليم بن تيميه ابوالعباس | **139** |
| ٢ | ابن قدامة المقدسي | **٢٩** |
| ٣ | ابن عابدين الشامي | **٣١** |
| ٤ | ابن حزم الظاهري | **٤٩** |
| ٥ | ابن ابي ليلى | **١٠٠** |
| ٦ | علاء الدين الكاساني | **١٢٧** |
| ٧ | ابن حجر العسقلاني | **١٣٤** |
| ٨ | أبو حامد الغزالي | **١٥٢** |
| ٩ | علا والدين، عبدالعزيز احمد بن محمد. | **١٤١** |
| ١٠ | عبدالله بن اريقط | **٢٨** |
| ١١ | احمدبن حنبل | **٣٠** |
| ١٢ | امام ابويوسف | **٣٢** |
| ١٣ | امام محمد | **٣٢** |
| ١٣ | ابوداود | **٢٨** |

# دمصادرو اومراجعو فهرست

## القران الكريم

### التفاسير:


قرطبي: أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكرالقرطبي، الجامع لأحكام القرآن، تحقيق: أحمد البردوني و ابرهيم أطفيش، دار الكتب المصرية القاهرة، -١٣٨٤ ه - ١٩٦٤ م، ج ١٣، ص٢.


### الاحاديث:


١. بخارى: الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه صحيح البخاري، مؤلف: محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، محقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، ناشر: دار طوق النجاة مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤاد عبد الباقي، الطبعة: الأولى، ١٤٢٢هـ، عدد الأجزاء: ٩.ج:٣.

٢. بستي: صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان. مؤلف: محمد بن حبان بن أحمد أبو حاتم التميمي البستي.ناشر: مؤسسة الرسالة – بيروت. الطبعة الثانية، ١٤١٤ – ١٩٩٣. تحقيق: شعيب الأرنؤوط. عدد الأجزاء: ١٨. ص.٣٤٧.ج ١١.

٣. بيهقي: السنن الكبرى. مؤلف: أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي. مؤلف الجوهر النقي: علاء الدين علي بن عثمان المارديني الشهير بابن التركماني، الناشر: مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة في الهند ببلدة حيدر آباد. الطبعة: الطبعة: الأولى ١٣٤٤ هـ. ج.٦.ص.١٢٠.

٤. تركماني: السنن الكبرى وفي ذيله الجوهر النقي، مؤلف الجوهر النقي: علاء الدين علي بن عثمان المارديني الشهير بابن التركماني، الناشر: مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة في الهند ببلدة حيدر آباد، الطبعة: الطبعة: الأولى ١٣٤٤ هـ، عدد الأجزاء: ١٠.مصدر الكتاب: موقع وزارة الأوقاف المصرية وقد أشاروا إلى جمعية المكنز الإسلامي.ج: ٥: ص: ٢٦٦.

٥. ترمذي: سنن الترمذي. مؤلف: محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي، أبو عيسى (وفات: ٢٧٩هـ). كتاب البيوع، باب ما جاء في كراهية بيع ما ليس عندك، رقم الحديث (١٢٣٤). ينځم جلد.١١ ص

٦. عسقلاني: فتح الباري شرح صحيح البخاري، المؤلف: أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي، الناشر: دار المعرفة - بيروت، ١٣٧٩، رقم كتبه وأبوابه وأحاديثه: محمد فؤاد عبد الباقي، قام بإخراجه وصححه وأشرف على طبعه: محب الدين الخطيب، عليه تعليقات العلامة: عبد العزيز بن عبد الله بن باز، ج: ٧، ص: ١٢٦.

٧. قزويني، ابن ماجة أبو عبد الله محمد بن يزيد، وماجة اسم أبيه يزيد، سنن ابن ماجه، (المتوفى: ٢٧٣هـ( تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي، الناشر: دار إحياء الكتب العربية - فيصل عيسى البابي الحلبي.

٨. مالک: الموطأ، الموطأ لامام الائمة وعالم المدينة مالك بن أنس رضى الله عنه " ما ظهر على الارض كتاب بعد كتاب الله، أصح من كتاب مالك " "الامام الشافعي" صححه، ورقمه، وخرج أحاديثه، وعلق عليه محمد فؤاد عبد الباقي، دار احياء التراث العربي بيروت – لبنان، ١٤٠٦ه - ١٩٨٥ م، ج: ٥، ص: ١٢٥.

٩. نيسابوري: صحيح مسلم، المؤلف: مسلم بن الحجاج أبو الحسين القشيري النيسابوري، دار احياء التراث العربي بيروت – لبنان

**الفقه:**

١. ابن نجيم، جلال الدين عبد الله، عقد الجواهر الثمينة في مذهب عالم المدينة، تحقيق: محمد بن الاجفان وعبد الحفيظ منصور، نشر دارالغرب الإسلامي بيروت، ط ـ١، ت ١٩٩٥، ج: ٢، ص: ٧٤٤.
٢. ابوالعباس: الاختيارات الفقهية (مطبوع ضمن الفتاوى الكبرى المجلد الرابع(المؤلف: تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن تيمية الحراني (المتوفى: ٧٢٨هـ(المحقق: علي بن محمد بن عباس البعلى الدمشقي، الناشر: دار المعرفة، بيروت، لبنان، الطبعة: ١٣٩٧هـ/١٩٧٨م، مصدر الكتاب: موقع مكتبة المدينة الرقمية،.ج: ١.ص: ١٣١.
٣. ابن عابدين: الدر المختار وحاشية ابن عابدين مؤلف: ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (المتوفى: ١٢٥٢هـ) الناشر: دار الفكر-بيروت. الطبعة: الثانية، ١٤١٢هـ - ١٩٩٢م، ٣ / ٣٥٧. اصفهاني: متن أبي شجاع المسمى الغاية والتقريب، المؤلف: أحمد بن الحسين بن أحمد، أبو شجاع، شهاب الدين أبو الطيب الأصفهاني (المتوفى: ٥٩٣هـ (الناشر: عالم الكتب، عدد الأجزاء: ١، ج: ٢، ص: ٣٤٨.
٤. ابن تيميه: مجموع الفتاوى، المؤلف: تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن تيمية الحراني (المتوفى: ٧٢٨هـ(المحقق: عبد الرحمن بن محمد بن قاسم، الناشر: مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف، المدينة النبوية، المملكة العربية السعودية، عام النشر: ١٤١٦هـ/١٩٩٥م (ج٢٩/ص٦٢.
٥. ابوالحسن: الإنصاف في معرفة الراجح من الخلاف على مذهب الإمام أحمد بن حنبل علي بن سليمان المرداوي أبو الحسن، سنة الولادة ٨١٧/ سنة الوفاة ٨٨٥، تحقيق محمد حامد الفقي، الناشر دار إحياء التراث العربي، عدد الأجزاء ١٢، ج: ٧، ص: ٣٢٨.
٦. ابومليح: للمزيد حول الموضوع ينظر: بحث اختلاف الفقهاء في مالية المنافع، د / رجب ابو مليح، بحث منشور على موقع:
٧. ابن قدامه: المغني لابن قدامة، المؤلف: أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي، الشهير بابن قدامة المقدسي (المتوفى: ٦٢٠ ه ناشر: مكتبة القاهرة، الطبعة: بدون طبعة، عدد الأجزاء: ١٠، تاريخ النشر: ١٣٨٨هـ - ١٩٦٨م، ج: ٥، ص: ٢٢٢.
٨. ابن الهمام: فتح القدير. مؤلف: كمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي المعروف بابن الهمام (المتوفى: ٨٦١هـ)جلد: ٢٠.صفحه: ٢٤٤.
٩. ابواسحاق: المبدع في شرح المقنع، المؤلف: إبراهيم بن محمد بن عبد الله بن محمد ابن مفلح، أبو إسحاق، برهان الدين (المتوفى: ٨٨٤هـ( الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، الطبعة: الأولى، ١٤١٨ هـ - ١٩٩٧ م، عدد الأجزاء: ٨، ج: ٤، ص: ٤٩٢.
١٠. اطفيش: شرح النيل وشفاء العليل، المؤلف: محمد بن يوسف بن عيسى أطفيش – إباضية، الناشر: مكتبة الإرشاد، ج: ١٨، ص: ٣٦٤.
١١. القرداغي: الاجارة على منافع الاشخاص.ليكوال: دكتور علي محي الدين القرة القرداغي. مطبعه: البشائر الاسلامية، بيروت لبنان. صفحه: ٣

١٢. الزرقا، مصطفى أحمد الزرقا، المدخل الفقهي العام، دار الفكر دمشق، - ١٩٦٨، ج ٣، ص٢٠٥.
١٣. الشافعي: أبو عبد الله محمد بن إدريس بن العباس بن عثمان بن شافع بن عبد المطلب بن عبد مناف المطلبي القرشي المكي، كتاب الأم، (المتوفى: ٢٠٤هـ(الناشر: دار المعرفة – بيروت، الطبعة: بدون طبعة، سنة النشر: ١٤١٠هـ/١٩٩٠م، ج: ٤، ص: ٢٦.
١٤. الكتاب: الموسوعة الفقهية الكويتية. صادر عن: وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية – الكويت. عدد الأجزاء: ٤٥ جزءا. الطبعة: (من ١٤٠٤ - ١٤٢٧ هـ) الأجزاء ٢٤ - ٣٨: الطبعة الأولى، مطابع دار الصفوة – مصر. اول جلد.٢٥٤ صفحه.
١٥. بهوتي: شرح منتهى الإرادات المسمى دقائق أولي النهى لشرح المنتهى.ليكوال: منصور بن يونس بن إدريس البهوتي، المتوفى: ١٠٥١ه ق، ناشر: عالم الكتب. سنة النشر ١٩٩٦، مكان النشر بيروت. عدد الأجزاء ٣.ج: ٢.ص: ٤٨٩.
١٦. خرشي: كتاب: شرح مختصر خليل للخرشي، المؤلف: محمد بن عبد الله الخرشي المالكي أبو عبد الله (المتوفى: ١١٠١هـ، الناشر: دار الفكر للطباعة – بيروت، الطبعة: بدون طبعة وبدون تاريخ، عدد الأجزاء: ٨، ج: ٧، ص: ٢.
١٧. زبيدي: الجوهرة النيرة، المؤلف: أبو بكر بن علي بن محمد الحدادي العبادي الزَّبِيدِيّ اليمني الحنفي (المتوفى: ٨٠٠هـ( الناشر: المطبعة الخيرية، الطبعة: الأولى، ١٣٢٢هـ عدد الأجزاء: ٢، ج: ١، ص: ٢٦٠.
١٨. زحيلي: الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ (الشَّامل للأدلّة الشَّرعيَّة والآراء المذهبيَّة وأهمّ النَّظريَّات الفقهيَّة وتحقيق الأحاديث النَّبويَّة وتخريجها، المؤلف: أ. د. وَهْبَة بن مصطفى الزُّحَيْلِيّ، أستاذ ورئيس قسم الفقه الإسلاميّ وأصوله بجامعة دمشق - كلّيَّة الشَّريعة، الناشر: دار الفكر - سوريَّة – دمشق، الطبعة: الرَّابعة المنقَّحة المعدَّلة بالنِّسبة لما سبقها (وهي الطبعة الثانية عشرة لما تقدمها من طبعات مصورة، عدد الأجزاء: ١٠.ج: ٤.ص: ٣٠٩٣.
١٩. زرقاني: شرح الزرقاني على المواهب اللدنية بالمنح المحمدية، المؤلف: أبو عبد الله محمد بن عبد الباقي بن يوسف بن أحمد بن شهاب الدين بن محمد الزرقاني المالكي (المتوفى: ١١٢٢هـ) الناشر: دار الكتب العلمية، الطبعة: الأولى ١٤١٧هـ-١٩٩٦م، عدد الأجزاء: ١٢.ج: ٧.ص: ١٠٧، ١٠٨.
٢٠. زيلعي: تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشِّلْبِيِّ، المؤلف: عثمان بن علي بن محجن البارعي، فخر الدين الزيلعي الحنفي (المتوفى: ٧٤٣ هـ( الحاشية: شهاب الدين أحمد بن محمد بن أحمد بن يونس بن إسماعيل بن يونس الشِّلْبِيُّ (المتوفى: ١٠٢١ هـ) الناشر: المطبعة الكبرى الأميرية - بولاق، القاهرة، الطبعة: الأولى، ١٣١٣ هـ، ج: ١٠، ص: ٤٩٣.
٢١. سرخسي: المبسوط، المؤلف: محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي (المتوفى: ٤٨٣هـ (الناشر: دار المعرفة – بيروت، الطبعة: بدون طبعة تاريخ النشر: ١٤١٤هـ-١٩٩٣م، ج: ١٤، ص: ٤٩.
٢٢. سيوطي: مطالب أولي النهى في شرح غاية المنتهى، المؤلف: مصطفى بن سعد بن عبده السيوطي شهرة، الرحيبانى مولدا ثم الدمشقي الحنبلي (المتوفى: ١٢٤٣هـ(الناشر: المكتب الإسلامي، الطبعة: الثانية، ١٤١٥هـ - ١٩٩٤م، عدد الأجزاء: ٦.ج: ٣.ص: ٢٤٠.

٢٣. شربيني: مغني المحتاج لشمس الدين محمد بن الخطيب الشربيني الشافعي القاهري (شرح المنهاج للنووي)، دار المعرفة، بيروت، لبنان، الطبعة الأولى ١٤١٨هـ، ١٩٩٧م، ج ٢، ص: ٦.
٢٤. صاوي، أبو العباس أحمد بن محمد الخلوتي، الشهير بالصاوي المالكي، بلغة السالك لأقرب المسالك المعروف بحاشية الصاوي على الشرح الصغير (الشرح الصغير هو شرح الشيخ الدردير لكتابه المسمى أقرب المسالك لِمَذْهَبِ الْإِمَامِ مَالِكٍ. (المتوفى: ١٢٤١هـ، الناشر: دار المعارف.ج: ٢.ص: ٢٩٩.
٢٥. عنسي: كتاب: التاج المُذْهَب لأحكام المَذْهَب، المؤلف: القاضي أحمد بن قاسم العنسي، الناشر :دارالكتب العلمية، مصدر الكتاب: موقع الإسلام، ج: ٣، ص: ٦٨.
٢٦. ٢٦:قرافي:_الذخيرة، المؤلف: أبو العباس شهاب الدين أحمد بن إدريس بن عبد الرحمن المالكي الشهير بالقرافي، (المتوفى: ٦٨٤هـ( المحقق :جزء ١، ٨، ١٣: محمد حجي، جزء ٢، سعيد أعراب، جزء ٣ - ٥، ٧، ٩ - ١٢: محمد بو خبزة، الناشر: دار الغرب الإسلامي- بيروت، الطبعة: الأولى، ١٩٩٤ م، ج: ٦، ص: ٣٣٠.
٢٧. قليوبي كتاب: حاشيتا قليوبي وعميرة، المؤلف: أحمد سلامة القليوبي وأحمد البرلسي عميرة، الناشر: دار الفكر – بيروت، عدد الأجزاء: ٤، الطبعة: بدون طبعة، ١٤١٥هـ-١٩٩٥م، ج: ٣، ص: ١٠٩.
٢٨. لفتاوى الهندية في مذهب الإمام الأعظم أبي حنيفة النعمان، الشيخ نظام وجماعة من علماء الهند\ العالمكيرية، ناشر: دار الفكر، دخپريدا كال ١٤١١هـ - ١٩٩١م. ج. ٤ /ص ٣٧٢.
٢٩. محمدعليش: منح الجليل شرح على مختصر سيد خليل. محمد عليش. الناشر دار الفكر، سنة النشر ١٤٠٩هـ - ١٩٨٨م. مكان النشر بيروت، عدد الأجزاء ٩.ج: ٤ / ٣٤.
٣٠. مرغيناني: الهداية في شرح بداية المبتدي، المؤلف: علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني المرغيناني، أبو الحسن برهان الدين (المتوفى: ٥٩٣هـ(المحقق: طلال يوسف، الناشر: دار احياء التراث العربي - بيروت – لبنان، عدد الأجزاء: ٤.ج: ٨.ص: ٤٨٧.
٣١. مقدسي: المغني في فقه الإمام أحمد بن حنبل الشيباني، المؤلف: عبد الله بن أحمد بن قدامة المقدسي أبو محمد، الناشر: دار الفكر – بيروت، الطبعة الأولى، ١٤٠٥، عدد الأجزاء: ١٠.ج: ٥.ص: ٥٥٩.
٣٢. نووي: كتاب: المجموع شرح المهذب (مع تكملة السبكي والمطيعي( المؤلف: أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (المتوفى: ٦٧٦هـ( الناشر: دار الفكر، طبعة كاملة معها تكملة السبكي والمطيعي، ج: ٨، ص: ٣٢٧.
٣٣. نووي: منهاج الطالبين وعمدة المفتين في الفقه. مؤلف: أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (المتوفى: ٦٧٦هـ. ناشر: دار الفكر.لطبعة:الأولى، ١٤٢٥هـ/٢٠٠٥م. اجلد ١/ ص٨١.
٣٤. هيتمي، المؤلف: أحمد بن محمد بن علي بن حجر الهيتمي، تحفة المحتاج في شرح المنهاج،

**اللغة:**

١. ابوالفضل: لسان العرب، المؤلف: محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى الإفريقى (المتوفى: ٧١١هـ( الناشر: دار صادر – بيروت، الطبعة: الثالثة - ١٤١٤ هـ، ج: ٨، ص: ٣٥٨.
٢. ازدي: جمهرة اللغة، المؤلف: أبو بكر محمد بن الحسن بن دريد الأزدي (المتوفى: ٣٢١هـ(المحقق: رمزي منير بعلبكي، الناشر: دار العلم للملايين – بيروت، الطبعة: الأولى، ١٩٨٧م، عدد الأجزاء: ٣، باب العين والنون.ج: ٣.ص: ۶.
٣. المعجم الوسيط، المؤلف: إبراهيم مصطفى - أحمد الزيات - حامد عبد القادر - محمد النجار، دار النشر: دار الدعوة، تحقيق: مجمع اللغة العربية، عدد الأجزاء: ٢، ج: ٢، ص: ۶١۴.
٤. حسيني: تاج العروس من جواهر القاموس، مؤلف: محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق
٥. قلعجى: معجم لغة الفقهاء، محمد رواس قلعجي - حامد صادق قنيبي، الناشر: دار النفائس للطباعة والنشر والتوزيع، الطبعة: الثانية، ١٤٠٨ هـ - ١٩٨٨ م، ج: ١، ص: ٣١

**التراجم:**

زركلي،خيرالـدين بـن محمـود،بن محمـد،بن علـي،بن فـارس الزركلـي الدمشـقي،(ت ١٣٩۶ هـ)الناشر،دارالعلم للملايين،الطبعه:١۵،چاپ كال:٢٠٠٢،سوريه،دمشق.

**المصادرالاخرى:**

١. آفندي: درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، المؤلف: علي حيدر خواجه أمين أفندي (المتوفى: ١٣٥٣هـ، تعريب: فهمي الحسيني، الناشر: دار الجيل، الطبعة: الأولى، ١٤١١هـ - ١٩٩١م، عدد الأجزاء: ٤، ج: ٣، ص: ٣٥٣.
٢. الناشر: المكتبة التجارية الكبرى بمصر لصاحبها مصطفى محمد، الطبعة: بدون طبعة، عام النشر: ١٣٥٧ هـ - ١٩٨٣ م، ج: ٢، ص: ١٢٣.
٣. الكتاب: فواتح الرحموت بشرح مسلم الثبوت، المصدر: موقع شبكة مشكاة الإسلامية،
٤. دوكتور يوسف صالح محمود، حقيقت المنافع، إدارة التدقيق الشرعي و بنك دبي الإسلامي.
٥. زغيبة، عز الدين زغيبة، ومقاصد الشريعة الخاصة بالتصرفات المالية، م ركز جمعية الماجد للثقافة والت ا رث، ط١، ت٢٠٠١، ص ٤٠ – ٤١( IUG Journal of Sharia and Law Studies (Islamic University of Gaza) / CC BY 4.
٦. زيدمحمدالكبرى: سرقة المنفعة.ليكوال: زيد محمد الكبرى، بحث لدرجة الماجستير فى العدالة الجنائة، باب، عقوبة سرقة المنفعة في الفقه الاسلامية.ص: ١٠٣.ج: ١.
٧. شلالي: قسمة حقوق الانتفاع والمنافع والحقوق المعنوية، د. أحمد بن عبدالله الشلالي، ١٢١صفحه.
٨. عوده، عبدالقادر، التشريع الجنائي الاسلامي باالقانون الوضعي، ج: ٢.ص: ۶٢٠.
٩. فهدبن علي الحسون، الإجارة المنتهية بالتمليك في الفقه الإسلامي، ج: ١،.ص: ١١.
١٠. كتاب: عقد الاجارة في الفقه والقانون.تاليف: ادارة الفتوى والبحوث، السوادنى، ج: ١ص: ٢٣.

۱۱. عبدالله نظام الدین، کتاب حقوق عینی، نشرمولف، اول چاپ ۱۳۸۵، ص ۹۳.

**Abstract**

١. The main topic of this thesis is the profitable contracts in which the rulings of such contracts will be clarified, and it includes leasing, loaning and endowment.

٢. In modern era, there are many contracts that people are taking advantage of, so I have made the rulings of profits clear based on which you can find out the rulings about contemporary jurisprudential segments and matters.

٣. In this research, I used main references. I referred to the main sources of four jurisprudential schools, and used the books of contemporary scholars for the issues that are not found in the old jurisprudence books.

٤. It is permissible to buy or sell things according to the Islamic law. Islamic Sharia encourages Muslims to buy and sell, and tells them to make themselves engaged in earning a living besides worshiping Allah. Allah Almighty orders: (fulfil the contracts). Anyhow, the wisdom behind purchasing and selling is gaining the profit that humans benefit from.

٥. This research consists of three chapters, each of which contains topics and sub-topics. In first chapter, general concepts are studied. And then the lease, its legal elements, conditions, fundamental and basic rules, contemporary situations and other important aspects are taken under investigation. The legitimacy and pillars of the loan are studied from the perspective of Islamic Shari'a and Afghanistan's civil law. The terms and conditions of loan are also discussed. In addition, the basic and fundamental rules of the loan, and all the important things that should be researched are mentioned in this research.

In the continuation of research, the issue of endowment, its legitimacy, basic rules, and other related aspects are clarified. At the end, the third chapter has been brought, in which it has been stated that: Is profit beany or not? What is the ruling on stealing profits? At the end, the result of my research that I have achieved is mentioned.

Salam University

Faculty of in Sharia and Law

Master's program in jurisprudence and law

Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of Higher Education

DM of Academic affairs

# Provisions and types of benefit contracts In the light of jurisprudence and law

## Master's theses

**Student: Mohammad Javid (Sediqi)**
**Instructor: Dr. Rafi ullah (Ata)**

**Year: 2022**

Salam University

Faculty of in Sharia and Law

Master's program in jurisprudence and law

Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of Higher Education

DM of Academic affairs

# Provisions and types of benefit contracts In the light of jurisprudence and law

Master's theses

Student: Mohammad Javid (Sediqi)

Instructor: Dr. Rafi ullah (Ata)

Year:2022